د افغانستان د خپلواکۍ د بیرته ګټلو
د اتیایمې کالیزې په ویاړ

# په افغانستان کې
# رښتیا څه تیریدل؟

لیکوال
ستر جنرال الکساندر مایوروف

ژباړن
ډاکټر داود جنبش

PROPERTY OF
ACKU
8172

# په افغانستان کې ربنتيا

# څه تېرېدل؟

په کابل کې د لوی پوځي سلاکار
ستر جنرال الکساندر مايوروف
يادښتونه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

ژباړن

ډاکټر داود جنبش

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : په افغانستان کې رښتيا څه تېرېدل

ليکوال : سترجنرال الکساندر مايوروف

ژباړن : ډاکټر داود جنبش

دچاپ زيار : يون

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه (جرمني)

د خپرونو لړ : (۵)

کمپوز/ډيزاين : نجيب الله وصال

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه : ۱۳۷۸/زمري - ۱۹۹۹/جولای

دچاپخې او کمپيوټر : دانش کتابتون پېښور

فون ۲۵۶۴۵۱۳

# نیولیک


پیلامه ........ الف
د ژباړن سریزه ........ د
د سریزې پر ځای ........ ل
لومړی څپرکی ........ ۱
دویم څپرکی ........ ۱۱
دریم څپرکی ........ ۲۲
څلورم څپرکی ........ ۴۷
پنځم څپرکی ........ ۷۳
شپږم څپرکی ........ ۱۰۰
اووم څپرکی ........ ۱۰۹
اتم څپرکی ........ ۱۵۰
نهم څپرکی ........ ۱۸۲
لسم څپرکی ........ ۲۲۰
یولسم څپرکی ........ ۲۶۶
دولسم څپرکی ........ ۲۹۱
دیارلسم څپرکی ........ ۳۳۱
څوارلسم څپرکی ........ ۳۶۸
پنځلسم څپرکی ........ ۳۸۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیلامه

د افغانستان د شل کلنې غمیزې ژوره تاریخي څېړنه. د افغانستان د معاصر تاریخ یو داسې څپرکی دی چې راتلونکې ډېر کلونه به پرې زموږ د رانده مؤرخین او لیکوال بوخت وي. د دغو ویرلړلیو دوو لسیزو (چې که خدای(ج) یې نوره اوږده نه کړي) پېښې زموږ هېواد پالو ته له دې امله هم زیاتې ارزښتمنې او په زړه پورې دي چې لړ ترلړه د دغو پېښو څرګند اړخونه د دوی تر مخه تېر شوي دي. خو پټ (او په حقیقت کې بنسټیز او اصلي) اړخونه یې ورو ورو راڅرګندېږي او دغه راڅرګندېدل زموږ د معاصر تاریخ لپاره د ارزښتناکو موادو په توګه د پوره او زیاتې پاملرنې وړ دي.

زموږ د دغې شل کلنې غمیزې یو بنسټیز څپرکی، پر هېواد د سور یرغلګر پوځ تېری دی. د دغه تېري د ډېرو اړخونو په اړه تر اوسه لیکنې شوې دي. د پټو او ناڅرګندو بهیرونو ځینې اړخونه تر اوسه پورې راڅرګند شوي او ځینې نور به یې نبایي له دې وروسته راڅرګند شي. حقیقت دا دی چې که د دغو پټو او ناڅرګندو بهیرونو ټول اړخونه راڅرګند نه کړای شي. د یو بشپړ معاصر تاریخ لیکل به له

زیاتو نیمګړتیاوو سره ملګري وي. له همدې امله، د هر هغه ګام هرکلی کول پکار دي چې د دغو پښتو ځینې نوي اړخونه په کې رانبکاره کېدای شي.

د جنرال مایوروف دغه کتاب، زما په نظر له دې امله ارزښتمن دی، چې له ځینو پټو رازونو په کې، د لومړي ځل لپاره پرده پورته شوې ده. نوموړی د سور یرغلګر پوځ یوه وتلې څېره وه او په تېره بیا د یرغل د لومړیو کلونو ډېر رازونه یې راڅرګند کړي دي. ښایي یا ډېرې خبرې یې اوس هم له ځانه سره پټې ساتلې وي او یا یې ځینو رازونو ته لاس نه وي رسېدلی، خو راڅرګند کړي رازونه یې هم د پوره زیاتې پاملرنې وړ دي.

د ګران ډاکټر داود جنبش په قلم د دغه اثر ژباړه، د پوره زیاتې ستاینې وړ ده. د جنرال ګرموف له "سرې لښکرې په افغانستان کې" راوروسته، دا د ښاغلي ډاکټر جنبش دویمه ارزښتناکه ژباړه ده چې ګرانو هېوادوالو او ټولو پښتولوستونکیو ته وړاندې کېږي.

لکه چې ښاغلي ژباړونکي هم اشاره ورته کړې ده، "په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟" د جنرال مایوروف له خوا خپلو خاطراتو په داسې ښه کښل شوی دی چې د پښتو بیان یې لکه د یو په زړه پورې داستان په څېر دی او له همدې امله یې د لوستلو په وخت کې مینه وال لوستونکي له پوره تلوسې سره لولي او تر هغه چې یې ټول کتاب پایته نه وي رسولی. دغه تلوسه همداسې ژوندۍ پاتې کېږي. له ښکه مرغه د ژباړې ژبه هم داسې خوږه او روانه ده چې د پښتو د ژور بیان په څنګ یې د یو ډول داستاني بیان ځانګړنې هم ورسره خوندي کړې دي. ما خپله د دغه ژباړلي اثر لاسکښلې نسخه یوازې په یوه ناسته کې ټوله ولوستله؛ له مازیګره مې پیل کړه او د سهار په پنځو بجو مې په بشپړ ډول پایته ورسوله. باور وکړئ، تر هغه

چې مې ټول کتاب پای ته نه وای رسولی- خوب نه راته. زه خو دغه خبره د دې اثر او د دغه ډول ژباړې د برې د زېرې په توګه کنم.

"د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې" لپاره هم د ډېرې خوشحالی ځای دی چې د خپلو خپرنیو هڅو په لړ کې دغه کتاب درنو لوستونکو ته وړاندې کوي. موږ هیله من یو چې په راتلونکې کې هم د هېواد د کلتوري بریاوو له امیدونو سره او د خپلې ژبې د شتمنی لپاره. دغه خپرنې یون ته همداسې دوام ورکړی شو.

د ټولنې په استازیتوب د دې کتاب پیاوړي ژباړونکي ګران دوست داود جنبش ته د داسې خوږې ژباړې له امله مبارکي وایم او هیله کوم چې دغې ارزښتناکې لړۍ ته ادامه ورکړي. دغه راز له نورو هغو ټولو دوستانو هم د زړه له کومې مننه کوم چې د دې کتاب د چاپ په کار کې یې له ټولنې سره مادي ملاتړ کړی او د کتاب د چاپ لپاره یې زیار ګاللی دی. د دې کتاب د چاپ لپاره له ټولنې سره ښاغلي ریحان الدین حساس مرسته کړې ده چې مننه ترې کوو. دغه راز د لګښتونو پاتې برخه یې د ټولنې له پانګې لګول شوې ده.

په درناوي

زرین انځور

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني- د کولن ښار

۱۹۹۹ - ۴ د مې دېرشمه

۱۳۷۸ لمریز- د غبرګولي نهمه

# د ژباړن سريزه

"... دا ټول مصنوعي خلك دي، په لاس جوړې شوې څېرې وي" - دا هغه لومړنۍ ټكي وو چې ما د ده له خولې واورېدل. ده ته مې د ۱۹۹۶ كال د سپټامبر په دريمه اوونۍ كې له لندن نه تر ستنېدو يوه ورځ وروسته تلفون كړى و. دى مې نه پېژانده او نوم مې يې هم يوازې هغه وخت واورېده چې تاجكستاني ورځپاڼه ليكونكي اليګ يانفيلف يې كتاب راوسپاره. يانفيلف چې د افغانستان په اړه زما د كتابونو ټولولو په لېوالتيا خبر و، ده د كتاب د راسپارلو پر وخت له احسانه په ډكه ژبه وويل: "مخامخ مې له مطبعې درته راوړى، لكه توده ډوډۍ چې همدا شېبه له تناره راوتلې وي" ما ترې مننه وكړه او كورته په لاره په مترو او "ترامواى" كې مې يې نيمه غټه برخه ولوستله. خوند يې راكړ او د لومړنيو پاڼو له لوستلو وروسته يې سملاسي د ژباړې په تكل شوم. دغه وخت د روسيې د بهرنيو چارو وزارت د نړيوالو اړيكو په انستيتوت كې د افغانستان په اړه نړيوال سيمينار روان و. سبا يې دويمه ورځ وه. زه او لطيف بهاند په كې د ګډون لپاره وخوځېدو او پر لاره مې، هم د دود خلاف له هغه سره د خبرو پرځاى له كتاب سره مشغولا درلوده. په سيمينار كې رنګارنګ نظريې اورېدل كېدې او اټكلونه كېدل چې كابل به د طالبانو بريد ته ټينګ شي او

که څنګه؟ طالب غورځنګ اوس د افغانستان د ختیزو ولایتونو له نیولو وروسته سروبي هم تر کوتو کړي و. د سیمینار د هر ویناوال له اتکل او نظر وروسته به زه له الکساندر مایوروف سره د هغه د کیسو پر وزر د افغانستان کلیو او درو ته ورتلم او دا جګړې به مې د لس- پنځلس کاله مخکې ننګتو سره چې "په افغانستان کې رښتیا څه تېر شول؟" کې انځور شوي. پرتله کولې. د هغې ورځې تر مانبامه مې د روس جنرال "رښتیا" تیول ولوستل او سره له دې چې یو شمېر څایونه او خبرې راته یا تت او یا ناسم وبرېښېدل د ژباړې پر تکل یې کلک شوم. سبا د سپتامبر اووه ویشتمه وه او د مسکو د خړمنې پر دغه سهار مې چې څنګه راډیو ولګوله نو پر کابل یې د طالبانو د بشپړې ولکې او ورسره ورسره د مخکني افغان جمهوررئیس ډاکټر نجیب الله د ناډودې وژنې خبر خپراوه. لکه سړې اوبه چې راباندې توی شي: د کابل پېښې او په تېره د نجیب الله وژنې زما ټوله نقشه واړوله. اوس مې د ژباړې پر سموالي شک پیدا شو: د مایوروف په ډېرو منفي اټکلونو کې یو ډاکټر نجیب الله و او له ځانه سره مې وویل ښایي په دې وخت کې به د دې کتاب ژباړه د طالبانو په لاس د نجیب الله د وژنې سپینول او یا د هغوی پر حقه ښودل وبلل شي. د مایوروف کتاب مې د "داس" لیلیې په کړو- وړو آلماریو کې د نورو کتابونو تر څنګ په وندر وتاړه.

... له هغې پېښې دا دی څه د پاسه دوه کاله تېر شوي او سره له دې چې د کابل د هاغه ورځو د پېښو په اړه مې نظر او قضاوت ډېر لږ اوښتی خو د مایوروف د خاطرو د ژباړې تکل راکې بیا غزونې وکړې او زه یې د دغه هوډ سرته رسولو ته وهڅولم. ژباړه مې بشپړه کړه او دا دی ستاسې په وړاندې ده.

ستر جنرال الکساندر میخایلویچ مایوروف په ۱۹۸۰-۱۹۸۱ کلونو کې د لږ څه د پاسه یوه کال لپاره په افغانستان کې لوی پوځي

سلاکار و. ده ډېر کلونه وړاندې د مصر په عربي جمهوریت کې هم، هغه وخت چې جمال عبدالناصر د واك پر ګدۍ و، مصري پوهیانو ته سلا او مشورې ورکولې. پر چکوسلواکیې د شوروي پوځونو د یرغل پر وخت هم د ختیځې اروپا په دغه هېواد کې د خپل هېواد مشر پوځي و. خاطرې یې ډېرې دي او د کاغذ پر مخ یې د هغو د راټولولو تکل د خپل ژوندانه له وروستۍ بهرنۍ تجربې، افغاني تجربې وروسته په اتیا کلنۍ کې کړی دی. ښایي د تجربو همدې ډېروالي، د پېښو ورته والي او د عمر ډېر والي یې ځای ځای په ارزونو (ارزیابیو) کې ناسموالي ته لاره پرانستې وي. د ساري په توګه د عربو په دود "د مننې" یا "تشکر" پر ځای د "شکراً" کارول؛ د مصر د ملي او اسلامي مشرانو په دود د افغاني کمونستو لاربنوونکو ځینې عادي حرکات د دعا یا عبادت بلل؛ د نومونو په ثبت کې تېروتنه: لکه د (اناهیتا) راتب زاد پر ځای راتب زاك او یا د (نورالحق) علومي پر ځای د نورالنك (علومي) کښل او یا د جهادي قوماندانانو په پېژندګلوۍ کې تېروتنې. د وروستي ډول یوه څرګنده تېروتنه د جنرال عبدالرشید دوستم پر پېژندګلوۍ کې کوي. مایوروف دوستم د مجاهدینو د یوه بېرحمه قوماندان په توګه انځوروي چې په افغانستان کې یې د ده د چوپړ په کلونو کې پر مزارشریف او نورو شمالي سیمو واکمني کوله. په کتاب کې د دوستم په ګډون له انځور شویو پېښو نه سړي ته دا شك ورلوېږي چې لیکوال یا هغه نه پېژني او یا یې د مجاهدینو له کوم بل قوماندان (لکه عبدالقدوس کل) سره مغالطه کوي. د دوستم پېژندنې ته به لږ تم شو.

جنرال نبي عظیمي د عبدالرشید دوستم د تېر ژوندانه په اړه لیکي: "دوستم... د خپل کلي په لومړني ښوونځي کې لیك-لوست زده کړل او تر منځنیو زده کړو پر مخ وخوځېد. وروسته عسکرۍ ته ولاړ او د انقلاب په پېر کې د هغه په یوه ساتونکي واوښت. د عقیدې

له پلوه مسلمانو ځنبتن پال سړي و او هغه وخت يې چې لا هېڅ شهرت نه درلود په صداقت سره د سولې او د خپلو خلکو د ښېرازۍ او سوکالۍ لپاره منلې تربرې وهلې" ("اردو او سياست": ۳۴۱ مخ).

له دې ليکنې څخه له مجاهدينو سره د دوستم د تړاو هېڅ ځرک نه لګېږي. خو چې کله مې د دوستم په اړه د مايوروف د ځرګندونو دروغ- رښتيا د کورنيو چارو له مخکيني وزير سيد محمد ګلابزوي نه وپوښتل نو هغه يې خبره پخه کړه: "... هغه رښتيا هم په لومړي سر کې له ضد انقلاب سره و".

ضد انقلاب خو ضد انقلاب دی. خو مايوروف يې د مجاهدينو په داسې وتلو ځېروکې راولي چې له ګلبدين حکمتيار او احمدشاه مسعود سره د پرتلې وړ کېږي. همدا خبره لوستونکي ته شک وراچوي. په دې اړه به د دوستم د خپلې خولې يو نکل هم راوړم:

د ۱۹۹۵ کال په اګست کې د افغانستان شمالي ولايتونو ته د تګ پر وخت شبرغان ته د جنرال عبدالرشيد دوستم ليدو ته ورغلم. دهغه تود هرکلی او مېلمستيا بېساري وه. دغه وخت د جنرال پيترشېرشوف په مشرۍ د روسيې د پارلمان د مشرانو جرګې (فدراسيون شورا) يو پلاوی هم د کابل او شبرغان د پخلا کولو لپاره د دوستم مېلمه و. د خپل پرتمين مېلمستون په دويم پوړ کې د يوې خصوصي مېلمستيا پر وخت، جنرال دوستم د خپل تېر ژوندانه د انځورولو پروخت ويلي وو:

"... د (حفيظ الله) امين ځايي واکمن به هرځای په ما پسې خبرې کولې او بد- رد به يې ويل. يوه ورځ يې د نورو سپکو- سپورو د ويلو پروخت د شبرغان سپين ږيرو ته ويلي وو چې دوستم ټګ او دروغجن دی. ما له دې خبرې سره خپل انډيوالان په ځان پسې کړل او د خلقي واکمنو خلاف مې مبارزه پيل کړه. ځايي واکمن ته مې ځواب

وروليږه: زه به يې اوس درته ونبيم چې دوستم دروغجن او ټګ دی او که نه".

دا د جنرال دوستم د خپلې خولې نکل دی چې تر څه ځايه د جنرال مايوروف د خبرو تله درنوي او د نوموړي په اړه يې پر انځور د پخلي مهر لګوي. خو دا چې د دغه مقاومت کچه څومره وه او تر کومه اوږده شوې، ما ته پته نه شته.

زه د جنرال دوستم کتنې ته له روسي پارلماني پلاوي سره يوځای له مزارشريف نه خوځېدلی وم. تشريفاتي موټرې په مېلمنو ډکې وې او د جنرال دوستم وياند تورن جنرال محمد يوسف له مانه وغوښتل چې له هغه سره يوځای په مزارشريف کې د روسيې د قونسلګرۍ په ديپلماتيک موټر کې کېنم. ومې منله. يوسف خان د چلوونکي تر څنګ کېناست، چې وروسته جوته شوه. د روسي قونسل شف چنکه مرستيال دی. پر لاره د افغانستان د کورنۍ شخړې خبرنه روانه وه. روس ديپلمات په دې ګومان چې زه په روسي نه پوهېږم له جنرال يوسف سره بې پردې غږېده:

- طالبان کابل ته نږدې شوي او که دغه په نيولو بريالي شي نو بيا ستاسې لوری هم له خطر سره مخامخ کېږي.

جنرال يوسف په احتياط ځواب ورکړ:

- نه، موږ له طالبانو سره همکاري لرو.

- د دې پرځای بايد له کابل سره همکارۍ وکړئ چې د طالبانو مخه بنده شي.

- له کابل سره مو همکاري يوځل ازمايلې ده...

- خبره په ازمېښت کې نه ده، ګټې ګټې مهمې دي.

- اوس زموږ ګټې له هغوی سره ګډې نه دي.

- له طالبانو سره ګډې دي څه؟

جنرال يوسف زړه نا زړه و:

- نه شم ویلی...
- خو طالبان پښتانه دي.
- پوهېږم چې ډېر یې پښتانه دي.
- د ظاهرشاه پروخت مو پر شمال د پښتنو ظلم هېر کړی چې بیا له هغو سره نږدې کېږئ...

جنرال یوسف ما ته وکتل او بیایې په ځانګړې تاکید وویل:

- موږ ټول یو ملت یو.
- خو په اوسني پړاو کې د ناپښتنو ګټې د پښتنو په وړاندې د هغوی یووالی غواړي.

خو تر هغو چې جنرال یوسف ځان ځواب ته جوړاوه زما د صبر کاسه نسکوره شوې وه:

- ښاغلی ډیپلمات! دا جګړه د افغانستان د ورونو قامونو نه ده، د هغوی په نامه جوړو شویو ډلو ده او تاسې ته دا نه ښايي چې بیا یې له یو بل سره واچوئ.
- اوه، هو، ته خو ښه روسي وايې. له بیګا راهیسې درته ګورم چې دا څوك دی او ولې نه غږېږي. که لږ ځان راوپېژنې.
- داود جنبش...
- هه، دا ته یې چې هره شپه د روسانو د پوځي لاسوهنې خبرونه خپروې.
- ما هېڅکله بې سنده او په لوی لاس ناسم خبر نه دی خپور کړی.
- ته په مسکو کې دیره یې؟
- هو-
- چې داسې ده نو واوره: هغه څه چې دې دلته واورېدل هېر یې کړه. دا د روسیې د دولت رسمي نظر نه دی، هسې د زړه خواله وه. خو که چا ته دې وویل په مسکو کې رانه شپه نه شې تېرولی.
- زه خبریال یم او په ګوابنونو که ډارېدلی دا لاره مې نه نیوله.

- ما خو درته وویل ایسته دې خونبه خپله ده.

جنرال یوسف زموږ ناندرۍ پرې کړې او د لارو په اوږدو کې یې د پرتو سیمو او پوځي پوستو، تاریخي ځایونو او نورو په اړه د معلوماتو په راکولو خبره وارولـه.

ماته جوته شوه چې لږ تر لږه د روسیې یو شمېر کړۍ په افغانستان کې بیا د پښتنو او ناپښتنو له خبرې نه د ځان لپاره د ګټې اوچتولو هڅې کوي. ښایي دا یې زړه کړنلاره وه: پر ۱۹۸۰ کال مزارشریف ته څیرمه د یوې جګړې د انځورولو پروخت جنرال مایوروف یوه ګونګه یادونه کوي او ملکي وګړو ته د سر د دراندو زیان تر اوښتلو وروسته کاږي: "موږ ته دا پته هم وه چې د شمال زیات وګړي پښتانه نه دي". سم دلاسه د دغې لنډۍ جملې په مانا ونه پوهېدم خو کله چې مې هغه په ۱۹۹۵ کال کې د روسي ډیپلمات له خبرو سره پرتله کړه: نو پوه شوم چې مایوروف غواړي ووایي چې د ناپښتنو ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي کلکه لارښوونه ورته شوې وه. خو د افغان ملت لپاره دا ټول یو درد و: که د پښتانه دي که د ناپښتانه.

مایوروف خپل کتاب د یوه تاریخي ناول په توګه کښلی او ژبه یې داستاني او خوندوره او کله کله پېچلې ده. طنزونه، کنایې او پرتلې خورا ډېرې لري. مایې تروسه وسه د ړنولو زیار ایستلی او په لمن لیك کې مې د ستورو (*) په نښه زیاتونې او څرګندونې کړي چې د (د.ج) (داود جنبش) په تورو یې د لیکوال له متن نه بېلتون شوی دی.

متن له لومړي تر وروستي ټکي په پوره امانت ژباړل شوی، خو د مخکینو ژباړو خلاف مې په کې د خطاب روسي بڼه افغاني کړې ده. د ساري په توګه: د ك.ګ.ب رئیس یوري ولادیمیروویچ اندروپوف ته د خطاب پروخت د روسي مکالمې غوره بڼه د هغه د نامه لومړۍ برخه (خپل نوم) او دویمه برخه (د پلار نوم) څنګ پرڅنګ راوړل دي، په دې ډول یوري ولادیمیروویچ. په داسې حال کې چې افغاني

لوستونکي د (اندروپوف) کلمې په شتوالي کې سم نه شي پوهېدی چې خبره د چا په اړه ده. ځکه نو ما د نبي روښانتیا پرځای: د وزیر صاحب، رئیس صاحب، منشي صاحب او نورو خطاب غوره بللی دی او په دې توګه مې په دغسې مواردو کې د کتاب متن اړولی دی.

د کتاب د نامه تکي په تکي ژباړه داسې راځي: "د افغانستان په اړه ربنتیا" خو مایې د پښتو ژباړې لپاره "په افغانستان کې ربنتیا څه تېرېدل؟" نوم غوره بللی دی.

فکر کوم چې له ځینو څرګندو نیمګړتیاوو او تېروتنو سره سره د مایوروف خاطرې خورا په زړه پورې دي او تاریخي ارزښت لري. ده ځینې داسې صحنې لیدلي او انځور کړې دي چې بل چا نه لیدلي او نه انځورولی شوای. که دده کتاب پر دریو برخو: شخصي مشاهدات، اټکلونه او تاریخي سوابق، وویشو تر ټولو غوره او د باور وړ برخه یې همدا لومړۍ (شخصي مشاهدات) راخېژي. نورې یې هم بې ارزښته نه دي خو محتاط چلند غواړي. ما به په تېره بیا له هغه مخکیني افغان پوځي نه د دې کتاب دقیقه لوستنه غوښتې وای چې په نامستقیمه توګه یې راته کښلي وو: "تاچې د ببرک کارمل په ګلانو نغښتی تابوت ولیده نو له غوسې درباندې اور بل شو". تاریخ قاضي دی ګرانه نه ته او نه زه. مایوروف په خپله لومړنۍ تلفوني مکالمه کې راته ویلي و: "ببرک کارمل، نجیب، اناهیتا... دا ټول مصنوعي خلک دي، په لاس جوړې شوې څېرې دي". ته پرې د زیاتولو څه لرې؟ فکر کوم چې همدا بس دي.

په پای کې له هغو ټولو دوستانو نه چې د دې ژباړې د خپرولو لاره یې هواره کړې او امکانات یې برابر کړي، په تېره د خواږه دوست زرین انځور له لاربنوونو او مرستو نه مننه کوم.

داود جنبش

لندن د ۱۹۹۹ کال د مې اتلسمه

# د سريزې پر ځای

چې کله بیا په فکر کې د افغانستان جګړې ته ورستون شم او راسره خوندي اسناد، نقشې او یادښتونه راوڅېړم، نو پر ډېرو شیانو له سره کتنه کوم. کله کله راته ځان له روحي پلوه په دوه ګونې حالت کې وایسي. له یوې خوا پوهېږم چې د دغې جګړې په اړه سپینې او هر اړخیزې خبرې کول په کار دي. خو له بلې خوا وېرېږم چې ارزونه مې ذهني راونه خېږي. ښایي اوس هم لوستونکي د بېلابېلو څېرو په ارزونه کې سوچه عندي او شخصي آنده له ورایه ووینې.

ما مسلکي پوځي ته به دا خبره عادي وای چې په افغانستان کې پر خپلو کړو، د خپلو مادونانو پر اتلوالو هڅو یا پرخپل شخصي مقاومت، پوځي چلبازۍ او پرېکنده عمل وویاړم. خو په حقیقت کې چې مې له هره ګوټه دغې جګړې ته کتلي. هغه ځلانده یا هسې مثبت څیزونه مې ډېر لږ لیدلي، چې زړه یې په اړه د لیکلو لېواله دی. او دا له دې امله نه ده چې ګنې زه اوس افغانستان ته د عسکرو د لېږلو د یوه مخالف له دریځه غږېږم، بلکې برعکس: تر همدې دمه زما انده دا ده چې دغه کار باید شوی وای. خو کړنو باید بله بڼه درلودلې وای: لاتوري هم پر عقل بنا وای، پرېکړې باید تر پوره پېخوالي وروسته شوې وای او پلې کېدل یې هم باید له بشپړ انعطاف یا

کړېدنې سره ملګرې وای. ځکه په وروستي تحلیل کې خبره د امریکې او شوروي اتحاد تر منځ د نړۍ په کچه د برلاسۍ د موندلو لپاره د نه پخلا کېدونکې مبارزې د نتیجې یا پایلې وه. او افغانستان ته د پوځونو استول په دې موخه چې په مرکزي او جنوب ختیزې آسیا کې مو راتلونکې شتوالی پوخ شوی وي، زړه رانیکونکې، هیلې زېږوونکې او پرځای کار و. هغه وخت مې هم تیک همدغسې فکر کاوه چې کابل ته د خپلې نوې دندې په لور روانېدم...

خو اوس مې د هاغه پېر رایادول خوشحالولی نه شي. او له سره ځان پوښتم چې: د دې هرڅه بیا نکلول د څه لپاره؟ او دا خبرې چاته په زړه پورې دي؟

مسلکي پوځیان د عادت له مخې د ژوندانه په پای کې له هغه څه نه چې د هېواد د سرلوړۍ لپاره یې د جګړې په ترڅ کې سرته رسولي، خوښ وي. خو زما په زړه لکه ډبره چې پرته وي. ښایې د دې دلیل هغه اوږده پنځلس کلنه چوپتیا او په افغانستان کې د جګړې د لومړي کال د غم لړلو پېښو په اړه نورو ته د خپلو افکارو د سپړلو بې میلې وي. خو داسې برېښي چې له زړه نه د ډبرې د پورته کولو شېبه نوره رارسېدلې ده.

ښایې تاریخ لیکونکو ته د جګړو انځورول ارزښتمن برېښي. خو زه هیله من یم د هغو کسانو په پېژندنه کې د یو څو لیکو راکښل به هم چې له ما سره یې څنګ پرڅنګ کار کړی دی، بې ګټې راونه خېږي.

غواړم د افغانستان د پوځ په اړه هم یو څو خبرې وکړم. دې پوځ د اپرېل (ثور) له انقلاب نه مخکې په صداقت د باچا ظاهرشاه او د مانې د ننه کودتا له پېښېدو وروسته دولسمشر داود چوپړ کاوه. خو ته به وای زمانې د خپلې منډې ګامونه چټک کړل. هرڅه په هېښوونکې چټکتیا په بدلېدو شول: د واک پر پلاز لومړۍ تره کې.

بیا امین او تر هغه وروسته ببرک کارمل ورخېږي. په دې ټول بهیر کې ستر پوځي جوړښت چې ۱۸۰-۲۲۰ زره تنه یې درلودل، د پخوا په څېر پاتې و او هماغسې چلند یې کاوه. داهېوادنی پوځ و. او دنده یې هم د هېواد د ګټو ساتنه وه نه دا چې د دغه یا هغه رژیم واک ټینګ کړي. خو دا دی هغه وخت رارسېدلی و چې همدې پوځ د خپلو ورونو، مسلمانانو خلاف وسلې راپورته کړې. همداکار د افغانستان ولس په غمیزې واوښت. او دا غمیزه د کرملین استوګنو رامنځته کړه او د هغې اور ته یې د ببوزې په وهلو کلونه کلونه اوږده کړه. زه هم د ۱۹۸۰-۱۹۸۱ کلونو په ترڅ کې د دغې غمیزې برخه وال او د پېښو له هماغه پیله یې ګواه کوونکی شوم.

هغه وخت ماته د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د لوی پوځي سلاکار په توګه په پوځي وسیلو د شوروي مشرتابه له خوا د غوره شوې تګلارې پلي کول را ترغاړه و. زه اوس دا جرات نه کوم چې د هاغه پېر نړیوال او کورني حالات ژور وڅېړم یا پرې د پوهېدنې هڅه وکړم. ښایي تر ډېره د بشپړې ارزونې او د یوه رښتیني تاریخي انځور د بیا جوړونې لپاره د اوږدو کلونو په ترڅ کې د ډېرو کارپوهانو نه سترې کېدونکو هڅو ته اړتیا وي.

خو دا چې ما څه لیدلي، څه کړي، څه اورېدلي، د فکر نیلي مې پر کوم خوا تللي، له چا سره یوځای مې خدمت. کار او جګړه کړې، امرونه او لارښوونې مې له چا نه ترلاسه کړي. د چا درناوی مې کړی او چا ته مې په کرکه کتلي دا ټولې خبرې، پېښې- سپینې او بې له دې چې پرده پرې واچوم یا بل رنګ ورکړم. بیانول غواړم او په دې توګه هغه څه چې ما ته د افغانستان د جګړې په اړه رښتیا (حقیقت) بریښي، نکلوم.

# لومړی څپرکی

د ۱۹۸۰ کال د جون په شلمو کې چې زه د بالتیك د سیمې د پوځي حوزې قوماندان وم او د "دابره ولسك" په روزنیز مرکز کې مې د بالتیك د سیمې د پوځي زده کړې مشري کوله، له مسکو نه راته پر ځانګړې لیکنې د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ لوی درستیز مارشال نیکلای واسیلوویچ اګارکوف ټېلفون وکړ:

- سبا مسکو ته راتلی شې؟
- البته. څه شی له ځانه سره راواخلم؟
- سر دې، الکساندر میخایلوویچ.

د روزنیزې چارې څارنه مې خپل مرستیال ته وسپارله او پخپله له مېرمنې سره د مسکو پر لور والوتلم. آن په الوتکه کې مې زړه راته ویل: "افغانستان". ما خپل دا احساس له (خپلې مېرمنې) اناواسیلیفنا سره شریك کړ. زموږ پر ژوندانه د راخپرېدونکې اوښتون څپې پر بل هېڅ د هغې هومره اغېز نه شوای غورځولی که په مصر کې وم، یا په چکوسلواکیا کې د شوروي پوځونو مشري را

ترغاړه وه او یا دلته په بالتیك کې- هرچېرې راسره دې د برخلیك لورې ژورې سمې زغملې دي.

لکه هسې چې د پوځیانو دود دی (لوی درستیز) نیکلای اګارکوف ته سمدلاسه او بې له ځنډه ورغلم. هغه بلنه راکړه چې هاخوا پرخنګ یوه ایښي مېز ته کېنم او په کتو کتو یې خپل مېز ته چې په ډول ډول دستګاوو ډك و اشاره کوله چې هلته نه کېنو. مور ښه پوهېدو چې کله خبره مهمه وي نو ځومره چې سړی له دغو دستګاوو لرې کېږي، هومره غوره وي. یو بل ته پوزه په پوزه مخامخ کېناستو:

- افغانستان

او له یوه اوږده ځنډه وروسته:

- ستا د غوره کېدو خبره د سیاسي بیرو غونډې ته اچول شوې ده. ته د جګړو او له هېواده بهر د کارکولو تجربه لرې.

ما غوږ نیولی او چوپ یم.

- ته هلته د سوکولوف او اخرامییف پر ځای تلونکی یې.

زه چوپ یم.

- د دې لپاره چې مقام دې نور هم درونډ شي، د ځمکنیو پوځونو د لوی قوماندان مرستیالي درکول کېږي.

چوپتیا مې همداسې پر ځای ده.

- که ستا هوکې وي نو بیا به پر دغې ځوکۍ ستا د ټاکنې خبره په سیاسي بیرو کې تصویبول غواړي.؟ او ښکاره ده چې له هغه وروسته به دې د سیاسي بیرو غړي وار په وار ځان ته ورغواړي، اړین (ضروري) معلومات او لارښوونې به درکوي... څنګه دې په خوله سوك ایښی دی؟ زه ستا ځواب ته سترګې په لار یم.

- فکر وکړئ چې زما هوکې مو تر لاسه کړې ده.

په دې کې ور ببرته شو او د دفاع وزیر اوستینوف چې ډېر ډنګر او کړوپ شوی و دفتر ته راننوت: لږ مخکې یې ډېر سخت عملیات کړي وو. ښایي د اګارکوف کوټې ته په راتګ سره غوښتل په

افغانستان کې د شوروي سلاکارانو د ډلې د. مشرۍ منلو ته زما په راماتولو کې له نوموړي سره مرسته وکړي. هغه له اګارکوف او له ما سره روغبړ وکړ او بیا یې له لوی درستیز نه وپوښتل:

- څنګه، لکه چې هوکې نه کوي؟
- نه، برعکس، وزیر صاحب!

خو اوستینوف لکه چې د هغه ځواب اورېدلی نه وي، خبره پسې اوږده کړه:

- ډارېږي څه؟

اوستینوف د دفاع وزارت په څلورو کلونو کې لاتر خپل لاس لاندې کسانو سره سمه خوله خوځول اوښه چلند زده کړی نه و. ښایي د ستالین د وخت دغه ولسي کمیسار* د پوځي مهماتو د کمیساریات د څانګو له مشرانو سره د خبرو- اترو د زاړه دود له مخې، اوس هم تریخ چلند کاوه او دې کار د جنرالانو ناخوښي یا پلپوت (شکایتونه) راپورته کول. دې کار په تېره بیا پر هغو وتلو قوماندانانو ناوړه اغیزه کوله چې همدا لږه موده وړاندې د دفاع د مخکیني فقید وزیر اندره انتونویچ ګریچکه له خوا ورسره چورلټ بل ډول چلند کېده.

طبیعي ده چې د اوستینوف دا بې نزاکتي مې د ځان لپاره سپکاوی وباله:

- ملګري د دفاع وزیر! له ډېرې زماني راهیسې نور له هېڅ او هېڅ شي نه ډارېږم. ما جګړې لیدلي او ډېر ځله مې مرګ د سترګو له وړاندې تېر شوی دی. لوی درستیز مې د خبرې د پرېکولو له لارې اوضاع لږه آرامه کړه:
- وزیر صاحب، هغه بیخي موافق دی، ځي، ځي!

وزیر له ځانه سره وبونګېده:

---

* تربلشویکي انقلاب وروسته په شوروي روسیه کې تر ډېره د وزارتونو مشرانو ته "ولسي کمیسار" او وزارتونو ته "ولسي کمیساري" ویل کېدل (د.ج.)

- څه نو شکر دی. دا یې وویل او کوږ ووږ له خونې ووت.

افغانستان ته د شوروي لښکرو له استولو وروسته د شوروي- افغان په اړیکو کې د سیاسي دیپلماتیکو، پوځي، اقتصادي او نورو ستونزو د غوڅولو لپاره د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سیاسي بیرو کمیسون جوړ شوی و.

(دک. ګ.ب رئیس) اندروپوف، (د بهرنیو چارو وزیر) ګرومیکو، (د دفاع وزیر) اوستینوف (د مرکزي کمیټې د نړیوالو اړیکو د څانګې مشر) پونامااریوف د دغه کمیسیون غړي وو. د کمیسیون غونډې اندروپوف رابللې او جوړولې او عملاً یې د هغو ریاست هم کاوه. سربېره پر دوی د برېژنف د شخصي غوښتنې له مخې (د سیاسي بیرو غړي او د مرکزي کمیټې منشیان) سوسلوف او چرنیدکه هم د افغانستان په حالاتو وخت نا وخته بوختېدل. ماته د کمیسیون له دغو غړو او له هریوه سره جلا- جلا کتنه تر مخه وه.

له اوستینوف سره د لنډو خبرو کوچ دا وو:

- د کمیسیون له غړو سره وګورئ او نظریو ته یې غوږ ونیسئ. په تېره بیا د یوري ولادیمیروویچ (اندروپوف) خبرو ته ښه ځیر شئ. هغه پراخ معلومات لري او ډېر زیرک سړی دی.

له اوستینوف نه له یوه ناراحتوونکي احساس سره راووتلم: د دفاع وزیر په شرموونکې بڼه د اندروپوف په منګولو کې دی. هېره دې نه وي، وروسته به چې کله افغانستان ته لارښوونې (دایرکتیفونه) رارسېدل نو لومړی به په کې د اندروپوف لاسلیك و او شابه یې د دفاع وزیر او ستینوف په نښه کړې وه. ځګړه خو پوځیانو کوله او په کار وه چې د دفاع وزیر لاسلیك تر نورو د مخه وای. خو د ك.ګ.ب، د اوچت دریځ سپین سترګي وه او په ښکاره یې قانوني بڼه غوره کړې وه.

دویمه کتنه مې له اندروپوف سره په "لوبیانکې" (د ك.ګ.ب په مرکزي ودانۍ) کې وه:

غوړېدلـې شـيدو وزمـه بـڼه، تـېره غـږ، لــه کـبر ډك حرکتونــه او لــه تېنګار سـره ملـه مـهرباني. د خپـل دفـتر پـه منځ کې يـې مـا تــه هرکلـی ووايه. بيـا يې وويـل چې کېنـم.

د افغانســتان د حــالاتو د پــېچلتيــا او د دوســت هــېواد د مشــرتابه پـه وړانـدې د خپلـو کـړو- وړو د سـنجولو د اړتيـا پـه اړه يـې پـه ټيـټ آواز خو اغېزناکې خـبرې کولـې.

- پوهـېږو چـې کــارمل يـوه کرغېړنــه څېره ده، خـو زمـوږ لارښوونـو تـه کلك غـوږ نيسـي. د هغـه ملاتـړ وکـړه.

پـه خـبرو خـبرو کـې يـې داسـې ضمنـي يادونـه وکـړه چـې زمـا تـېرو دنـدو لـه ټول څرنګوالـي او پـه مصـر او چکوسـلواکيې کـې مـې لـه کـارونو نه خبر دی. د بالتيك پـه سيمه کې يې زما خدمـت هـم غـوره وبالـه....

- خـو حـالات دلتــه بــل ډول دي. پــېچلـي دي. او بيــا يـــې د "تاســې" ضمير کـارول پيـل کـړل زياتـه يې کـړه :پـه دې تـوګه نـو هـرڅه پـه خپـل لاس کـې ونيسـئ او عمـل وکـړئ.

- يـوري ولادېمـيروويچ (انـدروپـوف)، د جـګړې پـه حــالت کـې يــوې قوماندانـۍ او د واك واحـد مرکـز تـه اړتيـا وي.

- تاسې تـه هغـه درکـول کـېږي کنـه!

- کيـدی شـي ستاسـې دا خـبرې د خپلـو صلاحيتونـو (واکونـو) تصويـب وبولـم؟

- دا خـبره بــه همـدا ګړۍ سـپينه کـړم- او لــه دې سـره يــې د ټېلفـون غـوږۍ راپورتـه کـړه:

هغـه وخـت زمـا غـوږونـه خـورا تـېره وو. مـا نـه يـوازې د انـدروپـوف خـبرې اورېدې، بلکـې د ټېلفـون پـه ليکـه کـې لـه هغـه سـره د غـږېدونکي کـس غـږ مـې هـم تـر غـوږ ورسـېده. څه نـاڅه (تقريبـاً) دغـه خـبرې اتـرې وشـوې:

- بارئيس! دا زه يم، يورا*

ماته پته ولگېده چې اندروپوف له باريس نيکلايويچ پوناماروف سره غږېږي.

- دلته له ماسره مايوروف ناست دی، په خپل لاس کې د ټول واك د ټولېدو غوښتنه کوي.
- پرېږده چې ترلاسه يې کړي نو.
- مانا داچې ته له ده سره هوکې کوې؟ زموږ کميسيون به څنګه شي؟ هرڅه چې وي بيا هم هغه د سياسي بيرو کميسون دی.

ما له ځانه سره فکر کاوه: (د ك. ګ. ب) رئيس خو به ملنډې نه راباندې وهي؟ دا څه لوبه ده؟ او بيا د اندروپوف غږ تر غوږو کېږي:

- نوباريس، که چېرې مايوروف ټول واك په خپلو لاسونو کې ټول کړي، څوك به بيا مشر او مهم وي؟
- خو هغه به هلته، په افغانستان کې، مشر پوځي وي.
- او په مجموع کې هرځای زموږ ګوند مشر او مهم دی... باريس، زموږ ګوند!
- البته، البته.
- خو تر ټولو مشر ليونيد ايليچ (بريژنف) دی! اندروپوف په همدې ټکو خپلې دا نندارہ يېزې خبرې پايته ورسولې.

زه دهغه له دفتر خوابدی راووتلم. د کميسيون د دوو غړو تر دغو تشو تلفوني خبرو وروسته بيا هم راته دا جوته نه شوه چې بشپړ واك راکول کېږي که څنګه. مسووليت خو به هرومرو بشپړ زما په غاړه وي.

راتلونکې غونډه له ګروميکو سره وه. له ده سره مې لاهغه وخت چې په چکوسلواکيا کې د مرکزي پوځي ډلې قوماندان وم، څو ځله

* په روسي محاوره کې چې کله دوه دوستان خبرې کوي نو د نامه لومړی برخه لنډوي، يا يې د مينې او ناز لپاره اړوي لکه په دې مکالمه کې د اندروپوف نوم له "يوري" نه په "يورا" اوښتی دی (د.ج)

لیده- کاته شوي وو. ښايي نومړي ماته د يوه داسې سړي په سترګه کتل چې په سياست او ديپلماسۍ د پوهېدو لپاره يې پوره تجربه تړوله کړې ده او ځکه يې راته وويل چې لارښوونې نه کوي.

- په ديپلماتيك ډګر کې کارونه روان دي، سياسي هڅې به هم ورسره ملګرې کړو او ستاسې کار جنرال صاحب، جګړه ده. او چې څومره ژر شوي وي د واك ستنې ټينګې کړئ.

د هغه خبرې راته بيخي عادي وبرېښېدې. د پوځي سړي کار جګړه ده. زه مجبور يم، زما دنده دا ده چې خپله تړوله وړتيا او تجربه بشپړه راتړوله او په پوځي لارو- چارو د سياسي ستونزو د غوڅولو لپاره وکاروم.

خو له ګروميکو سره خبرو- اترو هم مخې ته د پرتې دندې په اړه زما د تصور له رڼولو سره مرسته ونه شوه کړی. ګروميکو چې تل شمېرلې خبرې کولې هسې پوه اشاره ګوتې غوندې يې په کابل کې شوروي سفير تابييف ته وکړه خو سم يې راونه پېژانده: پخپله بايد د دندې په ځای کې هرڅه وخېړم. او ما په زياتېدونکې توګه زړه په دې خبرې وتړه چې کابل ته له رسېدو سره به هرڅه پخپله ارزوم.

مخکې له دې چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په مرکزي کمېټې کې له پونامارېوف سره وګورم راته وويل شول چې د هغه مرستيال راستيلاو او ليانوفسکي ته ورشم. نومړی له افغانستان سره پوره بلد و. د دغه هېواد د تاريخ او ځانګړتياوو په اړه يې ډېر څه راته وويل. په دغې خاورې کې يې د مقدوني سکندر، چنګېز خان، انګرېزانو او... په څېر د بهرنيانو د ماتې يادونه هم راته وکړه.

- او اوس دا دی مونږ... ورننه وتو. له لږې خاموشۍ وروسته يې زياته کړه:

- لاس وهنه مو پيل کړه... خو له نورو نه زمونږ روسانو توپير همدا دی چې لومړی په لوی لاس ځانته ستونزې رازېږوو او بيا يې په اتلولۍ غوڅوو. جنرال صاحب! په افغانستان کې وينه تويه شوه.

او دا به تر هغو تويېرې څو چې په يوه افغان کې له بل افغانه د غچ اخيستو حس ژوندى وي.

او بيا پوناماريوف ته ورغلو. بنايي نوموړي ته به دا پته لګېدلې وه چې د کميسيون له غړو سره د خبرو په ترڅ کې راته هېڅ مشخصه خبره شوې نه ده. نو ځکه يې رانه هماغه څرګنده پوښتنه وکړه:

- څنګه، معلومات درکړل شول؟
- څه ووايم، کېدى شي ووايم چې معلومات راکړل شول. او منشي صاحب هلته (افغانستان کې) به پخپله د هرڅه څېړنې ته اړتيا وي.
- بيخي همداسې ده. خو تر کومه چې د يوه واحد مشرتابه خبره ده، زه تاسې درك کوم، خو تاسې هم موږ درك کړئ: موږ څلورکسه يو خو بيا هم تل يوه خوله نه يو.
- نو څنګه به هلته د مرکزي تګلارې روښتيا او کلکوالى احساسوم؟
- تاسې خو سترجنرال او ورسره د ځمکنيو پوځونو د لوى قوماندان مرستيال ياست.
- دا خو همداسې ده منشي صاحب، خو هلته په کابل کې د ك. ګ. ب، د بهرنيو چارو وزارت او د مرکزي کميټې استازي کارکوي... فکر نه کوئ چې له دې نه به هسې اندوخر جوړ شي.
- هېڅ خبره نه ده، هېڅ خبره نه ده، هرڅه سمولى شئ.

د کميسيون له غړو سره زما خبرې په همدې پايته ورسېدې. مخې ته يوه مهمه خبره پرته وه: د ليونيد ايليچ (بريژنف) د "مبارکو" سترګو په وړاندې دربدل، خو هغه په رخصتۍ و. نو ځکه اندره پاولوويچ کيريلينکه زما انتظار ايسته. د اګست پر اوومه نېټه نوموړي د مرکزي کميټې د ودانۍ په يوه کوچنوټې خونه کې چې تر مورګو له کتابونو ډکه وه، ومنلم. زړه کې مې ورته رخه هم راغله چې ته ګوره د دې ټولو کتابونو د لوستلو وخت هم لري!

- کیریلینکه داسې ساده غوندې وویل: کینئ کښه.

بیا یې چای له څه زړو (خسته) سره راوړ (د اندروپوف په دفتر کې یې هم همداسې چای راوړی و)

- وڅښه!
- مننه.
- څنګه، لکه چې روان یې د کارپات غرونه رالاندې کوې؟
- اندره پاولوویچ، افغانستان ته روان یم!
- زه نو څه وایم، خو کارپات ته کښه.
- اندره پاولوویچ، هلته هندوکش دی.
- تولعنت دې وي! هندوکش ته... لارښوونې دې ترلاسه کړې؟
- په عمومي بڼه:
- نور کارونه به پخپله هماغلته سموې. جګړه البته چې ډېره پېچلې روانه ده. دا لکه له "باندیر" والاوو* سره چې جنګېږې. په زړه مې دي چې له (دویمې نړیوالې) جګړې وروسته مو ږ څه ډول هغوی ځغلول، آخ چې څنګه مو ځغلول!... فکر دې اوسه چې هرڅه راولیکې او رپوټ راکړې او که لازمه شوه ټېلفون کوه.
- صاحب! لیك به، رپورټ به درکوم او که لازمه شوه ټېلفون به کوم. زیار به کاږم چې د سیاسي بیرو لارښوونې پلې کړم.
- له دې امله مننه.

په دې توګه مې د لویې سربښندنې په لوز د نورو رضا او دعا ترلاسه کړه. (کابل ته) له الوتو مخکې یو ځلې بیا لوی درستیز اګارکوف ته ورغلم. ده خبر راکړ چې د اورال د سیمې د پوځي حوزې سیاسي آمر تورنجنرال ویکتور ګیورګیوویچ ساموېلینکه همدا اوس-

---

* باندیر د اوکرائیني ناسیونالستانو مشر و چې پلویانو یې تر پایه په دغه جمهوریت کې د شوروي واك خلاف پټه او ښکاره وسله واله یا تبلیغاتي جګړه سرته رسولې ده. (د.ج)

اوس زما د مرستیال په توګه ټاکل شوی او سبا راسره په یوه الوتکه کې خوځېدونکی دی.

اګارکوف وویل:

- درستیزوال درته پخپله غوره کړه.

خو خبره مو داسې غوټه کړه چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د لوی درستیز سلاکار برید جنرال ولادیمیر پتروویچ چیریومنیخ په افغانستان کې د شوروي لوی پوځي سلاکار د ادارې د درستیزوال دندې ته غوره کېدلی شي.

# دویم څپرکی

هغه وخت په افغانستان کې د شوروي اتحاد د دفاع وزير د لومړي مرستيال مارشال سرګي ليونيدوويچ سوکولوف په مشرۍ د شوروي د دفاع وزارت يوې نسبتاً لويې او لوړې ډلې کار کاوه. د هغه نږدې مرستيال د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ د لوی درستيز لومړی مرستيال سترجنرال سرګي فيودوروويچ اخراميييف و. د دغې ډلې دنده د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت له وسله وال پوځ سره په ګډه د څلوېښتم لښکر د جګړه ييزو عملياتو د سمبالښت او سرته رسولو پلانول و. دغې ډلې داراز مخامخ د جګړې په ډګر کې د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سياسي بيورو د کميسيون استازي توب کاوه، د حالاتو په اړه يې کرملين ته رپوټ ورکاوه او نوې ټاکل شوې دندې يې سرته رسولې. ښکاره ده چې مارشال سوکولوف او د هغه د ډلې غړو د افغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې له شوروي سفير، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کميټې، ك. ګ. ب، کورنيو چارو وزارت او نورو وزارتونو له

استازو سره اړیکي ټینګک ساتل. هغه وخت د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د دفاع په وزارت کې پوځي سلاکار ډګر جنرال سلطان کیکیزوویچ ماګامیدوف و او د شوروي جنرالانو او افسرانو ډلې د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت په ستر درستیز او د افغاني پوځ په قطعاتو کې ځای پرځای وې.

ولې په افغانستان کې د شوروي پوځي استازو په مشرتابه کې د دې ادلون- بدلون اړتیا څه وه؟ خبره دا ده چې سوکولوف او اخرامیف د افغانستان د جګړې په پیل کې په دې ګومان استول شوي وو چې دا ټوله خبره به د اووه نیو یا څو میاشتو دننه غوځېږي، هغه هېواد کې به شوروي پلوه رژیم ټینګېږي او د افغانستان حالات به آرامېږي. خو حقیقي ژوندانه وښودله چې افغانانو (هغوی چې موږ ورته اشرار ویل) ورو- ورو خپل ځواك د ببرك (کارمل) د رژیم خلاف د مقاومت لپاره سره ټولاوه. جګړې په میاشتو اوږدې شوې، زموږ د چونیو شمېر په زیاتېدو شو خو د بري پته چې نه وه هماغسې نه وه. د سیاسي بیرو کمیسیون به په مسکو کې هر ډول پریکړې کولې، خو له عملي پلوه هرڅه د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې پر پوځي بري اړه درلوده.

په افغانستان کې د پوځي عملیاتو لاربښوونه د چا پر غاړه وه؟ د سولوکوف او اخرامیف پر غاړه. خو په شوروي وسله وال پوځ کې د هغوی له اوچت دریځ سره- سره د هغوی ټاکنه د سیاسي بیورو له لارې نه وه شوې او د دې مانا دا وه چې د دغه اوچت سیاسي اورګان په وړاندې یوازې د دفاع وزیر اوستینوف مسوول و. نو ځکه په دې حالت کې اوستینوف له چله ډك عمل کوي: هغه د هېواد مشرتابه ته قناعت ورکوي چې لومړی مرستیال یې سوکولوف او د لوی درستیز لومړی مرستیال اخرامیف له کابل نه زیات په مسکو کې په کار دي. په دلیلونو کې یې د پولنډ کړکیچن حالات، پر لرې ختیځ د پرله پسې نظر ساتل او په مجموع کې د وسله وال پوځ د روانو لانجو د غوځولو

اړیتـا تـه ګوتـه نیـول شـوې وه. او افغانسـتان تـه پـه کـار وه داسـې سـړی چـې سیاسـي بیـورو ورسـره ځانګړې هوکـې کـړې وي واستول شـي او هـم ده تـه دې ځواکمنـه اوپراتیفـي جمـهوري ډلـه وروسـپارل شـي او ځکـه دې نـو بیـا د چـارې د سـرته رسـېدنې تپـوس هـم لـه همـده نـه کـېږي. د دفـاع وزیـر اوسـتینوف پـه دې تـوګه خپلـه پـښه شـاته ایسـتله او یـوازې د کمیسـیون د "سـاده" غـړي پـه تـوګه پـرځای پـاتې کـېده. د نـوې دنـدې لپاره پنځه تنه په پام کې نیـول شـوي وو چـې ټولـو يـې ښه وړتیـا درلـوده، لکـه: ا. ت. التونیسـن، س. ك کورکوتیکـن او ای. ف. ایوانفسـکي، خـو نه پوهېږم ولې، سـلا پـر مـا راغلـې وه. ښایـي د دې غـوره کـېدو یـو دلیـل زمـا تېره دنده وي چـې پـه مصـر، چکوسـلواکیې او بـالتیك کـې مـې سـرته رسولې او دا چې بریژنف زه پـه نامـه او مخـامخ پـېژندلـم.

خـو هـرڅه چـې وو اوسـتینوف هـم سـوکولوف او هـم اخرامییـف لـه ګوزار نـه بـچ کـړل. البتـه دوی وروسـته هـم بیـا بیـا افغانسـتان تـه هغـه د چـا خـبره د مرسـتې او څارنـې لپـاره راغلـي وو. څه شـاهانه څارنـه!

پـه افغانسـتان کـې زمـوږ پـه اوچتـې پـوځي کـړۍ کـې د بدلـون دلیلونـه دغـه وو.

پـه دې تـوګه نـو د سـوکولوف د ډلـې او د پـوځي سـلاکار مـاګامیدوف د اپـارات د بدلولـو لپـاره د شـوروي اتحـاد د کمونسـت ګوند د مرکـزي کمېټې د سیاسـي بیـورو یـا لکـه هغـه وخـت چـې بـه ویـل کـېدل، د لـوړ مقـام د پرېکـړې لـه مخـې د شـوروي اتحـاد د ځمکنیـو پوځونـو د لـوی قومـاندان د مرسـتیالۍ پـه کچـه د افغانسـتان پـه دیموکراتیـك جمـهوریت کـې د لـوی پـوځي سـلاکار ځواکمنـه اوپراتیفـي ډلـه منځتـه راغلـه. څلوېښتـم لښکـر لاهماغسـې د ترکسـتان د پـوځي حـوزې پـه چوکـاټ کـې فعـالیت کـاوه او طبیعـي ده چـې د هغـې د قومـاندان تـر امـر لانـدې دغـې پـوځي حـوزې د لښکـر لپـاره پرسـونل، وسلې او تخنیکي وسـایل چمتـو کـول، ټولـې لـوژیسـتیکي او معیشـتي سـتونزې يـې غوځولـې او د عسـکرو-د سیاسـي- اخلاقـي حـالت او

دسپلین مسوولیت یې پر غاړه و. تر کومه چې د پوځي عملیاتو د طرحې، سمبالښت او سرته رسولو خبره وه نو له دې وروسته دا چاره د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د لوی پوځي سلاکار او د ترکستان د پوځي حوزې د قوماندان په ګډې سلا او بیا د شوروي اتحاد د دفاع وزیر په منظورۍ سرته رسېدله. په عین حال کې د ځلوېښتم لښکر جنرالانو او افسرانو د خپل قوماندان تر امر لاندې جګړه سرته رسوله او دغه قوماندان بیا په حقیقت کې د شوروي اتحاد د ځمکنیو پوځونو د لوی قوماندان د لومړي مرستیال په توګه په افغانستان کې د لوی پوځي سلاکار تر امر لاندې و.

بې له شکه دا هرڅه تر یوې اندازې جر بر ېښېدل.

د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې د دندو په اړه د یوه تفاهم منځته راتللو د ترکستان د پوځي حوزې له قوماندان ماکسیموف سره زما د کتنې غوښتنه کوله. دا امکان پخپله هله منځته راغی چې زموږ الوتکه د مسکو او کابل تر منځ دالوتنې پروخت په تاشکند کې د تیل اخستو لپاره کوزه شوه.

یوري پاولوویچ ماکسیموف په ورین تندي، لاژم ادب او درناوي زما هرکلی وکړ. موږ اړینه ګڼه ژبه وموندله او په راتلونکې کې زموږ ګډې همکارۍ څه ځانګړې ستونزې نه درلودې.

د کابل په هوایي ډګر کې الوتکې ته نژدې اخرامیف، تابییف او څونورودیپلماتانو زموږ هرکلی وکړ. د افغانانو له خوا د هرکلي لویې ډلې کابل ته د شوروي لوی پوځي قوماندان د ورتګ پر ارزښت ټینګار کاوه. موږ د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د دفاع له وزیر برید جنرال رفیع سره روغبر وکړ. هغه بیا په خپل وار د ژباړونکي له لارې صدراعظم او د پلان جوړولو وزیر کشتمند د خلکو د دیموکراتیک ګوند د مشرتابه څه غړي او یو شمېر وزیران راوپېژندل. دا کتنه د تشریفاتي ټولګي د پریټ په کولو پای ته ورسېده. افغان سرتیري بې تشی (عیبه) بر ېښېدل خو د هغوی له

مخې د ټول افغـان پـوځ پـه اړه قضـاوت بــه ناسـنجېدلى كــار واى. پــه عمومــي تــوګه مــې پــه هوايــي ډګر كــې پــام د ظــاهري ننــداره يــيزو ځانګړتيــاوو ډېروالــي تــه شــو چــې ډېر ځلــه د چــارو نــاوړه حــالت ښكــاره كـوي.

مـا چـې يـوه شـېبه اخراميـف لـه نـورو لـرې وليـده نـو سملاسـي مـې ترې وپوښتـل:

- سـريوژا* لكـه چـې حـالات ګډوډ دي؟
- تپـوس مـه كـوه، پخپلـه بـه يـې ووينـې.

او نـاڅاپـه:

- ډګروال خليـل الله!- د شـا لـه خـوا مـې يـو غـږ لكـه لـه كومـي چـې راوځي واورېد، ورسـتون شـوم. مخـامخ راتـه ښايسـته، دنـګ لكـه چنـار زلمـى ولاړ و.- قومـاندان لومـړى قـول اردو {پـه نـا سـمه روسي ژبـه}
- تاسې روسـي خبرې كـوئ؟
- لـږې لـږې.
- خدائ مـو مـل شـه- او پـه روسـي دود جـګړه هـم كـوئ!

خليـل الله ورو ورو ځواب راكــړ:

- شـكراً * دايـې ووې او بيـايې دواړه ورغـوي پـر مـخ راكـښل او لـه ځانـه سره يـې وويـل:
- الله اكـبر! الله اكـبر! *

---

* د سرګي لنډه شوې بڼه. (د.ج)

* ليكوال وراندې هم د افغانانو له خوا د مننې پروخت همدا ټكى (شكراً) كاروي چې ښايي په مصر كې يې د خدمت د دورې له خاطرې سره د تېروتنې له امله وي او د "تشكر" كلمه ترې هېره وي.

* نورځايونه هم ليكوال د واكمن ګوند د مشرانو له خوا د ده په شتوالي كې د دعا ګانو كول يادوي چې زما د تجربې له مخې يوه ناشونې خبره وه او ښايي د دغه څه د پاسه اتيا كلن سړي حافظې او يادښتونو كې د تېروتنې له امله دي.

- شکراً- اخراميیف هم هم همدا تکی تکرار کړ چې د "ښه" او "نیکو هیلو" مانایي درلوده.
- خدای دې وکړي سریوژا،- زما غږ پسې ورغبرګ شو.
په همدې ورځ سوکولوف هم له ماسره د کتنې په تمه و. اخراميیف په غوږ ووهلم:
- ښايي سفیر به هم په دغه غونډه کې وي او ښايي نه به وي. د دې خبرې پرېکړه په سولوکوف پورې اړه لري.
او له دې يادونې راته دا جوته شوه چې دلته دغه راز زموږ د پوځیانو او زموږ د شوروي ديپلماتيکې نماينده ګۍ ترمنځ په اړيکو کې هم بلا ستونزې شته.
تر هغې کتنې پورې لاڅو ساعته پاتې وو. او ما د چای له څښلو نه په ډډې کولو د لوی شوروي سلاکار د ډلې له راتلونکي درستيزوال ولاديمير پتروويچ چيريومنيخ سره د خبرو فرصت وموند. د خبرو مانا يوازې اورېدل وو او دا هغه و چې غږېده او ما ورته غوږ نيولی و. او بيخي څرګنده شوه چې زما اټکلونه که څه هم دومره پر هيله منده بنا نه وو، د درستيزوال د څرګندونو په رڼا کې بيخي پيکه راوختل. او ولاديمير پتروويچ (چيريو مينيخ) لا راته نېغ په نېغه دا هم وويل:
- له فکرت احمدجا نوويچ(تابييف) سره به ډېر احتياط کوئ.
زه او اخراميیف په ګډه سوکولوف ته ورغلو. هغه په ورين تندي زما هرکلی وکړ. کيناستو او هغه خپل سګرت ولګاوه. ما په ټوکو ترې وپوښتل:
- ښايي اوس به زه هم سګرت څکولو ته اړ کېږم؟
- د څکولو سلا نه درکوم، خو جنګېدل راپيلوه.
يوه يوه پياله ودکا مو سره وڅښله. که رښتيا ووايم سره له دې چې وپوهېدم سوکولوف له هغه چا سره چې د شرابو د څښلو پر وخت "نه"، "نه" وايي څه چلند کوي ما د ودکا پياله هسې شونډو ته وروړه.

سوکولوف لړې خبرې کوې، دلته یې هم خپلې خبرې په څو جملو کې راټولې کړې چې ټول کوچ یې داسې وو:

- حالات خورا کړکېچن دي خوته ځان مه بايله... اوبیا یې زیاته کړه:

- د دفاع وزیر له ما او اخرامیېف نه غوښتي تر هغو چې ته له حالاتو سره بلد ېږې لس- دولس ورځې درسره پاتې شو. مخالف نه یې؟

البته چې زه مخالف نه وم او پوهېدم چې د وزیر دا لارښوونه تر هرڅه لومړی زما په ګټه ده.

- ډېر ښه فکر وکړه چې موږ موافقې ته ورسېدو. نور به هرڅه د الوتنو په ترڅ کې پخپله ووينې. د الوتنو او سفرونو پروخت به یا زه، یا اخرمیېف درسره ملګري یو. مهمو فرقو ته به ورشو، د قول اردوګانو مرکزونو او ولایتونو ته به سرونه ورښکاره کړو.

خو په پیل کې...، سوکولوف اخرمیېف ته وکتل: سبا پرڅو بجو باریس کارلوویچ ته (هغوی تر خپل منځه ببرك کارمل په دغه نامه یاداوه) ورځو؟

اخرامییف ځواب ورکړ:

- پرلسو بجو.

سوکولوف خپلې سترګې غونجې کړې او ویې پوښتل:

- څوك څوك به ورځو؟

- سرګي لیونیدوویچ که مخالف نه یاست له الکساندر مایوروف سره به زه ورشم.

لږه شیبه یې خنډ وکړ او بیا یې زیاته کړه:

- له سفارت سره پر خپلو غوره اړیکو د ټینګار لپاره به ښایي...

سوکولوف په غوسې سره خپل سګرټ په ایره نۍ کې وسولاوه، بل یې وڅکاوه او له کړیکې سره یې وویل:

- رابوله یې.

کیسه د شوروي سفیر تابییف په اړه وه.
سوکولوف د مخه ښې پر وخت لاس راوغزاوه:
- ښه الکساندر میخایلوویچ، سبا به سره ګورو. مخکې له مخکې درته هېڅ نه وایم، کارمل به پخپله ووینې او خپله لاره به پخپله سیخه کړي. مخې ته درته له هغه سره اوږده او کړکېچنه همکاري پرته ده...
اخرامییف پرې ورزیاته:
- او سترې کوونکې (همکاري).
موږ سره جلا شو.
تر نیمو شپو مې د هغو جنرالانو او افسرانو خبرې اورېدې چې زما تر راتګه یې له مخکني پوځي سلاکار سره ګډه دنده سرته رسوله. زړه مې غوښتل پر ټولو هغو ستونزو له مخکې خبر شم چې له کارمل سره د خبرو پر وخت یې د راپورته کېدو امکان و. که څه هم د دوو له مخې لومړنۍ کتنې تل رسمي بڼه لري او د متقابلې پېژندګلوۍ له پولو نه اوړي. د اګست د نهمې نېټې پرسهار مې د افغانستان له مشر سره تر کتنې مخکې په کار د رسمي پیل په اړه امر لاسلیك کړ. هغسې چې سوکولوف ویلي وو، پوځي یونیفورم مې واغوسته: پرېږده چې ببرك یو ستر جنرال د هغه له ټولو ځانګړنو سره ووینې او دا کار پر هغه اغېز پرې ایستلی شي.
پینځه کمې لس بجې د ارګ تر خنګ ټول شو. سوکولوف او اخرامییف پوځي کالي اغوستي وو. تابییف پنځه دقیقې ناوخته راورسېده او ځکه راباندې د ببرك کارمل دفتر ته ورتګ ناوخته شو. په دې کې راته د تابییف بې نزاکتي او د ترینګلو اړیکو بله نښه وبرېښېده چې پېتې یې اوس- اوس زما پر اوږو رالوېدونکې دي.
ببرك په خوښۍ زموږ هرکلی وکړ. سوکولوف د ناوخته راتګ له امله ښښنه وغوښته: ګنې دا زموږ د پوځي بې نظمۍ له امله وه...

په ساده ګۍ یې دهغو خبرو کول پر غاړه واخستل چې کول یې سفیر ته په کار وو. ببرك په روسي ژبه ځواب راکړ:

- خیر دی، خیر دی.

ځنګ ته یې د دفاع وزیر رفیع او یو بل سړی چې تر دغه وخته مې نه پېژانده ولاړ وو: لنډه ونه، پك سر، پیکه څېره.

او خړه دریشي، بڼه یې آسیایي نه وه، مانا دا چې "زموږ" دی. خو دا څوك دی؟

سوکولوف له ټولو تشریفاتو سره زما پېژندګلوي وکړه:

ملګری د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي، د انقلابي شورا رئیس او صدراعظم! د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیورو د پرېکړې له مخې او د شوروي اتحاد د دفاع وزیر اوستینوف په وړاندیز او د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو د وزیر ګرومیکو، د شوروي اتحاد د ك.ګ. ب، د رئیس اندروپوف په موافقه د شوروي اتحاد د ځمکنیو پوځونو لومړی مرستیال سترجنرال الکساندر میخایلوویچ مایوروف د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې د لوی پوځي سلاکار په توګه ستاسې په واك کې درکړ شوی دی.

له دې خبرو وروسته سوکولوف زما په اړه بې ساري مثبتې خبرې وکړې چې البته دې کار تاکتیکي ارزښت درلوده.

- "اوچین کاراشو" (ډېر ښه)، - ببرك په سختۍ سره دا ټکي په روسي ژبه وویل او بیا یې ژباړونکي خبره داسې اوږده کړه: خوښ یو چې ستاسې هرکلی کوو.

- کوربه د کیناستو بلنه راکړه.

- ستاسې په اجازه زه او سرګي فیودوروویچ (اخرامییف) به لږه شېبه وروسته ووځو. له مایوروف سره به له حالاتو سره په آشنایۍ کې مرسته وکړو. او وروسته به تاسې ټولې خبرې مخامخ له همده سره څېړئ.

سوکولوف زیاته کړه:

- البته چې د لوی سفیر او فوق العاده استازي ملګري تابییف په ملګرتیا.

ببرک کارمل یې په ځواب کې وویل:

- کار- راشو (خره شو) یاني (ډېر ښه)

ور پرانستل شو او زمونږ خپل روس ګارسون د ودکا له پیالو ډک پتنوس په لاس راننوت.

په هغه شیبه کې چې کوربه د ثور انقلاب د ارمانونو په پلي کېدو کې پر راتلونکې بریمنې همکارۍ له باوره ډکو خبرو پیبلي شعار (د شرابو د څښلو ځانګړې خبرې) ورکاوه ما ته جوته شوه چې هغه له سفیر نه زیات د سوکوکوف درناوی کوي چې آن د غوږه مالۍ تر پولې رسېږي.

کارمل پوهېده چې په مسکو کې له دوی دواړو کوم یو زورور دی. البته دا غته اختراع نه وه خو د راتلونکې لپاره مې دا ټکي خپلې حافظې ته وسپاره.

کله چې (د شرابو څښلو لپاره) "د شعار" (توست) د ورکړې وار ماته راغی ما افغان مشر ته د دوستۍ او له افغاني وسله وال پوځ سره اوږه په اوږه وروستي بري ته د ثور انقلاب د رسولو لپاره د هڅو ډاډ ورکړ. سر بېره پر دې مې د انګلس مقالې ته اشاره وکړه (البته چې دا څېړنه مې مخکې کړې وه) چې په کې افغانان د غیرتي او جنګیالي ولس په نامه یاد شوي دي. ببرک ته دې خبرو خوند ورکړ. دا یوازې له دې امله نه چې غوږې خبرې د هرچا خوښېږي. د کمونیزم د کلاسیک له خولې یادونې هغه ته هم دا موقع ورکړه چې په یوه کمزوري خو مانا لرونکې حرکت راوښیي چې د مارکس، انګلس او لنین له آثارو سره بلد دی او دا چې "البته لوستي مو دي، لوستي مو دي..." ببرک ته دې خبرې هم خوند ورکړ چې افغانان غیرتي قام دی او څوک یې اېلولی نه شي.

ما ورته وویل:

- موږ به مو په دې مبارزه کې ملاتړ کوو.

ببرك په غړپ غړپ د ودکا یوه پیاله په بلې پسې تشوله. د خړې دریشۍ والا په خورا ځیر د هغه څارنه کوله. زما دې خبرې ته پام شو: له عمومي منشي سره چې به مو د هرڅه په اړه خبرې کولې نو هغه به د دغه ناآشنا عجیب سړي خوا ته غلچکی نظر کاوه. نا آشنا سړي نه د خبرو په پیل او نه هم پای کې خپل ځان راوپېژانده.

له ارګ نه د وتلو تر وخته مې صبر ونه شو او په غوږ کې مې اخرامییف ته وویل:

- داڅوك دی؟

- ملګری "او".

او چې راووتو نو اخرامییف نور معلومات راکړل:

- دا د ك.ګ.ب ډګروال او ساد چې دی او تل د ببرك تر څنګ وي. له هغه سره به احتیاط کوې. موږ چې د ببرك لپاره هرڅه وکړو، هرڅه ورته تلقین کړو یا مشوره ورکړو دا (د... زوی یې) ټول په بله بڼه واړوي او چې څنګه یې زړه وي، تفسیر یې کړي. او په یاد ولره چې دی مخامخ د ك.ګ.ب، له رئیس سره د هغه د ځانګړي اعتمادي کس په توګه رابطه لري.

زما له نظره عجیبه خبره وه چې د هېواد له مشر سره په لومړنیو او پټو (سري) خبرو کې داسې یو کس هم و چې همدا شېبه له وتلو سملاسي وروسته د ویل شویو ټکو تفسیر او تعبیر ته متې رانغاړي او کېدی شي زما په اړه هم رپوټ جوړ کړي او بیا د دې ټولې غونډې خبر اندروپوف ته هم ورکړي.

ما احساس کاوه چې د وجود دننه مې د ځورونکې کینې یو ناوړه احساس په زېږېدو دی.

# دریم څپرکی

هغه دري اووه نۍ چې د جګړه ییزو عملیاتو د ماهیت او ځانګړتیاوو د څېړنې لپاره له لومړي سره په ولایتونو او ولسوالیو کې د کارونو د بهیر د جوتولو لپاره تاکل شوي وې، په څرګنده بس (کافي) نه وې. له (درستیزوال) چیریومنیخ سره ټول هېواد ته د الوتنو پر پلان د غور په ترخ کې دا جوته شوه چې دا کار ایله په پنځو- شپږو اووه نیو کې کېدون لري یانې د اګست تر پایه او د سپتامبر تر لومړیو (وخت غواړي). ټاکل شوي وه په دې موده کې د هېواد او پوځ د حالاتو له بنسټیزې څېړنې وروسته د ځلوښتم لښکر د فرقو او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د قول اردو ګانو د مشرتابه له ډلو سره پېژندګلوي وشي، د هغه تر منځ د همکارۍ د ځانګړتیاوو په اړه پوهه ترلاسه شي او چورلتیه بله، او داسې نوې ستراتیژي او تاکتیک وسنجول شي چې په پښتنو کې میشت مشران او قوماندانان ورته ګوته په غاښ شي او په راتلونکو دوو دریو او چې زیات شي نو شپږو میاشتو کې پر مجاهدینو د بشپړ بري لاره پرانیزي.

سبا سهار وختي زه او چيريومنيخ د سوكولوف دفتر ته ورغلو. هغه لا وختي خوښ او تازه و او له سګرټو يې لوګي پورته کول. په دفتر کې يې اخراميیف هم و.

ما سوكولوف ته مخ ورواړوه او ومې ويل:

مارشال صاحب، د دې لپاره چې ستاسې او اخراميیف له تګ وروسته د حالاتو بشپړ مسووليت پر غاړه واخيستى شم او ورسره جوخت بې کفايته هم ونه بريښم، په کار دا ده، چې له تاسې سره يوځاى د پنځو- شپږو اووه نيوپه ترڅ کې مهمو ولايتونو ته الوتنې وکړو او د څلوېښتم لښکر او د افغاني فرقو او قول اردوګانو ګارنيزيونو ته ورشو.

سوكولوف له هر ډول اوږده سوچ پرته وويل:

ښه ده پنځه- شپږ اووه نۍ به په الوتنو تېرې کړو.

موږ هره ورځ له رخصتۍ پرته يوه لوري ته د الوتلو لام تاړه. له ما سره به درستيزوال چيريو منيخ، د جګړه ييزو عملياتو د سرته رسولو په چارو کې زما مرستيال تورنجنرال پيتر ايوانوويچ شکيد چنکه او د اوپراسيون او استخباراتو د څانګو يو شمېر افسران ملګري وو.

... دا درييمه اووه نۍ ده چې هره ورځ د سهار له پنځه نيمو بجو نه له يوه ځايه بل ته په ايل - ۱۴ ډوله الوتکه کې سفر کوو. هرځل د قاعدې له مخې، د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت يوه ولايتي مرکز ته ورځو، د والي، د هغه د اداري او د افغانستان د پوځ د قول اردو يا پلې فرقې د قوماندانانو خبرې اورو (په داسې حالاتو کې به د افغانستان د خلکو د ديموکراتيک ګوند د مرکزي کمېټې منشيان نور او زيرى، د دفاع وزير رفيع، د خاد رئيس نجيب او د کورنيو چارو وزير ګلابزوى هم له موږ سره په الوتکه کې تلل) داسې وخت هم راته چې له الوتکې نه کوزېدو او په زغره وال ګاډي کې تر ناستې وروسته سملاسي د څلوېښتم لښکر غونډونو او يا د افغاني

ACKU
8172

اردو قطعو ته ورتلو او له هغه ځایه د بوختو کنډکونو لیدو یا په بله ژبه مخامخ د جګړې ډګر ته ورتلو. او لکه چې ما ته پته ولګېده مارشال سوکولوف پر جګړه بوختو کنډکونو او آن ټولیو ته له ناڅاپي ورتګ سره مینه درلوده. په دغسې حالاتو کې به نومو‌ړو ځایونو ته په دوو یا دریو هلیکوپټرونو (چورلکو) کې ورتلو. کله چې به پر جګړه بوختو ټولیو یا کنډکو ته د ورتګ خبره شوه نو سوکولوف به له ځانه سره ډېر لږ کسان بیول او ښکاره ده چې موخه یې د احتمالي تلفاتو مخنیوی و. له بلې خوا، چې کله د حالاتو د مخامخ څېړنې او یا له قوماندانانو سره له شاهدانو پرته د خبرو اړتیا وه (سپیني- سپیني خبرې خو وي له شاهدانو پرته!) نو سوکولوف د ځان پر شاوخوا لوی شورماشور نه خوښاوه.

سوکولوف په تېره د جګړې پر زخمیانو ډېر پام ساته. ډېر ځله مې لیدل چې ټپیان یې بې ځنډه په هغو چورلکو (هیلیکوپټرو) کې د جبهې څټ ته استول چې موږ یې همدا لږه شېبه مخکې دې قطعې ته رارسولي وو او په دې توګه به مو د هیلیکوپټر د راستنېدو په تمه څو ساعته په جګړه له کېوتې قطعې سره تېر کړل. سوکولوف نه یوازې د کنډکونو او ټولیو له قوماندانانو سره د دې یا هغې جګړې د پایلو په اړه په ځیر خبرې کولې، بلکې کله کله به د یوه پخواني ټانکیست په توګه د ټانک د قوماندانۍ په توګه ټانک ته هم پورته کېده. ماته چې به هم خپله د ټانکیستۍ ځواني رایاده شوه نو بې ارادې به مې د هغه پېښې کولې.

سوکولوف چې څو ځله دغه کړنه تکرار کړه نو ما ورته بې له دې چې وشرمېږم، وویل:

اشرار د رباب په غږ ولوکې (کنایه ده یانې د وسلې په چلولو کې) خورا غښتلي دي. آیا مارشال صاحب په دې کې خطر نه ویني چې په ټانک کې ناست د جګړې ډګر ته ځي؟

تا ته د دې کار اجازه نه درکوم، دې ډول زړورتیا ته اړتیا نه شته. بیا لږ موسکی شو او زیاته یې کړه:

او پوهېږې وروركه! زه باید په مسكو كې د خپلو تخنیكي وسیلو د څرنګوالي په اړه ځواب ته ځان چمتو کړم.

درې ورځې کابل ته راستانه نه شوو او په مزارشریف کې مو د حالاتو او د دوستم* په مشرۍ د مجاهدینو د جګړه ییزو هڅو د څرنګوالي څېړنه کوله.

همدومره ورځې مو په هرات کې تېرې کړې او د ایران تر پولې والوتو. هرچېرته چې به افغاني او شوروي قوماندانانو ویل، اورېدل او لیکل به مو.

موږ دغه راز په پکتیکا، پکتیا، غزني او زابل ولایتونو کې د غلیم د جبهې شا ته د ګوزارونو د کولو په عملیاتو کې هم ګډون وکړ (د افغاني پوځ د درېیمې قول اردو قوماندانې دغلته د تورنجنرال غلام نبي پر غاړه وه).

سوکولوف ستړیا نه پېژندله او په دغو شپو ورځو کې ما هم په هروڅلرویشت ساعتو کې له دوو- درېو ساعتو زیات خوب نه کاوه. ځکه که کابل ته ستنېدلي نو بیا په کار وه چې دفتر ته ورشم او له چېریومنیخ او د لوی سلاکار د ادارې له کارکوونکو نورو افسرانو سره څو ساعته پر دندې بوخت شم. موږ د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو په تیارو پلانونو کې بدلونونه راوستل او د څلوېښتم لښکر یا د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ دې یا هغې قطعې ته سپارل شوې دندې مو سره اړولې.

لکه چې ټاکل شوې وه چېریومنیخ له اخرامییف او د څلوېښتم لښکر له قوماندان باریس تکاچ سره تر مخکنۍ سلا وروسته د

---

* کېدی شي جنرال مایوروف د دوستم نوم د مجاهدینو له کوم بل داسې قوماندان سره اشتباه کړې وي چې هغه وخت د افغانستان په شمال کې فعال و. (د.ج)

راتلونکو جنګي عملياتو په اړه وړانديزونه په خورا پاملرنه جوړول. خو وروستۍ پرېکړه (د ځلوېښتم لښکر په برخه کې) سوکولوف او (افغاني پوځ په برخه کې) ما کوله.

د کار په برخه کې مې د سوکولوف ځيرتيا خوښېدله. البته چې هغه مسکو ته له ستنېدو مخکې اړ و چې د افغانستان د حالاتو په اړه تر ټولو تازه او سم معلومات راټول کړي. خو موږ دا ګڼله چې د هغه معلومات همدومره افغاني مشرتابه ته هم اړين (ضرورت) وو. له همدې امله سوکولوف د افغانستان د خلکو ديموکراتيك ګوند د مرکزي کميټې منشيان او وزيران په دې هيله له ځانه سره بيول چې ګوندي دوی به د هېواد د رښتيني حالت (چې ډېر غم لړلی و) نکل د دولت مشر ته وکړي.

سوکولوف تر پايه په دې بريالی نه شو چې پخپله ببرك د وسله وال پوځ د اعلی سرقوماندانان په توګه د هېواد بېلابېلو برخو ته چې د جګړې لمبې پرې راتاوې وې، له ځانه سره بوځي. "لارښود" اورېدل پر ليدلو غوره بلل، غوښتل يې چې له نږدې ونه ليدل شي، بلکې له لرې ستر وبرېښي، هيله يې درلوده چې درښتينو پېښو منځته ورنه شي، بلکې په "تاريخي ځبره" واوړي. په افغانستان کې ايله د څو ورځو له تېرولو وروسته زه دې خبرې هينبولم (حيرانولم) چې د دولت مشر ولې د خپل هېواد د حالاتو په اړه دومره بې تفاوته دی. ټول ولايتونه د سختو جګړو په منګولو ښکېل دي (نو د دولت مشر) ولې له وخت نه په ګټې اخيستنې له سوکولوف سره يو ځای د افغانستان د پوځ قطعو او جزوتامونو ته نه ورځي. ما مسلکي افسر ته دا خبره هينبوونکې او د نه منلو وه. په هرحال ، په زړه کې هيله من وم چې له افغانستانه د سوکولوف تر تګ وروسته چې کله يوازې پاتې شم او له ببرك کارمل سره د ژر ژر کتنې امکان راته پيدا شي، له هغه سره به د خبرو کولو داسې ډول او طريقه وموم چې هغه پوځي قطعو ته د ورتګ، د هغو لارښوونې او له بري نه يې د خوند اخيستو لوري ته

ورمات شي. او چې داسې وشوه، نو بیا به هغه اړ وي چې د هېواد بېلابېلو ولایتونو، ولسوالیو او علاقه دارو ته د هوا یا ځمکې له لارې ورشي او له خپل واك او اعتبار نه د ملي ډیموکراتیکې واکمنۍ په ټینګښت کې ګټه واخلي.

... زه له دغو خیالونو سره په داسې حال کې چې یوازې سوکولوف راسره په ایل – ۱۴ ډوله الوتکه کې ناست و، له کندهاره کابل ته راستنېدم.

مارشال صاحب زه لږې دمې ته اړتیا لرم.

له الوتنو ستړی شوی یې؟

هو، څلور- پنځې ورځې دمه غواړم. هغه څه مې چې لیدلي او اورېدلي بنه یې باید سره وشاربم او کوچ ترې وباسم (خپل وړاندیز راجوړ کړم)... دا خبره مې وکړه د ځواب په تمه مې سترګې سوکولوف ته وروااړولې. – هو، بنایي د خپل وړاندیز د کولو وخت رارسېدلی وي...

بنایي وخت یې وي. پنځه ورځې له خپلې قرارګاه سره تېرې کړه.

مارشال سوکولوف زما په ځواب کې دا خبره وکړه او یو بل سګرټ یې ولګاوه.

تر کومه چې مې په زړه دي له سوکولوف سره کار کول هم د هغه د مادونانو او هم ملګرو لپاره تل آسان او بې تکلفه و.

د قطعو د کتنې پر وخت اورېدنو او لیدنو، په درندو چرتونو سر کړم. افغانستان ته د پوځونو د استولو د پرېکړې په سموالي کې راته څه شك نه برېښېده. ماګڼله چې دې کار موږ ته سیاسي ګټه رسولې او د سوسیالستي ټولنې په ملګرو او دغه راز بنایي په ټوله نړۍ کې یې د شوروي اتحاد ونګه (حیثیت) زیات کړی دی. له دې سره جوخت مې د دې خبرې قانع کوونکی تائید هم ترلاسه کړ چې

دلته د جلا- جلا ګوزارونو کول یا (دلته خرپ، هلته خرپ) ورپ پایلې نه لرلې او نه یې لرلای شي.

ما ته دا پته هم ولګېده چې د افغاني انقلاب د ننګې او ټینګښت اصلي ځواك د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت وسله وال پوځ نه بلکې ځلوېښتم لښکر دی. ما دا کار مجاز نه باله او داسې مې ګڼله چې د شوروي اتحاد د دفاع په وزارت او ستر درستیز کې اوچت پوځي مشران په ناسم دریځ کې دي.

هرڅه غیر عادي وو: هم د هېواد سیاسي- پوځي حالت، هم د افغاني پوځ کیفیت، او تر ټولو مهم په ولایتونو، ولسوالیو او علاقه داریو کې د ثور انقلاب د موخو په اړه د خلکو دریځ هغه څه چې مې لیدلي او درك کړي وو لایې زما له مطلقې ارزونې او قضاوت سره سر نه خوړ. هرشي یو ډول دویمه او دریېمه بڼه (پرده) درلوده. په سیمو کې د ګوندي مشرانو ویناوو په څرګنده دروغجن ماهیت درلود. له ټولو نه کنایې یا چلبازۍ راڅرګندېدې.

په کار وه په سړه سینه او بې تېروتنې د هرڅه جاج واخیستل شي. د هېواد په ټولو ولایتونو کې د ځلوېښتم لښکر او افغاني پوځ قطعو خورا سختې او خونړۍ جګړې کولې چې یوه عمده موخه یې درلوده: په دې یا هغې سیمې (ولسوالۍ یا علاقدارۍ) کې دښمن ته ماتې ورکول او د ملي دیموکراتیکې واکمنۍ جوړول. کله کله به دا موخه آسانه ترلاسه شوه خو کله به په کې له دې یا هغې غاړې نه ډېر سرونه پرې شول. له بلې خوا راجوړه شوې واکمني مړاوې او لړزانده وه او پخپله یې د ځان د ټینګښت او د اعتبار د لوړتیا لپاره هڅه نه کوله.

کله کله د دغې واکمنۍ استازي په دې پلمه د کلي خلکو ونډۍ ونډۍ کول چې د "بارسورمانانو"* په توګه يې له الله سره ټکي کړې ده. او د هر ځله به چې څنګه د افغاني او شوروي پوځ ټولګي له کلي نه ووتل، ورسره سم به ولسي واکمني هم داسې ترۍتم شوه چې چا ته يې بيا پته نه لګېده.

خو بيا هم زه اړ وم د هېواد د حالاتو په اړه همدا احتمالاً سرسري تصور هم په مهارت سره وشنم (تحليل کړم) او ټاکلي کوچ ترې راوباسم او تر ټولو مهمه لا دا چې لږ تر لږه د راتلونکو دوه- دريو مياشتو لپاره خپلې موخې (هدفونه)، دندې او د هغوی د سرته رسولو لارې- چارې جوتې او وټاکم او په افغانستان کې د نااعلان شوې جګړې په شرايطو کې د خپلو کړنو تاکتيك او ستراتيژي رڼه کړم.

ما دا ګڼله چې دا کار په يوازې سر کېدون نه لري. خو له بلې خوا مې په تېره بيا د خپلې (نوې) دندې د پيل په لومړي پېر کې نه غوښتل د ارزښتناکو پوځي ستونزو پر څېړنې د بوختېدونکو وګړو کړۍ پراخه کړم. له دې امله مې اعتدال غوره وباله. سملاسي به يوازې څلور تنه د حالاتو په ارزونه او د هغو له مخې د پرېکړو په کولو کې ونډه اخلو. دا کسان د تېرو او بېباکه مغزو او په افغانستان کې د دندې د سرته رسولو د اته مياشتنۍ تجربې خاوند جنرال ولاديمير چيريومنيخ، په سياسي چارو کې زما مرستيال هوښيار او پوخ جنرال ويکتور ساموييلينکه، او غوره لارښوونکي ډګر وال ايلمار برونينيکس وو چې له تورنۍ تر ډګروالۍ يې زما تر لاس لاندې خدمت کړی (او د لاتويا اوسېدونکی و) او د خپلو سيمه والو په څېر په ژمنه ټينګ او پاك و او د پوځ د ټولو برخو په ګډون يې د معاصرې

---

* د پښتواني شوروي غير مسلمانو وګړو د اسلام لارويو ته کله کله "بارسورمان" اصطلاح کاروله او دغه نسبتا سپکوونکې اصطلاح ا ن ليکنۍ ژبې ته هم ننوتې لکه د مايوروف په پورتنۍ ليکنه کې يې ښېلګه څرګنده ليدل کېږي. (د.ح)

جګړې، تخنیك او وسلې په اړه ژور معلومات درلودل. څلورم کس زه پخپله وم.

ساموېلینکه حالات داسې و ارزوول:

ایږ (خرس) د مچیو چك ته لاس وروړ له بده یې بتر کړ.

چیریومنیخ په نقشه کله پرېوه ټکي او کله پر بل ګوته کېدي او وایي:

تاکتیك بدلول په کار دي. بریدونه، بریدونه، هرې خوا ته بریدونه!

ساموېلینکه په استهزا سره پرې زیاته کړه:

ژژژژ- ژژژژ- ژژژ ... مچی بهېږي او ایږ (خرس) په لاس ترپ- ترپ او مچی ژژژ- ژژژ...

برونینیکس د ساموېلینکه خبره نه مني او {په خپله لاتویا یي لهجه (ګړدود)} وایي:

نه، نه ویکتورګیورګیچ (ساموېلینکه. او تاسې ولادیمیرپتروویچ (چیریومنیخ) هم سم نه وایاست. ستراتیژي او تاکتیك سم وو.

چیریومنیخ چوپه خوله پاتې نه شو:

سمه ده چې (تریوه وخته) سم وو!

دا څوومه ورځ ده چې موږ د دې ترخو ناندریو په ترخ کې دا خبره څېړو او څېړو چې: په پای کې څه شی باید وکړو؟ داسې انګېرو، او آن پوخ یقین لرو چې دلته ګوزار، هلته ګوزار تګ لاره نوره زړه شوې خو لا د جګړه ییزو عملیاتو د نویو بڼو او لارو چارو د ندلو وړ شوې نه یو. د دې ترخنګ د سپتامبر- اکتوبر د میاشتو لپاره په افغانستان کې د څلوېښتم لښکر د جګړه ییزو عملیاتو پلان مسکو هوکې کړی او خدازده که یې موږ له ستې په بدلون بریالي شو، په تېره چې سوکولوف او اخرامییف لا په افغانستان کې وو. خو بیا به هم، لټه کوو.

دلتـه پـه کـار ده د دلتـه ګوزار- هلتـه ګوزار پـه اړه يـو څو خـبرې وکـړم.

سـوکولوف او اخراميـيف چـې د شـوروي او افغـاني پوځونـو چـارې يې په پيـل کې سره سمبالولې، لـه مخـالفينو سره د مبـارزې يـوه تـګلاره او تـاکتيك وټاکـل چـې د "دلتـه ګوزار- هلتـه ګوزار" (Raid) جـګړې پـه نامـه يادشـول. {د اژيـګوف پـه سـين (قـاموس) کـې يـې د Raid تعريـف داسـې کـړی دی: "د دښمـن د جبـهې پـر څټ د خوځنـده پـوځي ټولګيـو ګوزار"}

مجـاهدينو هغـه وخـت د خـورو- ورو ډلـو پـه ډول پـه ټولـو ولايتونـو کې فعـاليت کـاوه. د هرې ډلې شـمېر لـه سلو- دووسـو تنـو تـر پنځه سـوه- شپږ سـوو تنـو رسـېده. د هغـوی د مقـابلې او ګوزار لپـاره ټانکونـو او تـوپونـو سره غښتلي موتوريـزه او پلـي کنډکونـه چـې هوايـي ملاتـړ بـه هـم ورسـره و، ګمـارل کـېدل. کلـه کلـه بـه دغسـې ګوزارونـه يـوې بشـپړې موتـورېزه قطعـې تر سره کـول. او البتـه چـې دغـه چـارې بريالـۍ راختلې.

هغسـې چـې چـيريومنيخ پـه يـوې څېړنـيزې غونـډې کـې يادونـه وکـړه، پـه افغانسـتان کـې زمـوږ دغـې ګوزاريـزې جـګړې سـرې تـه د اووه لسمې پېړۍ پـه پيـل کې پـه فرانسـه او هـالند کـې "زيرمـه يـيزه جـګړه" وريادولـه. د دغـې تـګلارې پـر بنسـټ، يـوه لـوري لومـړی د خپلـو زېرمـو سـاتنه پيـاوړې کولـه او بيـا يـې لـه يـوه اوږده مـانور وروسـته د دښمـن پـر هغـو ځايونـو چـې د څارګرۍ (جاسوسـۍ) لـه لارې ښه جـوت شـوي وو، ګوزارونـه کـول.

خـو برونينيکـس تـه دا کړنـه لـه بـل شـي يـانې پـه قفقـاز کـې د روسـيې د تـېرې پـېړۍ لـه جـګړې سـره ورتـه بـرېښېده، ايلمـار ويـل: پـه ۵۶ - ۵۹ مـو کلونـو کـې د قفقـاز د پـوځ درسـتيزوال جـنرال ميليوتيـن هغـه مـهال "چـارې ښې بريالـۍ پرمـخ بيولـې".

چـير يومنيخ د اعـتراض پـه بـڼه وويـل: عجـب بـری خـو و! د قفقـاز لاندې کولـو نـږدې نيمه پـېړۍ وخـت ونيـوه.

د ګوزارونو د کولو او د افغانستان په کليو او ښارونو کې د لسو- پنځلو ورځو لپاره د شوروي قطعو د اچولو له لارې مو افغاني مشرتابه ته ښودله چې د هغه د واکمنۍ د ټينګولو لپاره هرې ممکنې او ناممکنې چارې ته لاس اچوو.

خو د وخت په تېرېدو سره په پېښور کې مېشته مشرانو د دې وس ومونده چې ټولې ډلې تر يوې واحدې قوماندې لاندې راټولې کړي، په غوره ځارګرۍ (جاسوسۍ) او مخابراتي سيستم يې سمبال کړي. هغوی مخکې له مخکې زموږ په نقشو خبرېدل او له دې امله له موږ سره د ناځاپي او اغېزمنې مقابلې جوګه هم شول.

سربېره پر دې، همدا چې د "ولسي ديموکراتيکې واکمنۍ" ټينګوونکي شوروي پوځونه له کليو او ولسواليو وتل، لکه مخکې چې مې وويل دغه واکمني يا پخپله ړنګېده او يا مجاهدينو او د سيمې خلکو نسکوروله.

موږ څه کولی شوای؟ خپل يو سل او شل زره کسيز پوځ پر ګارنيزيونو وويشو او په دې توګه مخامخ ښکېلاکګر نظام ودروو؟ که بله او تر دې اغېزمنه لاره غوره کړو؟

خو دا به کومه لار وي- موږ پرې نه پوهېدو او له غوره شوې تګلارې او تاکتيك نه پوره لاس اخيستو ته مو هم زړه نه ښه کاوه. خو لټون مو هم جاري ساتلی و. څکه تر وسه- وسه د څلوېښتم لښکر د ساتلو او په ټول هېواد کې يې پر جلا- جلا ګارنيزيونو د نه ويشلو پر اړتيا خبر و.

خو يوه ورځ چيريومنيخ په بلونکي (ندائيه) غږ وويل: او.بيا يې پرې ورزياته کړه: پنجشېر! دوه بشپړې ورځې مو بې له دې چې خپلې ملاوې سمې کړو کار کاوه چې "د پنجشېر په وادۍ کې د څلوېښتم لښکر او د افغانستان د ديموکراتيك جمهوريت د وسله وال پوځ د جګړه ييزو عملياتو نقشه" جوړه کړو. پر دغې نقشې لاوس هم زما

هغه نښتې پاتې دي چې د دغه غیرعادي عملیاتو په ترڅ کې مې په سره رنګ پرې کښلې وې.

دا عملیات د ۱۹۸۰ کال د سپتامبر له دویمې نه تر اووه لسمې روان وو. د کابل شمال ختیځ پلو په افغانستان کې د نه پخلا کېدونکو د ختیزې جبهې د قوماندان احمدشاه (مسعود) نامتو مرکز پروت و. په دې کې تر ځمکې لاندې کارخانې او چونۍ، وسله تونونه، او له ۵۰۰۰ نه تر ۷۰۰۰ پورې اشرارو لپاره وسله او خواړه راډیویي او له راډیويي څپو سره د لېږدونې سټېشنونه او د روزنې مرکزونه جوړ وو. اشرارو د پنجشېر دفاع تر ۲۷ – ۳۰ کیلو مترو د وادۍ تل ته غزولې وه. وادي او د هغې له تړو نه د ټانك او پرسونل ضد ماینونو څو کړۍ تاوې وې. د ماینونو له دغو کروندو نه په ځنګ د تېر شویو لارو راز پټ ساتل کېده او دغه لارې شپه او ورځ تر څارنې لاندې وې. ماینونه په تېره بیا په سمولارو، نریو غرنیو لارو (وزلارو) او تړنګونو کې ښه سم کرل شوي وو. او د دې هرڅه له پاسه د هوايي مدافعې ډېره سمبال سیستم وزرغوړېدلی دی. زموږ د څارګریزو (جاسوسۍ) معلوماتو له مخې د احمدشاه (مسعود) د اشرارو ښه غوښینه برخه (۴- ۵ زره تنه) د کابل جنوب او جنوب لویدیځ پلو ته له افغاني او شوروي قطعو سره په جګړه ښکېل وه. دغه جګړې کله کله بریالۍ راختلې خو دواړو غاړو ته په کې د سر درونډ زیان اوښته. احمدشاه (مسعود) له دې سره سره د ۱۹۸۰ کال له پسرلي راهیسې د کابل پر سر د بنسټیزې جګړې تیارۍ کاوه. ځکه نو نوموړي د پنجشېر له وادۍنه د زېرمو د ټولولو او د خپلې ټولې ډلې لپاره د مادي بنسټ د موندلو کار اخیسته او عملاً یې هغه پلازمېنې ته څېرمه په یوه ټینګ پوځي ډوله دولت اړولې وه. احمد شاه (مسعود) هیله من و چې خپله دغه موخه د ګلبدین حکمتیار چې کندهار کې یې فعالیت درلود او د دوستم(؟) په مرسته چې د افغانستان په شمال کې یې جګړې کولې، تر ګوتو کړي.

او لکه هماغسې چې چيريومنيخ انګيرله زموږ محاسبه تر ټولو ساده وه او ځکه يې نو چيغه کړه: "کشف!". موږ ډاډه وو چې د احمدشاه د اشرارو ملا به په مخامخ جګړو کې ماتوو (همدا کار مو و هم کړ، خو وروسته په اکتوبر- نوامبر کې). که مو د پنجشير مرکز او زېرمې تباه کړې نه وای، نو به مو هغه ته دا امکان ورپرې ايښی وای چې د ماتې پر ټپونو پټۍ کېښږدي او د راتلونکي کال له پسرلي نه له شمال ختيځ لوري نه کابل ته په داړو چينګولو بيا د افغانستان د ديموکراتيك جمهوريت د پلازمېنې پر سر غېږ نيولو ته رامخکې شي. په پنجشير کې د جوړو زېرمو په ورانولو سره مو، د دغې جبهې قوماندان احمد شاه (مسعود) که نور نه وي د شپږو مياشتو لپاره د (بريالۍ) جګړې له لرليدنه بې برخې کاوه.

سوکولوف په غړمبېدو غړمبېدو وويل:

- پر احمدشاه؟
- نه، پر ما او اخرامييف.

او چې يو بل سګرټ يې هم وڅکه نو زياته يې کړه:

- موږ هم په سپتامبر او اکتوبر کې ددغه کار د کولو فکر کاوه.- او بيا يې خپل پنډ ورغوی د "جګړې پر نقشه" کېښود.
- احمد شاه بايد کابل ته څيرمه پر تندي نېغ ووهل شي.

سوکولوف بيا اخرامييف ته مخ ورواړوه او په داسې حال کې چې يې ورغوی له سره: "د جګړې پر نقشه" کېښوده وويل:

- که خدای کول هله به نو دا کار بشپړ کړو.

اخرامييف په داسې حال کې چې چيريومنيخ ته ګوته نيولې وه وويل:

- ته او زه به د ځلوېښتم (لښکر) له قوماندان سره يو څه راجوړ کړو.
- پرېکړه وشوه. ټول رخصت ياست.

د پنجشېر په وادۍ کې د عملیاتو په اړه د سوکولوف له هوکې وروسته مو د دغو عملیاتو د سم پلان جوړولو ته ملا وتړله. موخه (هدف) ښکاره و، خو چې څنګه یې د شوروي او افغاني پوځیانو د سر په لږ زیان تر سره کړو- په دې اړه لا نور اونور فکر ته اړتیا وه. که هرڅو به دا خبره عجیبه درته وبرېښي خو موږ غوښتل د تس- نس کولو دا عملیات مجاهدینو ته هم د سر په لږ زیان پای ته ورسېږي.

د پنجشېر په وادي کې دوه اووه نیم بوږ بوکی وې. مجاهدینو په زموږ هغو تبلیغاتي پاڼو ته چې له هغو نه یې د تسلیمېدو غوښتنه کوله، په سخت مقاوت او کله کله، په تېره د شپې له خوا، په زړور او غوځ متقابل برید ځواب وایه. کله چې د افغاني او شوروي پوځیانو د لومړنیو مړو او ټپیانو خبر خپور شو، هغه وخت چې لومړني ټانکونه او زغره وال ګاډي یا په ماین والوتل او یا وویشتل شول او یا هغه وخت چې میګ- ۲۱ الوتکې په ستنګر وویشتل شوې او یا دوه هیلیکوپتره (چورلکې) د کوماندویانو د کوزولو پر وخت راوغورځول شوې، روښانه شوه چې د پنجشېر جګړه به سخته او نه پخلا کېدونکې وي. دواړه غاړې به تر وروستۍ سلګۍ، تر وروستي بري یا ماتې، جګړه کوي.

موږ د سر له زیانونو، د ځمکې له غرني جوړښت او له رالګېدلي یخنۍ او واورو سره سره خپلې دندې سرته رسولې.

ما لازښوونه وکړه چې د څارګرۍ (جاسوسۍ) ټولو ښو ته دې زور ورکړل شي. د دې لپاره چې د غلیم د دفاع ځواک مات شي د افغاني پوځ د "۶۶۶" لمبر کوماندويي قطعې نه مو دوه کنډکه چې "پیش مرګان" نومېدل، دوه ځلې په هلیکوپترو کې دیسانت کړل. شپه او ورځ مو په جلا- جلا ښنو او سیمو ګوزارونه کول. موږ پوهېدو چې د عملیاتو اوږدېدل د مجاهدینو په ګټه دي، ځکه مو پرېکړه وکړه په ټول وس او اورني ځواك او د قطعو، په تېره د هلیکوپترو په مرسته د پلي شویو کوماندویانو د زړورو عملیاتو له لارې په هرډول چې کېږي

د دښمن مقاومت په څو راتلونکو ورځو کې مات کړو او تسليمۍ ته يې اړ باسو.

لومړني کسان د جګړې په شلمه ورځ اسيران شول. دوی خوار، ناولي، ربړېدلي او ببر وو او سترګې يې له کينې ډکې برېښېدې. دا کار له هغه وروسته شونی شو چې شوروي او افغاني پوځونه ۲۰- ۳۰ کيلومتره دننه په وادۍ کې مخ ته ولاړل او ټولې صحرايي مورچلې او دفاعي تاسيسات يې رنګ کړل. له دې نه په څرګنده د مجاهدينو د بدمرغه پای زېری راته.

د سپتامبر پر ۱۷ (چې د جګړې په نقشه کې په د – ۹ ښودل شوی) بريد جنرال چيريو منيخ د رُخې په کلي کې چې د وادۍ په زړه کې پروت دی، زما د قوماندې مرکز ته راغی او داسې معلومات يې راکړل:

- غليم له مقابلې نه لاس واخيست! د پنجشېر وادي زموږ په لاس کې ده.

او بيايې له دې نه هم له خوښۍ په ډکه بغه وويل:

- بری مو مبارك شه سترجنرال صاحب!

نژدې و چې له خولې مې ورته راووځي:

- "يو دوه نور داسې بري او زما به په ځمکه کې ځای ورك شي!"

ما هم ټولو حاضرينو ته مخ ورواړوه:

- بری مو مبارك شه!

وروسته راته څرګنده شوه چې د پنجشېر د جګړو لارښوونه پخپله احمد شاه مسعود په غاړه درلوده. د سپتامبر ۱۷/۱۶ شپې نومورې تېرې او وروسته د جګړې له ډګر نه داسې تری تم شو چې چا ته يې پته نه وه.

... کابل ته د راتلونکو شپږو مياشتو- يو کال لپاره له شمال ختيز لوري د ګواښ خطر له منځه لاړ. د ببرك كارمل رژيم پر مجاهدينو ستر بری موندلی و.

✿✿✿

د شپېتمې لسيزې په پای او د اوياېمې په پيل کې هغو افغانانو چې د داود د رژيم مخالف وو (؟) د داسې ډلو په جوړولو لاس پورې کړی و چې د خلکو ګټې يې تمثيلولې. جمهوررئيس داود د چارو واګې يوازې په خپل لاس کې ساتلې او تر ډېره يې د باچايي پېرممتاز پاټکي (قشر) له امتيازونو او ځان پلورنې سره يوځای ساتلې وو. د خلکو د ګټو د ساتنې مبارزين د هېواد د خوځندو او فعالو وګړو په چارچاپېر راټول شول لکه: روڼ آندي (روښانفکران)، حکومتي مامورين، پوځيان، د منځنۍ او لوړې کچې ځمکوال، پانګوال او نور ډېر هغه کسان چې په کړېدلي هېواد افغانستان کې يې د نيکمرغه ژوندانه د جوړولو لپاره د مسلمانانو په زړونو او فکرونو کې د تلوسې د پارولو وړتيا درلوده. قران (شريف) په څرګنده د دغې مبارزې پر خوا نه و، ځکه هغې د څښتن تعالی له دې لارښوونې سره سر نه خوړ چې پر ځمکه د هر ډول واکمنۍ واګې له الله (ج) سره دي. له همدې امله (د حکومت) مخالف غورځنګ پراخ نه شو او تر ډېره يې يوازې توطئه کوونکې بڼه درلوده. خو په هېواد کې يې شته والی درلود. داود په دې خبره پوهېده او ځکه يې د هغې د رنګولو هڅه کوله او د تطميع او رسوا کولو له تاکتيک نه يې ورسره کاراخيسته. مخالف توطئه کوونکي له هماغه پيله د دوو جريانو پر چارچاپېره راټول وو: پرچم او خلق. "پرچم" د شته منو افغانانو لکه منځنيو او غټو ځمکوالو، د روڼ اندو د سرسر کسانو او لوړو ملکي او پوځي مامورينو استازی و. په "خلق" کې نور ګرده پاتې کسان راټول شوي وو: يانې که دداود رژيم نسکور او ستر او نيارمن (عادلانه) انقلاب تر سره شي نو "بيا به هغه څوك چې هېڅ نه لري د هرڅه څښتن شي".* د "خلق" پيل دغو کسانو کړی دی: تره کي،

* دا د انترناسيونال په نامه د هغې سندرې يو فرد دی چې کمونستانو به په خپلو غونډو کې ويله (د.ج)

امین، سروري، زیری، ګلابزوی، وطنجار، قادر او نور. د خلق ډله د دغه روښانه لړلید په پام کې ساتلو سره چې تر انقلاب وروسته به "د هرڅه څښتنه شي" د شمېر له مخې پر پرچم پیاوړې او د داود رژیم ته (ډېره غوسه) او اور پکې وه.د "خلق" په نظریاتو کې په زوره د داود نسکورولو او وژلو ته اجازه وه. زیات امین او سروري د دې کار هڅه کوله. خو د خلق مشر بزمي شاعر(؟) آزاد خیاله ښځ خوبی (زنکه باز!) تره کي د دغې اورپکی مخه نیوله. د پرچم مشري د ببرك کارمل (دایې ګونډي تخلص و) پر غاړه وه. ببرك په پوځ کې د یوه ډګر جنرال زوی و. د ببرك ملاتړي دا کسان وو: نور، اناهیتا راتب زاك*

کشتمند، رفیع، ګل آقا، خلیل او نجیب چې د افغاني معیارونو له مخې له ډېرو شته منو کورنیو څخه وو. یوازې ګل آقا په دې ډله کې نه راته. هغه شپون و. د دغه دوو ډلو او البته چې د مشرانو ترمنځ یې نه پخلا کېدونکې ایدیالوژیکي، سازماني او روحي مبارزه که څه هم په پیل کې پټه وه روانه وه. داود تر څه ځایه په هېواد کې د پرچم شته والی زغملی و: د هغې مشر ببرك کارمل آن د هېواد په نمایشي پارلمان کې د وکیل کېدو حق هم تر لاسه کړ. "خلق" په بېرحمی تر تعقیب لاندې و. له دې کار سره "د دوی" دګډې مبارزې ملګرو"، پرچمیانو مرسته کوله او بیا بیا یې خلقیان (د حکومت) په لاس ورکول. د انقلاب غورځو پرځو په ټول بهیر کې خلق او پرچم دواړو په ټینګه د اندروپوف او په افغانستان کې د هغه د څارګرېزې (جاسوسي) شبکې سترګو ته کتل چې په نړدې راتلونکې کې یې د داسې انقلابي لمبیټتي ګوند زېږېدنه لیدله چې یو د داود د بورژوازي- فیوډال رژیم د نسکورولو او بل د ودې پر سوسیالستي لاره د افغانستان د سمولو جوګه وي. له ۱۹۷۸ کال مخکې خلق او

---

* لیکوال د اناهیتا راتب زاد نوم تر پایه ناسم (راتب زاك) لیکلی. ژباړه یې له دې یادونې وروسته د "راتب زاد" په اصلي بڼه ساتل شوې ده. (د.ج)

پرچم سره یو شول او د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند یې منځ ته راوړ (؟). د دغه ګوند د غړو شمېر لږ څه د پاسه زرو تنو ته رسېده چې نه یې د غړیتوب کارتونه او نه یې ټینګ ګوندي دسپلین درلود.

د ۱۹۷۸ تر اپرېله جمهوررئیس داود ته جوته شوې وه چې د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د هغه د نسکورولو ستې رانغښتې او په دې کار کې یې د بریالي کېدو امکانات هم ډېر دي. نو د "توطئه کوونکو د ګوند" د تس- نس کولو تکل کوي. خو نور ناوخته وي. خلقي مشرتابه دا شعار رامخ ته کړ "ټول پر ارګ برید وکړئ!" "بری ستاسې دی او په افغاني خاوره کې به مو نیکمرغه ژوند په برخه شي!"

د وطنجار په مشرۍ څو ټانکونو او د قادر په لارښوونه دریو الوتکو د ۱۹۷۸ کال د اپرېل پر ۲۸ (سمه یې ۲۷ ده د.ج) پرله پسې پر ارګ ګولۍ وورولې او خلیل الله ته وفادار ټولګي د جمهوري ریاست پر ماڼۍ وروختل، داود راوپرزول شو.

د اپرېل (ثور) ستر انقلاب تر سره شو. اندروپوف او ډله ټپله یې خوښه وه چې اوس به نو افغانستان هم د ودې پر سوسیالیستي لاره روانېږي. او موږ شوروي خلك به د هغه هر اړخیزه مرسته کوو!

په افغانستان کې (چې نور ورته دیموکراتیک جمهوریت ویل کېده) د واك واګې د خلکو دیموکراتیك انقلابي ګوند او که دقیقه یې ووایو، د هغې اورپکې څانګې یاني خلقیانو ته په لاس ورغلې چې مشر یې تره کی و. ببرك کارمل ته دویمه درجه ونډه ورسپېده یاني په هره څوکۍ کې د تره کي مرستیال شو. تره کی د ځواکمن او ښه سمبالوونکي (سازمان ورکوونکي) سړي یاني د دفاع وزیر (؟) امین په منګولو کې ښکېل و. امین په آسانۍ تره کی قانع کړ چې د ګوند او د هغه د شخصي ګټو لپاره به غوره وي که پرچمي مشران د هېواد له خوځند سیاسي ژوندانه ګوښه کړای شي، په دې توګه نو ببرك کارمل چکوسلواکیا ته، نور انګلستان ته او اناهیتا راتب زاد

یوګوسلاویې ته د سفیرانو په توګه واستول شول. کشتمند، خلیل او رفیع انقلاب ته په خیانت تورن او د څرخي پله زندان ته واچول شول. ګل آقا له زندان او شړنې نه بچ پاتې شو. هغه پټ شو او له هغو پرچمیانو سره یوځای یې چې لا نیول شوي نه وو، له ببرك، نور او اناهیتا سره اړیکې ټینګ کړل. امین له تره کي نه د ناز او نعمت او هغو افغانو نجونو کړۍ راتاوه کړه چې یې د شعر الهام ورکاوه(؟)

امین بیا واك په خپل لاس کې ټولاوه او راټولاوه او البته چې د سوسیالیزم پر جوړولو بوخت و، پر وسله وال پوځ یې تکیه کړې وه او د سر سر پوځي افسرانو ته یې اړین او هر ډول امتیازونه ورکول، د هغه لویه دنده په تېره په پوځ کې د ګوند د خلقي برخې پراختیا وه. تره کي په ارګ کې چړچې کولې، شعرګوټي یې کښل او پر نجونو بوخت و. د اندروپوف نړۍ لیدونکو سترګو دا هرڅه په غور څارل. کرملین پرله پسې د افغانستان په اړه اټکلونه کول. امین د اندروپوف او د کرملین د مشرانو د غافل کولو لپاره (۱۲) ځلې له شوروي اتحاد نه د عسکرو د ورلېږلو غوښتنه وکړه چې د نړیوال امپریالیزم په وړاندې د ثور انقلاب دفاع وکړي او په هېواد کې سوسیالیزم راجوړ کړي. مسکو زړه نازړه و. اندروپوف نوره هم خپله زیرکتیا زیاته کړه. البته چې له هغه سره ببرك له چکوسلواکیې، نور له انګلستان او اناهیتا له یوګوسلاویې نه مرسته کوله. دوی په لوی لاس او د خپلو غرضونو لپاره امین د فاشیست او دکتاتور په نامه بې اعتباره کاوه. امین رښتیا هم د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې په یوه دکتاتور واوښته: تره کی یې په ریاکارۍ او مهارت لومړی له ارګه زندان ته او له هغه ځایه الله (ج) ته ورواستوه. دا نو هغه وروستی څاڅکی شو چې په کرملین کې د ناستو مشرانو د زغم کنډولی ورسره په مورګو شو.

امین ټول واك په منګولو کې ټینګ کړ، خو لوبه یې وبایلله. اندروپوف په سیاسي بیورو کې ټینګار کاوه: د ثور انقلاب د

ژغورنې او هم د دې لپاره چې افغانستان د سوسیالیزم پر لاره رواز شي، له واك نه د فاشیست امین نسکورول (او ان یې وژل په کار دي. همدا کار وروسته بیا د ك.ګ.ب. * غړو په کابل کې سرته ورساوه) نوموړي دغه راز افغانستان ته د پوځونو د لېږلو وړاندیز هم وکړ. سیاسي بیورو زړه نازړه وه، د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ ستر درستیز یې مخالفت کاوه. خو اندروپوف چې دغه وخت یې ځوك په ځواکمنۍ کې د سیالۍ نه وو، له خپلې خبرې نه تېرېده. او. ستینوف او ګرومیکو هم د هغه پلوي کوله. پرېکړه وشوه. اندروپوف افغانستان ته د استول کېدونکي ځلوېښتم لښکر مخکینیو ډلو ترشا، کابل ته نوي مشران: ببرك کارمل، نور احمد نور او اناهیتا راتب زاد هم په الوتکه کې ورواستول. کشتمند، رفیع او ډېر نور کسان چې تر تېرلو سخت کړاو یې زغملی و، له زندانه راوویستل شول. سم له لاسه د افغانستان د خلکو دیموکراتیك ګوند نوي سیاسي بیورو او ورسره انقلابي شورا وټاکل شوه چې د دواړو مشري د ببرك کارمل په غاړه وه. همدی دوسله وال پوځ اعلی سرقوماندان هم شو. کشتمند د حکومت مشر او د اقتصاد (پلان جوړولو د.ج) وزیر شو. په دې توګه نو د هېواد د واك واګې پرچمیانو او یا که دقیق ووایو د هغو مشرانو ته په لاس ورغلې، خو دا خبره په پام کې ساتل په کار دي چې: دغه وخت نو د ګوند د غړو شمېر ۱۴- ۱۵ زرو تنو ته رسېدلی و. له دې ډلې نه ۱۳۵۰۰ تنه خلقیان وو (چې اساسي برخه یې په پوځ، څارندوی او خاد کې وه).

دا خبره اندروپوف او د هغه اندېوالانو ته هم څرګنده وه او هغوی د خپلو "چارو" په سر ته رسولو کې په پام کې نیوله.

* ك.ګ.ب: د شوروي پېر د څارګرۍ (جاسوسۍ) ډاروونکې اداري د نامه د روسي ټکو لنډیز دی (کمتیت ګاسودارستوینوی بیزاپاسنوستي) Kometet Gasodarstvennoi Bezopasnosti (د.ج)

# څو کرښې هم د روحانیت د ځواک په اړه

په دغه هېواد کې چې د وګړو شمېر یې ۱۴ – ۱۵ میلیونه تنه ګڼل کېږي، څلوېښت زره مزدکونه (جوماتونه) وو. هرجومات ملا او هر ملا طالبان او خادمان درلودل. شمېرل یې آسان دي: څلوېښت زره مزدکه، په هر یوه کې پنځه تنه: ټول کېږي ۲۰۰ زره تنه. دا هغه اورپکي مومنان وو چې په الله(ج) یې سرورکاوه او قرآن (شریف) یې په دا دولسو پېړیو کې دمعنوي ژوندانه بنسټ جوړاوه. او اوس یوه پوښتنه:

د افغانستان برخلیك له معنوي پلوه د چا په ګوتو کې و؟ د خلکو د دیموکراتیك ګوند په ګوتو کې چې دَ دواړو ښاخونو شمېر یې ۱۴-۱۵ زرو تنو ته رسېده او پر کابل او ولایتي مرکزونو یې ولکه ټینګه وه، که د دغو څلوېښتو زرو ملایانو په ګوتو کې چې پر الله (ج) د ایمان او په قرآن (شریف) د اعتقاد پر بنسټ یې د هر مزدك پر شاوخوا سیمه ییزې ټولنې جوړې کړې وې؟

د شوروي واکمنۍ اویا کلونو کې موږ البته چې ارتدوکس عیسویت په بې رحمۍ او سپین سترګۍ وځپه یا لږ تر لږه فکر کېده چې ځپل شوی دی، حلك له مخه وړل کېدل، سالوفکي ته تبعیدېدل، او یا مذهبي روحانیون ك.ګ.ب پېرودل او خپلول. له دې نه زیات

موږ دا فکر کاوه چې په شوروي جمهوریتونو کې د اسلام ستنه ایستل شوې ده. دا څومره ژوره او نه بښونکې تېروتنه وه!

د شوروي د ړنګېدو، د کمونست ګوند او د هغه د ملحدې ایدیالوژۍ له درې ورې کېدو ډېر لږ وخت تېرېږي خو وګورئ چې په دې موده کې کلیسا بیا څومره څواکمنه شوې، ایدیالونه او تبلیغ یې نن څومره اغېز لري او زرګونه او لسګونه زره خلك او په دې ډله کې له خدایه پروني منکر ورته ورمات شوي دي. او په اسلامي نړۍ کې حالات څنګه دي؟! د دغو هېوادو مشران هڅه کوي چې په مخکني شوروي اتحاد کې د اسلام مورچلې پخې کړي. اسلام په هغو ځایو کې چې یې ستې له ځایه پخې راختلې او پوره له منځه نه وې تللې، لکه په تاجکستان کې، په خورا چټکۍ له سره رازېږي. په نورو اسلامي سیمو کې هم حالات همدا ډول دي. آیا زموږ ناپایه ځواکمنه ك.ګ.ب، په دې خبره وه؟ په پوهېدو خو پوهېده، خو د ځان لپاره یې ترې سمه نتیجه نه اخیستله. او اندروپوف! آخ څومره یې په بهر کې پرخپلو ګمارلو باور کاوه. په دې خبره مې آن په مصر او چکوسلواکیې او اوس په افغانستان کې بیا بیا یقین پوخ شوی و.

له هماغې لومړۍ ورځې مې افغانستان له کتابونو او څرګندونو پرته وپېژانده. ما د دغه هېواد د ژوند بهیر هغه د چا خبره پخپله پر خپل زړه احساسوه. ستر پوځ چې د کابل د مرکزي حکومت په لارښوونه یې عمل کاوه؛ ښارندوی چې ښه وسله وال نه وو او خدای خبر چې د چا په پلوۍ جنګېده؛ زموږ په پېښو جوړ شوي خفیه پولیس یا د دولتي امنیت خدمتونه (خاد) د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې د لوی پوځي شوروي سلاکار په توګه زما دنده دا وه چې دا ټول سره یو موټی او بیا اړ کړم، هو اړ یې کړم چې د خپل انقلاب دفاع وکړي. زموږ د ښارګریزو (استخباراتي) معلوماتو له مخې د کال په بیلابیلو میاشتو کې د افغانستان دننه له ۵۰-۶۰ نه تر ۷۰-۸۰ زرو اشرار وو. د دوی زیات شمېر د کابل ښاوخوا، د

پلازمېنې جنوب لويديځ پلو، د پنجشېر په وادۍ، د هېواد په مرکزي برخو، په کندهار او هرات کې وو، خو ګڼه ګونه يې ډېره په جلال آباد کې، يانې پاکستان او هند ته څېرمه د هېواد جنوب ختيزو برخو کې وه. په مزارشريف او د بدخشان ولايت په شمال ختيځ کې زموږ له تاجکستان سره څېرمه هم لويې ډلې ځای پر ځای وې.

لويې مرکزي لارې لکه ختيزه لاره چې کابل ته غزېدلې وه او لويديزه لاره چې له هرات او کندهاره تېرېدله عملاً د اشرارو په لاس کې وې. ما او ولاديمير پتروويچ (چيريومنيخ) په دې اړه ډېر فکرونه کړي دي. تصور وکړئ چې دوه بهرني جنرالان او دوه کافران چې زموږ د هغه وخت د ورځپاڼو د ليکنو خلاف اصلاً "افغان ولس" مرستې ته وربللي نه وو، په پردي هېواد کې ناست دي او دا خبره څېړي چې څنګه يو چل جوړ کړو چې خپله افغانان له افغانانو سره جنګېدو ته اړايستل شي او له دې سره جوخت کابلي واکمنو ته په هېواد کې د روانو ټولو پېښو مسووليت چې په هره وسيله يې د هغې له منلو اوړه خالي کوله "وروسپارل شي"... البته چې د داسې درندو سياسي دندو سرته رسول راته د شوروي سفير، سفارت، د شوروي اتحاد دکمونست ګوند د مرکزي کمېټې د استازو او د ك.ګ.ب د غړو د زياتې پاملرنې له امله تر غاړه کېدل. خو جګړه روانه وه او موږ هر يوه تر هرڅه مخکې د خپل- خپل مسووليت په اړه فکر کاوه.

ما له چيريومنيخ نه وپوښتل: پوځي عملياتو ته د چمتو کېدو په ترځ کې زموږ پوځي رازونه څومره پټ پاتې کېږي؟

- آخ سترجنرال صاحب، په دې چاره کې موږ ډېر ساده ګان يو.
- يانې څه؟
- پخپله قضاوت وکړئ... راځئ چې غورې پرې وکړو.

او په سوچ کېوتو. سوکولوف چې ښه مجرب سړی و، د ګوزارونو پر وخت به يې قطعو او جزوتامونو ته د پوځي دندو په هکله د عملياتو له پيل دوه ورځې او يا له ډېر نه ډېر درې ورځې مخکې

خبر ورکاوه. خو بیا به هم د هرپوځي ګوزار خبر وختي دښمن ته رسېدلی و. او د ګوزار لپاره ټاکل شوې قطعه به بیا بیا په لومه کې کېوتله یا به ورته کمین نیول شوی و. له دې نه ګرانه خبره بله نه شته چې هم جنګېږي او هم له هره پلوه درسره خیانت کېږي. موږ دا احتمال نه رداوه چې دا کارونه په لوی لاس او د افغاني مشرتابه د دې حساب له مخې کېږي چې حالات څومره خراب وي هومره ښه دي. د هېواد مرکزي سیاسي او پوځي مشرتابه د افغاني پوځ له قطعو نه مجاهدینو ته د پوځي رازونو د رسېدو د مخنیوي لپاره هېڅ نه کول. پایله به دا شوه چې هم به موږ او هم به په ګوزارونو کې برخه والو افغاني قطعو او جزوتامونو ته درانده زیانونه وراوښتل. موږ د دې هرڅه په پام کې نیولو سره (زما په لاربښوونه) د رازونو د ساتلو د یوې نادودې، خپل سرې او تر ډېره خطرناکې طریقې کارول پیل کړل. د دې نکل به لږ وروسته کوم...

- نقشې خو... او چیرېیو منیخ له سختې کنځلې (ښکنځل) وروسته زیاته کړه:
- د بلې میاشتې لپاره د پوځي عملیاتو نقشې څو د ببرك او رفیع پر میزونو پرتې دي.

بې ځارنې! او بیا یې په لاترخه ژبه زیاته کړه:

- ګورئ چې بیا به مو کله او چېرته په نښه کوي.
- ګورم به-، په پیکه شانې ژبه مې ځواب ورکړ.

د سوکولوف او اخرامییف د تګ وخت راورسېد. په شوروي سفارت کې د دوی د خدای پامانۍ مېلمستیا ته د افغاني مشرتابه د سرسر کسان راغلي وو. لکه د بل هرداسې مورد په څېر د سوکولوف او اخرامییف په اړه ډېرې تودې خبرې وشوې. تابییف* له وخت نه

---

* فکرت احمدجانوویچ تابییف په ختیه تاتار مسلمان د شوروي پوځ د یرغل په درشل کې د الکساندر پوزانف پرځای افغانستان ته د شوروي سفیر په توګه رااستول شوی و. (د.ج)

ګټه اوچته کړه او په لوړ غږ يې له پوځيانو سره د سفارت او حزبي کمېټې د نږدې همکاريو اعلان وکړ. هغه ووېل: همدا وجه ده چې په هېواد کې ولسي واکمني پوره ټينګه شوې او ډېر ژر به افغانستان هغه د چا خبره ان د وارسا تړون غړی شي. سوکولوف چې د سړې سينې خاوند دی، دا هرڅه په چوپه خوله اورېدل او يايې ښايي د فکر مارغه وړاندې- د مسکو له پاسه الوته: په کاروه چې هلته د سياسي بيورو د کميسيون غړو ته هم د افغانستان د حالاتو او هم د لرليدونو په اړه معلومات ورکړل شي. او لرليدونه خو...

# شلورم څپرکی

د پوځي چوپړ په اوږده موده کې، پر ۱۹۴۰ کال د سره پوځ د حربي ښوونځي له زده کوونکي نه واخله تر سترجنراله، د لومړی درُجې پوځي حوزو د ځواکونو تر قوماندانۍ او بیا د شوروي اتحاد د ځمکنیو پوځونو د عمومي قوماندانۍ تر مرستیالۍ پورې مې تل د خپلې پوځي رتبې له لوړېدو سره جوخت یوه قاعده ټینګه په پام کې ساتله: د هرډول کوچنۍ یا سترې پوځي دندې د سرته رسولو لپاره تلیز (همېشنی) چمتووالی.

ما له همدې قاعدې سره سم خپل پوځي پور پرې کاوه او (د هغه وخت له دود سره سم مې) د دفاع وزارت د مشرتابه، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې، سیاسي بیورو او پخپله (د ګوند) د عمومي منشي له خوا راباندې شوی باور ربنتینی کاوه. د هغه وخت دود همدا و.

په رندو سترګو د ځوکۍ ککړه لټه مې ښه نه ایسېده. زما هڅه دا وه چې مېړانه او "د پرانستې جګړې" د یوه افسر، د یوه جنرال ځانګړتیاوې په ځان کې وروزم. او همدغه ځانګړتیاوې بیا بیا د عمل

ډګر ته هم وتلې. خو کله کله به مې د سر سر په پوځي مشرتابه کې داسې نورې هڅې تر سترګو شوې، چې ګڼله مې، او اوس هم په دې باوريم چې د شرافت له اصولو سره سمون نه لري. د دفاع وزارت د سترو پوځي مشرانو تر منځ د دوه اړخيزو اړيکو يوه بېلګه به درته راوسپړم چې زما له نظره خواشينوونکې وه. د دغو شيانو بيا په زړه کول د سړي خواګرځوي، خو څه کولی شې: چې څه وو هغه وو...

... د سوکولوف د ډلې په وياړ په سفارت کې د شوې مېلمستيا پر سهار ټول د دغو پوځي قوماندانانو د مخه ښې لپاره د کابل هوايي ډګر ته راغلي وو. افغانانو چې د خپل دود له مخې (د مېلمنو) پرتمين هرکلی کوي، داخل يې او بيا هم له خپل دود سره سم، تواضع کوله: د زړه براس يې بې غږ او غوږه ايسته،- هغه خپله دنده تر سره کړه.

د مخه ښې لپاره (له ببرك پرته) د کشتمند په مشرۍ ټول سياسي او حکومتي مشران راغلي وو. زموږ د سفارت د سرسرکسان هم حاضر وو. د تشريفاتو ټولګی درول شوی نه و.

په هغه وروستۍ شېبه کې چې مسافر نور الوتکې ته ختل، د غېږ او ښکلولو په اندوخر کې، اخرامييف په زېږه شانتې ښه له لاس نه نيولی ، له ګڼې- ګوڼې نه څنګ ته کړم په ټيټ او رپېدلي غږ او په داسې حالت کې يې چې کله به له يوې پښې نه په بلې کږېده، راته وويل:

- بيخي پټه خبره ده.
- جنرال صاحب امر کوه!
- (د دفاع وزير) غواړي چې... اخرامييف په ځرګنده نه غوښتل چې د خبرې په سپړلو کې بيړه وکړي.
- زه غوږ يم.
- پوهېږې، د هغه د خولې خبره ده چې... وزير هيله من دی چې ته به د جګړو په اړه ټول معلومات يوازې همده ته، وزير ته

(اخرامييف د "وزير" كلمې ته ځانګړې خج وركړ) وړاندې كوې او نه اګاركوف (لوى درستيز د.ج) ته.

ما پرې راغږېږ كړل:

- سړګي (اخرامييف) دا ته څه وايې؟

- پخپله ښه پوهېږې چې څه وايم- او په داسې حال كې چې خپل زور يې له يوې پښې نه بلې ته كړ، ورپسې زياته كړه:

- **زما** يې له... - او بيا يې خپلې ناړې تو كړې او خبره يې بشپړه نه كړه.

ما ګڼله چې چا وزبېښلم، يا له دې هم بتر: لكه چا مې چې پر سر ډېران تش كړي وي. تر څه ځايه مې وار- پار خطا شو او تر څه شېبې نه پوهېدم چې څه ځواب وركړم. يوازې مې همدومره وويل:

- زه دا نشم كولى. او بيا مې په نور ټينګار له سره وويل: زه دا كار نه شم كولى.

- زما كار دا و چې دا هيله درته ورسوم، وړاندې فكر او پرېكړه ستا خپله ده.

ما ته د اخرامييف په دې خبرو كې د سپين سترګۍ او بې حيايۍ نښې وبرېښېدې. د سوكولوف غږ تر غوږو شو چې د الوتكې د زينې تر څنګ ولاړ و:

- پر آسونو لته واړوئ!

- اخرامييف په منډه د الوتكې زينې ته ځان ورسوه او زه هم ورپسې روان شوم.

له سوكولوف سره مې غاړه په غاړه مخه ښه وكړه او ښه سفر مې ورته وغوښت سوكولوف په پسته ژبه وويل:

- او ته ځان دلته پياوړى كوه، زما له خوا به هم د نبكۍ ملاتړ درسره وي.

ما او اخرامييف په سترګو كې يو بل ته سره وكتل او بيا مو توده غاړه سره وركړه.

- ماوبښه! – هغه له ورایه خجالت و- ما وبښه!
- زه خو دې ښښم... تاریخ څنګه؟
- آ-آ- او بیا په داسې منډه چې له عمر سره یې سر نه خوړ پر زینه الوتکې ته ورپورته شو.

ما د دود خلاف د الوتکې د ښي لوري دو او تاکلي لور ته د روانېدو تر وخته انتظار ونه کړ او غلی له هوایي ډګره ولاړم.

اوږده موده تېره شوه خو د هغو خبرو- اترو ټولې پېښکې مې تر اوسه په یاد دي. پر زړه مې د خواشینۍ یوه څپه راخپره شي او غوږونه مې لکه سوزي چې ته به وایې کوم کرغېړن راز مې بربنډ شوی دی.

خبره دا نه ده چې ګنې لومړی ځل له دسیسې سره مخامخ کېدم. البته مخکې مې هم د سترو پوځي قوماندانانو تر منځ ناوړه کړنې لیدلې وې. خو دهغه څه راز چې په دغه ورځ راته څرګند شو، یانې د اوستینوف، ارګاکوف او اخرامییف په مثلث کې د ناولو اړیکو شته والي، پر هرډول صداقت یې زما باور له منځه یووړ.

بېرحمه او ستره جګړه روانه وه چې زما په انده یې په ترڅ کې د هغو وګړو ترمنځ د پاکو اړیکو شته والی اړین (ضروري) برېښېده، د چا په امر چې سلګونه او زرګونه کسان دلته د مرګ بلا خوړل.

په دې توګه نو سپین ږیروکي او ستینوف د خپلې کمزورتیا او کاري ناپوهۍ د پټولو په موخه او د دې لپاره چې خپلو مادونانو ته مخور وبرېښي، پټیلې ده د جګړې په اړه خورا مهم معلومات په "کړه لاره" یانې له لوی درستیز نه په څنګ، له مانه تر ګوتو کړي!

- د عقل د منلو نه ده!

ما په خپل دفتر کې له یوه دېواله تر بله لاره ګز کوله. فکر مې کاوه او ټول څرګند څیزونه مې سره پرتله کول او هڅه مې کوله چې د کرملین د مرموز ژوندانه هغه خواوې سره وڅېړم چې تر دغه دمه لا څرګندې نه وې.

اوستینوف د شوروي اتحاد د پنځو مهمو مشرانو له ډلې نه و. مخکې، د ستالین په حکومت کې لومړی د وسله تون او وروسته د تسلیحاتو ولسي کمیسار (وزیر) و. په هېواد کې د اتومي صنعت د منځته راوړونکو او وروسته د وده ورکوونکو په ډله کې راته. دهغه لوی چوپړ هم همدا و او خدای خبر که بل چا د هېواد لپاره په دومره اغېزمنتیا اتومي سپر (ډال) جوړ کړی وای. سربېره پردې، هغه مجرب چارواکی و چې لومړی د ستالین او وروسته وروسته د خروشچف، بریژنف او بیا اندروپوف نازولی شو.

البته چې اوستینوف د ځواك ښبنتن دی. خو داسې بریښي چې ځواك یې نور په اوبه کېدو دی. مور د پوځي حوزو قوماندانان پوهېدو چې پوځي چاپېریال د دفاع وزیر په توګه د اوستینوف غیبت کوي او هغه ته له "نخودو (چڼو) جوړه نانځکه" وایي. عجیبه (هیښوونکې) نه ده ګنې؟

ما څو ځله اوستینوف لیدلی او دهغه څېره مې له ټولو جزئیاتو سره په زړه ده. دا دی، هغه مې مخې ته ولاړ دی: سپین ږیری، کمزوری، پښې یې نیمې کړې او ارتې پرځمکه اېښې. عسکري خولۍ یې د اديسه * والو په دود کړې وه، پیك یې د عسکري اصولنامې خلاف چې باید د پوزې په لیکه وای، په ښۍ سترګه (کوږ) اېښوده او تر خولۍ لاندې یې رنګ کړي وېښتان څرګندېدل. د ملا وستني (کمربند) غوټه به یې هم کړې وه.

د هغه څېره مې په سختۍ د شوروي اتحاد د مارشال له رتبې او د دفاع وزارت له څوکۍ سره نښلولی شوه.

کله چې زه د بالتیك د سیمې د پوځي حوزې قوماندان وم، نو ما ته یې داسې زده کړه راکوله: د پوځونو قوماندانې باید په څرمنیو لاسکښو (دستکشو) کې نغښتو اوسپنیزو لاسونو وشي. او بیایې لکه

---

* اديسه ODESA د اوکراین یو بندري ښار دی (د.ج)

هغسې چې د ګوند او پخپله د بريژنف غوښتنه ده، لومړۍ ليکې ته دوروتلو د اړتيا په اړه کوم څه ويلي وو.

او په همدې وخت کې آوازې نورې هم پياوړې کېدې: "له نخودو جوړه نانځکه". خو آوازو لکه چې بربښي د دغه ډېر ځواکمن او خطرناك سړي وزن او ارزښت په بشپړه توګه نه څرګنداوه. په افغانستان کې مې د چوپړ پر وخت تل غوروونه څك وو چې پرکومه دسيسه کښنوزم او هغه د چا خبره دده تر خېټې لاندې نه شم.

ما ته چې د اګارکوف او اوستينوف خپل منځي اړيکې ښه څرګند وو نو دغې پايلې ته رسېدلى وم. نيکلاى اګارکوف يوه داسې قاعده تر پښو لاندې کړې وه چې لوى درستيز يې بايد په پام کې ونيسي او هغه دا چې ايله دومره هوښياري بس ده چې د دفاع وزير رخه او خپګان راونه پاروي.

اګارکوف د خپل صداقت او روسي سپېڅلتيا له مخې اوستينوف ته د دفاع وزارت پر څوکۍ د تاکل کېدو په لومړي پېر کې تر وسه وسه پوځي چارې په تېره بيا تاکتيك، اوپراتيفي هنر او ستراتيژي ورزده کړل. هرڅه سم روان وو، خو سپين ږيروکې اوستينوف چې ځان غوښتونکى او واك خوښوونکى و په دې کې ځان ته خطر ليده او ځکه يې د هغه د مقابلې لپاره د هغه مرستيال اخراميف ځان ته رانږدې کړ او په څرګنده يې نومړى د لوى درستيزۍ لپاره چمتو کاوه، او دا په دې چې اوستينوف خپل څنګ ته د هغه چا د پاتې کېدو زغم نه لاره چې له ده پياوړى وي. البته چې اګارکوف په دې حرکاتو پوه شوى و، خو نورناوخته و .

له اګارکوف سره له دوه په دوه خبرو نه راته دا جوته شوې وه چې کله افغانستان ته د پوځونو د استولو خبره را اوچته شوې وه نو ده يې په مخالفت کې ويلي وو "موږ په لوى لاس د ختيځ اسلامي هېوادونه د ځان خلاف راپوڅوو او په ټول هېواد کې مو سياسي لوبه له لاسه وځي". اندروپوف د هغه خبره غوڅه کړې وه: "تاسې خپلې

عسکري چارې سرته ورسوئ، سیاست مونږ، ګوند او لیونید بریژنف ته پرېږدئ!". اګارکوف لا هم نه تسلیمېده:

- زه لوی درستیز یم.

خو د ك.ګ. ب، رئیس یې خبره ورغوځه کړې وه:

- لوی درستیز یې او بس همدومره.

کیریلینکه، چرننکه، سوسلوف او البته چې اوستینوف د اندروپوف خوا نیولې وه. او د دې ناندرۍ په پای کې بریژنف په زګیروي، زګیروي ویلي وو:

- باید د یوري اندروپوف ملاتړ وشي.

دا د اګارکوف لومړنۍ لویه ماتې وه. او اوستینوف له همدې نه سملاسي ګټه اوچته کړه او د هغه د ځای نیوونکي لټه یې په غوځه توګه پیل کړه. او د هغه ځای نیوونکی هم تیارو: سرګي اخرامییف: هوښیار، کاري، مجرب لوی درستیز، خو ورسره ورسره تابع او مطیع سړی و.

افغانستان ته د عسکرو تر استولو وروسته چې به اګارکوف یا زمونږ د پوځونو د پیاوړتیا، یا د پوځي عملیاتو د لاغېزمنې سمبالتیا او یا د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې د پوځي سیاست د پلي کولو لپاره هرڅه وکړل د افغانستان په اړه د سیاسي بیورو په کمیسیون کې، په تېره بیا د اندروپوف او اوستینوف له خوا به ورته که په پسته ژبه یې وو ایو په ناباورۍ او آن د شك په سترګه کتل کېدل. او دادې خبره د دفاع وزیر له خوا مخامخ ګواښونې او جلا کولو ته ورسېده- د چا؟ د هېواد د لوی درستیز.

ما لاهمداسې په ګامونو د خپل دفتر ګز کول جاري ساتلي وو. له سرګي اخرامییف سره زما پیژندګلوي د پوځي چوپړ په ترڅ کې په ۱۹۵۷ کال کې په والادي واستوك کې شوې وه. دغه وخت زه د موتوریزه غونډ له قوماندانۍ نه د ګارد د موتوریزه ستالیني ۴۷م لمبر فرقې د قوماندان په توګه وټاکل شوم او دا د خپل پېر یوه ناویاته

(نــادره) پــښبنه وه: يــو ځوان ډګروال د فرقــې د درســتيزوالي بــا د قومــاندان د مرســتيالي پــر څوکــي لــه کــار کولــو پرتــه نــبغ فرقــې تــه "ورځي" او هغــه هــم داســې يــوې فرقــې تــه چــې د پرســونل شــمېر يــې بيخــي بشــپړ و يــانې د جګړې د وخــت تشــکيل يــې درلــود. مرســتيال يــې راتــه د ټانــک د ۳۲ مــې فرقــې د ټانــک د غونــډ د قومانداني لــه څوکــي نــه يــو ډګروال راوســت او هغــه همــدا ســرګي اخراميیــف و. دغــه وخــت د ده د ژوندانه څلوردېرشم کــال پيــل شوی و.

مــوږ دواړه ځوانــان وو او د غــوړېدو پــه پــړاو کــې او د دفــاع وزيــر مالينکوفسکي او د لــرې ختيــځ د پــوځي حــوزې قومــاندان پينکوفســکي دواړو راتــه د ښو بريــاوو د ترلاســه کولــو ســترګې نيولــې وې. ډېرې خولــې تويـول تر مخه وو. تواضــع بــه نــه کــوم، يادونــه بــه وکــړم چــې اخراميیــف او مــا هغــه وخــت هــرڅه تــر ســره کولــی شــول: د هــرډول وســلې چلــول (انداخــت)، د شــوبلې (ټانــک) او هربــل پــوځي ګاډي چلــول، د هــرډول ســپورتي وســيلو تمريــن او لــه ســر تــېرو ســره پــه ګډه پــه يــوه ســاه درې کيلومتره ځغاســته. او تــر ټولــو مهمــه دا چــې مــوږ پــه ۲۴ ســاعتو کــې ۲۶ ســاعته کــار کولــی شــو. پــه تــېره بيــا اخراميیــف بيخــي نــه ستړی کــېده. هغــه "د بــل تــر لاس لانــدې" بــې جــوړې افســر و، هوښيــار و او د ډېرو کــارونو د پيلوونکــي پــه تــوګه يــې ســاری نــه درلــود، هــرڅه يــې پــه ځلانــده تــوګه پايتــه رســول.

دوه کالــه همداســې تــېر شــول. د ۱۹۵۹ ښوونــيز کــال پــه پــای کــې دوه اووه نــۍ پــه فرقــه کــې د پلټنــې (تفتيــش) ازموينــې واخيســتل شــوې. د دغــو آزموينــو مشــري د لــرې ختيــځ د پــوځي حــوزې د قومــاندان ډګر جنرال پينکوفسکي پــه غــاړه وه. څه نــابېره پــېښه ونــه شــوه. فرقــې لــه څه سکونډلو يــا پــر (تېروتنــو) لــه ســترګو پټولــو پرتــه وړ آزموينــه تــېره کــړه. او بــاور مــې نــه کــېده چــې پــه ســتاينو کــې زمــوږ دومــره ناســخی (کنجــوس) قومــاندان بــه د کلنيــو چــارو د ســرته رسولو لــه املــه د "ښه" نمــره راکــړي. مــوږ لــه خوښــۍ نــه پــه جامو کــې نــه ځاييــدو.

یادونو ډېر بل لوري ته بوتلم. ناڅاپه چې مې خپله څېره په هنداره کې ولیده، پام مې شو چې موسکی یم. خو د موسکا وخت نه و... هغه وخت ما او اخرامییف څمکې ته ویل چې ته څه مور به وروسته درځو... لږه موده وروسته راته د شوبلو (ټانك) د ۳۲ مې فرقې د قوماندانۍ د منلو وړاندیز وشو. د دغې فرقې قوماندان ډګروال تاراکانوف او مرستیالان یې له دندې ګوښه کړی شوي وو. (دلته هم) زما مرستیالي... البته چې! سرګي اخرامییف ته وسپارل شوه. په خولۍ کې مې سره پته په توره واړوله او پر اوږو مې د ټانك نښې ولګولې. په پولیګونو او د شوبلو (ټانکونو) د آزموینې په ډګرونو کې د خولو تویولو پړاو پیل شو. په کاروه چې مخکنی مسلك د شوبلو په دا واړول شي.

اووه نۍ او میاشتې تېرې شوې. سرګي اخرامییف همداسې نه ستړی کېدونکی و او ښې پایلې یې ترلاسه کولې. یو وخت، او دا د ۱۹۶۱ کال لومړۍ شپې ورځې وې د زاس* له لارې راته له خاباروفسك نه د پوځي حوزې قوماندان ټېلفون وکړ:

پینکوفسکي په لنډو او آمرانه ټکو کې وپوښتل:

- د حالاتو په اړه معلومات راکړئ.

ما ورته له وارخطايي سره د حالاتو انځور ورکړ...

- منندې مه وهه، څه د تمرین ډګر ته خو نه ځې- قوماندان لږ څه کرار کړم.- اخرامییف څنګه دی؟

زه چوپ پاتې شوم، سملاسي ونه پوهېدم چې د پوځي حوزې د قوماندان موخه څه ده. خو له هغې بلې خوا خبرې اورېدې شوې:

- د فرقې قوماندانې کولی شي، هه؟

په خوښۍ مې ځواب ورکړ:

---

* زاس ZAS روسي ټکو (Zasekrechevayoshchaya Apparatoora Sviazi) یانې (د پټې مخابرې وسیله) لنډیز دی. (د.ج)

- د فرقې ډېر ښه قوماندان ترې جوړېدلی شي!
- تصدق ورته ولیکه.

او همدې خبرو- اترو د اخرامییف راتلونکی برخلیك وټاکه. هغه دوه اووه نی وروسته د بلا روس په پوځي حوزه کې د س.ك. کورکوتکین په شوبلیز (د ټانکونو) لښکر کې د شوبلو د فرقې قوماندان وټاکل شو.

وایي چې په پوځ کې هرڅه د لږ وخت لپاره دي. او دا ربښتیا ده. خو د دندې له یوې سیمې نه بلې ته د اړولو (بدلولو) په اړه بیا بله خبره کېږي: تبدیلی تلیزي (همپشنی) دي.

سرګي اخرامییف په خوښی له لرې ختیځ نه روانېده، په تېره بیا چې د فرقې پر (قوماندانی) او هغه هم په بلاروس کې، ټاکل شوی و.

د مخه ښې پر وخت یې د ښه تصدیق او په لوړې څوکی د نومولو له امله له مانه مننه وکړه. او، له خپل ملګري سره د هم غاړې توب لپاره مې وپتیله هغه څه ورته ووایم چې په فکر کې مې ګرځېدل خو د مخه مې هېڅکله په ژبه راوړي نه وو:

- سرګي (اخرامییف) مه خوابدی کېږه. د راتلونکې لپاره یوه سلا درکوم. د هغه غوږونه څك شول.
- په دویم پوړ (مرستیالی) کې دې جوړه نه شته. ملا دې ښه تمرین لیدلی خو په شمزۍ کې دې د نبغ درېدو وړتیا نه شته. لږ ځان زیږ کړه. خپل "زه" ومومه.

اخرامییف خوابدی نه شو او د سلا له امله یې راڅخه مننه وکړه:

هغه ډېر کلونه په پوځي چوپړ کې د خپلو چارو حال له ماسره شریکاوه. ما یې هم تود او له مهربانی ډك غبرګون کاوه.

زما دنده دېخوا په خبر په لرې ختیځ کې وه.

په همدې ترخ کې يادونه وکړم چې هماغه وخت د لرې ختيځ د پوځي حوزې په قرارګاه کې د اوپراسيون د آمريت چارې يوه ځوان ډګروال ن.و. اګارکوف پر مخ بيولې. ما او اخراميېف هغه پېژانده. نيکلای واسيليوويچ (اګارکوف) د پوځي تمرينونو پر وخت ټاکونکی رول لوباوه او د يوه هوښيار او مستعد افسر په توګه به ځلېده. په دې توګه نو په لرې ختيځ کې زما او اګارکوف ګډ پوځي چوپړ په ټينګې او رښتينې دوستۍ واوښته.

زه لا همداسې په خپلې خونې کې په قدم وهلو بوخت وم. هلته په مسکو کې د اوستينوف... اګارکوف... اخراميېف مثلث جوړ دی. خو زه به دلته، په کابل کې څه کوم؟

"هوښيار اوسه!"- د کوزما پروتکوف * خبره رايده شوه. خو دغه ستر حکيم بله خبره هم کړې ده: "په سته پوخ شه".

شکونه مې ورو- ورو ويلي شول. نور نو پوهېدم چې څه وکړم

ساموېلينکه، برونينيکس او چير يومنيخ مې ځان ته راوبلل. له نوکريوال نه مو وغوښتل چې چای راوړي. او خپلې ځوروونکې اندېښتنې مې هلته وړاندې کلکې ونغښتلې او هېڅ ته مې يې هسې پيڅکه غوندې هم ښکاره نه کړه.

د نوامبر لپاره د جګړه ييزو عملياتو د طرحې دنده مو مخې ته پرته وه. په دوو قرارګاوو کې د عمومي پوځي عملياتو د طرحې کار کېده: (دلته) زما او (هلته) د ترکستان د پوځي حوزې په قرارګاه کې له دې سره- سره د "دلته ګوزار- هلته ګوزار" عمليات لا همداسې روان وو. که څه هم ما او چيريو منيخ نور له هغو نه د لاس اخيستو کلک لام تړلی و، خو مسکو ته مو لا په دې اړه هېڅ ويلي نه وو. (ځکه نه مې غوښتل چې د سوکولوف او اخراميېف ځان غوښتنه زيانمنه شي او له

---

* کوزماپروتکوف په تېره پېړۍ کې د دريو ليکوالو له خوا ابداع شوی ادبي پرسوناژ دی چې د ختيځ د "ملانصرالدين" په څېر دېرې مشهورې خبرې ورته منسوبوي (د.ج)

بلې خوا داسې کړې خبرې راپسې پيل نه شي لکه: "له رارسېدو سره سم بريالی شوی دی" او يا "نوې کانته (جارو) په نوي دود جارو کوي".
ژمی راروان و. د غوڅو کړنو لپاره ډېر لږ وخت پاتې و. موږ ايله د اکتوبر، نوامبر مياشتې او د دسمبر نيمايي درلوده. ما او ماکسيموف پرېکړه وکړه چې د ګوزارونو لوبه نوره بس ده او دښمن بايد په (خپلو) حوزو کې مات شي. د ځان لپاره مو غوښته او نه اوښتونکې دنده وټاکله: د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت په مرکزي برخو يانې د کابل شمال، جنوب ختيځ جنوب پلو او له پلازمېنې نه چارچاپېره د ۸۰-۱۲۰ کيلومترو په شعاع او دغه راز په کندهار کې بايد د مخالفينو د ډلګيو نوغې وايستل شي. دا کار بايد په راتلونکو يوه نيمه او که ډېر شي دوو مياشتو کې ترسره شي له دې سره جوخت په پنجشېر، هرات، مزارشريف او مرکزي غزنيو سيمو کې هم بايد جګړه ييز عمليات سرېدو ته پرې نه ښودل شي. سربېره پر دې بايد هغه تنګ لوري، لارې او که شوني وي غرنۍ کنډوونه (چې شمېر يې د افغانستان- پاکستان د ۱۶۰۰-۱۸۰۰ کيلومېتره اوږدې پولې په اوږدو کې سلګونو ته رسېده) وتړل شي چې پرله پسې پرې افغانستان ته د مجاهدينو نوي ځواکونه رامات وو.
ما پرېکړه وکړه چې پر مهمو سيمو دې غښتلي ګوزارونه وشي او د پيل لپاره مې له دغې ډلې نه درې سيمې غوره کړې: مرکز، کندهار او جلال آباد. د سيمو (زونونو) دننه د دښمنانو د تس- نس کولو انځور که په ساده ژبه بيان کړم نو داسې جوړ شوی و: ټاکلې سيمه (۶۰ په ۸۰ کيلومترو کې يا تر دې کوچنۍ ۲۰ په ۳۰ کيلومترو کې) به حې زموږ د څارګرېزو (استخباراتي) معلوماتو له مخې په کې د غليم غښتلې ډلې راټولې شوې وې، نابېره، هونابېره، د اتو، لسو يا دولسو هليکوپټري ديسانت ځواکونو له خوا کلابنديده او دغې سيمې ته د تلو- راتلو ټولې لارې به تړل کېدلې. بيا د دوو- دريو يا څلورو سيمو له پاسه جنګي بم غورځوونکې الوتکې او

هلیکوپټري کنډکونه سخت فعالیت پیلوي او د دښمن په برسېره شویو مرکزونو، جګړه ییزو ځالو او په غرونو او درو کې د هغوی پر پرسونل او یا جګړه ییزو تاسیساتو ګوزارونه کوي او د دغې ټاکلې سیمې (زون) د ننه د دښمن د هرډول مانور ځواك له منځه وړي. له دغې سیمې نه د غلیم د جلد- جلد ډلو د پښو سپکولو هڅې د هلیکوپټري دسیانت ځواکونو په ډزو شنډېدلې چې دغه وخت یې مرستې ته د ځلوېښتم لښکر د فرقو او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ پلې ټولګې هم وررسېدلې وو. وروسته هره دغه سیمه درې ځلور ورځې د شوروي او افغان پوځونو په ګډه زیار سره ویشتل کېږي او بیا هره برخه له غلیم څخه پاکېږي. په عمومي ډول د دښمن ډېرې له سره تېرې او په جګړو کې پخې ډلې د همداسې مخامخ مقابلو او د محاصرې له کړۍ نه د تېښتې پر وخت له منځه وړل کېدلې. ډېرې نورې (ډلې) چې زموږ ګوزارونو یې روحیه له منځه وړې وه، تسلیمېدلې. په هرې دغسې سیمې (زون) کې د لنډې مودې (۱۰ - ۱۵ ورځو) لپاره د شوروي او افغان پوځونو ګډ ګارنیزیونه ایسارېدل او د همدوی په تورو د واك ستنې راجوړېدې او واکې یې سیمه ییز مشرتابه ته په لاس ورکول کېدلې. وروسته به د ځواکونو اصلي هڅې په نورو سیمو کې د ورته عملیاتو سرته رسولو ته اړم کېدلې.

په افغانستان کې د جګړه ییزو عملیاتو دا بڼه چې موږ د ۱۹۸۰ کال په نوامبر کې راپیل کړه د پوځي پوهنې له هر ډول کلاسیکي لارښوونې نه بیخي لرې وه. دا بڼه د ناچارۍ زېږنده وه چې د افغانستان د ناکلاسیکې جګړې شرایطو اړینه (ضروري) کړې وه. دا ټولې خبرې د مجاهدینو د قوماندانانو او په پېښور کې د هغوی د مېشت مشرتابه لپاره نه یوازې ناڅاپي وې، بلکې (زموږ له خارګریزو معلوماتو سره سم) په افغانستان کې یې د نه پخلا کېدونکو حـ ـت ډېر خراب کړ او د غورځنګ په مشرتابه کې یې ناندرۍ او شخړې

راوپارولې. هغوی یو پر پل د ناپوهۍ او آن له غلیم (باسورمان*) سره د پټې دسیسې د جوړولو تورونه ولګول.
یوه ورځ پر نقشې جوړولو بوخت وم چې جنرال چیریومنیخ رانه وپوښتل:
- افغاني لوري به څرنګه له خپلو پلانونو سره بلد وو؟
- زه د جنرال د پوښتنې په اصلي موخه (مقصد) پوه شوم.
- دوه نقشې جوړې کړه.
هغه داسې ماته وکتل لکه چې سم پوه شوی نه وي. نو ځکه ما بیا خپله خبره راغبرګه کړه:
- دوه نقشې جوړې کړه. یوه رښتیني او بله د غولولو لپاره...
- دا تاسې څه وایاست جنرال صاحب؟
- مسکو به په دې خبرېږي. دوه نقشې جوړې کړه. ټوله پړه یې زه په خپله غاړه اخلم.
موږ همداسې وکړل.
د لومړۍ نقشې له شتوالي یوازې ما، چیریومنیخ، ساموېلینکه او برونینیکس او دغه راز د ترکستان د پوځي حوزې قوماندان ماکسیموف او د هغه درستیزوال تورنجنرال ګریګري کریواشییف بشپړه خبرتیا درلوده.
دویمه نقشه د غولولو لپاره غوره شوې وه. ټاکل شوې وه ببرك کارمل ته همدا نقشه وښودل شي او کېدای شوای ده او یا د دفاع وزیر ته بیخي ورپرېښودل شي. د هرډول تېروتنې یا ناوړه پوهاوي (سوء تفاهم) د مخنیوي او دغه راز د دې لپاره چې د "دوو نقشو" د شته-والي په اړه زما پرېکړه بیخي پټه پاتې شي چیریومنیخ ته مې امر وکړ

* د باسورمان کلمه چې "د مسلمان" تحریف شوې بڼه ده په دې برخه کې ناسمه کارول شوې، ځکه ترې مخکې "د غلیم" د کلمې راوړل غوره وبلل شول. (د.ج)

چې شوروي سفیر، د ك.گ.ب، او د شوروي اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمېټې استازو ته هم همدا غولوونکې نقشه وښودل شي.

البته چې هغه وخت مې لویه گناه کوله خو یوازې د یوې موخې لپاره: د خپل پلان د پتولو لپاره ځو تروسه وسه زموږ او د افغاني پوځیانو د ژوندانه ژغورنه شونې شي. ما د چېریومنیخ، ساموییلینکه او برونینیکس پر صداقت چې له دغه رازه خبر وو، نا پایه باور درلود. او البته چې پر ماکسیموف او کریولشیف مې هم باور کاوه. لږ وروسته مو ببرك ته خبر ورکړ چې د راتلونکو پوځي عملیاتو لپاره چمتووالی پای ته رسېدلی او زه چمتو یم چې دی د خپل پلان له منځ (محتویاتو) نه خبر کړم. زه له چېریومنیخ سره یوځای ماڼۍ (ارگ) ته ورغلم. ببرك د تل په څېر د ملگري "او" په شتوالي کې موږ ومنلو.

د دولت مشر رانه وپوښتل:

- د ټاکل شویو دندو سرته رسول گوندي کېدوني (ممکن) دي؟
- شوني دي.
- ښه ده. دا نقشه رفیع ته وسپارئ او ورته ووایاست چې ما ته یې په اړه وختي معلومات راکړل شوي دي. - ژباړونکي د دولت رئیس خبرې ټکي په ټکي راوژباړلې.

ما ببرك كارمل ته معلومات ورکړل:

- موږ به د عملیاتو د پلان په اړه د شوروي اتحاد سفیر، د ك.گ.ب. او د (شوروي اتحاد) د مرکزي کمېټې استازو ته هم معلومات ورکوو او هغوی ته به دا نقشه ورښیو.
- په تېره بیا (د ك.گ.ب. د رئیس) یوري ولادیمیرووېچ (اندروپوف) استازي خبر کړئ. ببرك داخبره وکړه او بیایې له غوره مالۍ په ډك نظر ملگري "او" ته وکتل.

د ارگ له وره بهر چېریومنیخ له شیطانۍ په ډکې موسکا وویل:

- موږ سم کار وکړ. نقشه به د رفيع په مېز کې ساتل کېږي. د هغه دفتر د خاد د غړو له خوا ساتل کېږي... او دا ساتونکي ټول خائن دي. او بيا يې زياته کړه:

- موږ هم څه په چل کې له هغو نه کم نه يو.

د دغې صحنې بيا په زړه کول مې اوس ډېر بدې ايسي. خو څه چې وو هغه وو. دا د هغو بېشمېره خبرو يوه بېلګه ده چې څوروي مې او دېته مې اړ باسي چې هغې جګړې ته تر ډېره د يوې شرموونکې کړنې په سترګه وګورم.

بايد مسکو ته د معلوماتو د ورکړې او د خپلو کړنو د هم غږۍ لپاره تللی وای. له اګارکوف سره مې تماس ونيوه. پرېکړه وشوه چې له چيريومنيخ سره يو ځای ورشم، ځکه ډېره له مسووليته ډکه چاره ترمخه وه: لومړی ځل دی چې رپوټ ورکوم.

- دواړه راځۍ اګارکوف دا وويل او زياته يې کړه: د ترکستان د پوځي حوزې درستيزوال هم له تاشکنده درسره راواخلئ.

دا د ۱۹۸۰ کال د اکتوبر ۵-۷ نيټه وه.

په مسکو کې اګارکوف ته د رپوټ اصلي برخه ما وړاندې کوله: په داسې حالاتو کې بايد ټول مسووليت په خپله غاړه واخيستل شي.

لوی درستيز نيکلای وايسليوويچ اګارکوف يو نيم- دوه ساعته کلک غوږ نيولی و، وروسته يې بيا، پرته له دې چې څه ووايي زه چيريومنيخ او کريواشييف د دفاع وزير ته وروستلو. د وزير په کوټه کې سوکولوف او اخراميف هم وو.

او ستينوف په ورين تندي زموږ هرکلی وکړ.

- ځنګه چل دی؟ کارونه څنګه دي؟ بريالیتوبونه مو څه دي؟ شپاړلسم شوروي جمهوريت به ژر راجوړېږي که څنګه؟

اګارکوف اصلي بهير ته د خبرو د سيخولو لپاره وويل چې زه (ليکوال) چمتو يم د مجاهدينو د اصلي ځواکونو د ماتولو او په ژمني

پېر (دورې) کې د څلوېښتم لښکر او د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د وسله وال پوځ د چمتوکولو لپاره د نوامبر د مياشتې پلان وړاندې کړم. دا د رپيم ساعت دی چې د اوستينوف په دفتر کې د ستر مستطيلي ميز ترڅنګ ولاړ يو. د ميز پر سر د توپوګرافۍ نقشه چې مقياس يې ۱:۲۰۰۰۰۰ دی، خپره ده. د نقشې پر تندي ليکلي دي: "د ۱۹۸۰ کال د نوامبر مياشتې لپاره د څلوېښتم لښکر او افغان پوځ د جګړه ييزو عملياتو پلان" او ستينوف د ميز تر څنګ ولاړ دی، ښي لاس ته يې زه او مخامخ مور ته اګارکوف، سوکولوف، اخراميف، کريواشييف او چيريومنيخ ولاړ دي. نقشه هغوی ته سرچپه برېښي.

زما رپوټ بې خنډه تېر شو.

اوستينوف (زما) خبرې اورېدې افغانستان او يو سګرټ يې په بل پسې لګاوه. د ميز له پاسه د شنه لوګي نرۍ وريځ جوړه شوې وه. مور د افغانستان سياسي حالات، خپل احتمالي ډيپلماتيک اقدامات، د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت اقتصادي ژوند، ملي- توکميزې ستونزې،د پولو ساتنه او د افغانستان د ديموکراتيک جهوريت د وسله وال پوځ لوژيستيک حالت څېړه. او ستينوف ته دې خبرې خوند ورکاوه چې دی د مشر په توګه ناست وي او نور وګړي په خوند- خوند او خوږه ژبه جګړه ييزې ستونزې وڅېړي، ګواکې په دې توګه يې غوښتل په پوځي چارو او د جګړو او عملياتو د سرته رسولو په هنر کې خپله ناپوهي جبران کړي. هغه همداسې سګرټ څکول او څکول. د دفاع وزير څلوېښتم لښکر ته د سون موادو او جنګي مهماتو د رسولو او په غرنيو شرايطو کې د شوبلو (ټانکونو) د فعاليت په اړه پوښتنې کولې. د ملګري ببرک کارمل د روغتيا حالت يې هم وپوښته. او له هغه وروسته يې (په افغانستان کې د ك.ګ.ب. د استازي) ملګري سپولنيکوف د روغتيا تپوس هم وکړ.

- اوستينوف نابېره وپوښتل:

- دا نقشه ملګري "او" څېړلې ده؟

او دلته وو چې د لومړي ځل لپاره مې د "دوو نقشو" د جوړونې په اړه د خطرناکې کړنې ټول مسوولیت او د ځان او هغو ملګرو لپاره مې بې پایلو (نتیجو) ته پام شو چې د دغو "دوه ګونو نقشو" په جوړونه کې یې ونډه درلوده. یوه ډرامه او ښایي لوی شورماشور په پیلېدو و. دروغ ویل مې زده نه دي او نه مې ویلی شوای. او اوستینوف ته رښتیا ویل هم شوني نه وو، ځکه زه باوري وم چې هغه خبره سمه اخیستلی نه شي او هرڅه او هرڅوك په په سین لاهو کړي. او لکه په ورته نورو حالاتو کې، دا ځل هم د رتبې او څوکۍ له نظره تر ټولو کشر راودانګل:

- ملګری د دفاع وزیر! چیریومنیخ له کچې نه لې په لوړ غږ وویل: کله چې لوی پوځي سلاکار د ۱۹۸۰ کال د نوامبر په میاشت کې د څلوېښتم لښکر او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ د دندو په اړه ببرك کارمل ته معلومات ورکول نو ملګری "و" هم هلته حاضر و.

او لکه چې څرګنده ده چیریومنیخ د دوه ګونو نقشو د شته-والي خبره پټه وساتله.

- ښه ده نو، - اوستینوف په ترخه ژبه ورو ورو دا وویل، خو چوب نه شو او زیاته یې کړه:

- د دغه پلان په تیارولو کې ګنې ملګري سپولنیکوف ګډون درلود؟

اوستینوف د یوري اندروپوف استازو ته د ځانګړې پاملرنې په کولو په څرګنده غوښتل د مسلکي پوځي کادرونو ځان غوښتنه (غرور) وځپي. د ستالین د دورې ولسي کمیسار تریخ وغړمبېده:

- زه پوښتنه کوم: سپولنیکوف د دې پلان په جوړولو کې ګډون درلود او که نه؟

د لوی درستیز وښکي وتښتېدل، سوکولوف په سره سینه چوپه خوله نیولې وه او نورو ځانونه سره غونج کړل.

- هه؟ - اوستینوف دا وویل او بیایې په لوړ آواز درانده وټوخل.
- وزیر صاحب، د دې هرڅه په اړه مو یوري ولادیمیروویچ (اندروپوف) ته معلومات ورکړي دي، لوی درستیز هڅه وکړه په دې ټینګې او پرځان له ویساه کې جملې سره دا ځوروونکی بحث پایته ورسوي. او زیاته یې کړه:
- اجازه راکړئ چې خپل کار اوږد کړو (دوام ورکړو).
- مهرباني وکړئ- اوستینوف دا ځل په پسته ژبه غبرګون وښوده: او معلومات راکوئ، معلومات راکوئ، معلومات راکوئ. شپه او ورځ معلومات راکوئ. دا ټولې خبرې خوار ارزښت لري...

د معلوماتو د اورولو په ترځ کې ما بیا- بیا سوکولوف ته په دې هڅه کتل چې د خپلو کړنو په اړه یې غبرګون جوت کړم، ځکه دا اوس هغه ته پوره روښانه شوه چې ما څه ډول د جګړه ییزو عملیاتو په برخه کې د هغه د تګ لارې د "پرمخ بیولو" ملاتړلې وه فکر کوم هغه بیخي په هرڅه پوه شو او دننه په زړه کې یې ورسره هوکې وکړه: یو وخت داسې و چې ده له خپلې خوښې سره سم پرېکړې کولې، خو اوس نوی سړی راغلی او د خپلو څېړنو پر بنسټ پرېکړې کوي.

اوستینوف د وړاندې شویو معلوماتو په اړه د ده غبرګون وپوښته.

سوکولوف ورته په ځواب کې وویل چې باید هوکې (تائید) شي.

- البته چې باید هوکې شي- اوستینوف یې خبره پخه کړه.- خو زه فکر کوم چې باید یوري اندروپوف یې هم لاس لیک کړي.

د ک.ګ.ب، له رئیس سره د کتنې انتظار مې اوږد نه و. زه چې څرنګه د هغه د سکرتر دفتر ته ورسېدم، نو سمدستي یې ومنلم. دا ځل یې هم لکه د تېر په څېر (له خپل مېز نه رادېخوا) د دفتر په زړه

کې زما هرکلی وکړ. په ورین تندي او ترخه څایه یې له دوستی په ډکه روحیه روغبړ راسره وکړ. د تېرې کتنې په اندول د اندروپوف څېره لا پیکه او غړ یې لکه د ماشومانو تېره راته وبرېښېده. ما د نوامبر میاشتې لپاره څلوېښتم لښکر او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت وسله وال پوځ ته د سپارل شویو دندو او موخو (هدفونو) په اړه هراړخیز معلومات ورکړل. ومې ویل چې د دې ټولو خبرو په اړه مې ملګري اوستینوف ته معلومات ورکړي دي.

هغه زما وینا په غور واورېده او غلې یې رانه وپوښتل:

- ستاسې په انده د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو دننه حالات څنګه دي؟ زما مسوولیت د خلکو دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو حالت نه بلکې د جګړې چارې وې. څکه مې خبره په دې او هغې تېره کړه:
- ملګري اندروپوف، ګوندي په دې باره کې ریښتیني معلومات تابییف، کازلوف او سپولنیکوف وړاندې کړي.
- ښه ده نو. خو ډلې (خلق او پرچم) په څه حال کې دي؟
- د پرچم د غړو شمېر اوس یو نیم زرتنو ته رسېدلی دی. دا د سرسر کسان، ممتاز وګړي دي او په عمومي توګه په پلازمېنه کابل، وزارتونو، مرکزي کمېټه، ادارو او ولایتي مرکزونو کې واک د همدوی په منګولو کې دی. خو خلقیان دیارلس یا دیارلس نیم زره تنه دي چې په اردو کې اکثریت جوړوي. او موږ باید دا ټکی په پام کې وساتو. او ډېر ورته ځیر واوسو.
- په کار ده، خو اوس باید د پرچم پراختیا چټکه شي.

زه ورته وایم:

- خلق یاني پوځ او د هغه دریځ په قطعو ټولیو او ان ډلګیو کې خورا پیاوړی دی.

زه پوه شوم چې دا خبره په اندروپوف ښه ونه لګېده. خو خبره يې اوږده کړه.

- تاسې پر ملګري ببرك کارمل څومره اغېز لرئ؟
- ماته ګرانه ده چې پرهغه دخپل اغېز څومره والی وښيم. سربېره پردې، پر هغه د مخامخ اغېز د درلودلو موخه مې هم د ځان لپاره ټاکلې نه ده. زما دنده د مرکز د لارښوونو پلي کول او چې څومره شوني وي د جګړه ييزو چارو ښه ترسره کول دي.
- ملګرې مايوروف، ماته خبر راکړل شوی چې افغاني مشرتابه ته د معلوماتو د ورکړې پر وخت ستاسې له خوا پايله ايستنې (نتيجه اخيستنې) خورا غوڅې (مطلقې) وې...
- سم پوه نه شوم، ملګری اندروپوف.
- ته بېلابېل واريانتونه (بېلګې) وړاندې کوه او هغوی پرېږده چې له منځه يې يوه غوره کړي.
- زه هغوی ته همدغه امکان ورکوم. خو بيا هم وروستۍ خبره بايد زموږ حق وي او د لوی پوځي سلاکار په توګه زما حق وي.
- دا، البته چې سمه خبره ده،- اندروپوف زما خبره ومنله او له دې سره غلی شو.
- د اناهيتا راتب زاد ژوند څنګه دی؟

زه لږ وارخطا شوم او وار د واره مې سرخلاص نه شو چې دا لا څوك دی. خو اندروپوف بې له ځنډه خبره اوږده کړه:

- ته هغه نه پېژنې که څنګه؟
- ملګری اندروپوف البته چې پېژنم يې، پېژنم يې،- او په مغزو کې مې ټولې هغه خبرې بيا راتاو شوې چې د دغې ښځې په اړه ويل شوې او ليکل شوې دي.
- دې ښځې يو وخت ببرك کارمل ژغورلی و.
- ملګری اندروپوف دا کيسه مې اورېدلې ده.

ماتــه جوتــه شــوې وه چــې: یــوه ورځ پــه هــرات کــې بــبرك كــارمل یــوې غونــډې تــه د وینــا پــه تــرڅ کــې د بــاچــا نســکورول غوښتــي وو خــو مسلمانانو پـرې ډبـرې ویشـتلې وې او نـږدې وو چــې ویــې وژنــي، پــه دې وخت کـې ځوانـه او ښکلـې اناهیتـا راتـب زاد لـه یـوه سپین پړونـي سـره د غوســه شــوې ډلــې مخــې تــه ورغلــې او پړونــی یــې د هغــوی پــښو تــه غورځولــی و او پــه دې تــوګه یــې بــبرك كــارمل د هغــوی پــه لاس لــه وژل کېدو نــه ژغورلــی و.

انــدروپــوف لکــه چــې د اناهیتــا راتــب زاد پــه اړه زمــا دا یادونــه پسـې اوږدوي پـه موسـکا او ځانـګړي خونـد سـره وویـل:

- د دغــې ښځې پــه رګونــو کــې ســلطنتي وینــه بــهېږي! پــر هغــې پــام ساته. په سختو شېبو کې درسره مرســته کولــی شـي.

مـا ځواب ورکـړ:

- ښه ده.

- او درازونــو د ســاتنې حــال څنــګه دی؟ د همــدې عملیــاتو لــه نقشــې سره په تړاو کې؟ او په لاس سره یې نقشې تــه اشــاره وکــړه.

زمــا وېښتــه نــېغ ودرېدل. د ســترګیو (عینکــو) پنډو ښیــښو تــر شــا د انــدروپــوف تــېره نظــر پــه مــا اړې خــښې کــړې وې. خــدای مکــړه چــا ورتــه... نــه، نــه، داسې کېدلــی نــه شـي...

- هیلـه مـن یم چې هـرڅه بـه سـم وي؟

نــه پوهــېږم چــې د دروغــو د جوتوونکــي ماشــین مخــې تــه د ســړي احســاس څه وي، خــو د انــدروپــوف پــه دفــتر کــې زه یــوې تیــارې او ســړې کندې تــه غــورځول شــوی وم. د ســترګو پــه یــوه رپ کــې داســې وبرېښیــده چې هرڅه په سنین لاهو او رازونــه بربنډ شــول، خـو ناڅاپـه مې غـږ کـړ:

- ملګری انــدروپــوف، هــرڅه سم دي!

د انــدروپــوف لــه دفــتر نــه داسـې راووتلـم لکــه ســړی چــې درونــد او رنـځور وي. ګرومیکـو زمـوږ د پوښتلـو لوالتیـا ونـه ښودلـه.

د شوروي اتحـاد کمونسـت ګونـد مرکزي کمـېټې تـه چـا ونـه بللـو.

د (لوی درستیز) اګارکوف دفتر ته یوازې ورغلم. هغه په ځانګړې ځیرکۍ رانه وپوښتل:

- تاکارمل، رفیع او د سفیر دفتر ته همدا نقشه وړاندې کړې ده؟

ما داسې ټکو لټه پیل کړه چې یو یې مفهوم روښانه وي او بل زما د ناولې لوبې د پړې یوه برخه پرلوی درستیز ونه غورځوي. هو زما هغه لوبه ناولې وه. او ماځواب ورکړ:

- تاسې ډېر ښه پوهېږئ چې ما ببرک ته کومه نقشه ښودلې ده. وروسته له هغې مې سفیر، د مرکزي کمېټې او ك.ګ.ب، استازیو دا نقشه ولیدله نو بیا مې رفیع ته وسپارله.

ما د "کومه" نقشه په ټکو کې پر "کومه" ځانګړی زور راوړ چې لوی درستیز ته یې زما د کړنو په اړه هېڅ شك پرې نه ښوده. او هغه وویل:

- چې داسې ده نو الحمدالله!

ما ته د هغه په خبرو کې د خپلې کړنې هوکې او ملاتړ وبرېښېده...

ما د "اودار" ("ګوزار") تر نامه لاندې د عملیاتو د پیل تر وخته په وړې کچې د جبهې د لارښوونې اداره جوړه کړې وه. په دې اړه مې افغانستان ته له روانېدو مخکې آن په مسکو کې اګارکوف ته خپله غوښتنه وړاندې کړې وه، او هغه د همکارۍ ژمنه راسره کړې وه. لوی درستیز خپله ژمنه ترسره کړه. د دې خبرې ځانګړې یادونه ځکه کوم چې "د جبهې د لارښوونې اداره" د لوی پوځي سلاکار په لاس کې داسې یوه ځواکمنه وسیله وه چې ما له هغه پرته نه خپلواك او نوښتګر کارکولی شو، نه مې د رښتینې جګړې خوند څکلی او د جګړې ډګر لیدلی شو، نه به مې په کړنو مانور درلودای او نه به مې د جګړې په سرته رسولو کې د مسوولیت ټولې کړې په ګوتو کې وای.

د نوامبر د میاشتې د عملیاتو له بهیر نه مې په افغانستان کې مېشت جنرالان او افسران په تېره بیا د څلوېښتم لښکر قوماندان

تورنجنرال باریس تکاچ پرله پسې خبرول. له څه مودې وروسته مې بیا افغاني لوري ته هم معلومات ورکول. دا خبره په وروستي ګام کې یانې د عملیاتو له پیل دوه ورځې یا یوه ورځ مخکې (پوځیان د ښته "و" منفي دوه یا "و" منفي یو وایي) د شوروي او افغاني لوري د هلیکوپټري دیسانت قطعې په دغه پلان خبرېدلې.

عملیات د هلیکوپټرو په مرسته د دیسانت ځواکونو په پلي کېدو پیلېدل. دوی به سملاسي کابل ته غزېدلي ټول اساسي لوري: لومړی مرکزي، بیا جنوب ختیځ او ورسره جوخت جنوب لویدیځ لوري لاس ته ورول. د لوی پوځي سلاکار د اداري د درستیزوالۍ او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د ستردرستیز افسران هرې خوا ته ګمارل کېدل چې د افغانستان او شوروي پوځي کنډکونه او غونډونه داسې ګوزارونو ته چمتو کړي چې پایله یې په سیمو (زونونو) کې د دښمن د ډلګیو تس- نس کول راوخېږي.

په وروستي ګام کې د دیسانت ځواکونو له خوا محاصره شوي زونونه پر کوچنیو برخو ویشل کېدل او په دې توګه کلي او وادۍ ګانې زموږ لاس ته راتللې.

د خوځنده ژوند شیبې پیل شوې داسې شیبې چې په جګړه ییزو شرایطو کې په جګړې کې د مرګ د تلیز (همېشني) خطر له منلو سره تېرېدلې. زما ډېر وخت په قطعو کې د قول اردو یا فرقې د قوماندانۍ په مرکزونو کې تېرېده، ډېر ځله مخامخ د جګړو ډګر ته د غونډ یا په جګړې ښکېل کنډک د قوماندانانو د قوماندې مرکزونو ته ورتلم.

په هرو درې- څلورو ورځو کې یو ځل کابل ته تلم چې ببرک کارمل ته د جګړې د بهیر په اړه معلومات ورکړم. دغه وخت لا د دوه اړخیزې خبرونې په موخه د (شوروي) سفیر کتنې ته هم ورتللم: ما ورته د جګړې معلومات ورکول او هغه راته سیاسي خبرونه اورول.

جنرال چیریومنیخ زموږ د هغو رپوټ مسکو ته ورکاوه او د سفارت له کارکوونکو، د ك.گ.ب، له استازي سپولنیکوف او د شوروي اتحاد د مرکزي کمېټې له استازي کازلوف او دغه راز د افغانستان د ستردرستیز له غړو سره یې کتنې کولې.

اصلي جګړې په مرکزي برخو کې، کابل ته څېرمه روانې وې. په دې سیمه کې د افغانستان د وسله وال پوځ لومړۍ لمبر قول اردو ځلورمه او پنځمه * زغره واله قوا او دغه راز د ځلوېښتم لښکر قطعې او جزوتامونه پر فعالیت بوخت وو. د دفاع وزیر رفیع مې یوازې هغه وخت له ځانه سره بیوه، چې معقوله به راته برېښېده. او زما له بیا بیا بلنو سره سره ببرك کارمل راسره هېچیرته هم نه ولاړ.

ما د کلکو (جدي) پرېکړو کول پیل کړل. دا عملیات د مجاهدینو د سر په درانده زیان سرته رسېدل. او د دې هرڅه یوه موخه وه: په ژمي کې د دغو سیمو خلکو ته د سوله ییز ژوند بسیا کول.

موږ د "اودار" عملیاتو په ترڅ کې ټول ټال ۷۰۰ -۸۰۰ تنه له لاسه ورکړل. د غلیم د سر زیان چې په عملیاتو کې یې د داسې ځواکونو د ښکېلتیا اټکل نه کاوه، لس- پنځلس ځله زیات و یانې ۱۰ - ۱۲ زرو تنو ته رسېده. د نوامبر تر پایه زموږ دریځ هم په مرکز او هم د جلال آباد په شاوخوا کې پیاوړی شو. ببرك کارمل او انډیوالانو یې په خوښۍ سره په ولسوالیو او علاقه داریو کې دولتي واکمنۍ د ټینګېدو شوني تیا لیدله خو په دې چاره کې یې د ځلوېښتم لښکر پراوږو ډېره لګوله.

د "اودار" عملیاتو بهیر د هغه جګړه ییز تاکتیك او ستراتیژۍ سموالی وښوده چې موږ غوره کړی و. په دغو سیمو او ورسره په ټول هېواد کې د دیموکراتیکې واکمنۍ د چټکې ټینګېدنې هیلې راوټوکېدې. خو په کار وه چې په جګړو کې تر لاسه شوې بریاوې د

---

* دا پنځمه نه، بلکې پنځلسمه زغره واله قواء وه چې په خرخي پله کې دېره وه. (د.ج)

دولت په کچه په سیاسي هڅو پیاوړې شي. کابل یوازې یو شی غوښته: او هغه (په هرځای کې) د پوځي ګارنیزیونو منځ ته راوړل. او تابییف هم له دې سره موافقه کړې وه او آن پر ما یې د زور اچولو هڅه هم کوله.

زه په هغو سیمو کې چې نوې تر لاسه شوې وې د اوږدې مودې لپاره د کوچنیو پوځي ګارنیزیونو د دېره کولو مخالف وم. ما تابییف ته وویل:

- په دې به ټول پوځ خپور - اور شي او بیا به دومره ځوك نه وي چې جګړه وکړي.
- نو امریکاییانو په ویتنام کې څه تېګلاره غوره کړې وه؟
- امریکاییانو هم داسې نه کول. هغوی هرڅه د پوځي تخنیك او ناپالم په مرسته له منځه وړل، سوځول او بلایې ورپسې کوله. خو موږ دلته دغسې نه شو کولای. موږ خو دوست هېواد یو!

# پنځم څپرکی

پوځي وګړي چې کله د جګړه ييزو دندو سرته رسولو ته چمتووالی کوي نو د دوو غليمو ځواکونو يوله بل سره مخامخېدل يې په پام کې وي. د هر لوري موخه دا وي چې د جګړې په پرانستي ډګر کې غليم ته تر وسه وسه د ډېر زيان په اړولو په ټاکلي لوري يا تاکتيکي ټکي کې بری وګټي. په افغانستان کې د دوو غليمو خواوو د دغسې کلاسيك چلند نښه هم نه وه.

زموږ سمبالتيا او تجهيز او زموږ مطلق هوايي برلاسي ته په پام سره د هرې پرانستې جګړې د بهير واګې زموږ په لاس کې وې. زموږ لپاره غټه خبره دښمن دې ته اړ کول وو چې د جګړې په پرانستي ډګر کې زمږ مخې ته ودرېږي. خو خبره دا وه چې غليم هم په دې خبره ښه پوهېده. او د جګړې د بڼې د غوره کولو واك هرځل له همده سره و.

مجاهدينو ځانونه د عادي ولس په منځ کې ورکول او په مهارت سره ورو ورو د مخامخ جګړې له ډګر نه وتل. او چې کله به موږ غليم ته د وررسېدو او بيا يې د ورکولو هڅه پيل کړه نو د سر درونـد زيان به راته اوښته: مجاهدينو لارې نيولې، په ورو ورو ډلګيو کې به رابانديې د درو په منځ کې راپرېوتل او يا به يې ګودرونه او لارې په ماينونو ډکولې.

د نوامبر درېيمه لسيزه وه. د "اودار" عمليات برياليي روان وو. موږ يو کلي په بل پسې او يوه ولسوالي په بلې پسې د دښمن له منګولو رايستله او په کليو کې به مو د شوروي او افغان پوځ ګډ کوچني پوځي ټولګي اچول. په دغو ټولګيو کې به له ډلګي نه تر ټولي پورې شوروي او له ټولي نه تر کنډکه د افغاني پوځ غړي ګډ وو. د کابل مرکزي مشرتابه په همدغو ځايونو کې د خپلې واکمنۍ ارګانونه يا هستې (زړي) جوړول. دغو ارګانونو له ۱۲ - ۱۵ غړي درلودل چې ډېر يې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند وګړي وو. ټاکل شوې وه چې همدا ډلې "له ځايي وګړو سره په يووالي کې" خپلې چارې سمبالې کړي.

او دننه په کابل کې څو چاوڼي هم وشوې. دا څنګه چاره وه؟ د دې په ترڅ کې به درې- څلور ورځې سخت ګرځبنديز لګېدلی و. افغاني پوځ، څارندوی او خاد به البته د څلوېښتم لښکر د ټولګيو په ملاتړ ښار ته غزېدلې ټولي لارې تړلې او د شپې له خوا به يې تلاشۍ کولې. اسناد به يې کتل او له پوځي دندې نه سرغړوونکي به يې راټولول. د دغسې عملياتو په سرته رسولو مو هغه د چا خبره په يوه غشي دوه کوترې ويشتلې. يو خو به له شلو تر دېرشو کلو زلميان سملاسي د پوځ ليکو ته استول کېدل. د نيول شوي زليمانو ډلې به په الوتکو کې شمال او شمال لويديځ ته استول کېدې چې د چتکې تېښتې مخه يې بنده وي. له بلې خوا به د خاد په انده هغوی چې ډېر څرګند مخالفين وو زندان ته اچول کېدل. او دا چې له هغوی سره وړاندې څه وشي، په دې اړه نو د خاد مشرتابه له موږ پرته پرېکړه کوله.

دغسې عمليات نږدې هره مياشت تر سره کېدل، ځکه چې په درې- څلور اووه نيو کې به ښه غټ شمېر مخالفين او له پوځي خدمت نه تېښتېدلي وګړي په ښارونو کې په لاس کېوتل. په داسې کولو سره مو

دا وس وموندہ چې کابل او ورځپرمه څو ولسواليو کې حالات راکابو کړو. او لکه چې هغه وخت موږ ته برېښېدله په کابل کې د واك ستنې پخې شوې، په ښار کې عادي ژوندله سره پيل شو، هټيو او ښاري ترانسپورت کار کاوه. البته چې زه پوهېدم دا يو ماتېدونکی او موقتي حالت دی، خو بيا يې هم موږ ته ګټه رسوله: په داسې کولو مو د هېواد په نورو سيمو کې د نورو دندو سرته رسونې ته د ځواکونو د اړم کولو وس موندہ.

د ساري په توګه، په کندهار کې په سختو پيچلو حالاتو کې راګير شو. د کابل په دود په دغه ښار کې بيا بيا چاودنې يوازې د لږې مودې لپاره ګټه رسوله. دوه- درې سوه تنه بُنه ونيول شول، په الوتکو کې به نورو ولايتونو ته واستول شول، څه به خاد ونيول او بنديان کړل، خو له دې ټولو کارونو به ډېر لږه ګټه تر لاسه کېدله.

د څارګرۍ يا استخباراتو د ښو کره معلوماتو له مخې راته پته وه چې په کندهار او ورځپرمه انګوربنو کې له پنځو تر اوو زرو ښه روزل شوي زړور خو سخت زړي غليمان ځای پرځای دي. په دې هم پوهېدو چې پخپله ګلبدين حکمتيار بيا بيا د دغو ډلو ليدلو ته ورځي او څو شپې ورسره تېروي. نوموړي پر کابل د ورختلو پر وخت همدا ډله خپل ګوزاريز ځواك باله. خو تر کومه چې پخپله د کندهار خبره ده نو د ښار واګې د ببرك د لاس پوځي پرچمي والي نور الفك * په لاس کې وې. دا هغه د چا خبره د کاغذ پر مخ خو په حقيقت کې رښتينی واکمن ګلبدين و. څه عجيب ګډ ژوند!

موږ بايد دا تت او ناخرګند حالت له منځه وړی وای يانې د مجاهدينو ګوزاريز ځواك مو بايد دړې وړې کړی وای. خو دا څه آسان کار نه و.

---

* ليکوال دا نوم هم ناسم کښلی او سم يې نورالحق علومي دی (د.ج)

د کندهار انګوربڼو نه چې پراختيا يې بنايي دوه- درې سوو مربع کيلومترو ته رسېدله د غليم د ټولېدو او پټېدو لپاره اېديال ځای و. د دې سيمې پر ځنګليزه ځمکه د دوبي په ۶۵- ۷۰ درجو تودوخه کې د حسيني بيساري خوږو انګورو هېښوونکي وږي (په روس کې دې ډول انګورو ته (ښځينه ګوتې) وايي (د.ج) پخېدل. دلته د اوبو له زيرمه تون سره د اوبو لګولو داسې ښه سمبال سيستم کارکاوه چې د لويديځ آلمان له خوا جوړ شوی و. د کروندو په منځ کې ختين کورونه چې تر دوو مترو دېوالونه ترې چاپېر وو له سترګو ورکېدل.

په دغو سيمو کې جوړ شوي غارونه او نور تاسيسات چې هم په کې سړي او هم وسلې پټېدلی شوې د يوه واحد ښه سنجول شوي انجينري سيستم په مرسته سره نښلېدل.

د حکمتيار سړيو په دوبي کې د کروندګرو مرسته کوله او په ژمي کې به يې کندهار ته مخه کړه.

هغه منی مو سخت غوښتل چې د کندهار د چاڼولو له لارې د حکمتيار ټولګي انګوربڼو ته په شاکړو او هلته يې په ځواکمنو ګوزارونو له منځه يوسو. ما د دغو عملياتو تخنيکي جزئيات ډېر پټ ساتل. يوازې چيريومنيخ، ساموييلينکه، بروونينيکس او (د عملياتو د سرته رسېدلو په بهير کې) شکيدچنکه ترې خبر وو. د کندهار د پاکولو چارې ته افغاني ګونډي مشرتوب او د دويم نمبر قول اردو قطعې يا په دقيقه توګه د هغې د پينځلسم نمبر پلې فرقې ټولګي هم راوبلل شول. او له کندهار نه بهر د غليم د بشپړې ټکونې لپاره د افغاني پوځ د لومړي نمبر قول اردو اوومه پلې فرقه او د هوايي ديسانت افغاني غونډ هم پرنورو ټولګيو ورزيات کړی شول.

د نوامبر د شلمې په لومړيو کې د کندهار له څو ځلې چاڼ وروسته زه دې پايلې ته ورسېدم چې د حکمتيار ټول فعال ټولي او غونډونه له کندهار وتلي او په انګوربڼو کې سره ټول شوي دي.

د عملیاتو د پیل شیبه رارسیده.

د نوامبر د ۲۳ ورځې پر سهار موږته یوه ځای په لسو جلا جلا برخو کې د هوایي دیسانت درې کنډکونه او دوه موتوریزه کنډکونه راکوز کړل. په هره برخه کې دوه ټولي چې هریوه یې خپل توپونه او هاوانونه درلودل ځای پر ځای شوي وو. دوی دنده درلوده چې انګوربڼو ته د تګ- راتګ ټولې لارې وتړي.

لومړۍ شپه او ورځ چې په ترخ کې یې موږ د دیسانت ډلې د ځواك په پراختیا بوخت وو، کرار تېر شول. بیتر شکید چنګه د عملیاتو د لاربنود په توګه خپل کار پیل کړ.

کارونه باید له پلان سره سم تر سره شوي وای. زه چې د عملیاتو په بري ډاډه وم، په کابل کې د ورځنیو چارو په سرته رسونې بوخت وم.

د نوامبر د ۲۴ ورځې په دویمه نیمایي کې ولادیمیر چیربیومنیخ په وارخطایی راته وویل چې د کندهار په سیمه کې بیړنی حالت منځته راغلی او سملاسي باید هغه لور ته والوزم.

چې په کارده نو الوزم به.ډګروال برونینیکس او جنرال پتروخالکه (چې له وزیر برکلي- دې- تولي سره د خبرې دور ته والي له امله مو ورته میخاییل بګدانوویچ ویل) اوزبارونکی کوستین مې له ځانه سره بوتلل. زما د ساتونکې ډلې مشر ډګروال الکسي کارپوف هم راسره و. زړه راته ویل چې د (افغانستان) د دفاع وزیر رفیع درسره مه بیایه. چې حالات خراب وي ښه دا ده چې د پریکړو په کولو کې له افغاني لوري نه په څنګ اوسې!

زموږ دوه چورلکې (هلیکوپترې) له دوه ځلې تاوېدو وروسته د قوماندانۍ د مرکز مخې ته ورکوزې شوې. د هر کلي کوونکو په خبرو کې مې د عصبیت او خپګان نښې تر سترګو شوې. د قوماندانۍ په مرکز کې د لومړي یا د افغانانو په وینا د مرکزي قول اردو قوماندان څلوېښت کلن ډګروال خلیل الله چې د ځوانۍ په

مستې کې دی، د دویم لمبر قول اردو قوماندان سپین سری او خوارینجو کې تورنجنرال میرطهماس (رووف)، د افغانستان د وسله وال پوځ د ستردرستیز یو شمېر جنرالان او افسران، د څلوېښتم لښکر د قوماندان یو مرستیال اوالبته چې د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسونې په چارو کې زما خپل مرستیال تورنجنرال شکیدچنکه حاضر وو. دوه نور جنرالان هم له دوی سره وو: یو د افغانستان د هوایي او هوایي مدافعې ځواکونو د قوماندان سرسلاکار او بل د افغاني پوځ د توپچي ځواکونو د لوی قوماندان سرسلاکار.

د دې اوچتو پوځي مشرانو تر منځ د (شوروي) اویایمې مستقلې موټوریزه لوا قوماندان ډګروال شاتین دومره غدته څېره نه برېښېده. د ده لوا د کندهار په سیمه کې له (افغاني) اوومې او پنځلسمې پلو فرقو سره په ګډه عملیات ترسره کول. شاتین ټپي شوی و او لاس یې په یوې توري ختې په سینه پوري ځړېده.

د پوځي مشرانو د دې غتې ډلې له منځه باید یوازې له هغو څوتنو سره چې زما له نظره د قضاوت خاوندان او تجربه لرونکي وو، خبرې شوې وای. خو د دې کار ترسره کول لکه څنګه چې په څرګنده برېښي دومره آسان کار نه دی. ځکه په دغه ځای کې د لوړې کچې متحدین، د افغاني قول اردوګانو مشران او ډېر اوچت شوروي او افغاني پوځي وګړي راټول شوي دي. د وخت د سپما او پر حالاتو د پوهېدو لپاره مې له نورو نه ښېننه وغوښته او د لوا ټپي قوماندان ډګروال شاتین مې راوغوښت او دوه په دوه د درستیزوالۍ سرویس (موټر) ته وختلو.

شاتین ځان زړه ورښوده خو ماليدل چې تر عصبي شوك لاندې دی او ترې ومې غوښتل چې آرام شي.

- زغم کولی شې؟
- هو، بیخي یې شم.

بیا مې نو پیتر شکیدچنکه، د افغاني پوځ د دوو قول اردوګانو قوماندانانو، د څلوېښتم لښکر د قوماندان مرستیال او ژباړونکي راوغوښتل.

او دا وو هغه څه چې ما ته یې پته ولګېده:

له هغه وروسته چې د نوامبر پر درویشتمه په لسو برخو کې دیسانت راکوز کړی شول، یاني په انګوربنو کې د غلیم د ورکاوي لپاره د عملیاتو له پیل یوه ورځ مخکې، شکیدچنکه د ډېرو وینو د تویېدو د مخنیوي لپاره امر کړی و چې درې چورلکې (هیلیکوپټرې) دې د انګوربنو له پاسه غلیم ته د بلنې پاڼې وشنیدي: "تسلیم شئ! تاسې کلابند یاست! د ژوند ضمانت مو کېږي!"

تر دغه وخته دیسانت ځواکونو له سیمې نه د کړی په تاوولو چاړچاپېره ټینګه دفاعي کرښه جوړه کړې وه. هغوی ته کلک امر و چې له سیمې نه چا ته د وتلو اجازه ورنه کړي او هېڅ ځانګړي دښمن یا د هغوی ډلې له داسې واټن نه چې د ماشینګنو مردك وررسېږي، ځان ته نږدې راپرې نهږدي.

دوه ګړی تېرې شوې.. هېڅ ځواب نه شته. دلته نو شکید-چنکه د قول اردوګانو له قوماندانانو سره د سیمې د چاڼولو پرېکړه کړې ده. زه هم په خیر سره د شکیدچنکه څرګندونې اورم او هم د هغه د خبرو په وړاندې د افغاني پوځ د قول اردوګانو د قوماندانانو غبرګون څارم. میرطهماس لکه یو رښتینی مسلمان آرام او چوپ دی خو خلیل کله کله سپین اوړي.

د انګوربنو سیمه مې په شرطي ډول پر دوو برخو ووېشله،- شکید چنکه خپلې څرګندونې پسې اوږدې کړې.- شمال ختیځه برخه مې د اوومې پلې فرقې قوماندانانو ته وسپارله اوشمال لویدیځه او لویدیځه برخه د پنځلسمې پلې فرقې قوماندان ته. امر مې کړی و چې که غلیم مقاومت وکړ نو یا دې له منځه یوړل شي او یا دې (ژوندي) ونیول شي. د دوی دا دنده له چورلك والو دیسانت ټولګیو سره په

یوځای کېدو سرته رسېده او له هغې وروسته هم باید فرقې د نورو پوځي عملیاتو لپاره همداسې چمتو پاتې وای.

کوستین د شکیدچنکه خبرې په ټیټ غږ د قول اردوګانو قوماندانانو ته په یوه وخت کې ورژباړي. زه هم دغه څرګندونې اورم او هم هغوی ځارم. میرطهماس لکه مخکې آرام دی خو خلیل په څرګنده عصبي بریښي. د هغه په لاس کې سګرټ دی. خلیل د اجازې غوښتنه کوي:

- ویې څکم؟

زه ځواب ورکوم:

- نه. زه غواړم په دې چاره کې د "خپلو" افغانانو د وړاندې څرنګوالی ځان ته جوت کړم.

شکیدچنکه خپلې خبرې پسې اوږدې کړې:

- زما اټکل دا و چې د اوومې او پنځلسمې فرقې له بري سره به د څلوېښتم لښکر اویایمه مستقله موتوریزه لوا مرسته وکړي. د اومې او پنځلسمې فرقې قوماندانانو د انګورښونو دویچاړی د مخنیوي لپاره پرېکړه کړې وه چې پلې ډلې ډګر ته واستوي او چې د تسلیمۍ لپاره زموږ له بلنې دوه ګړۍ (ساعته) وروسته هم د غلیم د ځواب هېڅ نښه نه وه د اوومې او پنځلسمې پلې فرقې دوو- دوو غونډونو په عمل لاس پورې کړی و.

د دواړو قول اردوګانو قوماندانان پاځېدل، ځانونه یې سره سم کړل او داسې برېښېده چې د هرې ناځاپې پېښې هرکلي ته چمتووالی کوي. عجیبه ده! ما هغوی ته وویل چې بېرته کېني او د شکیدچنکه نورې خبرې واوري.

شکیدچنکه وویل:- دغه غونډونه د جګړې د چمتووالي او د جګړې حالت له نیولو وروسته د خپور زنځیر په دود پلي خپل ټاکلي لوري ته روان شوي وو. البته چې د کشف او امنیت قطعې هم ورسره ملګرې وې. او لکه مخکې مې چې وویل د دغو افغاني غونډونو له

مارش یو- یو نیم ساعت وروسته باید اویایمې لوا، هم حرکت کړی وای. مخکې ترې مرکزي کندک و چې د جګړې د چمتووالي په حالت کې یې د ډلګیو کتارونه جوړ کړي وو. ټاکل شوې وه د دوی کیڼ او ښي لوري ته په پاټکیز ډول او د جګړې د چمتووالي په حالت کې دوه نور کنډکونه هم خو دا ځل د ټولیو په کتارونو وخوځېږي. د لوا قوماندان ته د ټانک کندک د احتیاطي ځواک په توګه پرېښودل شوی و. د لوا قوماندان پخپله په زغره وال ګاډي (ب.م.پ) کې د لوا په مخ کې و!

- همداسې وه صیب! شاتین له ځایه ولتېده او په نیولي غږ یې دا خبرې تائید کړې.
- داسې ایسیده چې هرڅه سم او د پلان له مخې روان دي. یوه ګړۍ، یوه نیمه، دوه ګړۍ تېرې شوې خو یو ډز هم نه شته او د جګړې څه نښه نه لیدل کېږي.

شکیدچنکه خپلې خبرې پسې اوږدې کړې:

- د لوا قوماندان زما په ځانګړې نغوته (اشاره) مرکزي کندک په خوځېدو راوست. تر دغه وخته نو افغاني غونډونه درې څلورکیلومتره د انګوربېنو په بوټو کې دننه ورننوتي وو. ما نور هغوی د قوماندانۍ له مرکز نه لیدلی نه شول. خو له هغې خوا نه د جګړې کومه نښه نه لیدل کېده او نه یې غږ اورېدل کېده. داسې ایسېدله چې هېڅوك د افغاني غونډونو مقابله نه کوي. زه له ځانه سره دا شك کوم چې هه، لکه دا ځل بیا غلیم پر موږ لومړئ شو او ویې غولولو؟ د داسې ځواکمن ملاوستني له منځه زموږ تر پوزې لاندې رانه ووتل؟! زموږ د کشف شبکې- دغه باوري کشف! څنګه ونه شو کړی د غلیم له ټګۍ پرده پورته کړي او څرګنده کړي چې انګوربېنونه له مجاهدینو تش دي؟

د قول اردوګانو قوماندانان بیا پاڅېدل او خلیل وویل:

- سګرټ څکول اجازه ده؟

- نه!

پیترشکید چنکه چې په احتیاط ګام پورته کوي د کشف او اضافي مرستندویو امنیتي تدابیرو سره سره مرکزي کنډك د ګڼو بڼونو منځته ورننه ایستی و، خو کنډك د ډلګیو په کتار د جګړې د چمتووالي په بڼه مخ ته روان و یانې تري مخکې د اوومې او پنځلسمې پلې فرقې څلور کنډکه پر فعالیت بوخت وو او له کنډك مخکې د جګړې غږ هم غوږو ته نه رارسېده. خو همدا چې د (شوروي) لوا مرکزي کنډك هم درې، څلور کیلومتره د انګوربڼو منځته ورننه وتو، د ډزو باران پرې جوړ شوی و. سخته جګړه ونښتې وه. د کنډك قوماندان وژل شوی و، د دوو ټولیو او څلورو ډلګیو قوماندانان هم وژل شوي وو. د اوبایمې لوا قوماندان پخپله هم ټپي شوی و. د هغه زغره وال ګاډی (ب.م.پ) سوځېدلی و. وروسته دا پته ولګېده چې په دغې نښتې کې زموږ ۱۹ تنه وژل شوي او څلوېښت نور ټپیان شوي دي.

داسې برېښي چې مجاهدینو افغاني عسکرو ته لار ورکړې وه، ډزې یې نه وې کړې او ځانونه یې ښرګند کړي نه وو. سربېره پردې، زه فکر نه کوم چې د افغانستان د وسله وال پوځ څلورو کنډکونو دې له سیمې نه د تېرېدو پر وخت مجاهدین په انګوربڼو کې لیدلي نه وي. ښایي دواړو غاړو په دې خبره د پټې خولې اتفاق درلود. او دا دی د شوروي عسکرو د کنډك په راښرګندېدو مجاهدینو د ډزو باران جوړ کړی و.

اوس نو دا خبره د پوهېدو وړ ګرځېده چې ولې د افغاني قول اردوګانو قوماندانانو خلیل او میرطهماس ته خمکه ځای نه ورکوي. زه هغوی ته او دوی ماته ګوري. څومره مې زړه غوښتل چې د دوی په پاکوالي باور وکړم، څومره مې زړه غوښتل!

د لوا موتوریزه کنډك ربېل شوی و. نور دوه کنډکونه چې ښي او کین لوري ته روان وو، هم له منځه ولاړل. او د افغاني پوځ غونډونو

لکه چې هېڅ خبره پټه شوې نه وي، له چورليکز (هليکوپټري) ديسانت سره د يوځای کېدو پر لور همداسې خپل تګ جاري ساتلی و. د دغو غونډونو د سلاکارانو د حيرانتيا خبره دا وه چې آن غونډونو خپل مزل په دې پلمه چټك کړی هم و چې ګنې د (شوروي) ديسانت ځواکونه د خپلو افغاني متحدينو د مرستې وررسېدو ته شېبې شمېري.

دا هغه انځور و چې پيټر شکيد چنکه کښلی و. پر مجلس مرګونې چوپتيا را خپره شوې وه. آن ډګروال خليل هم نور د "ځکولو" اجازه نه غواړي.

که دا د پرانستې کلا سيکې جګړې ډګر وای نو منا به د سختو ډزو امر ورکړی وای او د غليم د ورکاوي لپاره به مې الوتکې او چورلکې راغوښتې وای او نور احتياطي ځواکونه به مې راغوښتي وای او هرڅه به مې د ځمکې له مخې پوپنا کړي او پر پلار به مې يې لعنت ويلی وای. زموږ لوری په ښکاره برلاسی و. خو کوم شي زما مخه راګرځوله؟ زړه مې راته ويل که همداسې بېړه نې پرېکړه وکړې د دې مانا به ناپوهي او کيدی شي آن ناسنجولې او غير اخلاقي کړنه وي. له ټول ځواك نه د دومره ډېرو مسلمانانو د نه منځه وړلو لپاره کار اخيستل. بې له دې چې د وينو تويېدو د مخنيوي ټولې لارې وسنجول شي.او د هرشي په اړه فکر وشي؟

ځان ته مې وويل: الکساندر ميخايلوويچ له خدای نه لږ ووېرېږه! خو له دې سره جوخت هم د لوا د ټپي شوي قوماندان د شوروي جنرالانو سترګې په نظر راغلې. د افغاني قول اردوګانو قوماندانانو ته مې کتل او دا احساس مې کاوه: ښه پوهېږئ چې موږ دلته کندهار ته څېرمه په انګوربڼو کې د چل او کيدی شي د خيانت په لومه کېوتلي يو.

د هرڅه د ښې سنجونې لپاره ما ته د وخت اړتيا وه. زما پر اوږو د تلفاتو درونډ بار پروت و، پوهېدم چې له ببرك کارمل سره

باید په ترخې ژبې خبرې وکړم او له بل خوا به د دفاع وزیر او ستینوف له ما سره په خبرو کې له ترخې ژبې نه کار اخلي. دا خبره به هرومرو زموږ سیاسي بیورو اوکیدی شي پخپله عمومي منشي ته رسېږي.

(شوروي) سفارت او یوري اندروپوف به هم په دې چاره کې راګډېږي.

په داسې شرایطو کې هم د خپل عزت ساتل په کار و او هم مې باید د خپلو درندو تلفاتو ټوله پړه په غاړه اخیستې وای. له بلې خوا باید دا غوټه غوټه شوې وای، جګړه باید بریالۍ پایته رسېدلې وای او په یو ډول باید د لوا پوځي روحیه پورته شوې او ژوندۍ شوې وای.

او د دې غمیزې (تراژیدۍ) دلیلونه به جوتوو، البته وروسته، اوس نه.

په سرویس (موټر) کې ناستو زما د سملاسي پرېکړې لارڅارله. خو زه لا دغه کار ته چمتو نه وم. ما وویل:

- ټول تللی شئ.-

افسران او جنرالان په داسې وړو ګامونو له سرویس نه وتل تا به ویل چې چانماری ته یې بیایي. یوازې ډګروال برونینیکس پاتې شو.

اوږده شیبه بیخي چوپتیا وه.

ایلمار برونینیکس په خپله لاتویایي لهجه او شمیرلي شمیرلي وویل:

- خیانت -

- هو، بریښني همداسې.

خو باید یوه پرېکړه شوې وای او کومه چاره سنجول شوې وای. په کار وه چې خیانت ته کلك ټکوونکی ځواب ورکړ شي.

ما پرېکړه وکړه چې د ورځې دویمه نیمایي دراروانې ورځې د جګړې د بریالۍ پایته رسونې چارې ته بېله کړم. چیریومنیخ ته مې

امر وکړ چې نهه چوزلکې راوغواړي او هغوی دې تر شونې کچې هومره ټيټه الوتنه وکړي چې د خپلې وسلې له کارونې پرته غليم پر مځکه وسولوي (ومووښي). او ورسره ورسره دې يوځلې بيا د تسليمېدو لپاره پانې وشنيدل شي. د لوا تر لاس لاندې د اوسنيو پولو د ساتنې له لارې دې د جګړې له ډګر نه ټپيان راوايستل شي او په لوا کې د مورال د لوړتيا لپاره دې اړينې (ضروري) چارې تر سره شي.

ما چې ځای پر ځای اړينې لارښوونې ورکړې بيا مې له چيريومنيخ سره تماس ونيو. هغه راته وويل ببرک کارمل دغې پېښې سخت په غوسه کړی او وايي چې د سر درانده زيان له امله به ملي وير اعلام کړي. ببرک له دې امله ډېر خپه دی چې شوروي ځواکونو ته داسې درونډ زيان اوښتی دی. البته چې افغانستان ته د دغه سرې "ص.د.ا.ق.ت" ښه ځرګند و او پوهېدم چې له دې وروسته به بيا مسکو ته لمن غوړوي او وايي به ځرنګه چې افغاني پوځ د جګړې لپاره ښه چمتو او روزل شوی نه دی، نو د افغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې دې د شوروي لښکرو اوسنی قطعي نورې هم پياوړې شي.

- له ببرک سره نورې خبرې څه وخت تر سره کېږي؟
- له ۱۹ نه تر شلو بجو پورې (د ماښام له اوونه تر اتو بجو پورې).
- عمومي منشي ته ووايه چې چل او خيانت نه په ملي وير مينځل کېدلی شي او نه د هغو ځای نيولی شي. دا خبره ورته په هنر سره وکړه. ورته ووايه چې لوی شوروي سلاکار له دغه حالت نه د وتلو هڅې کوي.

چير ميومنيخ وويل اخراميېف له ما سره د تماس نيولو د هڅو په لړ کې له ده سره خبرې کړې دي. اخراميېف ورته ويلي وو چې د دفاع وزير او د ك.ګ.ب. د رئيس ناکراري او انديښنه راته ورسوي. هغوی زما د پرېکړې او مدللو کړنو لار څاري.

- مهرباني وکړه سرګي اخرامييف ته ووايه چې لوى پوځي سلاکار کندهار ته ځېرمه د پېښې په ځاى کې له دغه ناوړه حالت نه د وتلو د لارو- چارو په لټون بوخت دى او باور دى چې په موندلو به يې بريالى شي.

زه پوهېدم چې غوڅ خو سنجولي او په تله تللي ګامونه بايد پورته شي. ورسره جوخت بايد غليم ته آن يوه شېبه هم د داسې انګېرلو پلمه ورنه کړل شي چې ګنې موږ ورته خپل زيانونه وروبښل. موږ په خيانت او چل لاندې کولى نه شي. موږ به غوڅ ګوزار ورکړو او زړه به پرې ونه سېزو.

د ماښام پر اتو بجو يو ځلې بيا چيريومنيخ راسره تماس ونيوه او له ببرك کارمل سره يې له خپلو خبرو نه خبر کړم. ويې ويل چې هغه بيا د ملي وير د اعلام وړانديز وکړ خو البته چې دا وړانديز هم ونه منل شو. د ماښام پر اوو بجو او د پرشو دقيقو د دفاع وزير رفيع او د خاد رئيس نجيب زما لور ته راالوتي دي. چيريومنيخ دغه راز خبر راکړ چې د افغانستان د وسله وال پوځ ستر درستيز د قوماندې مرکز ته د ا.خ.د.ګ د سياسي بيورو غړي زيري او نور احمد نور ورغلي دي. لکه چې هغوى د وويل د اوپراتيفي همکارۍ د پلي کېدو لپاره به تل د چيريومنيخ څنګ ته وي.

ما دا خبره په پام کې وساتله.

لږ وروسته، د شپې په نږدې نهو بجو چې تياره خپره شوې، هرڅه آرام وو او سرتېرو په مړه خېټه د بلې ورځې د جګړې لپاره خپله دمه جوړوله، سرګي اخرامييف د مصنوعي سپوږمۍ په مرسته د مخابرې له لارې راسره تماس ونيوه.

- موږ ټول دلته غمجن يو. له شوې پېښې خبر يو. دا نادوده شانتې پېښه ده. بادار (هغه د دفاع وزير په دغه نامه ياداوه) ناکراره او عصبي دى. هغه له اندروپوف سره غږېدلى دى. نوموړى هم

بوږنېدلی دی. بادار له ما نه وغوښتل چې دغه خبرې درته ټکي په ټکي ورسوم:

- "ملګري مایوروف ته د عمل بشپړه آزادي ورکوم خو د ښښنې حق به نه لري!"

ما له اخرامييف نه وپوښتل:

- د دې خبرې مانا څه ده چې: "د ښښنې له حق پرته"؟
- پخپله ترې کوچ راوباسه. ما هم په دې اړه سوچونه کړي چې څه مانا به لري دا...
- ښه ده په خپله به یې غم وخورم.

خبرې- اترې په همدې پايته ورسېدې "د عمل د بشپړې آزادی" مانا زما له نظره د کړنې خپلواکي وه. خو په دې خپلواك عمل کې راته د ښښنې حق راکړ شوی نه و. او ما له ځان سره سوچ کاوه: ځوك نه ښښي؟ مانه ښښي که چېرې غشی مې خطا شي او یا غلیم نه ښښي؟ دلته نو ما ته دا اجازه نه شته چې د عقل سترګه مې ړنده وښیم. د پوځ تر ټولو لوړې څېرې مې دنده ټاکلې ده.

ښایي د دفاع وزیر په توګه د اوستینوف د کار په ټول پېر کې مې د لومړي ځل لپاره د هغه چل، هوښیاري او غوڅوالی ولیده. ځان تر څه ځایه له خطره وژغورم او خپل کوم مادون د بلا خولې ته ورکړم؟ ځوك به ځوك د چل په لومه کې راګیروي... خو، نه، دا ټوله هسې ډیپلماسي ده. خو په عمل کې پوهېدم که د کندهار جګړه سمه غوڅه نه کړم نو بیا مې دې خدای ورته ټینګوي! اوس نو د خپلو وګړو د وژنې او ټپي کېدلو د پړې پورته کول زما په غاړه دي. خو د خپلو مادونانو د کړنو له امله مې مخامخ د کومې ګناه احساس نه کاوه. خو اوس خبره په دې کې هم نه ده. جګړه باید غوڅه شي...

شپه په چمتووالي او د مجبوری په خوله واوښته. په دغسې شپه چې څومره اندېښنې ډېرې وي غوره ده، که نه نو چې سړی له

ځانـه سـره يـوازې پـاتې شـي د يـوې بسـيارې انديښنـې او دروندوالـې احسـاس کوي- لـه جـګـړې مخکـې شـپـه تـل همداسـې وي.

د سـهار د شلـورو بجـو پـه شـاوخوا کـې د "مـدار" لـه لارې راتـه د سرګي سوکولوف لـه خوا مخـابره وشـوه. هغـه مـې لـړه روحيـه لـوړه کـړه او سلايې دا وه چې غـوڅ عمـل وکړم. دايـې هـم ويلـي وو چې لـه دغـو سيمو سـره ښه آشـنا دی.

- دا د مـارانو سـوړه بـايد غـوڅه او د تـل لپـاره ورانـه شـي. اوږده مـوده وشـوه چې د هغـې لـه لاسـه ورځ نـه لـرو.

او لـه لـږې چوپتيـا وروسـتـه يـې خـبره داسـې اوږده کـړه:

- دغـه شـپـه اوس رارسـېدلـې ده. ګوزار کـوه!

- سـرګـي ليونيدوويـچ (سـوکولوف) د ننـګـې مـو مننـه کـوم- مـا ورتـه پـه خوب کـې دا خـبره کـړې وه.

د سـرويس (مـوټر) وړ بـې ټکولـو بېرتـه شـو. ډګروال خليـل پـه وارخطايـۍ او تښتـېدلـي سـپين رنـګ رانـنـوت.

- رئيس صـاحب.- غـږ يـې لـړزېده- کندهـار... دلتـه! او خپلـه ګوتـه يـې پـر مـېز پرتـې نقشـې تـه ونيولـه، - ګل بوديـن! دلتـه!- او يوځلـې بيـا يـې چيغـه کړه. او بيـا يـې پـه بيـړه لـه سرويس (مـوټر) نـه ټوپ کـړل.

مـا خپـل سـاعت تـه وکتـل: د سـهار شلـور بجـې او دېرش دقيقـې وې د نوامـبر پنـځه ويشـتمه. اوس نـو زمـا هـره شـېـبه ځنـډ غليـم تـه ګټه رسوي. البتـه چې ګلبديـن کـوم څه شـي سنجولـی دی...

... پـه سـرويس (مـوټر) کـې ځای لـږ دی، هـوا نشـتـه او ځپ ځپـاندي ده. غونـډه روانـه ده جـنرال پيتروخالکـه وينـا کـوي او خـبرې يـې ورسره جوخـت کوسـتين افغانـانو تـه ورژبـاړي.

- معلومـات يـوازې لـه يـوه څارګر يـا مخـبر نـه تـر لاسـه شـوي دي،- د شـوروي لـوی مستشـاريت د ادارې د اسـتخباراتو رئيـس د تـل پـه څير غـټې، غـوڅې او شـمېرلې خبرې کـوي، ګلبديـن زمـوږ دويـم

مخبر اعدام کړی دی. دریم لاتر اوسه تماس نیولی نه دی. ښایي مجاهدین دهغه له رازه هم خبر شوي وي.

- دوه اووه نی ورانديې ګلبدین په پېښور کې د "اووه ګونو" په شورا کې پر الله لوړه کړې وه چې اویایمه شوروي لوا به پوپنا کوي. د پوځ د لومړۍ او دویمې قول اردو په دوو یا دریو فرقو کې به وګړي راپاڅوي، کندهار به نیسي او د کندهار جمهوریت به جوړوي... او د کابل پر لور به یون کوي.- د پیتروخالکه غږ هماغسې کلک دی.

ماخپلې سترګې په خیرو کې خښې کړي، هڅه کوم د هغوی د څرنګوالي له مخې د اوربدلو شیانو منځته لار پرانیزم. ګورم چې رفیع عصبي دی، بابه جان په نیمو تړلو سترګو ناست دی، د خلیل رنګ تښتېدلی او شونډې چیچي، د افغانستان د هوایي او هوایي مدافعې پوځ قوماندان نظر په اورنیو سترګو یوه ټکي ته ځیر دی، ته وا په هروخت او هرې هوا کې الوتنې ته چمتو دی. یوازې میر طهماس آرام ناست دی او برخلیک ته یې غاړه ایښې ده. شوروي جنرالان او افسران چې د پیتروخالکه څرګندونو اندېښمن کړي ما ته ګوري او زما د پرېکړې لار څاري. پیترو خالکه خپلې خبرې اوږدې کړې:

- محتاط رباني د ګلبدین دغه پرېکړه "شیطاني لوبه" او له وخت د مخه کار وباله. خو د ده خلاف، احمدشاه مسعود د ګلبدین ننګه وکړه. نورو هرڅه "د خدای رضا" ته پرېښودل. دا دی یوه اووه نۍ کېږي چې ګلبدین کندهار ته راغلی دی،- ما نجیب ته وکتل: د هغه په آناري ګرد مخ کې آن یوه عضله هم نه خوځېدله،- پرون ګلبدین په مرکزي جامع جومات کې...

- بس دی، بس دی، نور مې صبر ونه شو او د پیتروخالکه خبرې مې پرې کړې، هرڅه ښکاره دي: له موږ سره چل او خیانت شوی دی.

غوټه ړنده او سخته پېچلې ده. د هغې پرانستل نور شوني نه دي. اوس يې د پرې کولو وخت دی. بايد ــ غوځ او چټك ګوزار پرې شي.

د لوا ټپي قوماندان ته ګورم او تر شعور لاندې له ځانه سره هغه څه انځوروم چې مکار او چلباز ګلبدين له ده سره کړي دي.

ما رفيع او نجيب ته مخ ورواړوه او ومې ويل:

- مخالف نه ياست که زموږ د ګډو عملياتو څرنګوالی وټاکم؟

دواړو د سر په خوځولو وويل

- تشکر، تشکر.

او د برېښنا په څېر مې دا فکر په سر کې وځغلېده: له عيسوي ترحم پرته د عقل له مخې پرېکړه وکړه.

مخ مې رفيع، ميرطهماس او د هغه سلاکار جنرال ليف چنکه ته ورواړوه:

- هيله کوم پنځلسمې فرقې ته والوزئ، او تاسې جنرال بابه جان، ډګروال خليل او جنرال برافچنکه اوومې پلې فرقې ته ولاړ شئ. په فرقو کې اعلان وکړئ چې هغوی جګړه ييزه دندې په لوړه توګه سرته ورسولې او ژمنيو قشلو ته د هوساينې لپاره ستنېږي. همدا نن او سملاسي ستنېږي...

افغاني پوځي قوماندانانو يو بل ته سره وکتل. رفيع په روسي ژبه:

- و...وه... ولې داسې؟ او بيا يې بې له ځنډه په کلك غږ خبره داسې اوږده کړه:

- له دې اعلان وروسته به هېڅوك هغوی د هېڅ خلاف جګړې ته اړ نه باسي. آن ګلبدين د ډېرو پيسو په بدل کې.

ټولو په ګډه شورماشور جوړ کړ او په څه دعاويلو بوخت شول.

ما پرته له دې چې د رفيع اعتراض ته ځواب ووايم، نجيب ته مخ ورواړوه:

- تاسې بې ځنډه د کندهار ښار ته والوزئ. سرې مو پټ کېنوئ او ګلبدین په لومه کې راګیر کړئ. ګارنیزیون پیاوړی کړئ او د دویم قول اردو د ټانك اوومه لوا ښار ته ورولئ. د دفاع وزیر او د هوايي او هوايي مدافعې قوماندان به ۶۶۶ نمبر کوماندو غونډ تاسې ته وسپاري او په هوا به يې له کابل نه کندهار ته راورسوي.

بیا د افغانانو غبرګ غږونه پورته شول او بیا له ځانه سره څه دعاګانې وشوې.

شکیدچنکه، پیتروخالکه، بروښنیکس او شناتین ته مې په اشاره وویل: او مونږ به دښمن په انګوربنو کې پسې راواخلو. د لوا قوماندان به ورته مېلمستیا جوړه کړي، څنګه هه؟

- بیخي همداسې ده!

مونږ د سرتېرو په دود د عسکرو په چایجوش کې اېشېدلې ټینګ ټینګ چای یوه یوه پیاله وڅښه او ورسره مې د عسکرو له خړرنګې وچې ډوډۍ نه هم په یوه چنډه شخوند وواهه. ټول عصبي او اندېښمن شوي وو. زما سپینه ږیره درې درې ځله د هر افغان له مخ سره ولګېده. او هغوی له ځانه سره دعا کوله:

- الله دې زمونږ مل شي.

خپلو هېوادوالو ته مې تش لاس ورکړ. په سرویس (موټر) کې راسره بروښنیکس او د لوا قوماندان پاتې شول. چورلکې د شپې په تیاره کې له سترګو پټې شوې.

د سهار اوو بجو ته نږدې درې چورلکې د انګوربنو له پاسه والوتې او تبلیغاتي پاڼې يې وشیندلې.

وروسته بیا چوپه چوپتیا شوه. هیڅ خوځښت نه و آن کوچنی ښکالو هم نه وه. لوا د جګړې لپاره چمتو ده: نږدې درې زره ډېر ښه وسله وال جنګیالي، زغره وال ګاډي او شوبلې (ټانکونه). د الوتکو، چورلکو او توپونو ملاتړ هم ورسره. پر مجاهدینو زمونږ په برلاسي کې

هېڅ شك نه شته. داسې يو ځواك دی چې كاڼي او بوټي په چارچاپېره سيمه كې د ځمكې له مخې پوپنا كولی شي.

د لوا پر قوماندان تبه راغله. په اوږه كې د مردك جوړ كړي ټپ ځان ځرګندول پيل كړل. ما له هغه نه وغوښتل چې په روغتون كې بستري شي. خو هغه زاري كولې چې يو څو ساعته يې د جګړه ييزو عملياتو لارښوونې ته پرېږدم. ما هم ورسره د هو سر وخوځاوه.

سم پر اتو بجو اخرامييف د "مدار" له لارې راسره تماس ونيوه او په لنډو يې وويل:

- د بادار غوښتنه درته ټكي په ټكي وړاندې كوم: "هغه ولې ځنډ كوي؟ نه پوهېږي چې څه وكړي" (او د "څه" پر كلمه يې ځانګړی زور اچولی و)

- ورته ووايه: پوهېږم چې څه وكړم او لګيا دی كوم يې كوم يې!

خو كه رښتيا ووايم زه لا هم په دوو كې وم. د پخوا په څېر زموږ د وسلې او تخنيك برلاسي زما مخه نيوله. دغه برلاسي د هغو ناپوهو وګړو د ډېرې مرګ ژوبلې زيری درلود چې "د الله له خوا يې پر ځان نازل شويو" قوماندانانو ته يې ټينګه غاړه ايښودله. خو له بلې خوا موږ ته اوښتې مرګ ژوبلې له ما نه د كلكو ځوابيه اقداماتو د كولو غوښتنه درلوده. د لوا له قوماندان نه مې وپوښتل: استازي چمتو دي؟

- همداسې ده صاحب! دوه ډلې، هره ډله پر "٦٠ ب.پ" ډوله زغره وال ګاډي كې.

- مشري يې څوك كوي؟

- د لوا د سياسي څانګې افسران.

- وايې ستوه!

- سمه ده صاحب!

د لوا قوماندان له سرويس نه ټوپ كړل.

دا هغه وروستی کار و چې ما لا په دغو شرایطو کې د دښمن او دغه راز په اویایمې لوا کې د خپلو وګړو د ډېرې مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره کولای شو. اوس نو زما کار یوازې دا و چې د خپلو کړو لاړښوونو پلي کېدو ته انتظار وکړم.

چیریومنیخ چې هېڅکله یې پرېشاني نه وړي، راته زنګ وواهه:

- ۶۶۶ نمبر کوماندو غونډ کندهار ته د تګ لپاره ترانسپورتي الوتکو ته خیژي. ټولو کوماندویانو یوه دفاعي کړۍ جوړه کړې ده. ټولې بم غورځوونکې الوتکې او د چورلکو غونډ الوتلو ته چمتو دي. لومړۍ درجه احضارات لري.

په اوومې او پنځلسمې پلیو فرقو کې بیخي کراري ده. د هغوی هر کنډک په جلا جلا توګه کمپ جوړ کړی او له چورلکیز دیسانت نه ۸۰۰ - ۱۰۰۰ متره واټن لري. په کندهار کې لا کراري ده. نور او زیری له ما سره دي...

ما دهغه خبرې غوځې کړې:

- لطفاً دا هرڅه مسکو ته هم ووایه.

زه او ایلمار له سرویس نه ووتلو. سهارنۍ هوا د کنګل تر پولې سره ده. هسک (آسمان) شین، شین دی. مخې ته انګوربڼونه دي او انګوربڼونه... کله کله د هغو په منځ کې د دوه- درې متره دېوالو له شا نه ختین کورونه تر سترګو کېږي. څه عجیبه ښکلا!

ایلمار زما له خوښۍ ډك چرتونه چې بې وخته یې پرما برید کړی و وشکول.

- د لوا قوماندان باید په روښتون کې بستري شي. کېدی شي هغه...

او ناڅاپه له ښي او کیڼ لوري د ماشینګنو او اتوماتو ټوپکو پرله پسې ټکهار شو او بیا یو، دوه، درې کنوونکې چاودنې وشوې.

دا غلیم دی چې (زموږ) پر استازو ګوزارونه کوي زړه مې په وارخطایۍ درزا کوله.

له خولې نه مې ووتل:

- د سپي زامن!

اوس دا پوښتنه کېدی شي چې د هاغه هرڅه له پېښېدو وروسته بیا هم د نورو وګړو استولو ته اړتیا وه؟ البته چې دغسې پوښتنه پرځای برېښي. خو خبره دا ده چې زما بل ګام به د داسې یوه امر صادرول وای چې ورسره د وینو ویالې بهېدلی شوای او ما تر وسه وسه له دغه کار نه ډډه کوله. د غلیم وینه خو هم آخر د بنیادم وینه ده...

دواړه استول شوي زغره وال ګاډي په اور وسوځول شول. د استول شویو پوځیانو له ډلې نه دوه وژل شوي او نور ټول ټپیان وو. نور ځنډ کول نو د لوا پوځیانو ته سپکاوی و.

امر مې وکړ:

- د چورلکو (هلیکوپترو) غونډ د جګړې پر لور!

دوه دېرش (مي) اته ډوله چورلکې یوه په بلې پسې والوتله او یو ساعت یې په ټولو انګور بڼو کې دښمن پر سر وټکاوه. په همدې وخت کې بم غورځوونکې الوتکې هم ډله ډله او هم یوازې راتللې او په ختېینو کورونو کې یې جوړ شوي مورچلونه مخامخ ویشتل او ورانول. د انګوربڼو له پاسه یوه بوړ بوړکۍ (ګردباد) راجوړه شوې وه. له دې وروسته (اویایمې) لوا پر مخ حرکت پیل کړ: مرکزي کنډک یې پر زغره والو ګاډو له پاسه روان و او د (غلیم) ډله یې پر دوو ووېشله. د ښي او کیڼ لوري له کنډکونو وړاندې چې پاټکي په پاټکي په مرکزي کنډک پسې خوځېدل، د زغره والو ګاډو یو- یو ټولۍ روان و او ترې شاته دوو دوو ټولیو پلی حرکت کاوه. د ټانک کنډک د لوا د احتیاط ځواک پرېښودل شوی و.

د اویایمي لوا تر شا د خاد او څارندوی قطعې رواني وې چې انګوربڼو نه یې چاپېول، اسیران یې راټولول او چې به لا په مورچلو کې ناست وو، له منځه به یې وړل. ځومره دښمنان په دغه ورځ ووژل شول-یوازې خدای پاك ښه پوهېږي. خو له یونیم زرو زیات وګړي اسیران شوي وو.

خو په دې جګړه کې زموږ د تلفاتو کچه هم لوړه وه... ښایي دلته هغه د چا خبره "درانده تلفات" له "سپکو دا" نه سره بېل کړو.

۱۹ مې او ۳۸ تپیان: څنګه دا د دغسې یوې جګړې لپاره ډېر دي که لږ؟ البته چې د هر وګړي ژوند ناپایه ارزښتناك دی. خو په جګړه ییزه چاره کې وژنه په یوه عادي کار اوړي او د هغې د پایلو سنجونه او څېړنه هم همدومره عادي بڼه غوره کوي. که د جګړو کلاسیکې بڼې په پام کې ونیسو نو په ښتو کې د بوختو وګړو له نیمایي نه د ډېرو وژنې ته درانده تلفات ویل کېږي. د دغسې تلفاتو له امله کنډك یا ټولی خپله ټوله جګړه ییزه وړتیا او یا د دغې وړتیا یوه برخه له لاسه ورکوي. له دغسې تلفاتو وروسته به برید ته د کنډك یا ټولی راپورته کول یا د جګړې اوږدولوته یې اړایستل ګرانه خبره وي.

که چېرې د وګړو ځلورمه برخه له منځه تللې وي نو بیا وایې چې دا ډېر تلفات وو او په کلاسیکه جګړه کې په جګړو د بوختو وګړو په سلو کې د پنځو- لسو وژنې ته عادي تلفات ویل کېږي. خو په افغانستان کې د شویو جګړو په برخه کې دغه ارقام او ارزونې سمې نه راخېږي. هلته موږ باید (او دنده مو هم دا وه!) د خپلو جنګیالیو ژوند چې ځومره کولی شوای، ژغورلی وای. موږ خرګند برلاسي وو او که به په کومې جګړې کې له یوه کنډك نه درې یا پنځه تنه ووژل شول، موږ به دا ډېر تلفات بلل. او که به پر دې رقم بیا لس- دولس ټپیان هم ورزیات شول نو بیا به یې قوماندان تر اورمېږه نیولی و او ویل به یې چې جګړه بریالی نه وه او آن دا چې بایلل شوې ده. البته

چې ټوله پړه به د لویې قطعې پر قوماندان لوېدله او ورته ویل کېدل به چې وړاندې د دغسې پېښې کېدل د زغم نه دي.

په هغه پېښه کې چې ما یې نکل وکړ، زموږ ۱۹ تنه ووژل شول! ۳۸ ټپیان وو! دا خورا ډېر دي. د پېښې خبر د سترګو په رپ کې هم مسکو او هم ببرک کارمل ته رسېدلی و.

کندهار ته څېرمه د جګړو پر دویمه ورځ پنځه یا اووه تنه وژل شوي او د ټپیانو شمېره تر لسو یا پینځلسو رسېدله. مجاهدینو دلته خورا سخته جګړه کوله. له بلې خوا هغوی د لنډ واټن جګړه کې زموږ له سرتېرو شاته نه پاته کېدل. هغوی تر مرګه جنګېدل، بله لار یې نه درلوده.

د ګلبدین حکمتیار څو زره کسیزه ډله (ښایي شمېر یې له پنځو تر اوو زرو تنو رسېده) په دغه ورځ بشپړه دړې وړې کړی شوه. او پخپله ګلبدین ته به وایې په څمکه ننوت، ورك شو.

زه مازیګر مهال کابل ته ستون شوم. چیریومنیخ او ساموېلینکه راته وویل چې افغاني مشران غمجن دي.

هغه کړی ورځ د ا.خ.د.ګ د سیاسي بیورو اوپراتیفي ډلې په ستردرستیز کې د چیریومنیخ تر څنګه تېره کړه. ببرک کارمل څو ځله د ټېلفون له لارې له هغوی سره تماس نیولی و.

په ماښې کې زما هرکلی د دولت د مشر له خوا په خورا ورین تندي وشو. څنګ ته یې لکه د تل په څېر ملګری "او" ولاړ و. څو کندهار ته څېرمه د درندو تلفاتو له امله د ملي ویر د اعلام په اړه یې یو ټکی هم ونه وایه، ته به وایې چې دا اصلاً پهده اړه نه لري او دغه وړاندیز هم ده نه دی کړی. اصلاً زه تل د ببرك دوه مخی (ژر- ژر بدلون) ته حیرانېدم: د کوم وړوکي بریالیتوب له امله به یې حالت له وارخطایی نه تر هیجاني خوښی بدلون کاوه. څو برخلیك ورته د نړی د یوه لرغوني هېواد په تاریخ کې ځای ورکړ. دا بله خبره ده چې داڅه ډول ځای دی او یا به راتلونکي توکمونه دهغه کړنې څنګه ارزوي. څو

د افغانستان په تاریخ کې ورته‌تل لپاره ځای بېل شوی دی. د دولت مشر...

ما دا ګڼله چې کندهار ته څېرمه شوې پېښې به ببرك اړ کړي چې افغاني پوځ (خپل پوځ!) ته په نوي نظر وګوري. رښتيا خبره دا ده چې هغه نه له دغه پوځ سره مينه لرله او نه يې پرې باور کاوه، ترې ډارېده. د هغه له برياليتوبونو، آن ډېرو وړو برياوو نه ډارېده، د هغه له ماتو يې خوښي کوله ځکه همدا افغانستان ته د نورو او لا نورو پوځونو د رالېږلو په اړه مسکو ته د لمن غوړولو موجه پلمه وه.

دلته اصلي خبره دا هم وه: لکه چې ومې ويل د ا.خ.د.ګ د پنځلسو زرو خلقيانو له ډلې نه د هغوی ډېرې برخې يانې ديارلسو زرو په پوځ کې خدمت کاوه. که چېرې په دغه هېواد کې يا ذ هغه په ځانګړو سيمو کې د ټينګې واکمنۍ په اوسني جوړښت کې پوځ په بنسټيز ځواك اوښتی وای د دې مانا د پرچميانو لپاره د مشرتابه د اوسني دريځ له لاسه تلل يا کمزوري کېدل راختلی شوه. له همدې امله وه چې ببرك په هېواد کې د ملي ديموکراتيکې واکمنۍ د ټينګښت چاره په عمومي ډول د شوروي په مټو ټينګول غوښتل. په دغسې يوه حالت کې نو ده او پرچمي پلويانو يې کولی شول په مرکز او اطرافو کې د مشرتابه حق له ځانه سره وساتي او خلقيان شاته، فرعي رول ته پورې وهي. ببرك او پلويانو يې د پرچم د ډلې د شمېر مصنوعي ډېروالي ته ملا تړلې وه. د دې خبرې په پام کې لرلو سره چې ببرك د اندروپوف تر وزر لاندې دی. ما داسې پايله (نتيجه) راوايسته چې (شوروي) سفير او په افغانستان کې د ك.ګ.ب نمايندګي د هغه او د پرچميانو ملاتړ کوي او په راتلونکې کې به هم دغه ملاتړ جاري ساتي. او له مجاهدينو سره به څوك جګړه کوي؟ خلقي پوځ! هغه پوځ چې زه ورسره پرله پسې په تماس کې يم او آن د هغه داعلی سرقوماندان د غوښتنې خلاف يې د ننګې او د جګړه ييزې وړتيا د ډېرېدو هڅه کوم. په عقل کې نه ځايېږي! خو بيخي همداسې وه. ببرك

داسې سرسري غونډې پوښتنه وکړه چې دغه عمليات ګنې د "اودار" له پلان سره سم ترسره شوي که څنګه؟ زما ځواب هو و. خو ورزياته مې کړه:

موږ اړ شو چې د مجاهدينو د چلونو او خيانت له امله په دغه پلان کې جدي سمونې وکړو.

هغه د دې څرګندونې په وړاندې چوپه خوله پاتې شو. او د ملګري "او" سترګوتې وځلېدې. زموږ سرونه سره خلاص شول. د ملي وير د اعلام خبره نوره له منځه ولاړه. او اعلی سرقوماندان لکه د مخکې مهال يو ځلې بيا د بري پر سپين آس سپور و!

زه پوهېدم چې ګلبدين به "حسيني انګور" راونه بښي. د کشف معلوماتو دا خبره پخه کړه: زما د سرلپاره اېښودل شوې بيه دوه برابره شوه. او درې ميليونو ډالرو ته ورسېده. ما ته وړانديز وشو چې هره ورځ کار ته په زغره وال ګاډي کې په بېلابېلو لارو تګ راتګ وکړم. د تلو- راتلو لپاره څو لارې ټاکل شوې وې او وړانديز و چې د ماښام له اتو بجو نه به ناوخته کور ته نه ستنېږم.

ډېر ژر څرګنده شوه چې داسې احتياطي کارونه بې ځايه نه وو...

د کندهار بيا يادول مې نه خوښېږي او کله کله ترې وشرمېږم. زما له خوا د ټاکل شوي پوځي دندې سرته رسول البته چې هم زما له عقيدې سره سمون خوړ او هم د لوی پوځي سلاکار په توګه زما له فرض سره. خو د شعور په تل کې راته دا خبره څرګندېدله چې پر ينوه بې خونده چاره بوخت يو... او يوازې زموږ د شوروي پوځ د جنګياليو مړينې، معيوبيت او د خپلو ډېرو ډېرو پوځي ملګرو ټپونو (په جګړه کې موږ ټول د يوې لويې کورنۍ غړي وو) اړايستم چې داسې غوځ او بېرحمه ګوزارونه وکړم.

څنګه زه اوس له دغه هرڅه نه ځان په خنګ کړم؟ يا د نن ورځې د مود له مخې خپل لاسونه پاك کړم؟ نه غواړم. نه غواړم چې

پړه پړهېچا واچوم: نه يې پر شکيدچنګه اچوم چې په افغانستان کې ووژل شو، نه يې د اويايمې لوا پر قوماندان شاتين اچوم او نه پر بل کوم چا. څه چې رښتيا دي هغه رښتيا دي او دا رښتيا يوازې يوه ده: د دغو عملياتو د لارښوونې چاره هم زما پر غاړه لوېدلې وه او ما چې څه کولی شول ومې کړل چې هم جګړه ييز عمليات ترسره شي او هم چې څومره کېدونې (ممکنه) وي د خپلو مادونانو ژوند وژغورم.

ماښام مهال مې د ځانګړي ټيلفون "بولاوا" له لارې اوستينوف ته رپوټ ورکاوه. هغه په ځير سره غوږ نيولی و، کله کله به يې هوهو، يا هم هم ويل او په پای کې يې د خندنۍ (ريشخند) په دود وپوښتل:

- دا ګلبدين نو درنه څنګه خلاص شوی دی، هه؟ د هرڅه په اړه مو فکر نه وکړی؟ د استازو د لېږلو په اړه مو خو ښه فکر کړی و...

- ملګری وزير، ما له حالاتو سره سم عمل کاوه،- او په سپين سترګي لوړ غږ د ټيلفون په غوږۍ کې وغړمبېدم.

له هاخوا نه د "تو- و- و" اوږد غږ پورته شو او رابطه پرې شوه.

چې دا د ستالين د دورې ولسي کميسار يې يو ځل د کندهار انګورښو ته... څه پرېږده! ګونډې هرڅه سم شي. د ګلبدين نقشه خوشنډه شوه... کندهار ته څېرمه د هغه اصلي ډله له منځه وړل شوې ده. زما خوشحالي دا وه. او اوستينوف؟ هغه خو په پوځي چارو کې د يوه خلي په اندازه نه پوهېده او نه پوهېږي. خو په زړه کې لاهمداسې ناکراره وم، کوم شي ځورولم.

# شپږم څپرکی

د افغانستان په شمال کې د بلخ ولایت او اداري مرکز یې- د مزارشریف ښار- ځانګړی ستراتیژیك ارزښت درلود. له دغه ځایه د ترمز لور ته لار غزېدلې وه چې د اوسپنې د لارې وروستی تم ځای په کې و. دغه تم ځای ته د هېواد له ختیزه او شماله د ببرك کارمل رژیم ته د مرستې په نامه په وسلو، مهماتو، تخنیکي وسیلو، د سون موادو، سمنټو، لرګینو تختو، کیمیاوي سرې او غنمو ډك اورګاډي ور روان وو. ډېر ځله به دغه نعمتونه چې په موټرو کې بار د کتارونو په بڼه د سالنګ په لور خوځېدل، د قوماندان دوستم(؟) د سړو له خوا یا تالاترغۍ کېدل او یا به اور وراچول کېده.

د مزارشریف (بلخ) والي او اداري کارکوونکو پر ښار ربښتینې واکمني نه درلوده او په وېره کې یې شپې سبا کولې، داسې چې دوه پرله پسې شپې به په یوه ځای نه بیدېدل. هغوی دغه راز د خپل سر له وېرې له کابل سره اړیکې نه ټینګول.

خو ورسره ورسره د افغان- تاجك او افغان- ازبك پر ګډه پوله حالات نسبي آرام پاته وو. دوستم(؟) انتظار کاوه او یا لکه چې بریښي زموږ د سرحدي ځواکونو له ځوابي بریدونو ډارېده.

خو دې حالت مونږ ته آرامي نه شوه ببنلی. مونږ نه شو کولای یوې غلیمې ډلې ته اجازه ورکړو چې زمونږ پولې ته څېرمه فعالیت وکړي.

د ترانسپورتي شراینو څنګ- څنګ ته د غلیم ورځنی منډې- ترړې او په ولایت کې یې د ډار او څپ څپاندی ساتنه د یوه جګړه ییز عمل د پیل لپاره اصولاً کافي دلایل وو.

په ځانګړي ټېلفون د شوروي اتحاد د سرحدي ځواکونو له قوماندان سترجنرال وادیم ماتروسوف سره له مقدماتي خبرو او د هغه د ننګې له خپلولو وروسته نو د دې خبرې سنجول په کار و چې څنګه زمونږ تر ګوزارونو لاندې د شاتګ پر مهال دوستمیانو ته له شوروي پولې د تېرېدو اجازه ورنه کړل شي.

چېر میومنیخ ماته وړاندیز وکړ چې د حالاتو د سمې جاج اخیستنې او د مجاهدینو د ورکاوي لپاره د وروستی پرېکړې د کولو په موخه پخپله مزارشریف ته ولاړ شم. باید خبره نوره له دوستم سره "سپینه" شي او دا کار دې د ژمي له رارسېدو مخکې، یانې د نوامبر له پای او د دسمبر له پیل نه شاته نه غورځول کېږي.

د کشف له معلوماتو برېښېدله چې د اکبر شېرآغا د سیمې په خو کلیو کې د دوستم تر مشری لاندې د مجاهدینو ډېر ځواکونه سره ټول شوي دي.

مونږ باید دا خبره په پام کې نیولې وای چې د هېواد په شمال کې د وګړو ډېر یې ازبکان، تاجکان او هزاره ګان دي او د پښتنو شمېره په کې لږه ده. په شلمو او دېرشمو کلو کې د شوروي واکمنی له لاسه ډېر باسمچیان هم دې خوا (راپورې وتي) او دیره شوي وو. د هغو لمسیان او کړوسیان اوس په دغو سیمو کې ژوند کوي. هغوی ته تاریخ په یاد دی او شوروي ته په کرکه ګوري. مانا دا چې مخې ته سختې او د تربګنی نښې پرتې دي.

مزار شریف ته له الوتلو سره سم مې د ځلوېښتم لښکر له پنځمې او دوه سوه لومړۍ نمبر پلو فرقو او د افغاني پوځ د اتلسمې او شلمې پلو فرقو له قوماندانانو سره وکتل او د دوستمي پوځیانو د تاکتیك په اړه مې معلومات وغوښتل. د اکبر شېرآغا د کلیو له پاسه په هلیکوپټر کې والوتم او د سیمې په اړه مې تصور پیدا کړ.

ټولو ښو د دې شاهدي ویله چې دا عملیات ګران او ښایي اوږده راوخېږي. اعتراف کوم چې ما غوښتل د دغو عملیاتو لارښوونه پخپله په غاړه واخلم، خو څرنګه چې یې نوښتګر ولاد یمیر پتروېچ (چیریومنیخ) و نو پر خپل زړه مې د ډېرې پر اېښودلو منلې وه چې له کابله به دهغه کړنې څارم.

څو ورځې وروسته چیریومنیخ د عملیاتو د سرته رسولو پلان راوسپاره.

د ګډون لپاره د ځلوېښتم لښکر د پنځمې او دوه سوه لومړۍ نمبر پلو فرقو غونډونه او د افغاني اردو د اتلسمې او شلمې پلو فرقو جزوتامونه غوره شوي وو. د دې ترڅنګ هوايي ځواکونو او دیسانت ته ځانګړې ونډه بېله شوې وه.

زموږ د کړنو ماهیت په لنډو داسې و: غوښتل مو له پاتې نړۍ سره د دغو کلیو د ارتباطي لارو په ټړلو په شپږو سیمو کې دیسانت ځواکونه پلي کړو چې هر دیسانت به له ټولي نه تر کنډك ځواك لري. د اکبر شیرآغا څېرمه سیمو لپاره تر وسه وسه د ډېرو کنډکونو ټولول او بیا یې پرې ورمارشول چې له دیسانت ځواکونو سره په ټول ځواك یو ځای شي او په دې توګه له دغې سیمې نه یو کلك ملاوستنی (کمربند) راتاو کړي. البته چې له دې کارونو وروسته مو غوښتل تسلیمۍ ته د دښمن د اړایستلو په موخه اولتیماتوم ورکړو. د اولتیماتوم د ردولو مانا به دغلیم د ورکاوي لپاره د عملیاتو پیل وای.

د دغسې يوه لړليد د انځورولو په ترڅ کې زما غوښ ټينګار دا و چې مجاهدين دې له کليو نه راوتلو او د پرانستې جګړې کولو ته اړ ايستل شي او د خلکو د اوسېدو پر سيمو دې د جګړه ييز اور داغېز پرېوتو ته اجازه نه ورکول کېږي. ما په غوڅه توګه د دغسې يوه کار سرته رسول منع کړي وو.

موخبرانو رپوټ ورکړی و چې په کليو کې د ټولو شويو مجاهدينو شمېر له شپږو تر اتو زرو تنو رسېږي. د دومره غټې شوروي دښمنه ګنې ګونې په منځ کې يوازې د يوه ملا د زره ستنې زموږ لور ته کړې وې يا يې لږ تر لږه غوښتل زموږ په ګټه کار وکړي. او موږ په همده پورې زړه تړلی و او د مسلمانانو په منځ کې مو د هغه پر ګرانښت او اعتبار حساب کاوه.

او دا دی چيريومنيخ له خپلې اوپراتيفي (عملياتي) ډلې سره مزار شريف ته راوالوته.

شپږ چورلبکيز (هليکوپتري) دسيانته مو راکوز کړل. له هغوی سره د يوځای کېدو لپاره د افغاني پوځ اته کنډکه له توپچي ځواکونو سره او زموږ شپږ موتوريزه کنډکونه پر زغره والو ګاډو روان وو چې دوی هم توپونه لرل.

او ناڅاپه واوره پرېوته. نيم متر پنډه وه. آسمان پر غرونو راکوز شو او الوتکې او چورلکې يې په ځمکې پورې ومونښلې. د شپې له خوا د تودوخې درجه تر منفي اتو- لسو لوېدله. کنډکونه ځای پر ځای ودرېدل.

ديسانت ځواکونه په غرونو کې له ډېر سخت حالت سره مخامخ شول. که څه هم هغوی خواړه، د سون مواد، پوځي کالي، کېږدۍ او مهمات درلودل خو سړو او له اساسي ځواکونو نه جلا پاتې کېدو انديښنې ورپاروليږ وې او لکه چې څرګنده ده د ډار تلقين يې ورته کاوه. خو د دې ترڅنګ مجاهدين په کليو کې تاوده ناست وو او د تسليمۍ يې هډو فکر نه کاوه.

په مخابره کې مې د هر دیسانت له قوماندان سره خبرې وکړې او ترې ومې غوښتل چې د اساسي ځواکونو تر وررسېدو ځانونه ټینګ کړي. او په سر کې مې د "شپکین" د جګړې صحنې تېرېدې-راتېرېدې. په دې اړه مې آن په کوچنیوالي کې لوستي وو او د شعور په تل کې یې ناستو جزیاتو سړی په نهیلۍ (مایوسۍ) کې اچوه. ما جنرال چیریومنیخ ته امر وکړو چې د سختو اقداماتو په ګډون دې له دیسانت ځواکونو سره د نورو کندکونو د چټکې نښلېدنې لپاره ټول کارونه تر سره کړي. پوځونو له واورو په ډکو لارو او کندوونو کې په یوه شپه او ورځ کې له پنځو تر اتو کېلو مترو لارې په وهلو درې ورځې او شپې خپل تګ جاري وساته. پوځي زغره وال ګاډي پر ماینونو الوتل او یا د مجاهدینو له ډزو سره مخامخېدل چې په مورچلو او کمینو کې پټ ناست وو. عملیاتو زموږ لپاره تر ټولو ناوړه بڼه غوره کړه. دیسانت ځواکونو لاهم په غرونو کې خپل شته والی اوږداوه. سړو هم ورسره زور اخیسته.

په څلورمه ورځ چیریومنیخ بم غورځوونکو الوتکو ته امر وکړ چې په لړ لوړوالي د کلیو له پاسه والوزي او په دې توګه یې د دې خبرې کول غوښتل چې د محاصرې کړۍ بشپړه شوې او غلیم دې نور د رحم تمه نه کوي. غوځوالی پر خپل ځای، خو موږ البته د تسلیمۍ لپاره مجاهدینو ته د پاڅو غورځول هم جاري ساتلي وو. بې ځایه!

ما امر وکړ:

- ایلمار! دوه چورلکې چمتو کړه، د قوماندانۍ مرکز ته چېریومنیخ ته ورځو

برونینیکس د خپل دودیز احتیاط له مخې مخالفت وکړ:

- . دا کار باید ونه شي.

- ولې؟ ماته همدا ګړۍ هلته اړتیا ده، پوه شوې، هلته!

- دا خو سمه ده، خو چېريومنيخ هم ښه تجربه لري او ورسره ورسره ځان غوښتونکی هم دی له همدې ځايه يې په مشورو سره مرسته وکړئ.

د ايلمار خبره مې ومنله او امر مې وکړ چې هر دوه ساعته وروسته دې د مزار شريف په لمنو کې د حالاتو رپوټ راکړل شي.

يوازې په شپږمه ورځ کندکونه له سختو تلفاتو وروسته په دې بريالي شول چې يو پهبل پسې ديسانت ځواکونو ته ځان ورسوي. داسې وايسېده چې ګنې ناوړه حالت نور شاته پاتې شوي دي. چېريومنيخ يوځلې بيا د پانو د غورځولو هڅه تکرار کړه. خو هېڅ غبرګون يې راونه پاروه. دغه وخت يې نو په مخابرې کې له ما سره تماس ونيوه او وړانديز يې وکړ چې د کليو شاوخوا دې له هوا نه وويشتل شي. ما له خپل سياسي مرستيال سره په داسې حال کې سلا وکړه چې نه مې غوښتل په دې اړه کارمل يا رفيع ته څه ووايم، ځکه هڅه مې کوله د کومې ګرانې پرېکړې د کولو پېټی پر هغوی وانه چوم. مونږ د چېريومنيخ وړانديز ومانه ومو پتيله چې د څلرويشتو ساعتو په ترڅ کې د کليو شاوخوا له هوا نه وويشتل شي (ما ټينګار کړی و: "د خلکو کورونه دې نه ويشتل کېږي"). دا کار تر سره شو خو بيا هم هېڅوك تسليم نه شول.

تر دغه وخته نو مونږ ربنتيا هم د محاصرې کړی بشپړه کړې وه او غليم ته مو دا ټکی په څرګنده وښوده. غبرګون صفر و.

چېريومنيخ د جلا کوونکو ګوزارونو د کړنې وړانديز مو وکړ. داسې چې يو کلی له بل رابېل کړای شي او مجاهدينو ته په ګډه د عمل وخت ورنه کړل شي. خو دا نظريه زمانه خوښېږي. بيا هم انتظار کوو. بيا هم هوايي بمباري کوو خو هرځل يې لمن کورونو ته نږدې او لانږدې کېږي...

زړه مې د کوم شي د پېښېدو زېری راکاوه، ځکه مې د جلا کوونکو بمباريو د سر ته رسولو په اړه د چېريومنيخ د وړانديز په منلو

کې بیره نه کوله. آخر د مخالفینو په منځ کې خو زموږ سرې هسې خوشې ناست نه دي. هغو باید داسې څه کړي وای چې د دوستم سرې زموږ تر ګوزار لاندې راشي او نه د کلي عادي وګړي.

او له شپو په یوه شپه مجاهدینو د محاصرې له کړۍ د وتلو هڅه پیل کړه. نښته تر سپېده داغه روانه وه. او کله کله به خبره له ډزو نه د لاس ګرېوان نښتې ته واوښته.

بیا وروسته په کابل کې چیریومنیخ راته ویلي وو:

- داسې ترخه نښته مې د ټولې سترې هېوادنۍ (دویمې نړیوالې جګړې په ترخ کې نه وه لیدلې. درنا په لګېدو مو ولیدل چې مړو د ځمکې پر مخ دواړو سپین غوړېدلی تغر تور اړولی دی.

او په ساړه سهار هم د بنیادم د وینو ورم لګېده. ټپي مجاهدینو له تسلیمۍ نه ډډه کوله. هغوی یوبل سره څکول او یا به یې خپله ځانونه وژل. یو نیم زموږ له کړۍ نه په وتلو بریالی شوی هم و، خو د داسې کسانو شمېر لږ و.

چېریومنیخ خپلې خبرې داسې اوږدې کړې وې:

- په کلیو کې مې د کشف عملیات تر سره کړل. کنډکونه هم کلیو ته ورکوز شول. په کورونو کې بوډاګان، ښځې او ماشومان پاته وو، هغوی چې د توپك د وړلو جوګه وو، د شپې مورچل ته ختلي وو.

چیریومنیخ له یوه ژور اسویلي وروسته زیاته کړه:

- او د تل په څېر د واکمنۍ له ټینګولو وروسته د خادیستانو له خوا د کلیو چاڼول پیل شول...

او زما پر بدن ویښته نېغ ودرېدل.

څو ورځې وروسته مزارشریف ته څېرمه د عملیاتو نور جزئیات راڅرګند شول.

په هغه وخت کې چې زموږ چورلکیو دسهار له خوا د کلیو شاوخوا ویشتله او په زیاتېدونکي بڼه یې د خلکو کورونه ټکول،

دوستم په یوه کلي کې کوچنۍ جرګه راوبلله او له ملایانو سره یې په ګډه دا پرېکړه کوله چې څه وکړي. د تسلیمۍ په خبره ټول یوه خوله وو کفاروته مه تسلیمېږئ او تر وروستۍ سلګۍ جګړه وکړئ.

بوډاګان، ښځې او ماشومان دې د کورونو خوندي ځایونو ته ولاړ شي او نور ټول دې چې ځوك د وسلې د وړلو وي، د محاصرې له کړۍ نه دوتلو هڅه وکړي. دغه پرېکړه په اصل کې "زموږ" ملا کړې وه چې ځان یې د مزارشریف په خاوره کې د اسلام د پیغمبر لمسی باله. نورو هم دا خبره ومنله او په پای کې دوستم هم دغه پلان هوکې کړ. همده خپل سړي د محاصرې له کړۍ نه د وتلو لور ته په مخه کړل. او د دې مانا حتمي مرګ و.

خو هرڅه به سم وای که چېرې "زموږ" سړي په دې ترڅ کې خپل ژوند له لاسه نه وای ورکړی. ډېر ژر پخپله دغه ملا، د هغه کورنۍ او خپلوان یې زندی، حلال شوي او په ټوپك ویشتل شوي وموندل شول.

د مزار شریف (بلخ) والي، د هغه د ادارې ټولو غړو او ډېرو خپلوانو یې هم په دې لړ کې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

دوستم ته د بې رحمه غچ اخیستنې چل زده و.

خو دی پخپله د محاصرې له کړۍ په تېښته بریالی شوی و،

او ده بیا وروسته نورې ډېرې بې رحمۍ وکړې. که به زموږ وګړي په لاس ورغلل په سخت زړه به یې عذاب ورکاوه یا به یې خپلو وګړو ته د هغو د ځورونې ویل. له دوستم نه ډېر لږ وګړي ژوندي راوتلي دي.

... له ما سره د افغاني جګړې له وخته د عملیاتو نقشې او جدولونه پاتې دي چې رنګینې کرښې او غشي (ویکتورونه) پرې پراته دي. چې کله کله هغوی ته ګورم نو له ځانه سره فکر کوم: څومره ښایسته او دقیقې نقشې دي! چوکاټ یې کره او پر دېوال یې وځړوه! تاسې ګنې وایاست د پوځي عملیاتو مرکز په دغه نوښت کې د یوه انځور ګر له نوښته لږ تمثیل یا لږ احساس ځای شوی دی؟ خو دلته د

هري پاڼې يا هرې نقشې آن يو ټکی هم د هغو زرګونو وګړو د وژنې مرګ او غم نښه ده چې همدا لړه موده وړاندې يې آرام ژوند درلود او له جبري مړينې او پنوځي ګواښ نه ناخبره وو. او دا دی موږ دا نقشې او دا جدولونه وکښل او خلکو ته په افغانستان کې د خپلې زړورتيا ربښتينې بيه او زموږ د شوروي انترناسيوناليزم ارزښت جوت شو...

او البته چې په دې عملياتي نوښت کې خپل منطق، خپل نظم او آن ښکلا هم شته. خو د هغه تر شا داسې پېښې پټې دي چې له ښکلا او د خلکو له طبيعي ژوندانه نه ډېر واټن لري. د هغه تر شا د عسکر ډېر زيار، درونـد او ستړی کوونکی زيار پروت دی. هم پنجشېر له خپلو لوړو غرونو، له خپلو واورو او روسي ښکنځلو سره، هم د کندهار انګوربڼونه د دښمن له خاموشو چلونو سره چې په ځنګلي سوړو کې زموږ د وژنې په تمه پټ ناست دي، او دا دی اوس مزار شريف... دا ټول دا خبره تائيدوي چې: جګړه هم يو کار دی، خو ډاروونکی او غم لړلی.

# اووم څپرکی

د "اودار" عملیات بریالي پایته ورسېدل. د کابل، بغلان، پروان، غزني، زابل او ارزګان ولایتونه په چټکۍ له مجاهدینو وژغورل شول. په علاقداریو، ولسوالیو او لویو کلیو کې د افغاني او شوروي پوځیانو موقت ګارنیزیونونه منځته راتلل چې شمېر یې تر یوه ټولي نه اوښته او د ولسوالیو او علاقداریو په مرکزونو کې تر یوه کنډکه پوځیان اچول کېدل. په دې توګه نو ملي دیموکراتیکه واکمني د پوځ په اوږو راجوړېدله. په دغو عملیاتو کې د څلوېښتم لښکر تر اتیا زرو تنو او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ ۱۲۰- ۱۴۰ زرو تنو برخه واخیسته. د هغوی د ننګې لپاره هوایي ځواکونه رابلل شوي وو چې په کې ۱۹۰ الوتکې، تر ۲۵۰ بم غورځوونکې جټ الوتکې او تر ۱۱۵ چورلکې راتللې. د غلیم پر مقاومو ډلو د توپچي تر اویا بټریو پرله پسې ډزې کولې. د ټانک شپږ کنډکونه چې ټول ت- ۵۵ الف ډوله ۱۸۰ ټانکونه کېږي په احتیاط کې ساتل شوي وو چې دا د چمتووالي په حال کې د هرې جګړې د برې ضمانت کولی شي.

د عملیاتو مشري د دفاع وزیر رفیع او ماکوله. خو په سیمو کې د جګړو عملي سمبالول او پرمخ بیول زما د مرستیال تورنجنرال پیتر شکیدچنکه او د څلوښتم لښکر د قوماندان تورنجنرال باریس تکاچ په غاړه وو. زه او رفیع به هره ورځ د هغوی د قوماندې مرکزونو ته ورتلو، د جګړې ډګر به مو څاره او اړینې (ضروري) لارښوونې به مو ورته کولې. زموږ بېړه دا وه چې د ژمي له رارسېدو وړاندې د هېواد مرکزي سیمې له مجاهدینو وزګارې او ملي دیموکراتیک واک په کې ټینګ کړو.

موږ ته پته لګېدلې وه چې احمدشاه مسعود او حکمتیار په پنجشېر کې او کندهار ته څېرمه له ماتو وروسته یو له بل سره شور کړی، یو بل یې آن په خیانت تورن کړي او پړه یې یو د بل پر اوږو اچولې ده. البته چې په دې کار اوبه زموږ ژرندې ته تویېدې. او موږ د دښمن ټکولو ته همداسې دوام ورکاوه چې کله کله به خورا تجربه لرونکو قوماندانانو لارښوونه ورته کوله.

د افغانستان د دفاع وزیر رفیع او زه به چې د "اودار" د عملیاتو لارښوونه مو کوله، هرځل د جګړې له ډګر نه کابل ته په راستنېدو سره نېغ ببرک کارمل ته ورتلو چې رپوټ ورکړو. کارونه سم روان وو او په اړه یې د معلوماتو ورکړې هم خوند کاوه. ببرک هم له موږ سره یوځای د خوښۍ احساس کاوه.

زه د رپوټ په ورکړې کې دقیق او صریح وم خو د احتمالي لرلیدونو د څېړنې پر وخت مې "د دوه ګونو نقشو قاعده" په پام کې ساتله چې اوس بیخي د ازمېښت له بتۍ وتلې وه: د کشف د معلوماتو له مخې دښمن زموږ د ویلاړ (عزم) په اړه نور په تیاره کې پاتې شوی و. مصلحتي درو غو د جګړو د بریالیتوب ضمانت کاوه.

البته چې اوساد چې به هم د ببرک ترڅنګ و. هغه به زموږ خبرې اورېدلې او سر به یې داسې خوځاوه ته وا د لوی پوځي سلاکار د خبرو پخلی کوي. او زه به دې حالت بې ویلو ځورولم. له ځانه سره به

مې ويل: که چېرته په ريګا کې زما لاس ته راشې نو چې ډېر رحم درباندې وکړم ايله به له خپل ګمارل شوي کس سره د خبرو اجازه درکړم. خو ملګري "او" دلته د اندروپوف استازي توب کاوه او شته ـ والی يې باید منل شوی وای.

خو له دې سره سره دی د دوو نقشو په شتوالي خبر نه و او ځکه نو د اندروپوف په اداره کې هم چاته د هغو پته نه وه. او ما دې ته د خپل یوه کوچني بري په سترګه کتل. د رفيع د رپوټ ورکولو پروخت به ما د دولت مشر په ځير سره څاره، چې به د دښمن د تلفاتو خبره ياده شوه، ببرك به ته وا طبيعت يې خرابېږي، په منډو ترړو به سر شو، په خپل ريږدېدلي لاس به يې له مېز نه پنسل راواخيسته او هغه به يې کوله چې د ځان لپاره يو څه وليکي. خو سم يې دا کار نه شوای کولی، يو ځلې بيا به يې د همدغې خبرې د کولو غوښتنه کوله ښايي هيله به يې درلوده چې لږه شمېره واوري. خو ارقام هماغسې بې رحمه وو او ښايي ببرك د هغو په اورېدو دا معلومات په جګړه کې له خپلې ونډې سره غوټه بلل او ما ته برېښېده چې همدغه وخت د هغه باطن په ډاګه کېده: زما مخې ته يو داسې سړی و چې پر خپل چاپېريال له اغېز ښندلو زيات د هغو ارزونو په فکر کې و چې ښايي ډېر ژر د ده په اړه وشي او هرومرو به يې پر سياسي مقام اغېز غورځوي خو د انديښنې لړۍ ژر د هغه له خبرې پورته کېدې او يوځلې بيا د بريو په خوښيو کې ډوبېده او مننې يې کولې:

- مننه شورويانو، مننه!

وروسته به د "سميرفوف" په شرابو ډك ګيلاسونه راووتل...

په ياد مې دي چې ببرك، البته د ملګري "او" له خولې زما د تېر پوځي خدمت په اړه د معلوماتو له تر لاسه کولو وروسته (ما په آس لرونکو قطعو کې خدمت کړی او د سپرو د ټولګيو قوماندان وم) د شرابو د څښلو پروخت وويل:

- پر سر يې واړوئ!

خو مــا د تــل پــه خبر شــوندو تــه د شــرابو پیــالي پــه هســي نــږدې کولــو بسنه کولــه، پــه تــېره بیــا چــې مخــې تــه د لــوی پــوځي ســلاکار د اداري د کــارکوونکو جلســـه هــم وه.

د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندان تـه د جـګړه یـیزو عملیـاتو پـه اړه رپوټ ورکولـو دغسـې بـنه درلـوده.

د مزارشـریف لـه غمـیزې وروسـته ببرك تـر روحـي فشـار لانـدې راغـی. لـه ملګري "او" سره پـه ګډه یـې شـرابو تـه مخـه کـړه. هـېڅوك یـې نه منل، په هېڅ ځای کې نه ځرګندېده او آن پـر تلویزیـون یـې هـم وینـا نـه کولـه. نـور، زیـری، کشـتمند، رفیـع او آن نجیـب نـه شـوای کولـی دی پـه مـانۍ کـې ووینـي. او دا ټول د سیاسـي بیـورو او دارالانشـا غـړي، د حکومـت مشـر، د دفـاع وزیـر او آن پخپلـه د خـاد رئیـس وو. یـوازې اناهیتـا راتـب زاد چـې دغـه وخـت مـوږ پخپلـو کـې د نادیژداکنسـتانتینو فنا* په نامه یاوله، کله کله مانۍ ته ورننوتلی شوه. تـابییف زمـا لـور تـه سکروټې راویشتلې. لـه بلې خـوا پخپلـه زه هـم پوهـېدم چـې حـالات نـازك او پیچلـي دي او مـا تــه یــې هرومـرو څه زور راوتونکـی دی: تـابییف او سپولـبنیکوف یقیناً د اندروپـوف لـه لارې هـڅه کـوي چـې مـا پـه څه بـلا واړوي (او بنسټ بـه یـې دا وي) چـې تـه ګوره د هـېواد لـه مشـرتابه سره یې تمـاس شـکېدلی دی. سربېره پـر دې ګواکـې جـګړې هـم تـل سمې تـر سره شـوي نـه دي او پـه تـرڅ کـې افغـاني پـوځ تـه زیـان اوښتـی او پـه علاقداریـو او ولسـوالیو کـې د جـګړو لـه امله ملکـي وګړي هـم خـورا زیـانمن شوي دي. کـه چـېرې مـا پـه لنډ وخت کـې دهـېواد لـه مشـرتابه سره د تمـاس د بیـا ټینګولـو ملاتړلـی نـه وای ویـل کـېدې بـه چـې ګنې دا خبرې رښتیا دي خو دا کـار بـاید څنګه ترسره شي، نـه پوهـېدم. ستونزه خوراګرانـه وه.

---

* نادیژداکستانتینوفنا کروپسکایا د شوروي دولت د بنسټ ایښوونکي ولادیمیر او لیانوف (لنین) مېرمن وه. (د.ج)

د سیاسي بیورو د ټولو غړو تر منځ چې د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره ورسره لاس یو کېدلی شي، البته چې ما په ذهن کې اناهیتا راتب زاد غوره کړه. دا هم د سیاسي بیورو غړې وه، هم یې ببرک په هرات کې د ګنې ګونې له غوسې ژغورلی و، هم د ببرک ملګرې وه او هم یې مینه ورسره درلوده: دا دی هغه څوک چې له ماسره مرسته کولی شي.

ما باید په ولایتونو کې د جګړه ییزو عملیاتو د څېړنې په پلمه د دولت له مشر سره کتلي وای او هغه مې د دغه پرله پسې شرابو له ښنلو ژغورلی وای. وروسته به لابل غوره کار دا وای چې د پوځ له مشرتابه، د جنوبي او جنوب ختیزو ولایتونو له والیانو او د ټبرونو له مشرانو سره مې ورته غونډې جوړې کړې وای. دغسې کتنه یا په دقیقه توګه جلسه په جلال آباد کې جوړېدلای شوه. موږ پوهېدو چې کارمل له دغو ځایونو سره مینه درلوده او بیا بیا یې په ویاړ سره دا خبره کوله چې سل کاله وړاندې ښنګه افغانانو همدلته د انګرېزانو پوځیان له یوې مخې له منځه وړي وو.

موږ د دغسې یوې چارې فکر لا له مخکې پیل کړی و او هغه مو د دولت د رئیس او مرکزي واکمن په توګه د ببرک کارمل د اعتبار دلوړتیا وسیله بلله.

خو وخت روان و- یا الوته. ببرک له ملګري "او" سره په ګډه شرابو ښنلو ته دوام ورکاوه او دا دویمه اووه نۍ وه چې هېڅوک یې ماڼۍ ته نه ورپرېښودل. د ماڼۍ د وره کیلي ګوتې زما په جیب کې نه وه. او دا دی یو ناڅاپه ساموبلینکه خبر راکړ چې جنرال ګل آقا غوښتل له ژباړونکي پرته د بیخي پټو خبرو د څېړنې لپاره د یوې کتنې په اړه د اناهیتا راتب زاد هیله ماته ورسوي. زړه مې په ټوپونو شو: غرڅه د ښکاري پر لور راځغلي؟ زما کتنې ته دوی مهمې خبرې راروانې دي او څنګه دا خبره سپینېدلی شي چې د ببرک کارمل د ماڼۍ کیلي خو به له دوی سره نه وي؟

له چیریومنیخ او ساموییلینکه سره تر سلا وروسته مو پرېکړه وکړه چې زه به له اناهیتا سره په خپل دفتر کې له اضافي شاهدانو او آن له ژباړونکي پرته گورم. هغې په څرگنده دا غوښتل چې د څرگندو (صریحو) خبرو د کولو په لار کې باید هېڅ خنډ نه وي.

د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ د سیاسي څانگې رئیس جنرال گل آقا له ډېرې مودې راهیسې په تېره بیا په پوځ کې د ببرك باوري کس و چې تروسه وسه یې د هغه په پرچمي کولو (پرچمیزیشن) کې زیار ایسته. په تېر وخت کې چې کله امین واکمن و او ببرك کارمل په چکوسلواکیا کې سفارت ته استول شوی و (او دا د افغانستان له مشر تابه نه یو ډول شړنه وه)، نور په انگلستان او اناهیتا په یوگوسلاویې کې سفیران ټاکل شوي وو، کشتمند او رفیع په پلچرخي کې بندیان وو او زیري د امین په مخکې منډې وهلې نو دغه وخت د افغانستان په سختو مخفي شرایطو کې گل آقا د ببرك پټ رابط و. د افغانستان د حالاتو، د امین د زور واکو کړنو او د پرچمیانو د وژنې په اړه ببرك، نور او اناهیتا ته ټول معلومات یا همده رسول او یا دده له لارې رسېدل. دا هرڅه البته ببرك، نور او اناهیتا سره راټول او وروسته اندروپوف ته رسېدل. ك.گ.ب، د همدغو معلوماتو پر بنسټ د افغانستان راتلونکي احتمالي مشران په نښه کول. او د ۱۹۷۹ کال په دسمبر کې د شوروي عسکرو له ننوتلو او د ك.گ.ب، د غړو له خوا د خلقي امین له گوښه کولو او وژلو وروسته اندروپوف د شوروي اتحاد د کمونست گوند د سیاسي بیورو په سلا د افغانستان د خلك دیموکراتیك گوند مشرتابه ته پرچمي ببرك کارمل او د هغه نژدې گوندي ملگري ورپورته کړل.

گل آقا څو کاله وړاندې د ریازان د هوایي دیسانت په پوځي پوهنځي کې زده کړې کړې وې. روسي یې ښه زده وه او تر دې هم مهمه دا چې اناهیتا ته نږدې و لکه چې بیا بیا یې داخبره په ویاړ سره

یادوله. د ده لپاره چې په شپنۍ کورنۍ کې ستر شوی و دا د خوښۍ خبره وه چې له ښاغلو، د پرچم له مشرانو او د هېواد له اشرافیت سره په یوه کچه کې راغلی و، د دې لپاره چې دی ځان له نورو سره برابر وبولي او نور یې هم د اشرافو د کړۍ برخه وبولي، ده ته د ډېرو خولو تویول په کار وو.

هرڅه خو راپېچلي خو له بلې خوا په انساني دود عادي او ساده وو...

له اناهیتا راتب زاد سره د کتنې سمبالول په سیاسي چارو کې زما مرستیال او د افغانستان د پوخ د سیاسي چارو د لوی رئیس یانې پخپله د ګل آقا سرسلاکار ویکتور ساموېلینکه په غاړه واخیستل.

ماښام مهال ساموېلینکه خبر راکړ چې اناهیتا چمتو ده سبا سهار پرلسو بجو له ګل آقا سره یوځای زما دفتر ته راشي. هغه پوهېده چې زه یې په هغو غوښتنو خبر یم چې له ما نه به یې کوي او البته چې هغه هم پوهېده چې زه ترې څه غواړم. بربښېده داسې چې زموږ ګټې سره ګډې دي....

عجیبه خبره ده، څومره دا ډول غونډې به ماجوړې کړې وي خو هرځل به آرام او پر ځان باوري وم. خو دا ځل نه پوهېږم چې ولې وارخطا وم، د غونډې لپاره مې ځانګړې، ډېر جدي او هغه د چا خبره تشریفاتي چمتووالی پیل کړی و. ماښام مې انناواسلیفنا ته له اناهیتا سره د کتنې او د هغې د دلیل په اړه لنډه نکل وکړ. زما مېرمنې په افغانستان کې د اوسېدو په دې څو میاشتو کې بیا بیا له اناهیتا سره کتلي وو. هغوی آن یو د بل خورلنې شوې وې. ښایي یو په بل کې یې کوم ګډ څه موندلي وو...

هغې راته وویل:

- سانیا (د الکساندر لنډه شوې بڼه) مصر درپه زړه کړه. د ناصر معشوقه (ملګرې)، د عمرو ملګرې (معشوقه) درپه زړه کړه. په

زړه دي دي چې هغوی د مصر پر مشرانو څومره اغېزه درلوده؟ او اناهیتا هوښیاره، زیرکه او مکاره ده. له هغې سره به اوبه پوکوې او بیا به یې څښې.

انناواسیلفنا پخلنځي ته ولاړه او له هغه ځایه د چاکلیټو له یوه لوی ډبلي سره راووته. دا په چاکلیټو کې د پوښل شویو زړو یوه مجموعه وه چې په نواسیبیرسك کې جوړه شوې وه.

- او ګلان به تازه- تازه سبا سهار همدلته وي. سهار پر شپږ نیمو بجو زه، یاور مې ډګروال الکسي کارپوف او ساتونکي په دریو موټرو او له یوه زغره وال ګاډي سره دفتر ته د تګ لپاره چمتو وو. انناواسیلفنا په عیسوي دود راباندې په لاس صلیب وکښه او بیا یې وویل:

- څه الله دې مل شه.

الکسي کارپوف دا ډی د تازه ګلابو یوه غنچه او د چاکلیټو ډبلي په لاس کې نیولي دي.

- دا زما له خوا نه ورکړه. زما درناوی ورته ورسوه او ورته ووایه چې ما ته په زړه ده او راته ګرانه ده.

د کابل د ښار پر کومه نوې لاره ولاړو- چیریومنیخ او کارپوف پرې ښه پوهېږي... پر اتو بجو او پنځلسو دقیقو د ستر درستیز په خوله کې چیریومنیخ او ساموییلینکه زما هرکلي ته ولاړ وو.

چیریومنیخ خبر راکړ چې نږدې هرڅه سم او چمتو دي. د دسترخوان پر سر د نعمتونو ټولول روان دي. یوه ډالۍ هم شته... د شپې یې له تاشکند د آیس‌کریم (سړو شیدو) پنځه ډوله رارسولي دي. هم زړې لري، هم ځمکني توتان او هم بهیي... مالافکر کاوه: دا ټولې خوارۍ ګنې بې ځایه نه دي، خبرې اترې خو به جدي وي او هېڅ اختریزه (جشني) بڼه نه لري.

خو چیریومنیخ داسې دلیل وړاندې کړ چې ردول یې ګران و:
"معشوقه تر ښځې ډېره نازوه"
البته چې ما ترخه وروکتل خو هغه لا هماغسې ټینګ و:
- دا څه زما خبره نه ده د ستیفان څویګ ده.

موږ پورته وختلو. دلته رښتیا هم وروستی چمتووالی پایته رسېده. له اصلي دسترخوان پرته یو بل د چایو لپاره هم غوړېدلی و. د لوی پوځي سلاکار د دفتر دوو ګارسونو نجونو خدمت کاوه. دا دوه ښکلې روسې نجونې وې چې د سینګار د شیانو په کارولو ښې پوهېدې داسې چې هم له ځایې دود سره سمون ولري او هم مړاوې ونه برېښي. چیریومنیخ د دغسې کسانو د غوره کولو په ګټه هم پوهېده.

ما چې هرڅه له نظره تېر کړل نو نجونو ته مې د تللو وویل خو امر مې وکړ چې د چیریومنیخ اشارې ته دې ځیر اوسي.

پنځلس کمې لس بجې چیریومنیخ او سامویلینکه- دوه تورنجنرالان (په پوځي کالیو کې! چیریومنیخ د اکتوبر د انقلاب د کالیزې په ویاړ د تورنجنرالۍ رتبې ته ترفیع کړې وه) د اناهیتا راتب زاد او جنرال ګل آقا هرکلي ته وخوځېدل او زه یې په ارت دفتر کې له دوو ډکو دسترخوانو سره یوازې پرېښودم. اعتراف کوم چې د ډکو دسترخوانو ترڅنګ د پاتې کېدو په اندول راته ځان د جګړې په ډګر کې ډېر هوسا برېښي. رښتیا خبره دا ده چې پوځیانو ته له دغسې خصوصي کتنو سره روږدېدل نه ښايي. د هغو په ترخ کې هغه څه نه شي ویلی چې په فکر کې دې ګرځي. داسې به ښيې چې ګڼې خبرې اترې درته په زړه پورې دي او ورسره ورسره باید صادق او بې تکلفه هم وبرېښې. ښايي ډیپلماتانو دا چاره ښه سرته رسولی شي... په هرحال ښايي زه هم یوڅه وکړی شم. هم په مصر هم په چکوسلواکیا او هم د بالتیك سمندرګي ته څېرمه مې ډېر خلك لیدلي، بې شمېره صادقې او له ریا ډکې د دوستۍ یا دښمنۍ څرګندويې خبرې،

صراحتونه او مکاری مې اورېدلي دي... امکان نه و چې دا ټول شیان مې د تجربو پر زېرمه ورزیات نه شي.

مېلمانه ټیك پر لسو بجو له جنرالا نو سره یوځای راورسېدل. لاسونه مو سره ورکړل: کوچنوټي ورغوي له کلکو ګوتو سره، بې سینګاره. درې ځله مو یو د بل مخ ښکل کړ. او بیا همدا دود له جنرال ګل آقا سره تر سره شو. که ګورم چا په لاس کې یو پنډوکی راته کېښوده چې د هغې په کاغذونو کې نغښتی او سره فیته ترې چاپېره ده. اناهیتا جنرال ته په سر اشاره وکړه او هغه خبره داسې رڼه کړه:

- کله چې کوم مشر ته په رسمي کتنه ورځې نو باید د پسونو یوه رمه له ځانه مخکې کړې او یا د پسونو پرځای د قره قل پوستکی له ځانه سره یوسې. دا زموږ دود دی.

ما د منني په کولو یادونه وکړه چې دا ښه دود دی.

په دې وروستیو وختونو کې مې څو ځله یا په شوروي سفارت او یا د پلازمېنې په بېلابېلو ماڼیو کې له اناهیتا سره کتلي وو. او هرځل یې له ما سره له وړایه رسمي چلند کاوه. خو دا ځل خبره بل ډول ده: تندی یې ورین او بڼه یې ساده او طبیعي ده. او دې حالت له هغې وارخطایی نه په رااېستلو کې مرسته راسره وکړه چې په لومړي سر کې یې راباندې زور اچولی و. د دې وارخطایی دلیل د کابلي چارواکو له "لومړی مېرمنې" سره د چلند په اړه د اندروپوف په وروستي لارښوونې کې نغښتی و، که څه هم زه په لومړي سر کې پرې پوه شوی نه وم.

پورته رمنځ شوی پیکی، تور مې- وریجې وېښتان، غټې بادامي سترګې، بیضي وزمه موزون مخ، ډېر لږ سینګار او د فرانسوي عطر نرې- نرې وږم. پر متناسب اندام یې په انګلستان کې ګنډل شوې خړه خلانده دریشي اغوستې وه. په رښتیا هم اغېزمنه او ښکلې وه.

زما ملګرو د کار په پلمه ښښنه وغوښته او له دفتره ووتل.

اناهتیا خپل جنرال ته کوم څه وویل.

- مېرمن هیله کوي چې که خپلو سرداري چایو ته یې وبولئ. ګل - آقا دا خبره وکړه او زیاته یې کړه: کخي... کخي... او ما ته د کنیاکو په یوه پیاله سزا راکړئ.

یوه پیاله، دوه پیالې به درکړو خو که خبرې هغسې چې مونږ غواړو تر سره شي. له اناهیتا راتب زاد سره زما د خبرو چاپېریال تر ټاکلې پولې په دې چیچکې، پلن پوزي، ټیټکي او تر ډېره ځایه سپین ږیري سړي پورې اړه درلوده. څه چې رښتیا دي هغه رښتیا دي. ګل- آقا لا هم د افغانستان په وسله وال پوځ او د ببرك په اندیوالانو کې اغېزمنه څېره وه.

ده ته د کنیاکو له پیالې مخکې مې مېلمانه ټینګک چای ته راوبلل او ورته مې وویل چې د آیس کریم خوند وڅکي، آیس کریم خو پنځه ډوله وو.

- او! ګل آقا په داسې حیرانوونکي غږ خپل غبرګون وښوده چې په همدومره ځواك یې د اناهیتا په څېره کې هم نښې راڅرګندې شوې. دا ډالۍ په تېره بیا هغې ته په زړه پورې وه. او ما په خیال کې چیریومنیخ ته لاسونه پړکول: همدې پر هرڅه پوهېږي!

اناهیتا راتب زاد له هغو مېرمنو څخه ده چې نومونه یې په تاریخ کې پاتې کېږي. ښایي هغه هم په دې خبرې پوهېدله. همدې د خپلو معلوماتو او ښځینه ځواك په مرسته د دولت پر مشر غوځ اغېز ښندلی شو. تاسیس او مقدوني سکندر، کلیوپاترا، سزار او مارك انتوني، ډمه بارباریتا او سترفرریك، مېرمن هاملتن او ګراخي نلسن، ژوز فینا او ناپلیون... مونږ د هر هېواد په تاریخ کې د ښځو پر وندې وغږېدو. اناهیتا ځان د رښتینو تاریخي څېرو د ژوند لیك په اړه، ښځې وې که نارینه، په ځانګړې بڼه د ډېرو معلوماتو درلودونکې ښودله. او فکر کوم له دې سره سم یې د هرې دغې څېرې بڼه او ارزښت له څه خرخشې پرته له ځانه سره پرتله کاوه لکه هسې

چې شتمنې مېرمنې په غوځه توګه او بې تزلزله د کوم مشهور کالي ګنډونکي ګنډل شوي کالي په ځان کې ګوري. په خپلو خبرو کې تر کروپسکایا او پرلنین د هغې تراغېزه ورسېدو. او د چین تر ټولواکمنې ځي. سي. هو. له دغې هوښیارې ښځې سره د سیاسي بیورو د غړو سیالي ګرانه وه.

څه لږ ډېر د ادبیاتو په اړه هم وغږېدو. شکسپیر، میریمي. ټینګ باوري وم چې د محبوبو روسي لیکوالو له ډلې به د تورګنیف نوم یادوي. همداسې هم وشوه، خو د تورګنیف د انځور کړو ښځو د روحي ژورتیا د ستایلو ترڅنګ یې د خبرو په منځ منځ کې یادونه وکړه:

- افسوس چې ستاسې د سترو لیکوالانو له ډلې نه هېڅا هم ادبیاتو ته د سترې ایکاترینې د څېرې د لېږدولو وس موندلی نه دی.
- د فلسفې په اړه، د مارکسیزم- لنینیزم په اړه هم د غږېدو خبره تر کنفیسیوسه هم ورسېده چې اناهیتا پرې په دې وروستیو کې بوخته شوې ده.

په دې توګه مو له بېړې پرته دوه ساعته خبرې وکړې او بیا اناهیتا له ګل آقا نه وغوښتل چې د سیاسي بیورو د غړو او پخپله د ببرك کارمل هیله راته وژباړي چې سبا پر یوولسو بجو یې د دولت له مشر سره د کتنې غوښتنه کوله.

دا د ختیځ دود دی: اصلي ټکی د نورو خبرو ترمنځ په ضمني توګه یادېږي. او هغې وروسته په پسته ژبه خپلې خبرې داسې پسې اوږدې کړې:

- هغه لږ څه رنځور دی، خو زړه یې ډېر غواړي چې تاسې وګوري.
- مننه ورځم.

او زما مېلمنې زیاته کړه چې ښه به وي که له ژباړونکي پرته ورشم.

ما داسې ورو غونډې د زنګ بټن ټینګه کړه او ورسره سم چیریومنیخ او ساموییلینکه مخکې او دوه ګارسونې نجونې ترې شاته، خونې ته راننوتل.

- میرمن هیله کوي چې ټولو ته دي (په پیالو کې) کیناك واچول شي. ډېره ښه کتنه وه. باید ژر او ډېر ژر افغاني ښځو ته آزادي ورکړ شي. او د ثور انقلاب د آرمانونو د پلي کېدو مبارزې ته دې راګډې کړای شي....

ترڅو چې ګل آقا دا عوام غولوونکي جملې ژباړلې، پیالې له شرابو ډکې شوې وې.

- راځئ چې د افغاني میرمنو لپاره یې وڅښو! ګرانې اناهیتا ستاسې لپاره، ستاسې د پوهې، هوښیارۍ او ښکلا لپاره یې څښو.

پیالې تشې شوې.

وروسته مې اناهیتا ته د ځان له خوا د ګلونو غنچه او د انناواسیلفنا له خوا د چاکلیټو ډبلۍ ډالۍ کړل.

- میرمن له تاسې نه ډېره مننه کوي. هغې ته انناواسیلفنا دا د تورګینیف د داستانونو ربتینې میرمن ډېره ګرانه ده.

چیریومنیخ او ساموییلینکه له میلمنو سره دمخه ښې لپاره ووتل. او چې کله دوی دواړه بېرته ماته راستانه شول، موږ لوی ډك دسترخوان ته کېناستو او د ښځینه ساپوهنې په اړه د چیریومنیخ د معلوماتو له ستایلو سره سره مو ټول آیس کریم وخوړل او بیا مو ښه ټینګ چای وریسې وڅښه. موږ له بیړې پرته یو د بل خبرې په ځیر واورېدې او له اناهیتا راتب زاد او ګل آقا سره مو زما د کتنې بهیر او پایلې ټکي په ټکي وارزولې. موږ پوهېدو چې زه باید سبا ته له ببرك ـ کارمل سره په ارګ کې د کتنې لپاره ښه سمبال شم او د هرې ناڅاپي پېښې د کېدو چمتووالی باید ولرم.

د ببرك كارمل د اوسېدو ځای د ودانیو یوه لویه مجتمع وه چې د مرمر ډبرې او ګرانیت په کې کاربدلي وو. دا ودانۍ آن په اوولسمه او اتلسمه پېړۍ کې د افغان واکمنو له خوا جوړې شوې وې. زه ډېر ځله دلته د لوی پوځي سلاکار په توګه د رسمي کارونو لپاره راغلی وم. همدلته د انقلابي شورا او سیاسي بیورو غونډې جوړېدې او ډېر ځله به يې زه هم ورته بللم. دلته باید زه راغلی وای. که څه هم زړه مې نه غوښتل خو باید ټول هغه شیان مې چې څېړل کېږي لیدلي او اورېدلي وای.

ببرك په ارګ کې څو دفترونه لرل او د کار او کتنو ځای يې پرله پسې بدلاوه. ښایي د دې خبرې دلیل امنیتي مسالې وې او ببرك خو باید له هرچا زیات د امین د غم لړلي پای پېښه په یاد لرلای.

د ارګ په خوله کې د ببرك یوه ډېر دنګ یاور چې رتبه يې ډګروال وه زما هرکلی وکړ. دی لږ په روسي هم غږېدلی شو:

- د کتابتون شاته خونه کې ستاسې انتظار کوي.

په هرپوړ کې ساتونکي وو: زموږ څلور کوماندویان او سربېره پردې په هر کنج کې دوه دیسانت ساتونکي. (تره کي او امین هم پوره ساتونکي درلودل خو د بل په لاس له مړینې بچ پاتې نه شول).

او دا دې د ده دفتر. له څېړې جوړ عجیبه غونډې موبل (مېز او څوکۍ) نظر مې پر هغې پردې ونښته چې د استراحت ځای يې له دفتر نه جلا کاوه او لکه چې ما ته وبرېښېده لږه نیم کښنه شوه. لکه چې ملګری "او" زما په شك پوه شو. ببرك خپل رېږدېدلي لاسونه پورته نیولي او چې په چټکۍ زما خوا ته رانږدې کېده غبږ يې پرانستله او په چغو چغو يې غټې اوښکې راتویې کړې.

- شوروي، شوروي... تواریش (ملګری) ... - دايې وویل او ژړل يې پرده بیا له ځایه وخوځېده او بیا پرې زما نظر ورپرېوته او ملګري "او" هم یو ځلې بیا خو دا ځل په ټینګار سره زما د نظر مخه ونیوله.

- شوروي،شوروي ... تـه- تـه- تـو- تـواري- تواريـش،- د دولـت مشر همدا خبرې غبرګولې.

او ملګري "او" څرګندونې راتـه وکـړې:

- هغـه غمجـن دى... د مزارشـريف غمـيزه... کندهـار... هغـه ډېر غمجـن دى.

ببرك لـه مـا نـه ځان خلاص کـړ، چټك يې لـه مېز نـه د "سيمرفوف" شرابو بوتـل راواخيسـتـه او پـه بيـړه يې راواړوه: ځنـګ تـه، څه پرځمکـه او څه پرمـېز لـه تويولـو وروسـتـه يـې درې کرسـتال ګيلاسـونه تـرې ډك کـړل.

- شـوروي- شـوروي، تـه- تـه- وا- ريـش... دا وايـي او ګيـلاس پـه لاس کـې راټومبـي،- پـه ژا- لاسـتـه (مـهربـاني وکـړه)... سـپا- سـى- بـو (مننه- پـه ناسـم روسـي تلفـظ. سم يې سپاسيبو دى(د.ج)...

کله مې دا فکر هم کړی و چې داسې لـه شرمه ډکـه پېښنه بـه ګنې پـه خپلـو سترګو وينم؟ اوس لـه کلونـو وروسـتـه کېدی شي سـړی پـر هـر هغـه څه وخاندي خـو هغـه وخت هـرڅه خـورا جـدي وو. کـه څه هم پوهېدم چې ښايي ډېر څه رانـه واخيستل شي. خـو بيـا مې هـم سـل زړونـه يـو کړل او ملګري "او" تـه مې غوږ او پـه ډانـګ پيپلي وويـل: ټولـه پړه زه پـه خپله غاړه اخلم، هرڅکي مې ورتـه رسـا وژبـاړه:

"زه سـترجنرال مـايوروف د افغانسـتان پـه ديموکراتيـك جمـهوريت کې لوی پـوځي سـلاکار تاسې ببـرك کـارمل پـه ټينـګه د شرابو لـه څښلـو منع کوم او ټينګار کوم چې سملاسي لـه دغـه کـار نـه لاس واخلـئ".

د ملـګري "او" رنـګ سپين تښتېدلـی او چـوپ دی.

- امر کوم چې سملاسـي ورتـه دا خبرې ووايـه!

ملګـري "او" لکـه مخکې هسـې چـوپ دی تـه بـه وايـې خپلـه ژبـه يې خوړلې ده دلتـه مې نـو بيـا خپلـه خبره او دا ځل ډېره کلکـه راغبرګه کـړه:

ملګری "او" تر شونډو لاندې وبونګېده. پرده یوځلې بیا نیم کښته شوه. اوس نو زه په یقین سره پوهېدم او زړه مې هم دا راته ویل چې هلته اناهیتا ناسته ده...

د ببرک سترګې وځلېدې، کېناست او تریو شو.

- شوروي... شوروي....

ملګري "او" ته مې امر وکړ:

- او اوس ژر د ټینګ چای غم وخوره.

چې کله هغه ووت نو ببرک د ښښنې په نظر زما سترګو ته وکتل او په مینه ناکه ژبه یې وویل: - سپا- سی- بو... پژالایسته... سپا- سی بو... او بیا یې په خپل رېږدېدونکي لاس پر ګیلاس برید وکړ.

- نه!

- هو، هو... سپاسی بو.

زه پرې ورسور شوم:

- ن- نه!

په دې کې ملګری "او" پتنوس په لاس راننوت. په پتنوس کې چاینك او پیالې وې الحمدالله: هغه وخت د چارو واګې بشپړې زما په لاس کې وې. باید په دغه شېبه کې ببرک موښل شوی او مات شوی وای... هغه تریو او په غوسه و، خو بیا یې هم چای وڅښه.

له لږ انتظار وروسته مې یو ځلې بیا ملګري "او" ته امر وکړ چې خبرې مې ټکي په ټکي وژباړي داسې چې هرټکی یې سم تلل شوی وي او د دولت رئیس یې په مفهوم پوه شي. ما وویل:

ملګری د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې عمومي منشي او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا رئیس.

تاسې خبر یاست چې په هر ولایت کې د جګړې اوربل دی. هېواد په اور کې سوځي. سلګونه افغان او شوروي عسکر مري...

ملګری "او" زما خبرې ژباړې، ببرک سر خوځوي او دا ټکي بیا بیا وایي:

- شوروي، شوروي ... سپاسی بو... سپاسی بو...

او بیا مې لکه چې د هغه پر شرابي سر د تبر گوزار کړی وي، په ټینگ غږ وویل:

- او تاسې دا دي دویمه اووه نۍ ده چې ... - وژباړه! پر شراب څښلو بوخت یاست او هیڅ پرېکړې...

ببرک ټوپ کړ ، ځمکه یې په پښو ووهله، چیغې یې کړې... او د ملگري "او" شونډې شنې شوې، لاسونه یې ورپېړدل او په زاریو کېوت:

- هیله کوم...

- ټکي په ټکي ورته وژباړه: که دی، ببرک کارمل، همدا نن له شرابو څښلو نه لاس وانخلي نو زه به یوري اندروپوف او دیمتري اوستینوف ته خبر ورکړم او هرڅه به په پای کې لیونید بریژنف ته ورسېږي. وژباړه! او بله دا چې- خو دا تا ته وایم له دې ځایه به داسې والوزې چې خدای خبر چېرته به ځمکې ته راکوز شې...

ببرک ټولې خبرې واورېدې، وروسته چوپ او پوه شو چې خبره چېرته ده، دروند- دروند راپاڅېده، ماته به رانږدې شو، سترگې یې نمجنې وې.

- شوروي- شوروي ... سپاسی بو، سپاسی بو...

او بیا پرانستې غږ، درانده، درانده لاسونه، خو ورسره ورسره په کې د لږې هوسایۍ نښې وې ببرک او ساد چي ته کوم څه وویل او هغه وژباړل:

- دی پوښتنه کوي چې څه وکړم. هغه د اپریل (ثور) انقلاب لپاره هرڅه ته چمتو دی... ژوند ترې ځارولی شي... هرهغه څه به وکړي چې ملگری بریژنف، اندروپوف، اوستینوف، گرومیکو... یې ورته ووایي.

- وژباړه... فکر کوم د اوس لپاره باید دی همدا سبا د کابل پر ټلویزیون وینا وکړي. د هېواد د حالاتو او د انقلاب د بریاوو په

ساتنه کې له دښمن سره د وسله والې مبارزې د بریالیتوبونو په اړه دې وغږېږي. د شوروي اتحاد د دوستۍ او پوخ په اړه دې خبرې وکړي. ملګری ببرك خو تجربه لرونکی سیاستوال دی، انقلابي دی، ژور نظریه جوړوونکی دی، مارکیست- لنینست دی او پوهېږي چې خپلو هېوادوالو ته څه ووایي او څنګه یې ووایي.

د ببرك مخ وغوړېده- د چا غوږې خبرې نه خوښېږي؟

دویمه او بستېیزه خبره: باید عسکري چونیو ته ورشي، له قوماندانانو، د ټبرونو له مشرانو او د ولایتونو له والیانو سره وګوري. زموږ اټکل دی چې دغسې یوه غونډه د جلال آباد په سیمه کې جوړه کړو: هلته به حالات راکابو کړو. اووه- اته ورځې وروسته به هغه ځای ته د الوتنې امکان وي. دا خبرې منې؟

ته به وایې ببرك په هوا دی:

- سپا- سی- بو، پڅالای- ستا، سپا- سی- بو... او بیا یې پخپله ژبه هم یوڅه وویل.

او ملګری "او" یې ژباړي:

- دی له ټولو هغو ځیزونو سره چې تاسې وړاندې کړل، موافق دی. هرڅه به د ثور د انقلاب د دفاع او له شوروي اتحاد سره د دوستۍ لپاره ترسره کړي.

- ملګری عمومي منشي زما خبرې پایته ورسېدې. له کتنې او کاري خبرو نه مو مننه کوم.

ښایي. دا ځل هسې په نظر راغله او ښایي نه- پرده بیا نیمکښنو شوه.

ما او ببرك دمخه ښې غېږ سره ورکړه او زه ترې ووتلم.

په ژوند کې مې احمقان، لټان او شرابیان نه خوښېدل. او دلته دا ټول صفتونه په یوه کس کې راټول شوي وو. او دا سړی بیا ګوندي لارښود او د دولت مشر و! له ارګ نه بېروحه راووتم. زه پوهېدم چې

څه ناولې او خبيثه پېښه شوې ده. خو کار دی شوی دی. وړاندې څه وکړو؟

د دې لپاره چې ځان له دې هرڅه وژغورم برونينيکس او کارپوف مې له ساتونکو سره يوځای له خانه سره ملګري کړل او په اوومې پلې فرقې کې د خليل د قوماندې مرکز ته ورغلم چې د کابل د جنوب د څلوېښت کيلومترۍ په غرنيو لمنو کې يې جګړه ييز عمليات کول.

د ورځې ټوله دويمه نيمايي مو همدلته واړوله. او کابل ته له راستنېدو مخکې خليل الله داسې د خبرو په منځ- منځ کې راته وويل:

- الله ستر دی ټولو مشرکانو ته به سزا ورکړي. او بيايې له لږ ځنډ وروسته پرې ورزياته کړه: او شرابيانو ته هم.

او د مخه ښې پر وخت يې وويل:

- ببرک ته دې خدای ښښنه وکړي، ځان به په شرابو برباد کړي.

داسې احساسېدله چې زما افغان جګړه ييز ملګری د خپل مشر پر ناروغۍ که نه وي نو پر کمزورتيا خو يې هرومرو پوهېږي او له دې سره جوخت پر ما د باور له مخې سپين سپين غږېږي.

په دا بله ورځ مې چيريومنيخ او برونينيکس ته له ببرک سره د خپلې کتنې ټول جزئيات وويل:

- هسې په دې يابو خپل وخت ضايع کوو. ژر يا وروسته يې آن که وخت نازک هم وي بايد بدل کړو. هسې خوشې پرې دا واښه خورو.

- چيريومنيخ، بس دی غيبت بس کړه. موږ بايد د هغه اعتبار لوړ کړو.

- لکه د لړزېدلي دېوال.

چيريومنيخ لاآن هماغه وخت د ګوندي او دولتي مشر په توګه د ببرک پر بالقوه وړتيا باور نه درلود.

- خو سترجنرال صاحب! د حالاتو په اړه زموږ ارزونو ته هلته پاس ډېر ځله غوږ نه نيول کېږي.

په دې توګه نو له خوخبرو او د افکارو له تبادلې وروسته کېناستو او پر کار مو پیل وکړ. ټوله پاملرنه په جلال آباد کې د حالاتو څېړنې ته بېله شوې وه. ځکه موږ غوښتل د سیاسي او پوځي مشرانو غونډه چې د ببرك د واکمنۍ په ټول پېر کې یې ساری لیدل شوی نه و، همدلته جوړه کړو. ما او ولادیمیر چېر مومنیخ ځانګړي مسوولیت احساسوه. مخې ته هغې سیمې ته الوتنې، د حالاتو جاج اخیستنې، د ثبات (ټیکاو) او غوڅ امنیت ټینګول پراته وو.

د ځانګړي ټېلفون غږ پورته شو. دفتر ته ننوتم، غوږۍ مې پورته کړه، اندروپوف و!

د اوپراتیفي حالاتو په اړه زما له لنډو څرګندونو وروسته مې په غوږۍ کې دا ټکي واورېدل: تاسې الکساندر مایوروف هرڅه سم سنجولي دي. د ګوند مرکزي کمېټه راضي ده. د دفاع وزیر که څه هم رنځور دی، خو په هرڅه پوهېږي او تاسې ته سلام وایي.

- مننه کوم یوري اندروپوف، دارزونې مو مننه.
- سر بېره پر دې لکه چې تاسې اروا پوه هم یاست- په پسته ژبه اندروپوف خبره اوږده کړه.

زه پوهېدم چې خبره د اناهیتا په اړه ده.

- د ژوند زده کړه ده یوري اندروپوف.
- پوهېږئ چې زه د چا په اړه غږېږم؟
- ګومان کوم...
- هغه پر تاسې او ستاسې پر مېرمن باور لري. او چې تر کومه جلال- آباد ته د تګ خبره ده نو زه او اوستینوف یې پلوی کوو. تابییف له ځانه سره مه بیایئ. سپولنیکوف ته به اړینې (ضروري) لارښوونې ورسېږي. ټېلفون راته کوئ.

زه له خونې راووتلم او ملګری مې تېره غوږونه په انتظار ناست وو.

- هرڅه سم دي. ټول شیان ومنل شول! پرمخ به ځو.

د چیریومنیخ لـه خولـې راووتـل:

- ملګری "او" خپلې چاړې پـه بیـړه سـرته رسـوي.

سـاموېلینکه راغـی او مـوږ د جـلال آبـاد د غونـډې یـا د قـرارګاه پـه ژبـه "چاړې" پـه چمتـو کولـو بوخـت شـو.

دا هغـه د چـا خـبره پـه څو راتلونکـو اووه نیـو کـې زمـوږ د پـروګرام زړی و. پرېکـړه مـو وکـړه چـې زه او برونینیکـس بـه (چـې د اکتوبـر انقـلاب د کـالیزې پـه ویـاړ یـې د بریـد جنرالـۍ رتبـې تـه ترفیـع کـړې وه) ځای پـرځای د چـارې د سـمبالښت لپـاره د یکشـنبې پـه ورځ جـلال آبـاد تـه الـوزو. شکیدچنکه بـه هلتـه زمـا انتظـار کـوي. چیریومنیخ بـه پـه کـابل کـې پاتې کېږي چې د ټولـو ولایتونو جنـګي عملیـات سـره هـم غـږي او کـه اړتیـا وه سـم (اصـلاح) کـړي. سـاموېلینکه د سیاسـي چـارو پـه لـوی ریاسـت کـې لـه ګل آقـا سـره کـار کـوي او ورسـره یـو ځای جـلال آبـاد تـه راځي او لـه (شـوروي) سـفارت او د ا.خ.د.ګ، لـه مرکـزي کمېټې سـره د معلومـاتو راکـړه ورکـړه کـوي.

مـا لـه چیریومنیخ نـه پـه ځانګړي ډول وغوښتـل د دې لپـاره چـې د دښمن پام لـه جلال آباد نـه بلـې خـوا تـه واوړي نـو پـه نـورو ټولـو ولایتونـو کـې دې جـګړه یـیزو عملیـاتو تـه زور/ورکـړي. پـه تـېره بیـا پـه مرکـز کـې د کـابل پـه سـیمه کـې او د هغـه شـمال، ختیـځ او جنـوب پلـو تـه. تـرې ومـې غوښتـل چې همدا سبا د خپلو کړنو پـلان راتـه وړانـدې کـړي.

- زمـا مرسـتیالان هـم خـبر کـړئ او د هغـوی دنـدې او کړنـې هـم ورتـه جوتـې کـړئ.

- تر سره به شي،- چیریومنیخ لکـه د تـل پـه څېر دغسـې ټاکلـی او لنډ ځواب راکـړ.

د غرمـې د ډوډۍ وخت پـه رانـږدې کـېدو و. او نـابېره د دفـتر لـوی ورپرانسـتل شو او لـه کـوم مخکـني ټیلفـون، خبرتیـا، پـه تـېره زمـا لـه بلنـې پرتـه تـابییف او سپولنیکوف پـه بیـړه زمـا دفـتر تـه رانـنوتـل.

- الکساندر مایوروف مبارك دې وي! ځومره بریالیتوب! شیریني به یې خورو! ما مخکې او اوس هم په انساني اړیکو کې دا ډول دروغجن او د کوچنیانو دود ډېر نږدې والی نه خوښاوه او دلته بیا مخې ته هغه دوه کسان راته ولاړ دي چې هېڅ مې نه خوښېږي. د هغوی هم زه دومره نه خوښېدم. خو ما نه شوای کولی په هغه شېبه کې ورته ووایم چې ځئ له دغه ځایه ورك شئ...

- کوم بری؟- په څرګنده سړه ژبه مې ترې وپوښتل.

- دا نو څه وایې،- تابییف ایشېده،- د لومړي ځل لپاره ملګری ببرك کارمل د جلال آباد په سیمه کې پوځیانو ته ورځي!...

سپولنیکوف په ډېره سړه سینه او ډډ غږ وویل:

- مسکو ډېر خوښ دی او ستاسې دا زیرکي ستایي.

- دا به نمانځو کنه؟ تابییف په احساساتي بڼه خبره اوږده کړه او مانه پوهېږم چې ولې خو له ځانه سره انځور کړه چې دغسې "نمانځنې" به ښایي ده دشوروي اتحاد د کمونیست ګوند د تاتارستان د ولایتي کمېټې د منشي پر څوکۍ څومره ښې تر سره کړې وي.

ما ځواب ورکړ:

- نمانځو به یې...

- او په لوړه کچه به یې نمانځو،- چیریومنیخ ماته په خطاب کې خبره نوره هم پخه کړه، هغه زموږ په شرطي اشارو ښه پوهېده او سمې یې په یادوې او د سر په کړولو یې وویل:

- صاحب، تر سره به شي!

دی او برونینیکس له دفتره ووتل. تابییف او سپولنیکوف په یوه وخت کې د "مارلبورو" سګرټو یو یو ډبلی له جیبونو راوایسته.

سپولنیکوف وویل:

- اجازه ده صاحب؟

هېڅ مې ونه ویل خو په سترګو مې دېوال ته اشاره وکړه چې په روسي، انګرېزي او فرانسوي ژبو پرې درې لوحې راځړېدې: "سګرټ مه څکوئ!"

- دا لوحې له مصره، له چکوسلواکیې او د بالتیك له وختونه له ځانه سره ګرځوم... نو د دغسې یوه لرغوني دود ماتول ګنې څه سم کار دی؟

مېلمنو ترخه خندا وکړه.

چیریومنیخ راستون شو او شاته ترې زموږ دوه ګارسوني نجوني راروانې وې چې په لاسو کې یې د چایو پتنوسونه او ورسره ختیځ خواږه، زړې او مېوې راوړلې. مېز ته راټول شو. ګورم چې تابییف او سپولنسیکوف تروه دي.

سفیر وپوښتل:

- او تاسې دې ته د لومړۍ کچې نمانځنه وایاست؟

چیریومنیخ دهغه خبره ورسمه کړه:

- د لوړې کچې.

زما په دفتر کې د تل په څېر د قرآن (کریم) یو ټوك ایښی و چې د ازبکستان د علومو اکاډیمۍ چاپ کړی و. په سترګو مې هغه ته اشاره وکړه او له تابییف نه مې وپوښتل:

- تاسې هم لکه چې په دې کتاب ایمان لرئ؟

داسې برېښېده چې سفیر نور دننه په خوتېدو دی. سپولنسیکوف یې مرستې ته ورودانګل:

- راځئ چې د کار په اړه وغږېږو. نن د شپې پر اتو بجو ببرك کارمل پر ټلویزیون وینا کوي. او دا البته د برې له پریټ وروسته (د هغه مقصد د ببرك د شرابو څښل وو)...

- چې داسې ده نو ویتیا د شربت سر غوځوه. دا ډېر غوړ دي!...* نه خدایه توبه، مقصد مې چای دی،- د سفیر دې لرغونې ټوکې ټول وخندول. خو هرچا په خپل دود خندل.

خبره مو داسې سره غوټه کړه: سبا به چیریومنیخ زما له مرستیال، یاور او سپولنیکوف سره یوځای په جلال آباد کې د "چارې" د سرته رسولو لپاره د کړنو مفصل پلان جوړوي.

په همدې خبره مو په دوستۍ او خوږه ژبه مخه ښه سره وکړه، خو پر شونډو لا د تریوالې خوند پاتې و.

ما ساموېلینکه او چیریومنیخ په غوږ وهلي وو چې په نږدې راتلونکې کې دې زموږ له مېلمنو نه د څه ناولتوب تمه ولري. دوی له دې امله سخت ناکراره دي چې ماته له مسکو نه ټېلفون وشو او موږ یې وستایلو، په داسې حال کې چې دوی پر وچ ډاګ پاتې شول.

موږ د خپلې ویلا (ماڼۍ) د لومړي پوړ په مېلمستون کې پر پستو څوکیو ناست وو او پر ټلویزیون مو د ببرك كارمل د وینا لاره څارله. له "سوني" نه د زړه راښکونکې ختیځې میلودي غږ راوته چې یې هم کراري ښندله او هم وارخطا کوونکې وه... انناواسیلفنا، چیریومنیخ، برونینیکس او ژباړونکی کوستین له ما سره مله وو.

او دا دی ویانده راڅرګنده شوه. د سینګار شیان یې ښه ډېر پر مخ تپلي لکه هسې چې د آزادو ختیځو مېرمنو تر منځ دود دی. خلکو ته یې د لاربنود د وینا اعلان وکړ او کوستین یې په ژباړه سر شو:

ببرك د ټلویزیون پر مخ ښه بربښېده او دې خبرې لا زه لږ هېښ کړم: دا ګني دهغه په څېره کوم بل څوك نه دی؟ هغه ته په ځیر ګورم او غوږونه مې کوستین ته نیولي چې له هغه سره سمه پخه ژباړه کوي. نه مړه... همدی پخپله دی... کیښکښلی، خرییلی شین مخ، اورنۍ سترګې (داسې بله څېره موندلی نه شې)، نری نری غوندې ادا.

---

* دلته یوه روسي کنایه یاده شوې یانې چې شراب نه راکوي نو بیا خو دې چای راوړي.

برونینیکس لکه چې زما په شك پوهېدلی وي:

- نه، نه. د ده په خبره بل څوك نه دی. او کوستین یې خبره ورغبرګه کړه:
- هنر او حرکات یې د ببرك کارمل دي.

چیریومنیخ پرې ورزیاته کړه:

- او سترګوتې، دا ستروګوتې! لکه چاودلې خوباني (زردآلو).

پنځه، لس، پنځلس دقیقې- د ببرك خبرې روانې دي.

مېرمن مې غلې شانته چې ژباړونکی اخلال نه شي، راته وویل:

- سانیا په ده کې کوم څه شی د ناصر* شته د...

رښتیا زه او مېرمن مې له تېرو یادونو نه هېچېرې هم ځانونه خلاصولی نه شو. یوه ته ګورو بل رایادېږي: خبرې، حرکات، عادتونه...

ما مېرمنې ته په څواب کې وویل:

- یا جمال یا کارمل- د دواړو خدای یو دی، ځکه نو یو بل ته ورته هم دي. په حرکاتو کې، په پوهه کې، په زړه کې او پر قرآن (کریم) په ایمان لرلو کې.
- او مونږ لګیا یو دوی ته لنینیزم ورپیچکاري کوو.- چیریومنیخ پرې ورزیاته کړه.- خو هېڅ نه پیچکاري کېږي.

د افغان ولس لارښود دېرش دقیقې مرغلرې وشیندلې. د ځیځیرون* به هم ورته رخه راغلې وای.

وینا بریالی وه، نورڅه غواړې!

هرڅه تر دغه ګړۍ له پلان سره سم پرمخ تلل.

---

* مقصد د مصر فقید مشر جمال عبدالناصر دی (د.ج)

* ځیځیرون (له میلاد وړاندې دویمه پېړۍ)- کې د لرغوني روم ښهویناوال (مبلغ) و (د.ج)

ببرك د خپلې واكمنۍ په يوه كال كې هم له كابله وتلى نه و او خپله ماڼۍ يې خوشې كړې نه وه، چې ډېر به يې زړه غټ كړ او كله به له پوځي مشرانو سره د غونډې اړتيا وه نو هغه به يې كابل ته څېرمه د بگرام د هوايي ډگر په هنگر كې د ساتونكو د ټينگې كړۍ دننه جوړه كړه خو زما زړه غوښتل چې دى د هېواد په سفر وتلو ته راكاږم چې په پراخ ډگر كې له پوځيانو سره چې د ده په هېواد كې د دولتي واكمنۍ په ټينگولو بوخت دي، د ټبرونو له مشرانو سره چې د دغې واكمنۍ په پياوړتيا او يا مخنيوي كې لويه ونډه لري، له ملايانو سره او خداى زده له ډېرو نورو كسانو سره وغږېږي. اوس چې مې په جلال آباد كې د دغسې يوې كتنې د جوړولو لپاره هم د مسكو او پخپله د ببرك كارمل هوكړه (موافقه) تر لاسه كړې وه. نو وزرې مې پرانستل شوې وې. ببرك بايد د برياوو او برياليتوبونو، د سياسي حالاتو د ټيكاو (ثبات) او د شوروي اتحاد د دوستۍ په اړه له پلان سره سم وينا كړې واى. ده ته دا امكان هم په لاس ورته چې د ځايي وگړو څرگندونې واوري.

جلال آباد ته د ببرك سفر زما خواري ډېره كړې وه. په دغه سيمه كې د حالاتو د كرارولو له لارې مې بايد د خپل پوځي حضور اغېزمنتيا په ډاگه كړې واى. د غونډې له ترسره كولو څو ورځې وړاندې مې تر خپل لاس لاندې وگړو ته جلال آباد ته څېرمه د جگړه ييزو عملياتو د لارښوونې په اړه اړينې (ضروري) څرگندونې وكړې او په دې توگه مې يادونه كوله چې د دولت رئيس ډېر ژر رارسېدونكى دى. غټ سرخوږى د ببرك ځاني ساتنه وه او هرڅه پر همدې محور تاوېدل. د دې دندې ارزښت زما په بيا بيا يادونې نه، بلكې هله د پوهېدو وړ گرځېدلى شي چې كه د يوې شېبې لپاره دورانكارۍ او د هغې د احتمالي كرغېړنو پايلو انځور له ځانه سره جوړ كړو. د دې پړه به دچا پر اوږو لويدلاى؟ فكر كوم چې د دې ځواب آن ماشوم ته هم څرگند دى.

هرڅه له پلان سره سم روان وو. د جلال آباد (ننګرهار) والي پر خپل ځای و او ګواکې واکمني ویل چې ټینګه ده. خو کوم شپږم حس مې راته ویل چې هرڅه دومره هم باوري نه دي.

له همدې امله د ببرك له تللو څو ورځې وړاندې پخپله جلال آباد ته ولاړم.

د قوماندانۍ مرکز ته له رسېدو سره سم مې د ځلوېښتم لښکر له خوا د اوپراتیفي ډلې د مشر، وروسته د مرکزي قول اردو د قوماندان د پوځي سلاکار برید جنرال برافچنکه، بیا د شکید چنکه او په پای کې د قول اردو د قوماندان ډګروال خلیل څرګندونې واورېدې.

د هغه تر قوماندې لاندې جزوتام یانې په لومړۍ (مرکزي) قول اردو کې اوومه، اتمه او یوولسمه پلې فرقې، نهمه غرنۍ فرقه، یو کوماندو غونډ او د پوځ د جلا جلا صنفونو یو شمېر قطعې راتللې. اوومه او اتمه فرقې کابل ته څېرمه، یوولسمه په جلال آباد او نهمه له پاکستان سره د پولې په اوږدو کې د جلال آباد شمال ختیځ پلو ځای پرځای وې. د مرکزي قول اردو قرار ګا په کابل کې وه. د ځلوېښتم لښکر د ۱۰۸ مې موتوریزه فرقې قوماندان هم دلته د قوماندانۍ په مرکز کې و.

د دوی له څرګندونو نه راته پته ولګېده چې په مرکز کې یانې پخپله په ښار کې دښمن نه شته. واکمني پرځای ده، والي پرخپلې څوکۍ دی او د هغه مرستندویان او سیمه ییز مشران هم پر خپلو څوکیو برېښي. خو له ښار نه بهر په څنډو کې حالاتو بل رنګ درلوده. دغلته زموږ پر پوځونو د ډزو باران جوړ و او د سر ستر زیان ورته اوښته. البته د دغسې ستونزو د غوځولو لپاره بنسټیزې پوځي لارې شته، خو له مخکینو عملیاتو او د وینو له تویولو وروسته مې نور زړه نه غوښتل چې بیا هم دغسې اورپکې لاره غوره کړم.

او ما هغه لاره غوره کړه چې په عادي یاني کلاسیکو حالاتو کې پرې تلل ناروا دي. د قوماندې موټر ته مې ډګروال خلیل راوغوښته او له شکیدچنکه او برافچنکه نه مې د ښښنې په غوښتلو هیله وکړه چې موږ یوازې پرېږدي. خلیل بنستیز پوځي او آن ملکي اصطلاحات په روسي ویلی شول، ځکه نو ما دا ګڼله چې یو د بل په خبره پوهیدلی شو.

خلیل الله په اشرافي کورنۍ کې ستر شوی دی. په افغاني اردو کې پرچمیزم د همده په څېر وګړو پر اوږو تینګ و. د امین په وخت کې "پلچرخي" ته اچول شوی و چې بې تر ټنو پاتې شوی نه دی. خو ځان یې ټینګ کړی و. وروسته بیا ببرک د مرکزي قول اردو قوماندانی ورکړه. نه پوهېږم چې ولې، خو زما د زړه ستنې تر څه ځایه د دغه سړي لوري ته کږې وې. او د هغه له لوري مې هم د څرګند درناوي احساس کاوه. خو که رښتیا ووایم زموږ تر منځ واټن هم ډېر لوی و: چیرته د قول اردو قوماندان او ډګروال- اوچېرته سترجنرال او لوی پوځي سلاکار هغه هم د بل هېواد- د داسې یوه دولت چې خپل وزر یې د ده پر هېواد غوړولی دی.

په دې توګه نو موږ موټر ته وختلو او البته چې ډېر ژر مې مېز له خوړو ډک کړ او قهوه راوړل شوه. زه ناست یم او له ځانه سره فکر کوم چې څه ډول له ده سره د زړه له کومې خبرې وکړم او بربنډو خبرو ته یې راکاږم.

ما ته د مصر له وخته تجربه وه که یو عیسوي کوم مسلمان ته خپل زړه پرانیزي نو دوی دواړه سترې ستونزې غوځولی شي. خو که آن پر کلمو د فشار پر وخت هم څه ټکي وشوه نو بیا د زړه له خواله نه لاس ومینځه. او مسلمان به ستا ټګۍ ته په چل ځواب وایي.

او چې کله موږ دوه په دوه پاتې شو، نو ومې پوښتل:

- ډګروال خلیل کېدی شي عیسوی او مسلمان د خپلو زړونو رازونه سره شریک کړي؟

هغه ځواب راکړ:

- کېدلی شي.

او زه ورته وايم

- ووايه،، هه، يو مسلمان او يو عيسوي يوه دنده په ګډه سرته رسولی شي؟ موږ په ځير يو د بل سترګو ته ګورو او هغه ځواب راکړ:

- کېدلی شي.

- په دې توګه نو له تا نه هيله کوم چې غوږ راته ونيسه:

هغه لکه د ربنتيني پوځي په دود ځان سره سم کړ او آن د جګېدو هڅه يې وکړه. خو ما بېرته پر څوکۍ کيناوه او پوښتنه مې وکړه:

- پوهېږې چې په جلال آباد کې دا عمليات د څه لپاره پيل شوي دي؟

- پوهېږم: د ببرک کارمل د راتګ لپاره.

- سمه ده. دا خبره مې وکړه او بيا مې وپوښتل:

- زما او ستا پر غاړه د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې د عمومي منشي، د اعلی سرقوماندان او د انقلابي شورا د رئيس د سر ساتنې مسووليت پروت دی؟

- پروت دی.

- خو وينې چې حالات څنګه دي، څه به کوو؟

چوپ دی.

دلته نو زه وايم:

د حالاتو د ټيکاو (ثبات) لپاره د دې هرڅه درې ورې کول راته د يوه خلي هومره هم ګران نه دي. خو په دې کې به ډېر خلک مړه شي. پوهېږې؟

- پوهېږم

- راځه چې کومه لاره سره وموموو. او زه د يوه سترجنرال او لوی پوځي سلاکار په توګه (ښښنه غواړم چې "ته" درته وايم، فکر کوم زموږ د دوه اړخيز درناوي له مخې ځان ته دا حق ورکولی شم) له تا نه پوښتنه کوم: څه بايد وکړو چې هم ويني تويې نه شي او هم په دې پېر کې د "ښاغلو وګړو" په دود يوه سوله تينګه وساتل شي او د ببرك کارمل د راتګ اوسېدنې او بېرته تلنې چاره په خير سره تېره شي.

ما هغه کوله چې تر وسه وسه صريح و اوسم، خبرې مې مشخصې وې او ښايي له همدې امله په دې بريالی شوم چې هغه پر خپلو اندېښنو خبر کړم. هغه راته په ځواب کې وويل:

- دوه شپې- ورځې وخت راکړئ. تاسې بېرته ولاړ شئ. د پوځ اوپراتيفي ډله هم له دغه ځايه بوځئ. يوازې زما سلاکار راته پرېږدئ. د ۱۰۸ مې فرقې قطعات دې پاتې شي. زه باور لرم چې له دوو شپو- ورځو وروسته به حالت ټيك (ثابت) شوي وي...

زه په فکر کې ډوب شوم. غټ خطر و. که خبره ورانه شي نو زه ختم يم. ما له خليل سره کابل ته ځېرمه په جګړو کې برخه اخيستې ده. د هغه زړورتيا او سپېځلتيا زه ورمات کړی وم. او سربېره پر دې يې کندهار ته ځېرمه په موټر کې راته کړې خبرې هم را يادې شوې: "رئيس! دلته ګل بودين! دلته!". خو بيا هم بيا هم... که ناڅاپه خاين راوخېږي؟...

- يوازې همداسې.

خليل دا وويل او زه يې د چرتونو له درانده پېټي راوايستلم. لاسونه يې مخ ته پورته کړل او څه دعا يې وکړه.

او ما پر هغه باور وکړ.

يو بل ته مو لاسونه سره ورکړل. د خدای پاماني پر وخت مو د دود له مخې درې ځلې يو د بل مخونه ښکل کړل او زه په الوتکه کې له دغه ځايه ولاړم.

له دوو ورځو وروسته شکیدچنکه او برافچنکه خبر راکړ: نه ښار ته څېرمه او نه په ودانیو کې دښمن پاتې دی. د ۱۰۸ نمبر فرقې جزوتامونه کولی شي په مورچلو کې ځای پرځای شي.

زه چې اوس دا ټکي لیکم نو سرې خولې مې پر تندي ماتې شي- وبه نه شم کړی چې بیا په دغسې یوه حالت کې پر مسلمان باور وکړم او نورو ته هم د داسې کولو سلا نه ورکوم. تر اوسه مې غوږې ربږدي. او هغه مهال به څه حال و؟...

څو ورځې وروسته د دفاع وزیر ټیلفون راته وکړ. هغه ته مې د هېواد د حالاتو، په تېره د جلال آباد په اړه چې ببرک کارمل ورروان و، معلومات ورکړل. او بیا اوستینوف له مانه پوښتلي وو:

- او دا تاسې هلته د کومو خبرو- اترو په سرته رسولو بوخت یاست؟
- ملګری د دفاع وزیر، زه فکر کوم چې د چارې د سرته رسولو لپاره...
- فکر مو ږ دلته، په مسکو کې کوو او تاسې عمل کوئ ملګری مایوروف. غوږ او کلك عمل کوئ.
- تر سره به شي ملګری د دفاع وزیر. تاسې جلال آباد ته د ببرک کارمل له تګ او هلته د غونډې له جوړولو سره موافق یاست؟
- اوپه دې اړه پخپله هماغلته ځای پرځای پرېکړه وکړئ. له ملګري "او" سره سلا وکړئ.

"او بیا دا د شیطان زوی ملګری "او"!..." دا خبره مې په ذهن کې لکه د برېښنا وګرځېده. او اوستینوف په بې رحمه ژبه خبرې اورږدې کړې:

- په هرحال د دغې غونډې د امنیت خبره دې د سرپه بیه تمامېدلی شي.
- سمه ده ملګری وزیر!

د جلال آباد غونډې ته دوه لاسې چمتووالی روان و. چیریومنیخ له جنرال بابه جان او د ستردرستیز او د لوی پوځي سلاکار د ادارې د

افسرانو او جنرالانو له اوپراتیفي ډلې سره، سیولنیکوف له نجیب او د مُخبرانو له اوپراتیفي ډلې او د دواړو غاړو له کشافانو سره، د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د کورنیو چارو وزیر ګلابزوی، د مخابراتو وزیر وطنجار او د ا.خ.د.ګ د مرکزي کمېټې (دفاع او عدل د څانګې) مشر جنرال قادر- ټولو څو شپې او ورځې په بدوهلو متېو کار کاوه. ما چېریومنیخ ته د دغې غونډې د جوړولو لپاره بشپړ واك ورکړ او البته نورو ټولو افغاني مشرانو او زموږ لوړو چارواکو د هغه خبرې ته غوږ نیوه.

په کابل کې د ببرك شاوخوا وګړو هم د غونډې لپاره چمتووالی پیل کړی و.

- زه او سرګي وایسلویچ کازلوف شپه او ورځ په ارګ کې یو،- سفیر تابییف به ټېلفون کې دا معلومات راکړل او بیا یې زیاته کړه: پخپله د ښیبنې په څېر پاك دی. نور او زیری پرله پسې همدلته پر کار بوخت دي. ما ته د جلال آباد د تللو مشوره نه ده راکړل شوې.

- ډېر ښه. برې درته غواړم.

نور مې څه ورته ویلی شوای؟ موږ ټولو برې غوښته که څه هم تبلیغاتي وي خو چې د هېواد په عامه افکارو او د پېښور د مشرانو په منځ کې د ببرك شخصي اعتبار لوړ کړي او د کابلي رژیم ټینګوالی وښیي. هلته دوست افغانستان ته د پوځونو د لېږلو کالیزه هم را روانه وه....

دغه وخت نو ته به وایې څېل دی، ګرځېدل راته ګران شول او د سپګو قولنج سخت ځورولم. انناواسیلفنا ټینګار کاوه چې ځان په روغتون کې بستري کړم، خو دا اوس ګنې د روغتون وخت دی! باید د جلال اباد د چارې تر سرته رسېدلو ځان ټینګ کړم. لمر روڼ ځلېده. د جلال اباد دوبنی تیاتر چې کوماندویان او دیسانت ځواکونه یې د ساتنې لپاره ټینګ ولاړو وو په ګلابو کې ډوب و.

د دفاع وزارت مشران، د قول اردوګانو او فرقو قوماندانان، ټول والیان، د لسګونو تېرونو په تېره د بلوڅو مشران، ملایان، او ای زما خدایه! او د افغانستان د ښځینه غورځنګ لسګونه استازي په دغه ځای کې راټول شوي وو. پوځیانو یونیفورم، والیانو له نکټایي سره اروپایي کالي، مشرانو او ملایانو ملي کالي او لنګۍ او آزادو شویو افغانو ښځو ټولو لکه یوه (د اناهیتا په دود) انګرېزي ډوله کالي اغوستي، سرونه یې ښایسته ږمنځ کړي او څه لږ- ډېر سینګار یې کړی و.

په دې هېواد کې د ښځو د غورځنګ ارزښت له دې ټکي جوتېده چې د دوبني تیاتر مخکیني درې- څلور کتارونه ښځو ته ځانګړي شوي وو. رښتیا له ټولو نه په مخکې کتار کې د ا.خ.د.ګ، منشیان نور او زېری ناست وو. همدلته مې د کشتمند په ګرانې او درېیمې ښځې په ختنه ازبکې كارينې (سم نوم يې "کريمه" دی. د.ج) سترګې ولګېدې. پخپله د حکومت مشر (کشتمند) په کابل کې پاتې شوی و چې "اقتصادی چارې سمبال کړي".

دغونډې په رئيسه هيئت کې (غونډې ته په مخامخ څوکيو کې) پخپله اعلی سرقوماندان له عسکري بېلوونکو نښو پرته په پوځي کاليو کې، او ورسره د دفاع وزير د بريد جنرالۍ په يونيفورم، اناهيتا په خړو کاليو او د قامونو او قبايلو وزير سليمان لايق له نکټايي سره په دريشۍ کې ناست وو. همده په خپلې لنډې وينا غونډه پرانستله او له تشريفاتو سره سم يې اعلان وکړ چې غونډه د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کميټې د عمومي منشي، د ا.د.ج د وسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان او د انقلابي شورا د رئيس ملګري ببرك کارمل تر مشرۍ لاندې جوړه شوې ده. د لاسونو يوه پړه کا شوه. ټول پاڅېدل، ختيز لور ته يې مخونه واړول او د لاسونو په پورته کولو يې پر کرغېړن غليم د بري لپاره د الله مرسته وغوښتله...

پردی هېواد، پردۍ خبرې، پردي مخونه، پردۍ دعا. او ما "د ورور او ملګري" په رول کې له ستر پوځي څواك سره الله ته د کرغېړن

دښمـن د بربـادۍ لپـاره د دوی زاريـو تـه غـوږ نيولـی دی!... البتـه چـې موږ پوهېدو د دوی موخـه مـوږ "بـې دينـان" نـه يـو. خـو اوس راتـه پـه دغـه اشـغال شـوي هـېواد کـې هغـه رول د دوه ګونـي ارزښت درلودونکـی او سـپکوونکی بـرېښي: د "ملـګرو" پـه منـځ کې ناسـت يـې د "غليـم" پـه اړه خـبرې اورې چـې سـتا پـه خپـل نظـر تـرې مقصـد يـاغي مجـاهدين دي خـو آيا پـه تـالار کـې د ناسـتو خلکـو نظـر هـم همـدا دی؟....

زه، چېريومنيـخ او سـامويلينکه يـوې ډډې تـه ولاړ وو، ځانونـه مـو پـټ کـړي وو چـې د دغــې ننـدارې خنـد نـه شـو. مـوږ د دغــې حـبرې پـر ارزښت پوهـېدو او ښايـي زمـوږ ټولـو پـه لاشـعور کـې دننـه پراتـه هاغـه پـټ احسـاس لــه املـه دا اضطـراب راپـارېدلی و چـې د بـل مذهـب، بلـې ايديـالوژۍ، د ژوندانـه د بـل دود دې خلکـو تـه، هغـو خلکـو تـه چـې غوښتنې او هيلې يـې بيخـي زمـوږ لـه پامـه پتـې دي، خـدای زده کـه مـوږ ملګري او ورونـه وايـو. مـوږ دوی تـه پـردي يـو.

ښايـي د لومـړي ځل لپـاره ماتـه هم پـه دغـه هـېواد کـې ځان پـردی او بـې ګټـې وبـرېښېده. او دا پـه داسـې حـال کـې چـې هغـو وګړو چـې زه ورسره يوځای پـه کـار او جګړو بوخـت وم پـه خپلـو کړنـو راتـه جوتولـه چـې خبره داسـې نـه ده او زمـا، د ځان او زمـوږ د ټولـو پـر بېسـاري ارزښت يـې ټينـګار کـاوه....

د غونـډې دا ځلـورم سـاعت دی. تـر دغـه مهالــه د کندهــار او خوسـت د واليـانو، د هـرات، مـزار شـريف او بدخشـان ملايـانو، د دفـاع وزيـر، کريمـې کشـتمند او د تېرونـو پنځـو مشـرانو وينـاوې کـړې دي. لـه کـابل نـه راغلـي خبريـالان، فلمونـه اخلـي، عکسـونه اخلـي او خـبرې ثبتـوي. سـاتونکي هوښيـار دي او مخـبران فعـال. د هـرچـا لپـاره يـو کـار شـته دی!

خليـل الله... مـا پـرې بـاور وکـړ او هغـه هـم زه ونـه غولولـم. ريښتونـی مسـلمان، درونـد انسـان!

او په پای کې لايق اعلان وکړ چې دا دی ببرك وينا کوي. او بيا د لاسونو د پړکا توپان او بيا دعاګانې. د هيپنوتيزم دود!

ببرك خبرې پيل کړې، ښايسته، له لړو ژستونو سره ملګرې او د الله په رضا په هېواد کې د روانو پېښو پر سموالي باوري. د افغانستان خلك به نېکمرغه شي.

...الله دې زموږ او تاسې مل شي، کوستين دهغه د خبرو ژباړه پای ته ورسوله. او يو ځلې بيا د لاسونو پړه کا او دعا...

رښتيا هم په هغه شېبه کې ما باور درلود چې بری نږدې دی. اودا ټوله غونډه د دغې خبرې يو ثبوت برېښېده. خو د شك کوم ناولی احساس مې لا هم په روح کې ځای نيولی و او هڅه مې کوله چې له ځانه يې وشړم. نه،نه! موږ دلته پردي نه يو، دلته موږ ته اړتيا شته- د دې ولس د بري لپاره، د ثور انقلاب د بري لپاره، د دوی د نيکمرغی لپاره بری زموږ دی!

ټول وار په وار خپاره شول. ببرك له ډېرو سره مخ په مخ روغبړ وکړ، يو نيم يې لاسونه ښکلول. يو شوق و، ولوله وه او نمانځنه. ځنګ ته يې مغروره او ستره اناهيتا، پوځي قوماندان او مشران روان وو. ټول له شوې پېښې نه په شوق راغلي او خوښ وو.

ډېر لږ په دې پوهېدل چې لارښود يې همدا شو ورځې مخکې څه حال درلوده، ډېرو لږو کسانو ليدلي چې څه ډول روس جنرال ببرك ته امر کړی و. چې د شرابو ځنبل دې ودروي. خو د خدای شکر دی چې هر شی پای لري. اوس د دې امکان و چې کار، جګړه او بريالتوبونه پسې اوږده شي.

بريالي کېدل! په افغانستان کې د دغسې بري هرې ورځې زما د مورنې پوځ له اتو تر لسو تنو ژوند رانه اخيسته. نور شل- پينځه ويشت تنه له ټپونو او زيانونو سره روغتون ته استول کېدل او بيا د ټول ژوندانه لپاره معيوبان راوتل. او له ۱۵-۱۷ سرتېري، واړه ضابطان او آن افسران په زېړي اخته کېدل. ما ته دا پته هم وه چې د

جګړې هره ورځ زما هېواد ته له يونيم نه تر دوو ميليونو روبله تمامېږي.

د ۱۹۸۰ کال د دسمبر پر ۲۹ تاکل شوې وه چې زه او د دفاع وزير د ارزونې او په را روانو مياشتو کې له ياغيانو سره د وسله والې مبارزې د تاکتيك او ستراتيژۍ د ټاکنې لپاره يوه غونډه جوړه کړو. له سپتمبر نه تر دسمبره پورې پېر کې نوبت بشپړ زمونږ لاس ته راغلی و او په ټولو ولايتونو کې مو د مجاهدينو ډلو ته جدي ماتې ورواړولې او نږدې شل علاقدارۍ او ولسوالۍ مو ترې خپلواکې کړې. بايد دغه برياليتوبونه ټينګ کړای شي.

مونږ پوهېدو چې د ژمي په موسم کې د دواړو غاړو خوځښت تر ټاکلې کچې لوېږي او دا کار د دواړو لورو له خوا د ژمنې او پسرلني پېر لپاره د نويو پرېکړو سبب کېږي. په دې توګه نو مو بايد په دغه ورځ خپلې يانې د شورويانو او د ا.د.ج، د وسله وال پوځ دندې ټاکلې وای. خو له سهاره خونږ (درد) کړولم. زما ويلا ته ګينادي ايوانوويچ کودينوف راغی. دی د طبي خدمتونو ډګروال، د لوی پوځي سلاکار د ادارې د طبي چارو مسوول اود افغانستان د اردو د صحي چارو د رئيس سر سلاکار و. له انناواسيلفنا سره له څه ګونګوسي وروسته يې وپييله چې د عملياتو لپاره مې په روغتون کې بستر کړي. د هغه په آند بايد دا کار څو ورځې مخکې شوی وای. کودينوف ټينګار کوی: بې ځنډه همدا نن ځان بستر کړه. انناواسيلفنا خو بيخي ټينګه دا غوښتنه کوله.

ما ژمنه ورکړه چې د دوی خبره ومنم، خو څو ګړۍ وروسته. کودينوف يوه آراموونکې ستن راته ووهله او زه لکه د تل څه د پاسه اته بجې د ستر درستيز په لور وخوځېدم.

غونډې ته د دريو قول اردوګانو او د هغو ټولو فرقو او شپږو مستقلو لواګانو قوماندانان سياسي آمرين، درستيزوالان او دغه راز د ټولو غونډونو قوماندانان، د غونډونو درستيز والان او د

قوماندانانو مرستیالان، او البته چې د بېلې بېلې کچې ډېر شوروي سلاکاران رابلل شوي وو. موږ دغه راز د هېواد ټول سیاسي او دولتي مشران هم راوبلل. د غونډې پرانستنه د دفاع وزیر برید جنرال محمد رفیع په غاړه وه. مهمه دا نه وه چې په ویناوو کې څه راغلي دي، بلکې د خلق او پرچم په دوو متحاربو او متضادو ډلو پورې د تړلو وګړو تر منځ د ګډو اړیکو چاپېریال ارزښت درلود. او تر دغه وخته د مشرتابه په منځني او اوچت پوړ کې یا لږ تر لږه د قول اردوګانو او د ډېرو فرقو په قوماندانۍ او د افغانستان په سیاسي فعالینو کې پرچمیان ورټومبل شوي وو او دغه بهیر په شدت روان و. خو له دې سره سره بیا هم د غونډونو د قوماندانانو، د هغوی د سیاسي مرستیالانو، درستیزوالانو او د فرقو د قوماندانانو په منځ کې د خلقیانو شمېر د پخوا په څېر ډېر و. په یوه سالون کې د دوی د یوځای کینونې موخه د اپرېل انقلاب د دښمنانو خلاف د دوی په ګډې مبارزې کې د پخلاینې او ملګرتیا جوتول و. دا خبره زموږ لپاره ډېره ارزښتناکه او له سیاسي پلوه غوڅوونکې وه.

غونډه محمد رفیع پرانستله. هغه د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ لوی درستیز تورنجنرال بابه جان د وینا کولو لپاره راوباله. دی څلوېښت دقیقې وغږېده.

وروسته بیا د سیاسي چارو لوی رئیس اورنۍ پرچمیست برید جنرال ګل آقا وینا وکړه.

د هغه د خبرو کوچ دا وو چې باید له ایدیالوژیك پلوه د خلق او پرچم دوه جلا ډلې د عمل یوه بهیر ته واچول شي چې د دښمن خلاف لاتوره فعاله مبارزه وکړی شي.

د سیاسي بیورو غړي اناهیتا راتب زاد هم د ثور انقلاب د ستر لاربنود (همدغسې ویل شوي وو) د هغې لارښوونې په اړه یوه لنډه خبرتیا ولوسته چې د ثور انقلاب د بریاوو د ټینګښت لپاره یې تروسه وسه د ښځو غورځنګ ته د زیاتې ونډې د ورکړې غوښتنه کوله.

دا و د غونډې د لومړۍ برخې د څرنګوالي لنډيز.

وروسته ببرك په سر "نور" ته اشاره وکړه او هغه خبرې راپيل کړې. دی د افغاني پوځ او د څلوېښتم لښکر د قطعو تر منځ د ګډې همکارۍ او په سيمو کې زموږ له خوا د واکمنۍ د ټينګولو په اړه وغږېده. نور وويل غوره به وای چې له سيمو نه د راغلو استازو خبرې مو په دې اړه اورېدلې وای چې په راروانو مياشتو کې د پوځي عملياتو د خوځښت له ساتنې سره سره د پوځي چمتووالي چاره څه ډول نوره هم ښه تر سره کېدلی شي. د لومړۍ (مرکزي) قول اردو له قوماندان نه يې د وينا غوښتنه وکړه.

ډګروال خليل الله دريځ (ستيژ) ته وخوت. هغه وويل: د دود درناوی کوي او نه غواړي چې د دولت لويو مشرانو ته سلا ورکړي. په دې توګه هغه غوښتل ټينګار وکړي د کړنو د لوري، تاکتيك او ستراتيژۍ ټاکل او د هغې د مسووليت په غاړه اخيستل دا يوازې د لوی مشرتابه دنده ده. او خپلې خبرې يې ژر پای ته ورسولې: "خدای دې له نامسلمانو غديو سره په مبارزه کې زموږ مل شي".

غونډې په پای کې وپتييله چې په راتلونکو نږدې مياشتو کې دې ټول پام پوځي روزنې ته واړول شي. د څمکنيو پوځونو له دريو دوې برخې به په همدې چارې بوختېږي او پاتې دريمه برخه به له دښمن سره د مبارزې لپاره د پرله پسې جنګي چمتووالي په حال ساتل کېږي. د جنګي الوتکو او چورلکو نيمه برخه به په جنګي روزنې بوختېږي او پاتې نيمه برخه به يې د جګړه ييزو عملياتو د سرته رسونې لپاره پرله پسې چمتو وي او يا به يې سرته رسوي. د افغانستان د ديموكراتيك جمهوريت ستر درستيز او د لوی پوځي سلاكار اداري ته د تركستان د پوځي حوزې له قوماندان او درستيزوالۍ او دغه راز له مسكو سره د كړنو د نوي پلان د جوړولو په اړه د سلاكولو لپاره يو مهال وټاكل شو.

موږ ګڼله چې دغې جلسې په هغو خورا سختو شرایطو کې د هېواد د سیاسي دولتي مشرتابه ویسا پر ځان زیاته کړه. د ۱۹۸۰ کال د ارزونې په لړ کې مو دا خبره یاده کړه چې د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا پر ځای پاتې شوې او په مرکز او ولایتونو کې حکومتي واکمنۍ دوام کړی دی، د ا.خ.د.ګ، د دوو سیالو ډلګیو له درلودلو سره سره په هېواد کې له نورو بر و او اقتصاد البته زموږ په مرسته رنګېدو ته نه دی پرېښودل شوی: لوړه نه وه، هتې پرانستې وې خو موږ پوځیانو ته چې په اقتصادي قوانینو دومره نه پوهېدو عجیبه خبره دا وه: (د هېواد ملي) سکه "افغانۍ" په ګاونډیو هېوادو کې آزاده پېروپلور کېده خو زموږ شوروي روبل نه په بازار کې ارزښت درلود او نه هتیوال ته. د دې ترخنګ موږ پوهېدو، او دې هیله هم رابښله چې د ۱۹۸۰ کال کرنیز حاصل ټول شوي دي. هرځه د دې خبرې پخلی کاوه چې ملي- دیموکراتیك افغانستان ژوندی دی. او ما باور درلود چې په ۱۹۸۱ کال کې به لرلید له دې نه هم له خوښۍ ډك وي او زه پر دې باوري وم چې د ۱۹۸۱ کال تر پایه به د دښمنو ډلو له منځه وړل بشپړ شي او په ډېرو ولسوالیو او علاقداریو کې به د ملي- دیموکراتیکې واکمنۍ د ټینګولو لپاره ښه شرایط او لرلیدونه منځ ته شي.

دلته د دغو څو ټکو یادول هم اړین (ضروري) دي.

موږ لوړ شوروي مشران په دې پوهېدو چې په دې جلسه کې د شویو ویناوو محتوا په پیښور کې دیره مشرانو ته رسول کېږي. له همدې امله د شوې پېښې شکلي، ننداره ییز او تبلیغي څانګړتیا ته په پاملرنې سره سم مو په جنګي روزنې د خپلو قطعو د بوختولو مسئله هم وسنجوله. دا ښه پټ شوي منحرف کوونکي معلومات وو. دا داسې یوه ټګلاره وه چې له موږ سره یې په منې کې د تر سره کړو جګړو په بریالي پای ته رسولو کې مرسته وکړه. د هغې په لړ کې مو نه یوازې "د دوو نقشو قاعده" کاروله، بلکې د پوځي او سیاسي

مشرتابه د يووالي يو احساس مو هم تينګ ساته (او دې کار په پېښور کې له ميشتو مشرانو نه لار ورکوله) خو دې هرڅه يو بل اړخ هم درلود: مجاهدينو د يوه داسې غليم په توګه چې له ځانه دفاع کوي او ماته خوري کولى شواى د امريکې، پاکستان، سعودي عربستان او ايران پر نورو مرستو حساب وکړي. او دا مرسته ورته رسېدله هم او د دې مانا دا ده چې موږ هم بايد تر پسرلي د جګړه ييزو عملياتو سرته رسونه لا ډېره پياوړې او په زياتې هوښيارۍ پلان، سمبال او ترسره کړو. خو پلان- پلان وي... ها د چا خبره "د جګړې خبرې آسانې خو شېبه يې ګرانه ده" او د افغاني "نه پخلا کېدونکي اپوزيسيون" زور مو بايد ډېر نور کلونه هم آزمايلى واى. خو يوازې په هاغه ۱۹۸۰-۱۹۸۱ کال کې موږ د دغسې يوه لرليد اټکل نه کاوه. زما پوره دا باور و چې د افغانستان جګړه به د ۱۹۸۱ کال تر پسرلي پاى ته رسېږي.

د غونډې په اړه د غرېدو په ترڅ کې مې د شوروي پوځي سلاکارانو خبره هم وکړه. يو څو ټکي به پردې نور هم ورزيات کړم چې انځور ښه روښانه شي:

په افغاني پوځ کې د غونډ يا مستقل کنډك له پولې نيولې بيا د پوځي جوړښت تر هماغه لوړې څوکې پورې د هر قوماندان تر څنګ زموږ سلاکاران ناست وو. د ساري په توګه، په مستقل کنډك کې درې ځلور او په غونډ کې پنځه- شپږ سلاکاران وو. د فرقې په اداره کې له ۱۱- ۱۵ تنو پورې.

د افغانستان په ديموکراتيك جمهوريت کې د سلاکارانو ټول شمېر ۱۶۰۰-۱۸۰۰ تنو ته رسېده، په دوى کې ۶۰-۸۰ تنه د لوړو رتبو خاوندان يانې جنرالان وو.

په هرې قطعې کې يو يا دوه او په ګډ لوى جزو تام کې د فرقې يا قول اردو په درستيزوالي کې دوه يا درې ژباړونکي وو.

له غونډي وروسته هماغلته په ستر درستيز کې "مېلـه" جوړه شوه. ما او رفيع هغه رالنډه کړه چې ببرك ته په کې د ډېرو شرابو د څښلو وخت نه وي... خو لاړښود دا ځل له عقل نه کار اخيستـه او يوازې يې چاى وڅښه.

ملګرى "او" لکـه د تل په څېر په خوړه دريشۍ کې په ببرك پورې نښتى و او په غوړه ماڼۍ يې تل د هغه خولې ته کتل. زما زړه هغې غوړه ماڼۍ خوړ چې د ببرك شاوخوا کسانو به د هغه په درناوي کې کوله. او دې کار طبعاً چې زموږ د بېلابېلو ادارو پر کارپوهانو هم اغېز کاوه. خو که دا د ختيز رسم وي نو څرنګه ترې ځان بچولى شي؟

په جګړه کې څلور مياشتې ځپ ځپانده شپې او ورځې اړولـو زما د بدن ځواك اوبه کړ: آخر هاغه وخت پر ما شپېته کاله اوښتي وو... او هلته هره ورځ له حده زيات فشار او کړاو و چې له جګړه ييزو عملياتو، الوتنو او د درندو او زموږ لپاره د نابرياليو جګړه ييزو عملياتو ډګر ته يې له تللو سره تړاو درلوده. له افغاني مشرتابه، سفير او د هغه له سرېو او آن له مسکو سره په دوه اړخيزو اړيکو کې پېچلتيا هرومرو پر ما ياني هغه چا اغېز غورځاوه چې د منځنۍ آسيا له اقليم سره چې د اتموسفير فشار او د تودوخې درجه په کې سخته کښته- پورته کېږي، هېڅ روږدي نه دي... او يوازې ويلاړ (عـزم)، د لوى پوځي سلاکار د ادارې لپاره د ټاکل شويو دندو د سرته رسولو اړتيا او بنايي د پوځ په بټۍ کې د اوږدې مودې پخوالي د دغه پيټي د پورته کولو زغم راکاوه. خو بيا هم هرشى يو بريد (حد) لري... روغتون ته تګ په کار دى! دليل يې عادي د خېټې د پردې خيرې کېدل (چُره کېدل) و.

ما د دغه اجباري استراحت په ترڅ کې چې له عملياتو او د نقاهت له دورې سره يې تړاو درلود او په ترڅ کې يې د ورځنيو چارو فشار لږ شو، د افغانستان د ديموکراتيك جمهوريت پېښې او دغه راز د خلکو خپل منځي اړيکي او تر هرڅه مخکې له ما سره د هغوى چلند په بل رنګ وليدل.

# اتم ځپرکي

پوځي روغتون د کابل په لمن کې د لرغوني پارك او ګلبڼونو په منځ کې پروت و. د ځوارلس پوړيزې اصلي ودانۍ څنګ ته چې مخ يې په ګرانيتو او مرمرو پوښل شوی و، څو نور ټيټکي بلاکونه هم ودان وو. د پوځي روغتون ټوله مجموعه په اويايمو کلونو کې د شوروي اتحاد په مرسته جوړه شوې او د پنځه- شپږ زره طبي کارکوونکو په درولود په کې دوه نيم- درې زره بستره په پام کې نيول شوي وو. ټول جوړښت، تجهيزات، وسايل او درمل په لوړه کچه کې وو چې يا له لويديز آلمان، يا له چکوسلواکيې او يا هم له يوګوسلاويې نه راوړل شوي وو. البته چې دا د ودانيو مجموعه موږ ته په څو ټکو تمامه شوې وه. ګورئ چې موږ څومره شته من يو! او له دې سره سره سخيان هم يو!

د پوځي روغتون رئيس افغاني ډګروال ابو خاطر (؟) (دهغه ورور سليمان هم چې د طبي چارو ډګروال و، دښمنانو لومړی ټپتولی او بيا يې د کفارو د درملنې (تداوی) په تور ځورولی او په پای کې يې ټوټې ټوټې کړی او غړي يې په نغري کې اورته اچولي وو).

د روغتـون ډېر ډاکـټران او درملونکـي زمـوږ د هـېواد د اوچتـو زده کـړو درلودونکـي ډېر غـوره کـارپوهـان وو. د ډاکټرانـو پنځمـه یـا شلورمـه برخـه افغانـان وو. د ۱۹۷۹کـال تـر دسـمبره د افغانـانو د خپلـې شمېرنې لـه مخـې یـوازې اتـو سـوو افغـان ډاکټرانـو لـوړې (تخصصـي) زده کـړې درلـودې. او زمـوږ د عسـکرو لـه ورتـګ سـره سـم د دغـې شـمېرې نـږدې شپږ سـوو تنـو هـېواد پـرېښوده. او د پـاتې کسـانو ډېرې برخـې پـه افغـاني پـوځ کـې چـوپـړ (خدمـت) کـاوه. د روغتـون د منځنـي طبـي کـادر نیمـايي برخـه افغـانـان او پـاتې یـې زمـوږ وګړي وو. نرسـانې، چـوپړیـانې (خدمـې) او نـور پـاتې تخنیکـي پرسـونل ټول افغانـان وو.

روغتـون پـه ډاډمنـه تـوګه سـاتل کېده. دلتـه د سـختو او د منځنیـو ټپونـود درلودونکـو ټپیـانو درملنـه کـېده. دا هـم شـورویان او هـم افغانـان وو. خـو زمـوږ دا شـمېر ځکـه ډېر لـږ و چـې پـه ځلوېښتـم لښکـر کـې د غونډونو لـه صحـي ځانـګو نـه نیولـې د فرقـو تـر روغتونـو پورې د صحـي چـارو ښې پرمختللې لـړۍ کـار کـاوه.

پـه دغـو روغتونـو کـې ټپـي دښمنـان هـم تـر سـترګو کـېدل. او دا دی لـه څه‌شي سره مخـامخ شـوي یـو- تصـور یـې هـم ګران دی! دښمنـانو خپـل ټپـي بندیـان پـه پټـه تښتـول. پـه تـېره کـه بـه د د غـو وګړو لاس یـا پښـه غـوڅه شـوې وه، یـانې معیوبـان بـه وو. د څـه لپـاره؟ د سـخت بـې شـرمه تبلیـغ لپـاره چـې ګنـې دا دی وګورئ شـوروي ډاکـټران د خپلـو قوماندانـانو پـه لارښوونـه زمـوږ بندیـان مسـلمانان، معیوبـوي او لاسـونه او پښې تـرې غـوڅوي... پـه دې تـوګه نـو کـه ټپیـان هـم شـوئ ځان پـه لاس مـه ورکـوئ... "لـه کفـارو نـه غـچ واخلـئ!".

لـه همـدې املـه د روغتـون کلکـې او ډاډمنـې سـاتنې تـه اړ شـو. او طبیعـي ده کـه پـه روغتـون کـې لـوی پـوځـي سلاکار پـروت وي نـو بیـا خـو د سـاتنې ملاوسـتنی (کمربنـد) نـور هـم ټینـګېږي. د دې خـبرې غـم ولاډیمـیر چـیریومنیخ خوړلـی و!

د ۱۹۸۰ کال د دسمبر پر دېرشمه د کيروف په نامه د لنينګراد د پوځي طبي اکاډيمۍ ډاکټر او د طبي چارو ډګرمن ل. له ځايي (قسمي) بې هوښۍ وروسته زما عمليات تر سره کړل. کار يې بې تشې (عيبه) تر سره کړ او زه تر اوسه دغه سړی په مننه يادوم.
چې څنګه عمليات تر سره شول نو سملاسي مې انناواسيلفنا پوښتنې ته راغله او د عملياتو د خونې تر څنګ بله کوټه کې زما هميشنی مرستندوی الکسي کارپوف د مخابرې له وسيلو سره په کار بوخت شو. د بيسيم ټلفون لېږدېدونکې (سيارې) غوږۍ زما په بستر پرتې وې او له اړتيا سره سم په آسانې راسره تماس نيول کېدلی شو. که څه هم ما د عجيبو پوښتنو د مخنيوي لپاره د روغتون خبره هيچا ته نه وه کړې.
د نوي (ميلادي) کال بنادۍ رانږدې کېدلې....
د دسمبر د يودېرشمې ورځ پر سهار چې څوک تر نورو لومړی زما پوښتنې ته راغلل نو هغه دوه غبرګوني ورونه- د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې منشيان- نور احمد نور او صالح زيری وو. زما د حال پوښتنه يې وکړه او بيا يې د جلال آباد د جرګې او د ستر درستيز د غونډې له امله خپلې بنې خاطرې راسره شريکې کړې. د پرچميانو لاربنود ببرک کارمل د خلق او پرچم ډلو د يووالي د ټينګار لپاره داسې غوټه کړې وه چې د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې دا دوه منشيان دې هرځای ته ګډ ورځي او دواړه دې يوه خبره کوي. او څکه نو موږ د ساموېلينکه په غوښتنه چې له دوی سره د خپلې دندې له مخې تل په تماس کې و پر هغوی "غبرګوني ورونه" نوم کېښوده.
د هغو له تللو لږ وروسته يې خبر راکړ چې اناهيتا راتب زاد او جنرال ګل آقا راغلي دي. هغې لکه د تل په څېر انګرېزي کالي اغوستي او وېښتان پورته ږمنځ کړي وو. ښکلې او ستړه وه. په موسکه خوله يې له انناواسيلفنا سره له ښکلولو وروسته ماته چې پر

کټ پروت وم د ګلابو یوه لویه غنچه راکړه. ما هم چې څومره کولی شول په ورین تندي هم مننه کوله او هم موسل او ګل آقا وویل:

- مېرمن د هرڅه له امله له تاسې نه مننه کوي او هیله لري چې ستاسې اړیکې به وړاندې هم د ثورانقلاب د بریاوو په ګټه همداسې پاتې شي.

مور څو نورې خبرې هم سره وکړې او بیا مو په مینه مخه ښه وکړه... ماسپښین مهال د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د حکومت رئیس سلطان علي کشتمند او کریمه راغلل. په دوی پسې سم ژباړونکی د ګلانو له یوه لوی شکور سره راننووت.. څرګند ه وه چې د کشتمند د کورنۍ له خوا ګلان کریمې راوړي او شکور د لاربنود - ببرک کارمل ډالۍ ده. تودې خبرې غبرګې او د روغتیا هیلې....

وروسته د دفاع وزیر رفیع، د خاد رئیس نجیب، د کورنیو چارو وزیر ګلابزوی، د مخابراتو وزیر وطنجار او د ا.خ.د.ګ د دفاع او عدل څانګې مشر قادر پوښتنې ته راغلل... ګلا ن وو- ګلان وو! ای خدایه څېرته د مرګ پر کټ خو به نه یم؟! د روغتون کوټه نه وه ګلبڼ وه!

- سانیا، فکر کوم چې ایماسوماك* ته به هم د رنځورتیا پروخت چا دومره ګلان نه وي وروړي. او... وګوره، - انناوایسلفنا بې خندنې دا وویل او زیاته یې کړه: نور ګنې بس نه دي؟... او بیا یې د شهادت په ګوته زما د پوزې په وړاندې یوه دایره وکښله، - هه؟...

- هو، نور بس دي... سربېره پر دې لکه چې تبه مې شوه... او ناڅاپه د څانګړي ټلفون "بولاوا" شرنګ شو. مسکو دی. غوږې پورته کوم او غوږ یم:

* ایماسوماك په شپېتمو میلادي کلونو کې د ارجنټاین مشهوره سندرغاړې وه. (د.ج)

ایپشیف دی* وایي د قوماندې په کوم مرکز کې یم چې په لټولو مې سترې شوی دی.

- د قوماندې په مرکز کې نه یم، په روغتون کې یم.
- دا څه وایې، څه درشوي؟
- له عملیاتو وروسته پروت یم...
- اوستینوف خبر دی؟

ځواب ورکوم

- نه او نه غواړم چې په دې اړه ورته خبر ورسېږي...
- اوستا د روغتیا پړه د چا په غاړه ده؟
- د ګوند او دولت په غاړه الکسي لکسیوویچ (ایپیشیف)،- دا ورته وایم او بیا زیاتوم:- او تر ټولو وړاندې د سیاسي ریاست...
- ټوکې کوې؟ څوك به دا تصدیق وکړي چې ته د کار وړتیا لرې؟
- دلته "اکادیمیسن" زما څنګ ته ناست دی. هغه به درته تصدیق وکړي چې زه روغ...

غوږې رانه اناوایسلفنا واخیسته چې لږه اند ېښمنه شوې وه.

- الکسي الکسیوویچ (ایپیشیف) دا زه یم، اناواسیلفنا. سانیا... وبښئ، الکساندر مایوروف به پنځه- اووه ورځې وروسته په دفتر کې وي،- او بیا یې غوږۍ ماته راکړه.
- ښه روغتیا درته... د ځان او د تاتیاناالکسي یفنا له خوا غواړم.

مرکزي کمیټه په هرڅه خبره ده او ستاسې هڅې تاییدوي...مننه او روغ شې!

دا د نوي ۱۹۸۱ کال د مبارکۍ پر ځای ومنه. په غېږ کې دې نیسم.

نور نو له مسکو نه هېچا زنګ ونه واهه، داسې بریښي چې ایپیشیف زما راز پټ ساتلی و. هلته هرڅوك په خپل کار بوخت وو. په

* ستر جنرال الکسي ایپیشیف د شوروي اتحاد دوسله وال پوځ سیاسي لوی رئیس و.(د.ج)

تېره بيا چې د کال د وروستۍ ارزوونکې غونډې په اړه چېريومنيخ هم اګارکوف، هم سوکولوف او هم اخرامييف ته خبر ورکړی و او ښايي اوستينوف هغه وخت رنځورو. داسې برېښېده ټول هغه کسان چې غوښتل يې زما پوښتنه وکړي راغلي دي. او دا دی ډګروال خليل الله د ګلانو له يوې غټې غنچې سره راننووت. رښتيا خبره کوم، د هغه په راتګ زه په تېره بيا خوښ شوی وم. ملکي کالي يې اغوستي او په لاس کې د "سپين آس" په نامه د ويسکي بوتل هم نيولی و. چې له دې امله مې ورته وويل:

- دا شيان خو قرآن (کريم) بند کړي دي...
- پوهېږم ښاغلی سترجنرال صاحب...
- نو څنګه ته؟...
- ښښنه غواړم ملګری (دا ځل يې "ملګري" راته ووايه) سترجنرال. قرآن د روغو خلکو دی. رنځورانو ته،- او په ګوته يې بوتل وټنګاوه،- قرآن هم اجازه ورکړې ده.
- ما ترې مننه وکړه او ومې پوښته:
- ولې دې وينا ونه کړه؟
- زموږ ختيځوالو دود دا دی چې: لويانو ته مشورې مه ورکوه.
- خو که زه درنه څه مشوره وغواړم... نورڅه وکړو چې په ۱۹۸۱ کال کې بشپړ بری ترلاسه شي؟ هه؟
- نه پوهېږم.
- پوهېږې.
- نه پوهېږم.
- پوهېږې، مشوره راکړه.

څه لږه شېبه غلی و، بيا يې وويل:

- د ببرك له پلار (جنرال محمد حسين) نه وپوښته. چې څه هغهووايي، زما هم پرې اتفاق دی.

زه خبر وم چې د ببرك پلار متقاعد ډګر جنرال دی او مخکې د هغې قول اردو قوماندان و چې په هرات* کې ځای پرځای وه. په دې هم پوهېدم چې اوس په سیاسي او ټولنیزو کارونو کې ګوتې نه وهي. او البته چې عادي سړی نه دی او په افغانستان کې یې خلك پېژني، له حالاتو خبر دی او اوس هم د پوځ له چارو سره مینه لري. د مشورې مې له خلیل نه مننه وکړه. او هغه ووت.

زه له مسکو نه یوه بل زنګ ته هم سترګې په لاره وم. او دا دی زنګ راغی. د کابل رانه لمر له پریوتلو مخکې چې ته وا ژمي یې رونوالي ته زیان نه دی رسولی، ځانګړی ټلفون وشرنګېده او دا نیکلای اګارکوف و. هغه تل مؤدب، دقیق او مختصر و.

- ستر درستیز له هرڅه نه بشپړ خبر دی. ستا کارونه منظوروم او ملاتړ یې کوم. روغتیا دې بیاومومه. د ځان او د رائیسا ګیورګیفنا له خوا تا او انناوایسلفنا ته د نوي ۱۹۸۱ کال د راتګ مبارکي وایم. ښه شې. په غېږ کې دې نیسم!
- مننه.

زه د یوبل تن د راتګ په تمه هم وم. خو نه سفیر تابییف، نه د ك.ګ.ب، استازی سپولنیکوف او نه هم د ا.خ.د.ګ، په مرکزي کمیټه کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې استازي کازلوف د دسمبر یو دېرشمه روغتون ته زما پوښتنې ته رانه غلل. او زه ښه پوهېدم چې ولې خو ما وویل څه څه یې کوې. پرېږده چې هرڅه همداسې پاتې شي. کېدی شي هغوی د نوي کال په نمانځنه بوخت پاتې شوي وي؟ خدای خبر، که داسې وي، داسې برېښي چې کوم بل علت شته دی... په غالب ګومان دا د لوی لاس یو داسې غبرګون و چې سنجونه یې ناسمه وه، که نه نو دیپلماتان که رښتیا هم

---

* په حقیقت کې جنرال محمدحسین خان د محمدداود خان د جمهوریت په پېر کې د پکتیا د دریم لمبر قول اردو قوماندان و. (د.ج)

ډیپلماتـان وي، داسې نـه کـوي. اوس نـو لـه دې سـره سـره چې د یـوې ګډې چـارې پـه سـرته رسـونه بوخـت وو او پـه ګډه مـو بـاید یـو ډول دنـدې تر سره کړې وای، یو لـه بل نه مو واټن لـه مخکې نـه ډېر شـو.

د روغتـون د لویـو هنـدارو شـاته د ژمـي لنډه ورځ د تیـارې غـبـږ تـه ورپرېوتـه. هغـه مـهال مـا د ایـوان بونیـن اثـر "دوزخـي ورځې" لوسـته. کـه څه هم هغـه بـل مـهالیز (زمـاني) پـېر او نـور شـرایط انـځور کـړي، خـو (زمـا) طبیعـت هماغسې و: خوابـدی او ترینګلـی....

پـه دې تـوګه نـو د نـوي کـال پـه شـپه زه او انناواسیلفنا دوه پـه دوه یـوازې پـه روغتـون کې پـاتې شـو. مـوږ وو او زمـوږ چرتونـه: د تېرکـال پـه اړه، پـه تـېره د راروان کـال پـه اړه او د جـګړې پـه اړه چې پـه ترسـره کولـو کې یې د ډېرو ځیزونـو ځواب زمـا پـه غـاړه و...

پـه روغتـون کـې د ډېرو شـیانو پـه اړه د فکـر کولـو او د ډېرو ځیزونـو د نیوکیزې (انتقـادي) ارزونـې وخـت پـه لاس راغـی...

پـه افغانسـتان کې زمـوږ د عسـکرو او جـګړې برخلیـك نـه پـه کـابل کې ټاکل کېده، نـه سفیر ټاکـه، نـه لـوی پـوځي سلاکار او نـه نـورو رسمي کسـانو. ټاکنه یې تر هـرڅه مخکې پـه مسـکو کې پـه سیاسـي بیـورو کې او د سیاسـي بیـورو پـه کمیسیون کې کېدلـه... پـه کـابل کې مـو سـر پـه دې خـبره خـلاص شـو. لـه دې سـره جوخـت ز مـوږ لـه خـوا د ربښتینوحـالاتو لـه عیـني ارزونـې پرتـه نـه ستردرسـتیز، نـه د دفـاع وزرات او نـه پخپلـه وزیر دغـه حـالات پـه عیـني بـڼه ارزولـی او د جـګړې او پـه افغانسـتان کې زمـوږ د پـوځي شتـوالـي راتلونکـی برخلیـك ټاکلـی شـوای.

دغـه راز افغـاني مشـران یـانې هغـه څوك چې د واك واګې یـې پـه لاس کـې دي او تـر هـرچـا مخکـې د بـبرك پـه مشـرۍ د ا.خ.د.ګ. د مرکـزي کمېټې سیاسـي بیـورو او د کشـتمند پـه مشـرۍ حکومـت هـم بـاید لـه پامـه غـورځول شـوی نـه وای. پـه دوی کې هـم د رفیـع پـه مشـرۍ پـوځ، د نجیـب پـه مشـرۍ خـاد ، د ګلابـزوی پـه مشـرۍ څارنـدوی او ډېر نـور حکومتـي، سیاسـي او ټولنیز سـازمانونه راتلـل چې یـا پخپلـه د

شوروي سلاکارانو تر وزر لاندې او یا د شوروي اتحاد په مرسته او د دغه هېواد د سیاسي او دولتي مشرتابه په غوځ فشار په افغانستان کې تر دغه وخته منځ ته راغلي وو. د ساري په توګه وویل شول چې په افغانستان کې دې صنفي (کارګري) اتحادیې جوړې شي، نو د سترګو په رپ کې بیا په دې اړه پرېکړه وشوه.. او دغه هېواد ته د لاتویا د صنفي اتحادیو د شورا د رئیس ملګري فیرینسیس په مشرۍ د شوروي اتحاد د صنفي اتحادیو د کارکوونکو لویه ډله وخوځېده. خو دا لادومره خبره نه وه، کېدی شي افغانستان ته که جګړه هم په کې روانه وي، د صنفي اتحادیو اړتیا وي. خو دغه دي درواخله، د ساري په توګه د شوروي اتحاد د جوړولو (ساختمان) دولتي اداري د طراحانو، معمارانو او پروژې جوړوونکو په ګډون د ماهرانو یوه لویه ډله د ښار جوړونې په برخه کې د مرستې لپاره راروانه کړې وه- څه عجیب د ښار جوړوونې وخت خو و!... د شوروي اتحاد سمندري ځواك هم (بیا په پسرلي کې یانې په اپریل او مې کې) د اوبو د سیستم د څېړنې، پلان کولو او بشپړولو لپاره د کارپوهانو ستره ډله وراستولې وه. خو په افغانستان کې نه هغه شته او نه دا!- یوازې واړه-واړه سیندګوتي دي. د مخابراتو له وزارت نه هم په کابل او نورو ښارونو کې د اتومات ټلفون د شبکې د جوړولو لپاره انجنیران راغلي وو. په داسې حال کې چې کابل یوازې له ولایتي مرکزونو سره ټلفوني رابطه درلوده او دا لیکې تر ولسوالیو نه وې غزېدلې. مسکو په ځرګنده دراتلونکې په پام کې ساتلو سره په روسي پراختیا عمل کاوه.

طبیعي ده چې زموږ د هېواد ټولو استازو په کابل کې په ښو شرایطو کې ژوند کاوه، تنخواه ګانې یې هم بدې نه وې خو قاعدتاً له کابله نه وتل- دلته خو جنګ دی، تګ چېرته کېږي! خو پر ځای یې د شیطانی لیکونه استول، د ځان غم یې خوړ، او په دې یې ویاړل چې انترناسیونالیستي دنده سرته رسوي. خو سفیر دا له خدایه غوښتل چې نوی شوروي کتار په کاربوخت وي او دی یې مشري کوي. البته

چې زه د افغانستان د ديموكراتيك جمهوريت په ټولو ګوندي او دولتي ادارو كې د شوروي سلاكارانو له بشپړ شمېر نه خبر نه وم. خو يوځل مې له سفير سره د غونډې په ترځ كې د دغو شوروي نماينده ـ ګيو او ډلو مشران وليدل- ګوته په غاښ ورته پاتې شوم، خورا ډېر وو: نږدې زر تنه، او دايې يوازې مشران وو...

ما، چيريومنيخ او ساموييلينكه پرېكړه وكړه چې د جنورۍ له لومړۍ او چې ډېر ناوخته شي له دويمې نېټې وروسته او همدا چې له عملياتو وروسته حالت مې اجازه راكړي، هره ورځ به له برونيينيكس سره په ګډه د سياسي، پوځي، اقتصادي، ملي، مذهبي اوداسې نورو هغو حالاتو په څېړنه دوه- درې ساعته لګوو چې په نږدې راروانو مياشتو كې يې په ترځ كې كار كولو ته اړوځو. په دې څېړنه كې د شكيدچنكه ځاى تش و. (هغه وخت د دريېمې قول اردو ځواكونه په خوست كې په سختو جګړو بوخت وو او شكيدچنكه د ځلوېښتم لښكر له ټولګيو سره د ګډې همكارۍ د سمبالولو لپاره هلته تللى و). البته چې ما د دغسې ارزونو تجربه درلودله. مهمه دا وه چې د خپلو ملګرو خبرې واورم، د هغوى انګېرونو ته ورننوځم او فكرونه يې په پام كې ونيسم. خو د پرېكونې خبرې حق البته چې له ما سره و. او ما هڅه كوله خپله پرېكړه داسې څرګنده كړم چې د ترلاس لاندې وګړو لپاره هم هرومرو د پوهېدو وړ وي او هم بشپړه روښانه.

چې تېروتنې ونه شي، غشې د نښې څنګ ته پرې نه وځي او سمې پرېكړې وشي... البته چې په جګړه كې د بيخي سمې پرېكړې كول به خداى زده كه شوني وي. جګړه خو د دوو خواوو تقابل دى چې هره يوه يې غواړي د بلې مخالفې خوا خلاف د متقابلې كړنې تر ټولو غوره بڼه خپله كړي او هغه پرې راوپرزوي.

د ستر درستيز د غونډې په ترځ كې په لوى لاس د دروغجنو اطلاعاتو د خپرولو په لړ كې مو د دې خبرې په پام كې نيولو سره چې د ا.د.ج. د وسله وال پوځ او ځلوېښتم لښكر اصلي ځواكونه به پر

"جګړه یېزو زده کړو" بوختېږي، د ترکستان د پوځي حوزې د قوماندان ډګر جنرال یوري ماکسیموف په سلا او د نیکلای اګارکوف په منظورۍ د دسمبر له دویمې نیمایۍ نه په ډېره پټه توګه د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ- فبرورۍ لپاره د جګړه یېزو عملیاتو د پلان په جوړولو لاس پورې کړی و. د دې ترمخه ټاکل شوې وه په مهمو سیمو کې غوځ او فعال پوځي عملیات تر سره شي. باید مجاهدینو ته اجازه ورنه کړی شي چې سیاسي او پوځي نوښت تر ګوتو کړي. ما د غونډې په ترڅ کې په لوی لاس دې خبرې ته پام ونه کړ چې (دغلیم) مخ کې یې کېدو ته لار ورنه کړل شي څو هېڅوك په دې ونه پوهېږي چې داهسې لومه ده، چل دی. موږ ډېر غوښتل چې غلیم پرانستې جګړې ته راکاږو چې موږ په کې تل زورور وو. او زه فکر کوم چې زموږ دا چل بریالی ختلی و. لږ تر لږه په نوامبر او دسمبر کې او له هغه راوروسته د حالاتو ولکه لاهم زموږ په لاس کې وه.

او په دغه وخت کې دا فکر پر ما واکمن کېده: هغه وخت ګڼې نور نه دی رارسېدلی چې افغاني مشرتوب خپلې دولتي ستونزې په خپلو متو غوځې کړي. یو څه وخت دې نور هم زموږ مرسته ورسره وي خو تر قیامته نو دا کار اوږدېدلی نه شي.

هغه وخت لکه چې وروسته یې پته ولګېده، د جګړې په هماغه پیلییز پېر کې، پخپله د دغسې یوه نظر منځ ته راتلنه کفر بلل کېدای شو خو یوازې مې له ځانه سره د "آزمایښتي دانې" په اړه فکر کول او د هغې جوړول مې پیل کړي وو.

دا ده د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ- فبرورۍ لپاره د جنګي عملیاتو نقشه. پرهغې دهغه پېر په ترخ کې جګړه یېز عملیات ښودل شوي چې ګڼې د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت او د ځلوېښتم لښکر ځواکونه په کې په پوځي روزنه بوختېږي. د هېواد مرکزي برخې، د کابل- کندهار سیمه او د هغو ترمنځ غزېدلې واټ. د "اودار-۳" عملیات د جنورۍ له ۱۷ نه د فبرورۍ تر لسمې تر سره کېږي. مشري

يې د لوی پوځي سلاکار په غاړه ده. په عملیاتو کې ۵۵ کندکونه چې ۴۷ یې افغاني دي، ګډون کوي. په دریو علاقداریو او اوو ولسوالیو کې حکومتي واك ټینګېږي. په شلو علاقداریو او نهو ولسوالیو کې د واك ستنې کلکېږي. د اوو چورلکیزو دیسانتو کښته کول اټکل شوي دي. دغلته د مجاهدینو ډله پر بېلا بېلو برخو (سکتورونو) ویشل کېږي: لومړی سکتور، دویم سکتور، دریم سکتور- غلیم یا نیول کېږي او یا له منځه وړل کېږي. یا دا ده د جلال آباد سیمه... د لغمان او ننګرهار په ولایتونو کې د جنوري له خوارلسمې نه د فبروري تر پینځمې عملیات کېږي- مشري یې د لومړۍ لمبر قول اردو د قوماندان ډګروال خلیل په غاړه ده. په کې ۱۴ افغاني کندکونه ګډون کوي. په پکتیا کې د جنوري له څوارلسمې نه تر دېرشمې پورې عملیات تر سره کېږي- مشري یې د درېیمې قول اردو قوماندان کوي. یا: د هرات په سیمه کې د "سالیوت (د پوځي درناوي ډزې)-۲" عملیات کېږي، مشر یې د ځلوېښتم لښکر مرستیال دی، شپاړس کندکونه برخه په کې اخلي. په "شمال" زون کې مسوول مشر د ۱۸ پلې فرقې قوماندان او په "شمال ختیځ" زون کې د دوه سوه لومړۍ لمبر موترریزه فرقې قوماندان دی. یا د "ګرانیت" عملیات په فراه کې کېږي چې لکه د نورو سیمو به د چورلکیز دیسانت له پلې کولو سره ملګري وي، مشري یې د پینځمې موتوریزه فرقې د قوماندان په غاړه ده.

په ټولیزه توګه د جنوري- فبروري د پلان له مخې د دولسو علاقداریو او دولسو ولسوالیو آزادي او په ۳۷ علاقداریو او ۱۳ ولسوالیو کې د واکمنۍ ټینګول اټکل شوي وو. ټاکل شوې وه چې د ۱۹۸۱ کال په جنوري- فبروري کې ۹۷ کندکونه او شپږ ویشت بټریې (بطریې) د جګړې ډګر ته وایستل شي چې په دې کې د ځلوېښتم لښکر له خوا ۲۵ کندکه او اووه بټریې او د ا.د.ج. د وسله وال پوځ له خوا ۷۲ کندکونه او ۱۹ بټریې راتللې.

دا و "پر پوځي روزنې بوختېدل"!

نوري ستونزې هم وې. د ساري په توګه د جنورۍ- فبرورۍ عمليات او د پولو حالت. له پاکستان سره ګډه پوله ۲۰۶۰ کيلومتره اوږده ده او له ايران سره ۸۵۰ کيلومتره. په شمال ختيځ کې د ۴۵- ۵۰ کيلومترو يو دهليز له هند سره و. په دې توګه نو ټوله پوله نږدې درې زره کيلومتره اوږده راتله. هغه وخت له لويديزې پولې نه کوم خطر نه ليدل کېده ځکه ايران تر دغه مهاله له عراق سره په جګړې کې بوختی و. او که څه هم د ايران په خاوره کې د مجاهدينو له ۱۷ نه تر ۲۳ روزنيز مرکزونه وو، خو د ايران پوځي مشرانو لا هغوی ته څه جدي مرستې نه ورکولې. خو پرانستو پولو موږ ته سرخوږی پيدا کړی و (او په هېواد کې لا سرحدي ځواکونه منځ ته نه وو راغلي). که موږ به د ساري په توګه په هرات کې هر ډول عمليات هم وکړل، مجاهدينو به يا لويديز لور ته په وتلو ځان ګوزار نه ژغوره او يا به له هاغه ځايه بېرته افغانستان ته د نويو جنګياليو په بڼه راستنېدل.

البته چې له پاکستان سره د پولې ټرنه په تېره بيا پېچلې وه. دا ۲۰۶۰ کيلومتره اوږده غرنۍ او ځنګلي تراړه ده چې په هرو دېرش- پينځه دېرشو کيلومترو کې پرې کارواني لارې اوښتې دي. موږ دغه لارې پيژندلې او په نقشو کې په نښه شوې وې. خو دغه راز ځينې د وزو او پسونو د تګ- راتګ لارې هم وې. له ۶۵- ۷۰ داسې کارواني لارې وې چې پرې بلوڅان (ولولئ: کوچيان. د.ج) چې ټول اويا تېره کېږي، جنوب لورته تلل او د ژمي په رارسېدو په همدې کارواني لارو وراندې جنوب(؟) لور ته خوځېدل او د پسرلي له څرك سره له جنوب نه بېرته شمال ته خوځېدل... مجاهدينو پر همدې کارواني لارو پر اوښانو، خرو او وروسته وروسته په موټرو کې د وسلو او سرو رسول پيل کړل ياني د هغو جنګي ډلو ملاتړ روان و چې د افغانستان په خاوره کې يې جګړه اوږده ساتله. چې هر څومره وجنګېږي خو چې پوله لا پرانستې وي، وروستۍ ټينګې پايلې ته رسېدلی نه شوای.

د ټولواك ظاهرشاه او جمهور رئيس داود په وخت كې د نورو دولتونو خلاف په افغانستان كې هيڅ سرحدي ځواك نه و. د پولې د ساتنې دنده په اصطلاح "مليشو" ته په غاړه اچول شوې وه.. هرټبر د داوطلبانو كوچنۍ كوچنۍ ډلې درلودې، دوى ښه وسله وال وو، خو پوځي كالي (يونيفورم) يې نه اغوسته. همدوى د كارواني لارو په بندولو بوخت وو. د مليشې هرې ډلګۍ يوه- يوه كارواني لاره "څارله". دوى به د خپل ټبر سرې پرېښودل، د نورو ټبرونو سوداګرو ته به يې هم لاره وركوله خو خپل حق به يې اخيسته. دوى به د دغه "حق" يوه برخه ځان ته او زياته برخه به يې ټولواك يا جمهوررئيس ياني مركز ته استوله. په دې توګه نو د بېلابېلو ټبرونو يونيم- دوه ميليونه كوچيانو چې د اقتصادي او اقليمي شرايطو له مخې يې تګ- راتګ كاوه په سرحدي سيمه كې د خوځندې پردې كار وركاوه.

ولې موږ خو پر مليشو ډېر نه شواى لګولى. خپل سرحدي ځواك ته اړتيا وه. (دا ستونزه نه هغه وخت او نه وروسته غوڅه شوه.)

او د پاكستان له خاورې د هغو افغاني مجاهدينو نوې ډلې همداسې راروانې وې چې په روزنيزو كمپونو كې يې څو مياشتې زده كړې سرته رسولې وې.

يوه ورځ چيريومنيخ د وينا په ترڅ كې په سره سينه نقشه پرانستله او له مكر په ډكه ژبه يې وويل:

- د پسونو جګړه.
- څه دې ووې، څه دې ووې؟- او ما ورو خو په لوړ غږ د نقشې پر سر دا ټكي ولوستل: "له پاكستان سره د ګډې پولې د تړلو پلان".

... د ۱۹۸۰ كال په سپتمبر- نومبر كې د انجينري پوځونو د جنرال اراكيليان (د افغانستان د ديموكراتيك جمهوريت د وسله وال پوځ د انجينري چارو د رئيس پوځي سلاكار) په لارښوونه له پاكستان سره د ټولې پولې په اوږدو كې د ماينونو د ښخولو او په لارو كې د خنډونو د جوړولو لپاره ستر كار سرته رسېدلى و. موږ د پاكستان له

روزنیزو مرکزونو څخه د جنګیالیو په راتګ کې څرګند لړوالی ولیده. خو زموږه خوش بیني لنډ مهالې وه. مجاهدینو هم چل کاوه. هغوی چې په خپلو لارو کې د اینبودل شویو ماینونو پته ولګوله نو د دفاع یوې بېرحمې چارې ته یې لاس واچوه: له خپلو ډلو مخکې به یې پسونه او وزې خوشې کړې چې د ماینونو او چاودېدونکو موادو په منځ کې د ځان په الوزولو دوی ته لار سیخه کړي.

دغسې څناورتیا له قرآن (کریم) سره څومره سمون لري؟ نه پوهېږم.

- یانې چېریومنیخ ته وایې "د پسونو جګړه".
- بیخې همداسې ده.
- چې داسې ده نو تاییدوم یې.

چېریومنیخ او اراکیلیان خوښ شول او زما له دفتره ووتل.

د پولو تړنه له هغو ستونزو نه یوه وه چې ما د لوی پوځي سلاکار په توګه له خاد، دفاع او کورنیو چارو وزارت سره په ګډه غوڅولې. په دې کې هره ورځ، هره اوونۍ او هره میاشت زموږ ګټې سره ګډېدلې. په هرحال، پوځي ستونزې مو په یوه یا بله بڼه غوڅولې.

خو یوه بله برخه هم وه- د انساني دوه اړخیزو اړیکو برخه چې په کې د سیاسي پرېکړو د کولو پر وخت د هېواد له سیاسي مشرتابه، له (شوروي) سفارت، د دولتي امنیت کمېټې (ك.ګ.ب) له استازو او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې له استازو سره تماس درلودو ته اړ کېدو! ستونزه په دې کې وه چې لکه هسې چې زما زړه راته ویل، په مسکو کې (د افغانستان په اړه) د سیاسي بیورو په کمیسیون کې یو والی نه و. تر ټولو غټه (لاربښوونکې) ونډه اندروپوف درلوده، دا ماته له ورایه برېښېده او دا په داسې حال کې چې هم ګرومیکو، هم اوستینوف او هم پوناماریوف په ګوند او دولت کې لوی جوت اعتبار درلود. خو دغه انځور په افغانستان کې څه بل ډول برېښېده. څرګنده ده چې ما د لوی پوځي سلاکار په توګه نه

غوښتنل د اندروپوف استازي ته تر ټولو اوچته ونډه ورکړم. دا د کولو کار نه و، د شرم کار و. ان زیان رسوونکی و. ځکه چې په افغانستان کې جګړه روانه وه او جګړه څلوېښتم لښکر کوله او زه د شوروي اتحاد په پوځي جوړښت کې لا د ځمکنیو پوځونو د لوی قوماندان لومړی مرستیال وم. او سره له دې چې څلوېښتم لښکر مخامخ د ترکستان د پوځي حوزې د قوماندان تر لاس لاندې و، خو د مقام له پلوه د حوزې قوماندان تر ما ټیټ و او ترڅه ځایه د ځمکنیو پوځونو د لوی قوماندان د مرستیال تر لاس لاندې و...

په هرحال، د ترکستان د پوځي حوزې له قوماندان یوري ماکسیموف سره زموږ اړیکي خورا ښه او بې ستونزو وو. موږ په جګړه بوخت وو چې ماهیت یې دواړوته یو ډول و او پوځي عملیات مو یو د بل په سلا کول. توپیر په کې همدومره و چې زه په افغانستان کې ډېره وم او مخامخ جګړې ته تلم خو ماکسیموف به میاشت په میاشت د پنځو یا اوو ورځو لپاره خپل څلوېښتم لښکرته راته. هغه هم په جګړو کې ګډون کاوه، له ببرك كارمل، سفير او ماسره به جرګه کېده.

خو د تابییف خبره بله وه. لکه چې وروسته هم ما او هم د ترکستان د پوځي حوزې قوماندان ته پته ولګېده، ده څو ځله هڅه کړې وه چې زموږ تر منځ اوبه خړې کړي او یو بل ته مو په ډغره ورولي.

خو دا هیله یې شنډه شوه.

په افغانستان کې د جګړو د ملاتیر افغاني پوځ و چې ۱۸۰-۱۹۰ زره غړي یې درلودل. هو، دا کار نه د دولتي اطلاعاتو خدمتونو (له خپلو ۱۰-۱۵ زرو خادیستانو) سره او نه هم څارندوی (له ۵۰-۶۰ زرو ناسمبالو او سرسري وسله والو ډلګیو) سره کولی شوای. د ملاتیر همدا پوځ و. له دې امله نو که مسکو کې د اندروپوف لاس بر و. دلته په هرحال لوی پوځي سلاکار اوچت ځای

درلوده. دا له دې املـه نـه چې دغـه دنده زما وه، بلکې لـه دې املـه چې د لـوی پوځي سلاکار لپـاره همدغسـې دنده ټاکـل شوې وه.

البتـه چې زه د ک.ګ.ب. د استـازي او لـه سـفیر سـره د هغـه پـه نـږدې دوه اړخـیزو اړیکـو هـم خـبر وم چې تـر ډېره یـې ځان پـه ده پـورې تړلـی ګاڼه. سـفیر ډېر ښه پوهـېده: د سـفارت لـه معلومـاتو پرتـه د ک.ګ.ب لـه لارې هـم د اطلاعـاتو بـهیر روان دی. او پـه اصطـلاح د سـفارت د ګونـدي کمـېټې منشـي؟ دی کـه څه هـم د مرکـزي کمـېټې استـازی و، خـو د ک.ګ.ب. لـه خـوا ګمـارل شـوی و او کـه څه هـم یـې د ډلـه ییز کـار پـه پلمـه د ګونـدي کمـېټې لـه لارې د سـفارت تـګلاره پلـې کوله، خو پـه حقیقـت کې د ک.ګ.ب. د کړنـلارې پـه پلـي کولـو بوخـت و.

لـه ګونـدي کمـېټې سـره د اړیکـو پـه اړه یـو ځو نـورې خـبرې پـه ګونـدي کمیـټه کـې سـفیر، د ک.ګ.ب. استـازي او دغـه راز د ګونـد د مرکـزي کمـېټې، د صنفـي (کـارګري) اتحـادیو، د سـوداګریزو ټولنـو (سـازمانونو)، د ځوانـانو ټولنـې (کمسـمول) او د ورځپـاڼه لیکونکـو (ژورنالسـتانو) استـازو ګډون درلـوده. دوی د هغـو رسـمي څیـرو کاړتـه ډلـه ییزه لارښونـه کولـه چې پـر بېلابېلـو چـارو بوخـت وو. ټولـو شـوروي وګړو بـاید د هغـوی لارښوونـو او پرېکـړو تـه هرومـرو غـاړه ایښې وای. کـه کوم چـا بـه یـې لـه پرېکـړو نـه سرغړاوه نـو کېدای شـوای چې د یـوه داسـې کـس پـه تـوګه چې پـه کوربـه هـېواد کـې یـې د شوروي اتحـاد د کمونسـت ګونـد د مرکـزي کمـېټې لـه خـوا پـرې شـوی بـاور ثـابت نـه کـړی شـو، ډېر ژر بېرتـه استـول شـوی وای. او زه هـم کمونسـت وم او همدومـره فعـال ګوندي غړی خو زمـا "ګونـدي چـاره" د لـوی پـوځي سـلاکار پـه دنـده کـې راځلېدلـه (غبرګېدلـه). خـو د سـفارت ګونـدي کمـېټې غوښتـل چې د لـوی پـوځي سـلاکار او یـا یـې لـه دوو نـه یـو مرسـتیال غړیتـوب تـر لاسـه کـړي. د څه لپـاره؟ د دې لپـاره چې خپلـه تـګ لاره پـرې وتپـي او د لـوی پـوځي سـلاکار او د هغـه د اداري د غـړو، د افغانسـتان د سیاسـي مشـرتابه او د مسـکو د کمیسـیون تـر منـځ یـوه پـرده (قشـر) شـي او د دې

مانا بـه دا وای چـې د لـوی پـوځي سـلاکار اداره پـه ځان پـورې وتـړي او کړنې يې بشپړې د سفير او د هغـه د ادارې پـه سـلا تـر سـره شـي. د سـفير دا چـل لومـړی ځل چـيريومنيخ او سـامويلينکه پـه ډاګه کـړ. او مـوږ لـه ځانـه سره سوچونه پيـل کـړل: څنګه لـه دې بـلا نـه ځان وژغـورو.

او پـه دې تـوګه لـه ايپيشـيف سـره مـې يـوځل د خـبرو- اتـرو پـه تـرځ کې خپـل دريـځ ورتـه ووايـه. هغـه زمـا پـه ځـواب کـې وويـل:

- جـنرال صـاحب تـه لکـه چـې ځان ډېر هوښيـار نيسـي. خـو پـه رومانيـا او يوګوسلاويا کـې د سـفير پـه دنـدو زمـا د کـار تجربـه ښيـي بـده نـه ده که يا تـه او يـا چـيريومنيخ د ګونـدي کمـېټې غـړي شـئ.

- سياسـي رئيـس صـاحب، دا خـو البتـه چـې لـوی بـاور دی. خـو زه د سياسـي چـارو د لـوی رياسـت او د ګونـد د مرکـزي کمـېټې بـاور پـه دې کـې وينـم چـې د مرکـزي کمـېټې غړيتـوب لـرم. دا بـه ګنـې د کـار پېټې راباندې درونـد نـه کـړي؟

بوډاګوتې ايپيشف لـږه شـېبه غلـی و، خـو لکـه چـې هغـه وخـت مـا هيلـه درلـوده پـه ده کـې بـايد پـه رومانيـا او يوګوسـلاويا کـې د سـفير پـه تـوګه د ده تجربـه نـه، بلکـې د داسـې يـوه پـوځي مشـر پـه تـوګه د مسـووليت احسـاس راپـارېدلی وای چـې پـه افغانسـتان کـې پـر جـګړو بوخـت دی.

- پـه دې خـبره کـې څه دليـل شـته دی.

پـه کـار وه چـې همداسـې پرې نـور زور هـم واچـوم. ومـې ويـل:

- سياسـي رئيـس صـاحب، کلـه چـې تاسـې د سفير پـه ځوکـۍ کـار کـاوه نـو دويمـه نړيوالـه جـګړه نـوره پـای تـه رسـېدلې وه او د سـولې پـړاو پيـل شـوی و. خـو دلتـه جـګړه روانـه ده او تاسـې کـه پـر مـا دومـره پېټې راواچـوئ نـو بيـا بـه مسـکو تـه د جـګړو پـه اړه د معلومـاتو د ورکـړې وخـت هـم راسـره نـه وي. بـس زه بـه يـم او ګونـدي کميـټه او بيا بـه هـم زه يـم او ګونـدي کميـټه...

- هـه، تـا سـمه لاړ موندلـي ده. ښه نـو سملاسـي تاسـې د دې جـړې پـه اړه سلا مشـورې کـوئ او مـوږ بـه دلتـه سـوچ وکـړو.

خو چې هغـوی څه سـوچونـه کـول او څه مشـورې يـې سـره ورکولـې، زه تـرې خبر نـه يـم. خـو ده ډېر ژر راسـره تمـاس ونيـوه او ويـې ويـل:

- ستاسـې حضـور تـه يـې رسـوم (ايپيشـيف لـه نـورو سـره پـه اړيکـو کـې خـورا درنــاوی کــاوه او لــه نزاکتــه ډك سـړی و او د "ستاسـي حضـور تـه يـې رسـوم" خـبره يـې لـه څه خندنـې پرتـه وکـړه): تاسـې لـه سـفارت سـره ښه اړيکــي ســاتئ او چــيريومنيخ دې ژر ژر د ګونـدي کمـېټې غونـډو تـه ورځي.
- د ګـونـدي کمـېټې د غـړي پـه تـوګه؟
- نـه! دا نـو څه پـه کـار؟ هلتــه دې ورځي او پـه سـفارت کـې دې سـره خپـل معلومـات يـو بـل تـه ورکـوي او بيـا يـې لـه څه ځنـډه وروسـته زياتـه کـړه:
- هلتـه مـو پـه خپلـه اداره کـې ګونـدي کميـټه جـوړه کـړې ده؟

مـا ورتـه وويـل:

- دا څه وايـاسـت صـاحب،مـوږ هــم ګـونـدي ټولنـه (ســازمان) او هـم ګوندي کميـټه لـرو.
- چـې داسـې ده نـو ډېره ښه ده.

او مـا هـم لـه ځانـه سـره وويـل چـې ځه د خـدای شـکر دی. پـه هرحـال دا لـه سياسـي پلـوه يـو کـوچنـی بـری و. مـوږ يـو ځلـې بيـا د مرکـزي کمـېټې پـه ارزونـه- او زه ښه پوهـېدم چـې دا کـار د مرکـزي کمـېټې پـه سلا شـوی دی- لـه سياسـي پلـوه د خپلواکـې او ازادې ټولنـې (سـازمان) پـه تـوګه پـرېښودل شـو چـې پـه سـفارت پـورې تړلـي نـه وو، خـو بيـا هـم لـه سفارت سـره د ګډې همکـارۍ يـانې يـو بـل تـه د معلومـاتو د ورکـړې پـه مـزي تړلـي وو.

د سياسـي ګډې همکـارۍ پوښتنـې تـه د بيـا ستنېدو پـه تـرڅ کـې دا خـبره کـول غـواړم چـې د مثلث پـه منـځ کـې د اړيکـو سـمبالتيا (تنظيـم)

ورا ارزښت درلوده چې ضلعې يې دا وې: ببرك او ارګ، شوروي سفارت او لوی پوځي سلاکار او د هغه اداره. د دې جرګې له غوڅولو او د نظريو له تر لږه رسمي او ان پخ يووالي له شوني کولو پرته په علاقداريو او ولسواليو کې د واکمنۍ د ستنو تومبل ناشوني برېښېده. ځکه نو زموږ اساسي او لومړی دنده له ببرك، سياسي بيورو او په تېره بيا له اغېزمنې اناهيتا راتب زاد سره د سياسي اړيکو د سيخولو او ټينګولو هڅه وه.

د ۱۹۸۰ کال پای (سپتمبر- دسمبر) په ډاګه کړه چې موږ په ولايتونو کې د جګړييزو عملياتو له مثبتو پايلو نه هم هروخت د دې موخې لپاره کار نه دی اخيستی. د کارمل د رژيم واکمني ډېره ورو پراخېده او خوځېدونکې وه او چې به څنګه شوروي پوځ يا د افغانستان د ديموکراتيك جمهوريت د وسله وال پوځ قطعې له دې يا هغه کلي نه ووتلې، واکمني به هم په سوړه ننوته او ورکه به شوه. موږ نه پوهېدو چې د اوږدې مودې لپاره په کليو کې د شوروي پوځ يا افغاني عسکرو د ډېره کولو نظريه له مرکزه او پخپله له ببرکه راوتلې وه. سفير تابييف هم له ځانه سره د ببرك د ساتلو لپاره له موږ نه پټ د دغې نظريې ملاتړ کاوه. موږ بايد د ده دا پټه لوبه په ډاګه کړې وای.

ببرك او د هغه د چمتوکولو چاره ټوله زه په خپله غاړه اخلم. تر کومه چې د اناهيتا خبره ده نو به هم پخپله او هم د انناواسيلفنا لپاره ورته تر ټولو لومړی پاملرنه ګرځوم تر کومه ځايه چې د سياسي بيورو په تېره بيا د نور او زيري او د اداري موسسو د چمتو کولو کار دی نو دلته بايد ويکتور ساموېلينکه لومړی رول په غاړه واخلي. او د سفير او د هغه له ډلې- ټپلې سره به څه کوو؟ او د ك.ګ.ب. له استازي سره؟ د مرکزي کمېټې له استازي سره؟ بايد دغسې تګلاره جوړه شي: موږ ځان ورته نه نږدې کوو او له خپله لوري به درناوی ورته کوو او ورسره جوخت به پرله پسې د اطلاعاتو په ورکولو او د بېلابېلو

چاروپه اړه ورسره پرله پسې د سلا په ورکړې د هغوی د ځیرتیا سترګې ړندوو. خو د هغو دندو په سرته رسولو کې به تري خپله بشپړه خپلواکي ساتو چې ستر درستیز او د دفاع وزیر مور ته سپارلي دي.

خو که رښتیا راباندې وایاست ما لکه چې له تابييف نه هسې زمري جوړ کړی و. په لومړي سر کې يې له تاکلي کچې نه هم ډېر معلومات ورکول. زه، ساموېلینکه او چیریومنیخ به هره ورځ د هغه لیدو ته ورتلو. سفیر د پنجشنبې په ورځو دوه- درې ګړۍ لوی پوځي سلاکار ته بېلې کړې وې. دغو کتنو ته سپوټنیکوف او کازلوف هم رابلل کېدل. البته چې د غونډو خبرې ډېرې پټې (سري) وې. وروسته د دغو کتنو په اړه ډېر څه لیکم. له سفیر سره په کتنو کې مې خدای شته هڅه کوله چې صادق واوسم. ولې؟ ځکه چې ما هم په بدل کې د هغوی له خوا د صداقت هیله درلوده او غوښتل مې هغه څه ته لار پرانیزم چې دوی زموږ په نشتوالي کې پرې غږېږي. خو هغه دومره ایغ- نیغ او ورسره ورسره بې شرمه، بد ژبی او مکاره و چې د سفارت له یوې غونډې وروسته مې پر هرڅه تو کړل، ښکنځل مې وکړل او داسې پرېکړه مې وکړه:

- ساموېلینکه نور به یوازې دلته راځي.
- نو که نورنه وي چیریومنیخ خو راسره ملګری کړه،- ساموېلینکه دا وویل او زیاته یې کړه: که نه نو په دابله کتنه کې به مصلوب شوی (د عیسی (ع) په دود صلیب ته خېژول شوی) یم.
- ما ته لږ وخت په کار دی چې غوسه مې سړه شي او د چیریومنیخ ژبه لکه د چړې تېره ده...

خبره به تر سوک- څپېړې رسیدلې وي...

او چیریومنیخ تر شونډو لاندې وویل:

- زما متې لا له اوسه شخړې ته رانغښتې دي.
- ګرانه کمیساره سلا درکوم: چې مربي نه لرې مربا مه غواړه.

وروسته چې کله يوازې شوم نو له ځانه سره مې سوچ واهه: ولې دغه وګړي د سفارت تر برغولي لاندې زموږ ترمنځ د اور بلول غواړي؟

فکر کوم چې له هماغې لومړۍ کتنې وروسته د سفارت يارانو دغه ناسمه انتباه اخيستې وه چې ګنې لوی پوځي سلاکار او د هغه ډله (په سفارت پورې) بشپړې ترنې ته چمتو ده او دوی کولی شي خپله اراده پرې وتپي چې څنګه جګړه کوه، زيرمې او ځواکونه څه ډول کاروه، کوم ډول خبرې اترې سرته رسوه او نور. هغوی چې ونه شوای کړی موږ ته د ګوندي کمېټې د غړيتوب کړۍ په غاړه کړي، نو ګورئ اوس يې په هره وسيله د لوی پوځي سلاکار داړل کولو ملا تړلې وه.

دا د تيروخت خبرده ده! اناهيتا راته يو وخت ويلي وو چې په افغانستان کې زموږ يوه تېروتنه دا ده چې د سفير او ځانګړي استازي په توګه مو يو مسلمان وراستولی دی. زه هېښ پاتې شوم:

- دا نوڅنګه؟

او هغه وايي:

- موږ خپلې پوره مکارۍ لرو. شوروي اتحاد کولی شو يو سلاوتوکمی استازی راواستوي اوبيا يې زياته کړه:- او د شريعت احکام له مسلمان کمونست پرته هم موږ پېژندلی شو.

په دې توګه نو له څو لومړنيو کتنو وروسته ما ته څرګنده شوه چې هغه د خپلې ارادې د تپلو ملا تړلې ده: چېرته چوڼۍ جوړه کړه، چېرته تولۍ او چېرته کنډك ځای پرځای کړه. او دا ماته ياني پوځي کارپوه ته وايي! يا چيريومنيخ ته! او دا هم وروسته له هغه چې زموږ د دوو کارپوهو ستردرستيزوالو له خوا جوړ شوی پلان لوی درستيز کتلی او د دفاع وزير منلی و!...

او ما نوره دغو غونډو ته له ورتګ نه پښه ونيوله، ساموپلينکه به کله کله ورته او چيريومنيخ به زموږ په ټينګار ددې لپاره ورته چې سفير راباندې د اعتراض پلمه ونه مومي. زما انديوالان چې به هرځل له هغه ځايه راستانه شول نو خواشيني به يې

ځرګندوله او هیله به یې کوله چې بیادغسې "دنده" ور ونه سپارم. خو زه په خپله خبره ولاړ وم. خبره دا وه چې د دفاع وزیر رفیع، د سیاسي بیورو غړو په تېره نور، زیري او کشتمند ته زموږ له خوا وړاندې شوې ارزونې او لارښوونې یوازې د سکې یو مخ و. سفیر هم له نجیب او ببرك سره د اړیکو په درلودلو کولی شوای زموږ له سلا پرته خپله تګلاره رامخته کړي او په دې لړ کې کله کله د ببرك نظر هم تایید کړي (او ببرك خو د ساري په توګه لکه چې ومې ویل دا ګڼله چې په هر ولایت، ولسوالۍ او علاقدارۍ کې باید دایمي چوڼۍ ولرو).

... پر پنځمه ورځ مې د روغتون په خونه کې کاږه- کاږه ګرځېدل پیل کړل اوله ډاکټرانو نه مې غوښتل چې ژر مې له روغتون نه وباسي ځکه مادونانو باید خپل پوځي مشر د دندې پرځای لیدلی وای. سر مې له داسې اندېښنو ډك و چې زما له زرینې روغتیا سره یې هېڅ تړاو نه درلوده. د سختو جنګونو تر سره کول، د کابل او کندهار په سیمو او د دغو ولایتونو تر منځ د غځېدلې واټ په اوږدو کې د عسکرو په زور له غلیم نه د شاوخوا کلیو په ژغورلو د واکمنۍ د ستنو ټینګول مخې ته پراته وو.

څو ورځې وروسته یې زه له روغتون نه رخصت کړم.

ببرك لا هم زموږ د پاملرنې په مرکز کې و. موږ بېخي غوڅه پایله رااېستلې وه: ببرك کارمل په سیمو کې د واکمنۍ د منځ ته راوړلو او بیا یې په لاس کې ساتلو وړتیا نه لري.

هغه چې په وسله والې مبارزې کې په هېڅ نه پوهېده د پوځ له لارښوونې نه یې اوږه شاته کښله او هغه یې ښه نه ایسېده. د پوځ له خلقي زړي نه ډارېده او په دې توګه یې ځان د پوځ په سترګو کې سپکاوه، ده د پوځیانو یا لږ تر لږه د خلقي پوځیانو تر منځ د ښکې هومره ارښت نه درلود. او د پرچمیانو تراشل خو ببرك ایله نوي پیل کړي وو. خو پرچمیان هم لکه د خلقیانو پوهېدل چې دی شرابي دی او دې خبرې لا نوره کینه هم راپاروله.

خو له دې سره سره زموږ له خوا راایستل شوې پایله ماته ډېره غوځه او آن بې وخته برېښېدله. ځکه یو د پوځیانو له نظره معقولیت او بل سیاسي معقولیت دی. ببرک کارمل خو هسې خوشې په خوشې او تصادفي د واك پر ګدۍ نه و راځرګند شوی. دی د اندروپوف له خوا راجوړ شوی و. ماته د هغه تینګې لاربنوونې (که د ك.ګ.ب د مشر نصیحتونو ته د دغه نوم ورکړه سمه وي) خو بې ځایه نه وې چې "زه د ملګري ببرک کارمل ملاتړ باید وکړم". البته چې اندروپوف د ببرک په اړه ډېر زیات معلومات درلودل او ما دا ګڼله چې ډېر ژر به همدا معلومات د افغاني مشر د بدلولو لاره هواره کړي. خو دا کار باید د پوځیانو په نغوته (اشاره) نه وای شوی. پرېږده چې د خپل کینولي سړي د ځای نیوونکي په لټه مسلکي کسان بوخت وي.

او په دې ترڅ کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند بله تاریخي کنګره هم را نږدې کېده چې باید په کې د افغانستان د روان بهیر اصولي سیاسي ارزونې وړاندې شوې وای. او ګومان نه کوم چې په دغه وخت کې دې د هغه سړي لرې کول پر ځای وای چې پخپله مو د واك ګدۍ ته خېژولی و. ما خپل اندېوالان داسې قانع کول:

- موږ خو په څلورو کسو ارګ ته ورتللی او دا شعار ورکولی نه شو چې "مړ دې وي ببرک!" ساموېلینکه د دې په ځواب کې وویل:
- دا خو سمه ده، البته چې سمه ده. خو دا هم زړه نه مني چې د شرابي اعلی سرقوماندان تر لاربنوونې لاندې کار وکړو.

هرڅه چې و، خو موږ پوهېدو چې سیاسي لومړیتوبونه (اولویتونه) شته، داسې لومړیتوبونه چې زموږ له انګېرنو ډېر قانع کوونکي دي.

زما کوم ملګري (له بده مرغه یې نوم رانه هېر شوی- موږ د واحد مغزي برید د اصل له مخې دومره یوبل ته سره نږدې وو) د هماغه پېر ددغو سیاسي اولیتونو پر بنسټ وړاندیز وکړ چې په ولایتونو کې دې د جګړه ییزو عملیاتو د لاربنوونې چاره ساده کړي

شي او دغه ولايتونه دې په زونونو کې راټول کړی شي او د مسووليت ډېره برخه دې هم هغو ځايي واکمنو ته ولېږدول شي چې د حالاتو واګې يې په لاس کې وي او د افغاني پوځ او ځلوېښتم لښکر ګمارل شوي ټولګي يې هم تر امر لاندې دي. د دې نظر "پلوي" او "مخالف" دلايل مو ښه واورول. بيا مو له نور، زيري، کشتمند، او ببرک سره دا خبره شريکه کړه او سلا مو پرې وکړه. برېښېده چې دا نوې نظريه د هغوی خوښه شوې چې پر بنسټ يې د واکمنۍ د ټينګولو لپاره د مسووليت پېټی له ولايتي مشرانو سره ويشل کېدلی او يا ان د هغو پر اوږو ورغورځول کېدلی شوای.

ما د سفير او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې او ک.ګ.ب، د استازو د ملاتړ له خپلولو وروسته د خپل تکل په اړه اخرامييف، سوکولوف، ايپيشيف او اګارکوف ته معلومات ورکړل او د هغوی ننګه مې وغوښته ځکه چې وروستۍ پرېکړه بيا هم د (سياسي بيورو) د کميسيون په واک کې وه.

يو وخت چې زه په ويلا کې وم نو اوستينوف د ځانګړي ټلفون له لارې زنګ راته وواهه: په دوديز ډول مې ورته اوپراتيفي حالت په لنډه بيان کړ. او هغه وپوښتل:

- تاسې په کليو کې د واک له ټينګولو نه سرغړوئ، هه؟
- د دې خلاف ملګری وزير. لا نوره مې هم په ټينګه دغه کارته ملا تړلې ده.

له اوستينوف سره د غږېدو دا تجربه راسره وه چې که زه په کوم شي پوره باوري يم نو په هېڅ توګه بايد ترې شا ته ولاړ نه شم!

- د خپل تکل په اړه مو له ټولو سره مشوره کړې ده؟ له ملګري ببرک سره؟ له ملګري "او" سره؟
پيا يې ددغه ملګري... نوم ياد کړ.
- هو، له ټولو سره.
- نو د دغو... زونونو شمېر به څوو ته ورسېږي.

- اووه یا اته.
- تر لسو خو دې باید شمېرل زده وای!
او خبرې په همدې پای ته ورسېدې.

نیمه شپه راته اخرامییف زنګ وواهه. هیله یې وکړه چې د زونونو د جوړونې د دلیلونو په اړه باید همدا نن مسکو ته معلومات ورکړم.

- خو بیا هم شمېر یې څو دی؟
- اووه، اووه سرګي (اخرامییف)!
- په خپله وینا کې هرومرو دا خبره رڼه کړه چې د ټولو (ټولو!) پوځي عملیاتو د سمبالولو او لارښوونې چارې اوس هم د پخوا په څېر د لوی پوځي سلاکار او د هغه د درستیزوالۍ په لاس کې پاتې کېږي. او زونونه د کارونو د چټکتیا او په سیمو کې د واکمنۍ د ټینګتیا د باوري کولو لپاره جوړېږي... په همدې ټکي ډېر زور واچوه.
- ښه، هڅه به وکړم.
- ... هیله درنه کوم! شمېرل زده کړه که نور نه وي نو تر لسو...، او بیا یې وخندل.

اخرامییف د مسکو په لور د سوکولوف د ډلې د الوتو پر وخت پر هوایي ډګر د هغوی د سپکې شان څورونې غچ په سوکنډلو رانه واخیست.

خیر دی، وي دې، خو چې کار وشي.

زه پوهېدم چې زما وړاندیز به په ستر درستیز کې څېړل کېږي، بیا به وزیر ته په دې اړه معلومات ورکوي او که هغه ومنله نو وروسته به د سیاسي بیورو په کمیسیون کې پرې خبرې کېږي.

په پای کې مسکو هرڅه هغسې چې و، ومنل. او موږ هیله درلوده چې اوس به زموږ له بریالیو پوځي عملیاتو وروسته په سیمو کې د واکمنۍ د راجوړولو چاره په بیړه مخ په وړاندې خوځېږي...

اوپه دي توګه مو اته زونونه منځ ته راوړل.

## شمال ختيځ زون:

د بدخشان، تخار، کندز او بغلان ولايتونه- مرکز يې د کندز ښار.

## شمالي زون:

د سمنګانو، بلخ، جوزجان او فارياب ولايتونه- مرکز يې د مزارشريف ښار.

## (شمال) لويديځ زون:

د هرات، بادغيس او غور ولايتونه- مرکز يې د هرات ښار.

## جنوب لويديځ زون:

د فراه نيمروز ولايتونه- مرکز يې د فراه ښار.

## جنوبي زون:

د کندهار زابل، ارزګان او هلمند ولايتونه- مرکز يې د کندهار ښار.

## جنوب ختيځ زون:

د پکتيکا، پختيا(پکتيا) او غزني ولايتونه- مرکز يې د غزني ښار.

## ختيځ زون:

د کونړ، لغمان اوننګرهار ولايتونه- مرکز يې د جلال اباد ښار.

## مرکزي زون:

د کابل، باميانو او پروان ولايتونه- مرکز يې د کابل ښار.

په يوه زون کې د دغو ولايتونو د ټولولو معيار څه و؟ تر ټولو لومړی مو د ولايتونو تر منځ دوديز، جغرافي، اقتصادي او سياسي اړيکي په پام کې نيول او البته چې د دغو ولايتونو د مشرتابه د کړيو

ترمنځ موهغو ځانګړو (شخصي) اړیکو ته هم پام کاوه چې موږ ته څرګند وو.

په هر زون کې د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د انقلابي پوځي شورا د پریکړې له مخې د افغانستان د حکومت ځانګړی استازی (د زون امر یا نایب الحکومه- د.ج) وټاکل شو. لکه چې څرګنده ده دغه څوکۍ وتلو پرچمیانو ته ورکول کېدې. د ساري په توګه هرات ته سروالاتد (مجید سربلند) واستول شو چې د کشتمند مرستیال او د پرچمیزم یو تیوریسن (نظریه جوړوونکی) و. دغه راز ځینې والیان هم د زونو د امرانو په توګه ټاکل کېدل، لکه په کندهار کې. دلته د دې خبرې له ویلو نه هم ډډه نه شم کولی چې زما په اند په پوځي- سیاسي زونونو د هېواد له ویش سره د افغاني مشرتابه د دومره چټك توافق یو دلیل هم دا و چې په دې توګه یې غوښتل د پرچم پښې لا نورې پخې کړي.

له شوروي لوري په هر زون کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې استازی، د ك.ګ.ب. استازی (دا به پټه خبره اوتر بل برغولي لاندې وه) او مشر پوځي امر چې د قاعدې له مخې به یې مقام یا د قول اردو قوماندان او یا (د څلوېښتم) لښکر د قوماندان مرستیالي وه. (د ساري په توګه د شوروي اتحاد د پوځ استازي دا کسان وو:

په شمال لویدیز زون کې: تورنجنرال ویتالي بابینسکي و چې تر دغه مهاله په کوتائیسي کې د قول اردو قوماندان و. په شمالي زون کې: جنرال ګوګودائیدزي، چې د هاستیك د سیمې د پوځي حوزې د قوماندان مرستیال و. او په ختیځ زون کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې استازی الیګ شېنین و چې دلته له راتګ مخکې په کراسنایارسك کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د ځایي کمېټې له منشیانو څخه و).

په دې توګه نو څلور رسمي چارواکو- يو افغان او درې زمري- بايد زمري له خوا د جنګي عملياتو د جوړ شوي پلان له مخې په خپل زون کې د راروانو دوو مياشتو لپاره د پام وړ عمليات تر سره کړي او بايد په دې لړ کې له موږ سره پرله پسې تماس ولري چې د اړتيا پر وخت يې پلان ورته سم (اصلاح) کړو. (بيا يادونه کوم چې سمونې د غليم د بدلېدونکي تاکتيک او د هغه د کړنو له امله منځ ته راتللې چې تل يې مخکې له مخکې پوهيدل شوني نه وو).

د ځانګړو واکونو درلودونکې دغې "څلور کسيزه" ډلې په موږ کې دا باور پياوړی کاوه چې د ملي ديموکراتيکې واکمنۍ جوړول او ټينګول به اوس په بري سره پر مخ ځي.

(هو رښتيا دا پوښتنه هم راپورته کېدله چې په دې نوې جوړه شوې اداره کې به څوك مشر وي. له يوې خوا د کابل پر استازو د جګړه ييزو عملياتو د سرته رسولو باور سم نه و، له بلې خوا هغوی هم د دغه مسووليت د پورته کولو لېوالتيا نه درلوده چې ګواکې روغ- رمټ پاتې شي. موږ ويل: راځئ لاس به د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کمېټې پر استازي کېږدو. شوروي سفير او په سفارت کې د مرکزي کمېټې استازي به په خپل ځواك او مخورتيا د ده ملاتړ کوي. د مرکزي کمېټې استازي هم خيال پالي او هم ورسره جوخت لوړو پوړيو ته د ختلو شوقيان وو. خو مخې ته نه يوازې د سياسي بلکې د پوځي ستونزو غوځول پراته وو. خو د جګړې له کولو مخکې پر دې پوهېدل په کار دي چې څرنګه بايد جګړه وشي. بايد پلان جوړ، چاره سمبال او خلك د جګړې ډګر ته واستول شي. جنرالان دا کار کولی شي، همدايې لوستلي، خو ايا د مرکزي کمېټې منشي هم دا وړتيا لري چې خلك بريد ته راپورته کړي؟- نه پوهېږم، نه پوهېږم... ښايي وړتيا يې ولري. ښايي هغه ان پرځمکه د خلکو د غورځولو وړتيا هم ولري... خو موږ مسلکي وګړو تر هرڅه لږ دا غوښتل چې له کوم چا نه دې د هغه ژوند واخيستل شي. ځکه کارپوهي په مړينه نه،

بلکې لـه جـګړې پـه روغ- رمـټ وتلـو او د غلیـم پـه مـاتولو جوتـېږي...
داسـې بـربـښي چـې زه د هغـه څه ویلـو تـه وښوییـدم چـې هـرڅـا تـه څرګنـد
دي).

اګارکـوف د نـوي جـوړښت پـر مـاهیت پـوه شـو او ویـې مانـه.
اوستینوف پـه لومـړي سـر کـې غـاړه نـه ایښوده: ګنـې پـه دې تـوګه خـو بـه
لـوی پـوځي سـلاکار د جـګړه ییزو عملیـاتو لـه مشـخصې لارښوونـې څان
نـه بچـوي؟ خـو دهغـه سر یـې خـلاص کـړ چـې تـل لـه مرکـز نـه تولوتـه
لارښوونه شـوني نـه ده او داسـې مسـوولې څېرې پـه کـار دي چـې پـه سیمو
کـې د حـالاتو پـړه پـه غـاړه واخلـي او اوسـتینوف لـه بوسـو نـه د غنمـو پـه
جـلا کولـو بریـالی شـو. او پـه دې تـوګه مـو جنـوري- فـبروري نـه پـه
افغانسـتان کـې د خپلـو کړنـو د نـوې سـمبالوونکې بـنې زړوره او
وروستي (نـهایي) پلې کـول پیـل کـړل.

وروسـته یـې بیـا بیـا لـه څانـه پوښتـل چـې: ولـې مـو پـه ۱۹۸۰-
۱۹۸۱ کلونـو کـې ونـه شـوای کـړی چـې جـګړه پـه بـري سـره پـای تـه
ورسـوو. خلکـو خپـل مخکـښ ګونـد درلـوده، واکمنـي پـه کـابل او ولایتـي
مرکزونـو کـې ښه ټینـګه وه، د بـبرك رژیـم پرسـتر پـوځ، خـاد، څارنـدوی
او څلوېښتـم لښکـر ډېره لګولـې وه خـو بیـا هـم تـر کنـټرول لانـدې د ټول
هـېواد راوسـتل او هرلـوري تـه د ملـي- دیموکراتیکـي واکمنـي دجـړو
غـزول نه شوني کېدل! مـوږ د دې خبرې پـه دلیـل نـه پوهېدو!

خـو زه د ۱۹۸۱ کـال د جنـورۍ لومـړۍ اووه نـۍ تـه ورسـتنېږم. د
لـوی پـوځي سـلاکار د اداري د څېړونکـې (شـنونکې) ډلـې او د
اوپراسیون د څانګې د معلومـاتو لـه مخـې لـه سـپتامبره تـر دسمبره زمـوږ
د سر زیان لـه مې نه تر اګسته پورې پېر پـه انډول چې پـه اصطـلاح "دلتـه
ګوزار- هلتـه ګوزار" عملیـات پـه کـې روان وو، دوه نیـم- درې څلـه لـږ
راوخـوت. لـه دې سره جوخت مـو پـر بنسـټیزو سـیمه یـیزو مرکزونـو او د
پنجشـېر پـه وادۍ کـې د مجـاهدینو د جنګیـالیو د بشـپړې مـاتې خـبر
ورکـړ.

دا بـه ګڼي سمه وي چې وواېو دغـه پايله پـه افغانستان کې د جګړې لـه تـاکتيك او ستراتيژۍ سره د چال چلند (برخورد) لـه اصولي بدلـون وروسته تـر لاسه شوې وه؟ سمه ده د ۱۹۸۰ کال پـه لومړيـو اتـو- نـهو مياشتـو کې موږ د "دلتـه ګوزار هلتـه ګوزار" د عمليـاتو پـه ازمـايلو بوخت وو چې د مجـاهدينو ښه څارګري (استخباراتي) سيستم تـه پـه پـاملرنې سره پـه پـېښور کې ناستو مشـرانو او ځايـي قومـاندانو خـوښول. خـو لـه بـده مرغـه سوکولوف او اخراميـف پخپلـه پـه دې حقيقت ونـه شـواى پوهـېدى. هغـوى (پـه نولسمه پـېړۍ کې د قفقـاز پـه نيولو کې د روسيې د پـوځ د تجربـو پـه پـام کې نيولـو سره) دا ګڼله چې "دلته ګوزار- هلتـه ګوزار" عمليـات بـه پـه پـاى کې مثبتـې پـايلې ولـري، يـانې پـه دې کې دوډ خپـل ونډه درلودلـې وه. خـو ورځنيـو کړنـو (عمـل) وښودلـه چـې د نـوي تـاکتيك او ستراتيژۍ غـوره کولـو پـه جګړو کې زموږ پرلـه پسې بريو تـه او هغـه هـم پـه ټولـو ولايتونـو کې، لاره هوارولـه.د ۱۹۸۰ کـال لـه سپتامبر نـه تـر دسمبره د "دلتـه ګوزار- هلتـه ګوزار" د عمليـاتو د ورتـه پـېر پـه انډول ځلـور ځلـه زيـاتې علاقـدارۍ او ولسـوالۍ را خپلواکـې شـوې وې.

خـو د پـوځي بريـو پـه لړ کې سياسي حـالات پـه ځرګنـده کرغـېړن بـرېښېدل... د ۱۹۸۰ کـال تـر پايـه پـورې د مجـاهدينو تـاکتيك هـم واوښتـه. دوى د اسلامي کمېټو (جرګه ګيـو) پـه جوړولـو لاس پـورې کړ.

لـه جدولونـو بريـښي چـې د مـارچ تـر پايـه د افغانستان پـه خـاوره کې تـر څلوېښتـو زرو مجـاهدين او ۴۵۰ اسلامي کمـېټې تـل داسـې فعـالې وې چې لـه پولې بـهر نـه وتلې. دا پـه واقـع کې د واك بلـه بـڼه (الترنـاتيف) و. کـه بـه پـه کوم کلـي کې د ساري پـه تـوګه د څلوېښتـم لښکر يو ډلګى يـا د افغـاني پوځ يو ټولـى پـروت و، هلتـه پـه ظـاهره ملـي ديموکراتيکـه واکمنـي هـم ټينګه وه. او چېرې چې بـه زموږ عسکر يـا د کـابل د رژيم پوځيـان نـه وو، هلتـه نـو د اسلامي کمـېټو واك چلـېده. کـه د هـېواد حـالاتو تـه پـه مجموعـي (ټولـيزه) تـوګه وکتـل شـي، نـو وبـه وينـو

چې د ۲۸۶ اداري واحدونو له ډلې نه (۲۹ ولایتونه، ۱۸۵ ولسوالۍ او (۱۰ علاقداری) ۱۷۸ یې د حکومت او ۱۰۸ یې د یاغیانو په ولکه کې وو. دا د ۱۹۸۱ کال تر مارچه زموږ رسمي معلومات وو. خو په حقیقت کې هرڅه سرچپه وو او په کلیوالو سیمو کې یوازې د یاغیانو واك چلېده.

د کابل د رژیم افسران ها د چا خبره د پیښو په یوه بهیر کې ښکېل وو. ببرك کارمل د یوه کال په ترڅ کې هېڅ ولایت ته یا په جګړې بوختې یوې فرقې ته هم سر ورښکاره نه کړ. او یوازې موږ په استثنایي ډول جلال اباد ته د هغه په راکښلو بریالي شوي وو، نو تاسې وواياست چې ایا دغه سړی او په هغه راګرځېدلو وګړو له ټول سیاسي او دولتي مشرتابه سره په ګډه کولی شوای د سیاسي واکمنۍ د ټینګولو له لارې ځان په پوځي بریاوو پسې ورورسوي؟

د جنورۍ په هغو ورځو کې مو د ډېرو شیانو په اړه فکر کاوه. ما او زما ډلې هڅه کوله چې سفیر، د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې او ك.ګ.ب. استازي په سپتامبر- دسمبر کې د جګړه ییزو عملیاتو له پایلو نه تر وسه وسه ګټې اوچتونې ته وهڅول شي چې د هېواد سیاسي ژوند، په تېره په کابل کې میشت سیاسي مشران سره وخوځېږي (فعال شي). هغه وخت لکه چې موږ ته بریښېده د ثور انقلاب د رښتینې بري شونتیا (امکان) و. لږ تر لږه پر ډېر ژر بري زموږ پوځیانو باور پوخ شوی و. داسې بریښي چې د کلونو په ترڅ کې دغه پوخ شوی تلقین چې "انقلابونه تل بریالي کېږي" او لکه پټۍ زموږ په سترګو راګرځېدلې و، په افغانستان کې هم خپل کار وکړ.

# نهم څپرکی

د جنورۍ په نیمایي کې کابل او په تېره بیا پرې راچاپېر غرونه په پلنې واورې وپوښل شول. زما لپاره د منځنۍ روسیې د یوه وګړي په توګه چې هم یې شمال لیدلی او هم لرې ختیځ دا واوره بیا هم هېښونکې (حیرانوونکې) وه. هغې په خپلې سپینې ځلا په مصر کې د نیل د منځنۍ برخې د سیمې د پنبې د لومړنې فصل رنګ رایادوه.

د تودوخې درجه تر منفي پنځو- اوو پورې ولوېده. او البته چې دغه وخت په ټولو ختېنو کوډلو کې مرکز ګرمي نه وه. ښایي د ټولو ودانیو ځلورمې یا درېیمې او ښایي هم لږې برخې د مرکزي تودوخې سیستم درلود. ډېر کورګوټي چې د کابل د غرونو په لمنو او د ښار په څنډو کې جوړ شوي وو، د لومړنیو بخاریو په مرسته تودېدل.

تا به ویل چې کابل کې ژوند سړو کنګل کړی دی. لرګي، هه اودا څه لرګي وو! د ونو وچې ستې په تله پلورل کېدې. او دا په داسې حال کې چې د دغسې لرګو یو کیلوګرام له ډوډۍ او پتاټو (کچالو) نه ګران پلورل کېده او ښایي له غوښې نه یې بیه یوڅه ټیټه وه.

هغه څه چې مو په روغتون کې طرحه کړي وو، په عمل کې مو د هغو په پلې کولو لاس پورې کړ. البته چې تر هرڅه لومړی ما باید له ببرك کارمل سره کتلي وای. د نږدې دوو اووه نیو په ترڅ کې چې مو ږ

سره نه وو لیدلي، ډېر څه پښتنې شوي وو او باید دا خبره غوټه شوې وای چې: وړاندې څه وکړو؟ په څه ډول د ۱۹۸۰ کال د پای د جګړه ییزو عملیاتو بریالیتوبونه له سیاسي پلوه پیاوړي کړو او جګړه په څه ډول لا نوره هم په غور او غوڅه توګه اوږده او د ملي- دیموکراتیکې واکمنۍ ټینګښت شوني کړو.

دا بنسټیزه خبره وه

پریکړه مې وکړه چې ببرك ته د دفاع له وزیر محمد رفیع سره یوځای ورشم. خبره په دې کې وه چې: رفیع وروستیو میاشتو کې، لږ تر لږه په نوامبر- دسمبر کې لومړی داسې په پرده کې او وروسته په ډېر ټینګار دا وینا پیل کړه چې د هرې ورځې په تېرېدو ورته د سیاسي بیورو او انقلابي پوځي شورا په غونډو کې ګډون ګرانېږي. پوځي بري په پراخېدو وو، خو د ملي دیموکراتیکې واکمنۍ د ټینګښت چاره په دې بریاوو پسې نه رسېدله. او د سیاسي بیورو غړو په تېره بیا نور او نجیب او له لږ احتیاط سره کشتمند او راتب زاد د دې نظر په ځرګندولو پیل وکړ چې: چېرې چې یوه ولسوالۍ، علاقداري یا کلی تر لاسه کېږي هلته باید تر هر څه لومړی د ځلوېښتم لښکر او البته چې د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ ټولګي د اوږدې مودې لپاره واچول شي. او چې پښتنې خومره پراخېدې، ورسره سم دغه نظر په لا ډېر ټینګار سره د دفاع وزیر ته ځرګندېده. او لکه چې رفیع ځرګنده کړه، خبره په دې نوره هم پېچلې کېده چې سفیر تابییف د سیاسي بیورو، په تېره بیا د انقلابي پوځي شورا په غونډو کې د ګډون په ترځ کې د تایید په علامه خپل سر ښوراوه او په دې توګه یې په آزادو شویو سیمو کې د اوږدې مودې لپاره د پوځي ټولګیو د اچولو په اړه د نور او نجیب الله د وړاندیز ملاتړ کاوه او یا به یې مخامخ ببرك ته ډاډ ورکاوه چې: "موږ به د اوږدې مودې لپاره د ځلوېښتم لښکر" او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسلوال پوځ ټولګیو په اچولو، د ملي دیموکراتیکې

واکمنۍ د ټینګښت او د هغې د بشپړ بري لپاره خپل ټول وس- چار وکړو.

زه پوهېدم چې د رفیع له لارې د لوی پوځي سلاکار او زما لور ته د پله جوړېدل پیل شوي دي. او ما هڅه کوله چې دا نظریه په هماغه زړي (نطفه) کې بربنده او وچه شي. د ببرك له لارې د دې کار سرته رسول ګران و او ورسره د رفیع ونډه (رول) هم ټیټېده. رفیع څو څه د لوی پوځي سلاکار د اداري محاسب نه و! که سمه خبره راباندې کوئ نو په لومړي سر کې کېدی شي د هغه رول د یوه محاسب دا له ونډې سره پرتله کړی شي. خو هغه د وخت په تېرېدو سره درنده ونډه (وزن) یې اخیسته) ده چې تر همدا څه مودې وړاندې پورې د ټانك د کنډك قوماندان و، د وزارت څوکۍ له تر لاسه کولو، د لوی پوځي سلاکار د اداري د جنرالانو او افسرانو تر منځ له کښته پورته کېدو او د خپلې قرارګاه له افسرانو سره تر مصاحبت وروسته چې ځینې یې زموږ د ستردرستیز او نورو پوځي اکاډیمیو فارغان وو، خپله پوهه ډېروله او تجربه پراخوله. له هغه سره همکاري آسانېده او کېدی شوای چې د هغه له لارې پر ستردرستیز او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت پر ټول وسله وال پوځ اغېز واچول شي. خو دا خبره لابس (کافي) نه وه. موږ د هېواد په لوړ سیاسي مشرتابه، په سیاسي بیورو اوانقلابي پوځي شورا کې د محمد رفیع د دریځونو پیاوړتیا ته سترګې نیولې وې.

یو ځلې رفیع زه ډېر هېښ (حیران) کړی وم: "روسي ژبه زده کوم" – او دایې له څه کړوالي پرته په رسا روسي ژبه راته وویل:

ما تپوس کړی و چې څنګه، او هغه ویلي وو:

- هره ورځ یو څو ټکي یادوم.

ما وستایه او ومې پوښته:

- په کومې موضوع پورې اړوند ټکي زده کوې؟

هغه ځواب راکړ چې د ورځني ژوند په اړه. ما وويل: ټکي خو به ښايي ټول يو ډول وي. خو هغه اعتراض وکړ:

- ښوونکي سره بدلوم...

موږ ښه پوهېدو چې دا وزير په افغاني ښکلا کې ډېرې لېوالتيا لري. خو دا چې هغه اوس د ښوونکو يانې ښځينه ښوونکو د لړې بدلونې له لارې د روسي ژبې په زده کړه هم بوخت دی، دا نو زما لپاره بيخي ناڅاپي خبره وه. وروسته البته چې موږ پته ولګوله او جوته مو کړه چې په دغو ښوونکو کې زموږ نجونې يانې د روغتونو ښکلې نرسانې هم وې. او په دې توګه د ا.د.ج. د دفاع وزير روسي ژبه زده کوله. يو ځلې ورته ما وويل: "د ښوونکو په بدلون ډېر ځان مه بوختوه".

ما د هغه مېرمن هم پېژندله چې له افغاني بورژوازۍ کورنۍ نه راوتلې وه. هغه درې زامن درلودل، ښايستوکي هلکان وو، پلار ته شوي وو. ما ورته وويل:

- رفيع، روغتيا ته دې هم پام کوه. راتلونکي توکم به دې يادوي، ستا پر اوږو ستر مسووليت پروت دی، ته خو يوه تاريخي څېره يې...

او هغه په نيرنګي ښه ځواب راکړی و:

- او دا هم له روغتيا سره مرسته کوي او هم ستاسې... د روسي ژبې له زده کړې سره.

او د دې لپاره چې رفيع په غوسه کړم او د سيالۍ حس يې راوپاروم، ورته ومې ويل:

- ډګروال خليل خو له تا نه رفيع، ژر روسي ژبه زده کوي... او ورسره د بدلېدونکو ښوونکو له مرستې نه هم ګټه نه اخلي.

- هغه د سفير په کورنۍ کې ستر شوی دی. په ماشومتوب کې په مسکو کې و. په روسي ښوونځي کې يې لوست کړی دی. هغه ته دا کار ساده دی،- رفيع په دې ډول له ځانه دفاع وکړه. هه، اوس

پوه شوم دا ولې خلیل له روسانو سره دومره مینه کوي، دی په کوچنیوالي کې په مسکو کې اوسېدلی دی!...

نو څه په رفیع- پرېږده چې روسي ژبه هغسې چې کولی شي، زده کړي...

او دا دی له روغتون نه د راوتلو په سبا ما او رفیع پریکړه وکړه چې دوه په دوه به له ژباړونکي سره ببرك ته ورځو او خپلې راتلونکې چارې به ورسره څېړو.

د کتنې وخت یوولس بجې ټاکل شوی و. ما او وزیر دواړو پوځي کالي اغوستي وو. ژباړونکی کوستین په ملکي دریشۍ کې و. د ببرك کارمل دنګ یاور زموږ هرکلی وکړ. خو دا ځل یوازې نه و: ښي او کیڼ لوري ته یې یو یو جګړن ولاړ وو. او د دریواړو په سینه کلاشینکوف ماشینګنې ځړېدې. دې جګړه مارې بڼې لږ هېښ کړم، خو پوښتنه مې و نه کړه چې دا ولې؟ وراندې دننوتو په وره او په هر پوړ کې چې مخکې به په کې یو یا دوه ساتونکي ولاړ وو، اوس د ساتونکو شمېر دوه ځله زیات شوی و. یاور راته په ماته- ګوډه روسي ژبه وویل چې عمومي منشي خوړنځي ته څېرمه کوټه کې موږ ته سترګې په لار دی. نږدې وو چې ګومان وکړم لکه چې بیا یې څښلې دي؟ خو سملاسي مې دا ګومان له ځانه لرې کړ. داسې نو نه شي کېدی!

همدا چې خوړنځي ته ورننوتو نو سترګې مې په پرده ونښتې. او بیا مې دا نظر د ملګري "او" له نظر سره ولګېده. پرده پر ځای ولاړه وه.

- شوروي- شوروي! سپاسی بو- سپاسی بو!،-

ببرك په خوشحالۍ په یوه ساه غړېده. یوبل ته مو چې څنګه په کار وه هرکلی ووایه. خو د ببرك د پوځي کالیو تر سپورتي کمیس لاندې مې د ښي کوناټي له پاسه زموږ په روسي دود د تمانچې پوښ

تر سترګو شو (نور ټول افغاني پوځ خپلې تمانچې د آلمانیانو په دود له کیڼ لوري مخې خواته ځړولې).

فکر کوم چې ملګري "او" وسله نه درلوده. د ببرک چې څنګه زما کاره- واړه تګ ته پام شو نو ویې ویل:

- جبهه ده، جبهه!

البته هغه ته دومره زما ګوډوالي ارزښت نه درلوده چې یې غوښتل وښیي: وګوره ما هم پوځي کالي اغوستي او چمتو یم آن په ارګ کې دننه غوښ عمل وکړم او د همدې لپاره مې په تمانچه ځان سمبال کړی دی. په عمومي ډول دا د ارګ دننه حالاتو کې د ده لپاره څه نادوده غونډې خبره وه.

کېناستو او لکه چې په ورته کتنو کې دود دی،خبرې باید د دولت مشر راپیل کړې وای. رښتیا خبره ده چې ما غوښتل له هغه سره د دولت د رئیس په توګه د مخکني اعتبار په بیا خپلولو کې مرسته وکړم او ورته څرګنده کړم چې د کتابتون تر څنګ کوټه کې مې چې له شرمه ډکه کومه صحنه لږ مخکې لیدلې وه، هغه مې اوس هېره کړې ده.

ما ته په کار وه خپله کرښه داسې تېره کړم چې هغه یې خپله وبولي. او له دې سره جوخت باید محمد رفیع د دولت د رئیس ملاتړ احساس کړي.

د خبرو د پیل لپاره په دودیز ډول د روغتیا او کورنۍ په اړه پوښتنې وشوې.

ورو- ورو د حالاتو جاج اخیستنې ته ورننوتو. ما دا ځل د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ- فبرورۍ لپاره د جګړه ییزو عملیاتو نقشه له ځانه سره وړې وه. دا اصلي نقشه وه، دویمه کاپي نه وه. ما غوښتل د راتلونکو کړنو ربښتیني پراختیا ورته په ډاګه کړم. په کار وه چې د ټول مشرتابه د فعالولو په اړه یې پرېکړه تر لاسه کړو چې په دې ډول پوځي بریالیتوبونه په اوبو له لاهو کېدو راوژغورل شي.

- سپاسی بو. مننه.- ببرك دا وویل، بیا یې وروځې سره خپرې کړې، ما ته یې په سترګو کې وکتل او ویې ویل:
- هو، موږ باید په راتلونکو درې- څلورو میاشتو کې ملي دیموکراتیکه واکمني په ټولو ولسوالیو، علاقداریو او کلیو کې ټینګه کړو.

د هغه خبرې لکه پتې په زړه ولګېدې تا به ویل له پېروي سره مې د قهوې یوه پیاله وځښله. خو لاړښود خبره پسې اوږده کړه:
- خو د واکمنۍ د ټینګښت لپاره په کار ده چې د شوروي او افغان وسله وال پوځ ټولګي د اوږدې مودې لپاره په کلیو کې واچول شي.

نور مې د دغې نظریې د پراخولو وخت ورنه کړ او ومې ویل:
- موږ رښتیا هم د دوو اووه نیو لپاره د خلکو د اوسېدو په سیمو په تېره بیا د علاقداریو او ولسوالیو په مرکزونو کې خپل عسکر پرېږدو.
- سپاسی بو. مننه. خو باید د اوږدې مودې لپاره پرېښودل شي، ببرك په ټینګار سره دا وویل او بیا یې له خولې نه هغه څه راووتل چې زه یې د اورېدو په تمه وم:
- د سیاسي بیورو او انقلابي پوځي شورا په غونډو کې سفیر تابییف له موږ سره د موافقې څرګندونه کوي.

ما ورته په ځانګړې بڼه وویل:
- دا خورا لوړ او ښه سنجول شوی دریځ دی.
- سپاسی بو سپاسی بو. مننه.- عمومي منشي په پراخه ټنده ځواب راکړ.
- خو افسوس په دې کې دی چې تابییف نه پوځي مشر دی او نه له مجاهدینو سره په جګړې کې ښکېل.
- خا- خا...خا- خا...- کارمل او رفیع په ګډه لکه د کوترو غومبر وواهه. د ملګري "او" شنې شوې شونډې سره ټولې شوې.

اصولي خبرې- اترې روانې وې. موضوع يې په افغانستان كې د جګړو تاكتيك او ستراتيژي وه. زه بايد خبرې وړاندې څنګه پر مخ بوځم؟ مخامخ ورته "نه" ووايم؟ بې عقلي ده! هغه به نه يوازې دا خبره درك نه كړي شي، چې خوابدی به هم شي او زه به لوبه بايلم. بله لار په كار ده. زه ورته وايم:

هو ستاسې نظر سم دی خورا سم دی، خورا سم دی، راځئ ملګرو عمومي منشي يو ټاكلی حساب هم وكړو چې څنګه يې په عمل كې پلی كولی شو؟

سپاسی بو ـ سپاسی بو!

په افغانستان كې همدا اوس ۳۵۳۵۰ كلي دي، له دې ډلې نږدې ۱۱۰۰ـ۱۲۰۰ په غټو كليو كې راخي چې بايد لوی ګارنيزيونونه په كې واچول شي. په هېواد كې ۲۸۶ ولسوالۍ او علاقه دارۍ او ۲۹ ولايتونه دي. د هغوی په مركزونو كې هم بايد د څلوېښتم لښكر يا د افغاني پوځ كوچني ټولګي ځای پر ځای كړی شي. په ټوليزه (مجموعي) توګه سربېره پر ټولو بايد د اوسېدو په ۱۲۰۰-۱۴۰۰ سيمو كې ملي ديموكراتيكه واكمني ټينګه شي.

سپاسی بو، سپاسی بو، ما ته له ورايه برېښي چې عمومي منشي لا نه پوهېږي چې زه يې كومې خوا ته راكاږم.

ما خبره پسې اوږده كړه:

د دې لپاره ۱۲۰۰-۱۴۰۰ ټولي په كار دي.

ببرك ټينګ غوږ نيولی او د هو سرخوځوي. او زه وړاندې هم په داسې حال كې چې د همدې خوږې ژبې كارول لا اوږدوم، په رسا ټكو كې وايم:

له دې نه ۴۰۰-۵۰۰ كنډكونه يا نږدې ۱۳۰-۱۴۰ موتريزه يا پياده غونډونه جوړيږي.

ببرك په ځير سره هر څه اوري. خو په اصلي خبره يې لا هم سر نه خلاصيږي.

سپاسی بو، سپاسی بو، او سترگې یې وځلېدې، دا دی، دا دی د یوې ډېرې لویې دندې پای ته رسولو ته نږدې شوی دی: ګارنېزیونو، ګارنېزیونونه، ګارنېزیونونه... خو زه وړاندې ځم

- په دې توګه نو په عمومي ډول د واکمنۍ د پرځای کولو او ښه تینګښت لپاره یوازې ۳۳ یا ۳۵ فرقو ته اړتیا ده.
- سپاسی بو، سپاسی بو- ببرك دا وایي او ما ته د هو سر خوځوي.
- په دې توګه به نو باید د ځلوېښتم لښکر د پوځیانو شمېر دوه ځله یانې له شپږو نه دولسو فرقو ته لوړ کړو... ما لږ څه ځنډ وکړ چې د مخاطب په مغزو کې اورېدلې خبرې ښې کېني.
- خو یوازې دا بس نه دی! باید افغان پوځ هم له ۱۱- ۱۲ نه ۲۲- ۲۴ فرقو ته پراخ کړی شي.

ببرك چوکۍ ته ډډه ولګوله. په پای کې یې سر خلاص شو! خو زه لا هم پر خپله پیل کړې لار په ټینګار سره روان یم:

- افغانستان به ګني د دومره پوځیانو شته والی وزغملی شي؟

ما ملګري "او" ته وکتل، هغه تك شین اوښتی و. ښایي په دې فکر کې و چې د لوی پوځي سلاکار له دغو دلیلونو وروسته یې له ببرك سره څه ډول غږېدل مخې ته پراته دي.

- ۳۴- ۳۶ فرقې پر هر کلي ټولی- ټولی وویشه!

دا به ټول هېواد په یوه لوی پوځي کمپ واړوي!!! او له دښمن سره به جګړه څوك کوي؟ پولې به څوك تړي؟ او په پای کې څوك به دغې سترې پوځي ټولنې ته ډوډۍ ورکوي؟ ها؟

ببرك کارمل له ساړه اسویلي وروسته په ژور فکر کې ډوب شو... یادونه وکړم چې هغه کله کله، لږ تر لږه پر خپل چاپېریال د اغېز ښندلو لپاره داسې ښودلی شوه چې په فکر کې ډوب شوی دی...

ما هڅه وکړه په نرۍ موسکا زېږېدلې ترینګلتیا لږ څه پسته کړم:

- ملګری ببرک کارمل! ناپلیون بناپارت یو وخت ویلي وو: په توره جنګېدلی شي خو د پاسه پرې کیناستل ګران دي.

ببرک بیا په سوچ کې ولاړ. هیله یې وکړه چې د ناپلیون خبره ورته بیا وکړم. او بیا یې رفیع ته لارښوونه وکړه چې د انقلابي پوځي شورا په راروانه غونډه کې ورته دا خبره وریاده کړي چې د هېواد په مشرتابه کې یې د خپلو اندېوالانو غوږونو ته ورسوي. ببرک رښتیا هم ډېر ژر د ناپلیون دا خبرې د انقلابي پوځي شورا په غونډه کې رایادې کړې. په دې توګه یې په نامستقیمه توګه د تابییف په وړاندې زما خوا ونیوله. سفیر البته چې دا خبره راته په زړه کې واچوله.

- اوس نو په غوځه توګه باید په سیمو کې د واکمنۍ د ټینګښت لپاره ا.خ.د.ګ د مرکزي کمېټې، د ا.د.ج، د حکومت، والیانو او د هغوی د اداري کارکوونکو د ونډې په پیاوړتیا لاس پورې شي.

ما همداسې پر عمومي منشي خپل برید جاري ساتلی و:

- او هغې چې د جنوری- فبروری لپاره په دې نقشه کې ښودل شوي، په تېره بیا د پسرلي په رارسېدو سره به جګړو ته ښه زور ورکوو...

- سپاسی بو- سپاسی بو. مننه!

موږ د ګډو هڅو د فعالولو لپاره سیاسي کړنې سره وټاکلې. تر هرڅه لومړی باید مرکزي کمېټه او حکومت په ۱۹۸۰ کې د شویو کارونو او د واکمنۍ د ټینګښت په برخه کې د شتو دندو د روښانولو لپاره غونډې جوړې کړي. د دې کار د سرته رسولو دنده دې کشتمند، نور او زیري ته وسپارل شي. زموږ له لوري به په سیاسي چارو کې زما د مرستیال په توګه ساموییلینکه او د سیاسي چارو لوی رئیس ګل آقا ګډون ولري. بله دا چې باید د روڼ آندو (روښانفکرو) په منځ کې توضیحي کارونه تر سره شي. موږ به له خپلې غاړې په شوروي کتار کې یانې د ګوندي کمېټو له منشیانو، د وزارتونو او د مرکزي کمېټې د څانګو له سلاکارانو او ... سره کارتر سره کړو. د

دې تر ځنګ باید د جنورۍ په دويمه نيمايي کې کابل ته څېرمه د ا.د.ج د وسله وال پوځ په روزنيز مرکز کې د لومړۍ لمبر قول اردو له خوا ننداره ييز کارونه تر سره شي او په کې دې د افغاني پوځ سمباليز (سازماني) امکانات، جګړه ييز ځواك او افغاني مشرتابه ته سرسپارنه په ډاګه شي او هغه ډېرۍ- ډېرۍ چينايي، امريکايي، اسراييلي او ايټالوي وسله دې نندارې ته وړاندې شي چې په جګړو کې نيول شوې ده، خو د خدای لپاره چې په دې کې شوروي وسله ونه ښودل شي که څه هم له مجاهدينو سره زموږ ډېره وسله هم وه. دا ټول شيان دې په ټلويزيون وښودل شي او سلطان علي کشتمند ته دې دنده وسپارل شي چې په تېر کال کې د شويو کارونو په اړه په راډيو او ټلويزيون وينا وکړي او د هغې په ترڅ کې دې د ا.خ.د.ګ د مرکزي کمېټې او د هغې د عمومي منشي ملګري ببرك کارمل تر مشرۍ لاندې د ځلاندو برياليتوبونو په اړه وغږېږي. موږ په دې توګه غوښتل پر "پېښوريو مشرانو" او د مجاهدينو د قوماندانانو پر جګړه ييزې روحيې يو معنوي ګوزار وکړو.

ببرك په خورا مينه او يو څه په نا طبيعي بڼه دا ټول وړانديزونه ومنل.

د غونډې په پای کې مې له هغه نه وغوښتل چې که له خپل پلار سره يې زما د کتنې لاره هواره کړي. د ده پلار متقاعد ډګر جنرال محمد حسين مخکې د قول اردو قوماندان و.

ببرك لږ څه را نرم شو، رفيع ته يې په ګوتې نيولو وويل:

- هو، ښه وختونه وو... د ده پلار خو هم ډګر جنرال او د قول اردو قوماندان و زموږ پلرونه حسود افسران وو، لومړی يې باچا او وروسته داود ته د نږدې کېدو لپاره يو پر بل چلونه کول. او موږ هم يو د بل په وړاندې حسد درلود...

زموږ غونډه دوه ساعته روانه وه، ټولې دغسې کتنې ډېرې سره ورته وي. موږ دواړو تر څه ځايه چل کاوه او هر يو د خپلې تګلارې د

پلي کولو په هغه کې وو. کله کله هم ببرك خو ډېر ځله زه بريالی راختلم. که نور هېڅ نه وي نو زما تر شا خو مسکو ولاړ و... (د يادونې وړ ده چې د دغو غونډو ټول ليکل شوی جريان دا اوس هم له ما سره شته.)

د غونډې په پای کې ببرك ست وکړ چې غرمه ورسره پاتې شو. کله چې خوړنځي ته ننوتو، هرڅه پر مېز ټول شوي وو او له ګېلاسونو نه پوه شوم چې يوازې به شربت څښو. ډېره ښه شوه. الحمد الله!

خوړل پيل شول: ساړه خواړه، سلاتې (سالادونه) او چنګاښ چې د ببرك ډېر خوښېدل. ببرك له اصلي خوړونه مخکې دمايچو (مينچو) او د چرګ له سر او کولمو نه جوړه ښوروا (سوپ) غوره باله او وروسته وريجې (پلو). ډوډۍ مو د ام شربت په څښلو پای ته ورسوله.

د خوړو د مېز پر سر ببرك داسې په ضمني توګه وويل که يې خوك امر ته غاړه کېښږدي پلچرخي يا ګيوتين * ته به يې واستوي.

ما عمومي منشي په غوږ وواهه چې ماکسيميليان روبسپېر ډېر وګړي تر ځمکې لاندې زندانو يا ګيوتين ته استول خو په پای کې پخپله...

- پوهېږم، پوهېږم.- ببرك دا وويل او خبره يې داسې اوږده کړه:
- موږ ختيځوال يو... ملسمانان... دلته هرڅه بل ډول دي...،- خو بيا يې لکه چې خپلې تېروتنې ته پام شوی وي، وويل: موږ لنيستان يو. سترګې يې وځلېدې او په ورو دومره ورو غږ چې ګونګوسې ته ورته و، خبره اوږده کړه: ليونيد ايليچ (بريژنف)، يوري ولاديميرووېچ (اندروپوف)، ديمتري فيودورووېچ (اوستينوف) {او له دې نومونو سره يې ما ته داسې په ځانګړې نظر وکتل چې ما ته تر څه ځايه له مکارۍ نه ډك نظر وبرېښېده}

---

* ګيوتين هغه وسيله وه چې په فرانسه کې به يې په اتلسمه پېړۍ کې د ګنهکارو سرونه پرې غوڅول (د.ج)

او اندره ییویچ (ګرومیکو) لګیا دی ما ته دا رابنیي چې څه ډول د ثور د ستر انقلاب بریاوې ټینګې او پراخې کړم.
دغه وخت یې نو یوازې یوه د شرابو پیاله نه وه چې له شعار (توست) سره یې پورته کړي.
زه له ببرکه له دې باور سره ووتم چې هغه مې همدا سږ کال په ټول هېواد کې د واکمنۍ په ټینګولو کې او هغه هم د څلوېښتم لښکر او د ا.د.ج د وسله وال پوځ د دایمي ټولګیو له ځای پر ځای کولو پرته (چې په څه ساده توب یې تابییف ژمنه ورکړې وه) د خپلو امکاناتو په درلودو قانع کړی شو. د دې تر څنګ مې د ببرک داسې نا دوده شان پارېدلی حالت هم له نظره ونه غورځاوه او لکه د مخکې په څېر یې بڼه څه عجیبه غوندې برېښېده: پوځي کالي په غاړه او وسله وال. دغه راز دا ډېر ساتونکي چې د ارګ په هر وره او هر ګوټ کې ځای پر ځای وو!
دا د شنبې ورځ وه او زه مابنام ناوخته په خپله ویلا کې وم. زما یاور جګړن والیری بوردینیوك او زما د موټر (مرسدس بنز) چلوونکې بریدګې لیونیا ارتامونوف د مانۍ په دویم پوړ کې په خپلو خونو کې استراحت کاوه. انناواسیلفنا زما په خونه کې په کار بوخته وه (هغې دا مهال د "د هنري اثر منطقي- احساس تحلیل" کتاب کښنه)- برونینیکس له بل پرله پسې خبر سره راورسېد. زه په دهلېز کې ناست وم او د هغه راوړی لیك مې لوسته چې ځراغونه مړه شول. د خطر زنګونه وکړنګېدل او د ډزو باران جوړ شو.
مخکې هم داسې شوي وو: په سپتمبر کې په پنجشېر کې زموږ له بریالیو جګړو او د کندهار په انګوربڼو کې د مجاهدینو له تکونې... وروسته، هغه بریدونه په شاوهل شوي او غلیم ته په کې درونډ زیان اوښتی و. د ویلاساتنه کلکه، د ډاډ وړ او ساتونکي بڼه وسله وال دي.

خو دا ډزې سختې وې او په دې یې له مخکینو دا ځل توپیر درلود. بوردینیوك او ارتامونوف په ترپ له ویلانه ووتل چې که اړتیا وه نو د ساتونکو تر څنګ ودرېږي. انناواسیلفنا هم له دویم پوړ نه دننه وتو دهلیز ته ورمنډه کړه. د ټلفون غوږۍ اوچتوم- کار نه کوي. بیا مې نو ځانګړې مخابرې "بولاوا" ته لاس کړ. له چیریومنیخ سره مې تماس نیوه چې لاتراوسه په دفتر کې و. هغه په رسا ټکو کې وویل:

- همدا اوس د مرستې لپاره یو کنډك درلېږم...
- سانیا! زه ډارېږم،- او انناواسیفلنا هم په چغو چغو وژړل. ما په هغه شېبه کې څه کولی شوای؟!
- ته کراره شه، کراره شه ښځې ساتونکي یې مخه نیولی شي...- او بیا مې لکه د برېښنا په مغزو کې راوګرځېدل: آخ زه خو لاد بدې ورځې لپاره هم هېڅ وسله نه لرم- څه ځان او ښځه خو به دغو غدیو (بانډیتانو) ته نه تسلیموم!

ښځې مې همداسې ژړل:

- سانیا، او د هغې غږ د یوې غټې ګولۍ په چاودنه کې ورك شو.

یوه خرپ (ژور) او د رانده ګوزار ویلا وخوځوله... برېښېده چې له لنډیو (بې پسلګدو) توپونو نه ډزې کېږي... د کوټو د ننني پلستر (دګچ اخیړ) ټوټې- ټوټې راولوېده، هنداري وګرنګېدې او د سوځېدو ورېم (بوی) راولاړ شو. د توپ ګولۍ د دویم پوړ د خوب په خونه کې وچاوده... لویه خدایه له تا نه امان غواړو...

- څملئ، په داسې وروستي زور مې انناواسیلفنا او برونینیکس ته غږ کړ ته به وایې مخې ته مې دوه تنه نه دي، یو غونډ ولاړ دی.

د توپ ګولۍ یو په بل پسې ولګېدې. لوګی او د سوځېدو ورېم... برېښېده چې په لومه کې نښتي یو. د ویلا پر دیوالونو د توپ د ګولیو ټوټو ټکهار نښلولی و.

موږ په داسې حال کې چې ځان راته بېوسه برېښېده او سخت ډارېدلي وو، پرځمکه پراته وو.

او یو ناڅاپه:

- الله اکبر، الله اك ك ك بر! آ آ آ!

دا برید دی او غوټه پرانستو ته نږدې شوې ده... خو دا دی د ماشینونو او اتوماتیکو وسلو د ډزو زیاتېدونکي غړونه ښه رسا اورېدلی شو. ګولۍ پر دیوالو، پر بام، پر هغو هندارو چې لا اوس هم په کړکیو کې روغې پاتې دي او پر ورونو (دروازو) لګېږي.

لکه چې د کوماندو (دیسانت) کندك د مرستې لپاره راورسېده. وژغورل شو.

- ای موري مور ژوندي پاتې شو، - او خپله ښځه مې چې رېږدېده او ژړېده په غېږ کې ونیوله.

دغه ښبته ۴۰- ۵۰ دقیقې روانه وه. ما او اناواسیلفنا ته ځانونه له هر څه تش او بېوسه برېښېدل. خواته مو بوردینیوك او ارتامونوف له ماشینګنو سره ولاړ وو خو دوی او برونینیکس چې هم هلته وو، ټول دغې پېښې بوږنوولي وو.

په دهلېز کې باد په الوتو شو. هرې خوا ته د ماتو ښیښو ټوټې پرتې وې. ورونه (دروازې) او د کړکیو چوکاټونه له ځایه جلا شوي وو. داسې د لوګي وږم دی چې د اور له لګېدو وروسته پورته کېږي.

دا ډېر سپین سترګی برید و، خو ساتونکو هم مېړانه وکړه او د کوماندو کندك هم پر وخت راورسېده. خو د سر له زیان پرته هم پاتې نه شو....

د شوي برید څرنګوالي، نابره والي او سختوالي ویل چې د غلیم په سر کې څه نوي خیالونه شته چې لا موږ ترې خبر نه یو.

هو، ربښتیا نږدې ړانه هېره شوې وه (یا کېدی شي تکرار به وي): د لوی پوځي سلاکار ویلا په هغه سیمه کې وه چې بهرني سفارتونه په کې مېشت دي او په دې توګه مجاهدینو په خپل برید د لویدیز استازو ته دا ښودل غوښتل چې د شورویانو له خوا ټینګ شوی ټیکاو (ثبات) له مبالغې پرته بل څه نه دی. نو که په کابل کې د

لوی پوځي سلاکار پر ویلا گوزار کېږي نو دا څه تېکاو دی او د "بري" خو لانوم مه اخله؟

تر نښتې نږدې یو ساعت وروسته چې زه او برونینیکس په دویم پوړ کې په یوازینۍ روغې پاتې کوټې یانې زما په خونې کې پر کار بوخت وو او انناواسیلفنا زموږ تر څنگ په څوکۍ ناسته او د استراحت په حال کې پرېشانۍ وړې وه، د دفاع، خاد او کورنیو چارو وزیران په دریو زغره والو گاډو کې ویلا ته راغلل. چېریومنیخ او ژباړونکی کوستین ورسره وو. ولادیمر چېرنومنیخ له عادي حالت نه ډېر پرېشان او کینه کښ پرېښېده.

چېریومنیخ له راننوتلو سره جوخت په بې صبرۍ وویل:

- دا دي د ثور د ستر انقلاب مدافعان مې راوستي دي

افغانان (دغه درې وزیران د.ج) ترنامه کاره ولاړ وو، انناوایسلفنا ته یې خواخوږي څرگندوله. هغې ښښنه وغوښته او له خونې ووته.

- جنگیالي دي، زړور دي،- چېریومنیخ همداسې غږمبېده.

افغانانو همداسې د خواخوږۍ څرگندونه کوله، خپگان یې ښوده او ښښنه یې غوښتله....

- بس دی دا بنگ- بنگ نور!،- دا مې ووې او په داسې حال کې چې خطاب مې ټولو ته و خو په تېره نظر مې نجیب ته کتل، وپوښتل:

- ولې استخباراتو سم کار ونه کړ؟

کوستین په ژباړه بوخت دی. افغانان چوپه خوله ناست دي. چېریومنیخ او برونینیکس غوږونه تېره کړي دي.

- د ارگ ساتونکو ته د مجاهدینو د احتمالي برید خبر چا ورکړی و؟

کوستین په ژباړه بوخت دی. افغانان چوپه خوله دي. د نجیب مخ تک سور اوښتی دی.

- نجیبه نو ولې مو ما ته هم خبر نه راکاوه ها؟ ولې؟

نجیب په څوکۍ کې اوښته رااوښته...

انناواسیلفنا له پتنوس سره رانوته چې په کې یو د کنیاکو بوتل، ګیلاسونه او خواږه ایښي دي. هغې چې څنګه دا هرڅه پر مېز کېښودل په منډه بېرته له خونې ووتله.

چیریومنیخ راغږم وهل:

- او دی او مرستیالان یې تل یا دروغ وایي او یا زاړه اطلاعات وړاندې کوي!

- چیریومنیخ، لږ را نرم شه، نرم شه،- زه هڅه کوم چې هغه ورو ورو آرام کړم.

- په دې توګه نو جګړه نه شي کېدلی!

له افغانانو وار- پار ورك دی او چوپ دي.

چیریومنیخ پوښتنه کوي:

- واچوئ، وڅښئ، پخپله پر هرڅه پوهېږئ.

ټولو وڅښل (ما د تل په څېر ترې ډډه وکړه).

- پر ویلا باندې نننی برید موږ ټولو ته یو غمجن لوست دی. او شرم دی.

بیا چوپه- چوپتیا ده.

- نور واچوم؟

- واچوئ، او بیا نور هم واچوئ!

- پوه شوم!

افغانانو په یوه منډه دوه- درې پیالې ورواړولې او بیا یې وریسې د چاکلټو شخوند وواهه.

- مړي تر سهاره جوماتو ته ورسوئ. پرېږده چې ملایان یې جنازې وکړي: مجاهدین په جګړې کې وژل شوي دي.

کوستین وژباړل.

افغانان پورته شول، دعا یې وکړه.

ما ورسره د غبرګ له ورکړې پرته مخه ښه وکړه. چېریومنیخ له وره نه ورسره ووت. او چې چېریومنیخ څنګه راستون شو نو ژبه یې پرانستله:

- نجیب د سپي زوی دی! خائن دی!

ما پرې ور زیاته کړه:

- او د اندروپوف باوري سړی.
- دی ښه خبر و!...

چېریومنیخ هېڅ رذالت زغملی نه شو او چې به یې د افغاني مشرتابه چې موږ یې د ننګې لپاره سرونه په لاس کې نیولي وو، دوه مخي ولیده، نو لمبه کېده.

خو هغه شپه مې هېڅ نه غوښتل یا له چېریومنیخ او یا له برونینیکس سره پر دغې موضوع خبرې وکړم.

- ما هغوی ته اجازه ورکړه چې خپلو کورونو ته ولاړ شي (که داسې وینا پر ځای وي). په سبا یې چې زه په خپله قرارګاه کې وم نږدې د ورځې د یوولسو او یوې تر منځ یو پر بل پسې درې سختې چاودنې وشوې. څرګنده شوه چې د اریانا د سینما سالون او زموږ سفارت ته څېرمه د "شوروي کتابونو" نمایندګي الوزول شوې او ورسره په بازار کې کومه کراچۍ هم چول شوې چې تل په کې د خلکو ګڼه ګوڼه وي.

چې څومره ورځ پخېده هومره خبره جړېده. له کندهاره، له مزار-شریفه، له هراته او له کندزه ټلفونونه راسر شول چې د چاودنو رپوټ ورکول کېده. دغه چاودنې یا په سینماګانو، یا په بازارونو او یا په موټرو کې شوي او یا پر پوځي قطعو د برید په ترڅ کې پېښې شوې دي. لنډه دا چې د دوو ورځو په ترڅ کې په لویو ښارونو، سړکونو او د سالنګ په غاښې کې له ۲۰۰ ډېر تروریستي (ترهګر) عملونه سرته ورسېدل. نه یوازې ډېر افغان او شوروي پوځیان، بلکې هسې عادي وګړي یا له منځه ولاړل او یا معیوب شول.

داسې بربښېده چې د مبارزې نوی پړاو راپیلېږي. مجاهدينو د تروريستي لارو- چارو او ورانكاريو په مرسته د تېر كال د پای په پرانستو جګړو كې زموږ برياليتوبونه په سين لاهو كړي او د دې موخې د ترلاسه كولو لپاره يې د خلكو ډارولو ته مخامخ ملاتړلې وه.

د دغسې كړنو يوه حتمي پايله په مركز او ولايتونو كې د شوروي پلوه افغانانو د روحيې بايلل راختلی شوای.

زموږ له خوا د چټكو ځوابيه كړنو اړتيا وه.

خو په همدې ترخ كې يو فكر زما په ذهن كې همداسې تاوېده- راتاوېده او ځان مې ترې نه شوای خلاصولی. سوګند دی چې ځان مې ترې نه شوای خلاصولی! دا شك و چې د پراخو تروريستي او ورانكارو عملونو له پيل مخكې ببرك كارمل ته له كومې لارې خبر رسېدلی و. كه داسې نه وای نو له ما سره د كتنې په ورځ به يې وسله پر ځان نه راځړوله، د خپل ارګ ساتنه به يې نه پياوړې كوله او داسې ډېر مانيزي خبرې به يې نه كولې لكه "جبهه" او يا دا چې پخپله د وسله والې مبارزې لپاره چمتو دی.

"چې څومره بې خيري وي- هومره موږ ته خير دی"... دا دی وګورئ كنه: د هېواد حالات ډېر كړكېچن شوي او نورو شوروي عسكرو ته اړتيا شته. د افغانستان پوځ، خاد او څارندوی ښه جګړه نه شي كولی. يوازې شوروي پوځ د مجاهدينو د ماتولو وړتيا لري. ليونيد ايليچ (بريژنف)، يوري ولاديميريوويچ (اندروپوف)، ديمتري فيودوروويچ (اوستينوف) نور كنډكونه راواستوئ، راواستوئ! كه نه نو انقلاب به زندی شي، د افغانستان ديموكراتيك جمهوريت به ومري او كرغېړن امپرياليزم به د سوبې خاوند شي!

هم سفير، هم د شوروي اتحاد د كمونست ګوند د مركزي كمېټې او ك.ګ.ب، استازو او هم ما، هرچا په جلا- جلا ډول خو له مجبوريته په دغو غوښتنو كې د ببرك كارمل ننګه كوله. آخر موږ هم په افغانستان كې د ثور انقلاب بری غوښته.

ښه، داسې به وګڼو چې ده دقيق معلومات نه درلودل او د راروانې ورانکارۍ او ترهګرۍ رښتينې ځواك او پراختيا ورته څرګند نه وو. خو ده ته د خپلو استخباراتو له لارې داسې دلايل هرومرو رسېدلي ووچې پرې انديښمن کېدلی شو! نو هغه خو همدا معلومات موږ ته هم راکولی شوای. خو ببرك چل کاوه او په ختيځوال دود يې له موږ سره هسې د دوستۍ لوبه چلوله: "که زه په ستونزو کې ښکېل يم خدای به راورسېږي او خو تا بې دينه به ووژني نو ژر- ژر مرسته راکوه".

او له شوروي نه هم غونډونه او هم کنډکونه راروان وو او "د محدودو پوځي ټولګيو" شمېر يې پسې زياتوه او ځلوېښتم لښکر يې پسې لا پياوړی کاوه. او دا هغه څه وو چې افغاني "لارښود" غوښتل.

په دې توګه نو دا فکر په ذهن کې راګرځي: که ببرك خپلې انديښنې راسره شريکې کړې وای موږ به هم امنيتي تدبيرونه نيولي وای. هغه موږ ته خبر رانه کړ مانا دا چې ده د همدغسې يوې پېښې کېدو ته اړتيا درلوده.

ای ببرکه، ببرکه!... په څه ډول ستا له نيتونو نه خبرېدل او ستا پر کړنو له مخکې پوهېدل زده کړم؟...

په دې توګه نو د ترور او ورانکارۍ د څو ورځو په ترڅ کې له مرکز نه تر ولسوالۍ او علاقدارۍ پورې افغاني مشرتوب ټول فلج شو، د عسکرو تګ- راتګ ډېر محدود شو او له شوروي اتحاد نه هم د سمنګانو او د هرات له لارې د مرستو د رارسونو چاره له ستونزو سره مخامخ شوې وه.

څه بايد وکړو؟

په درېيمه ورځ چيريومنيخ خبر راکړ چې نور، زيری، وطنجار، قادر، کشتمند، راتب زاد، نجيب او ګلابزوی د تروريستي اعمالو او ورانکاريو خلاف د متقابلو کړنو د څېړلو لپاره له ما سره د کتنې

هیله کوي. (رښتیا هم موږ د لوی پوځي سلاکار په اداره کې ټول ډېر بشپړ او غني اطلاعات سره راټول ول).

په غونډه کې مو پرېکړه وکړه: د جنوری- فبروری لپاره د جګړه ییزو عملیاتو د پلان پلي کول دې جاري وساتل شي. دا مو هم (د دفاع) وزیر رفیع او هم د څلوېښتم لښکر د قوماندان لپاره تایید کړل. دویم: له کابل نه نیولې بیا په ټولو لویو ښارونو کې دې د شپې له خوا ګرځبندیز ولګول شي. درېیم: د افغانستان د پوځ، خاد او څارندوی ګډې او دغه راز د څلوېښتم لښکر د ټولګیو ګزمې دې پیاوړې کړای شي. وړاندې: د څلوېښتم لښکر او د افغانستان د وسله وال پوځ د انجینري او استحکام قطعې دې د هرډول غښتو ټولنو له جوړېدو مخکې په پوره څیرتیا سره ګډون کوونکي او ودانی وپلټي. دغه راز مو پرېکړه وکړه چې د رسمي ځایونو مخې ته دې ځواکمنې ډلې ودرول شي؛ د سمنګانو له لارې د "ژوندانه په لار" کې دې دایمي پوستې او کمینونه منځ ته راوړل شي؛ د قطارونو د تګ په حال کې دې له هوا نه د هغو د ننګې لپاره چورلکې بېلې کړای شي او هر ډول تګ- راتګ دې په داسې قطارو کې کېږي چې هلیکوپترونه (چورلکې) یې له هوا وڅارلی شي. دغه راز مو وپېرله چې یا دې نور یا زیری او یا کشتمند (یا ښه به وي که درې واړه په ګډه) د ټلویزیون له لارې خلکو ته وینا وکړي چې د هغوی زړونه ولګېږي یانې د مجاهدینو د ترهګریو او ورانکاریو نه راولاړه شوې وېره په سین لاهو شي. ټولې هغه غونډې دې چې مخکې یې تر سره کېدل اټکل شوي وو، سرته ورسول شي.

وروسته جوته شوه چې: د لوی پوځي سلاکار پر ویلا له برید سره سم له کابل نه بهر، دېرش څلوېښت کیلومتره وړاندې د سروبي د برېښنا پر بند هم زورور برید پیل شوی و. د هوایي مدافعې یوه غونډ چې ۸۵ ملي متري اتومات توپونه یې درلودل، د څلوېښتم لښکر د هوایي دیسانت یوه کنډك، یوه موتوریزه کنډك او دغه راز د افغاني

پوځ يوه کنډک د دغه بند ساتنه کوله. دا يو سخت بريد و، مجاهدينو غوښتل ډېر ښارونه او کلي له برېښنا بې برخې کړي. خو دا کار ونه شو. خو بيا هم د څو ورځو په ترڅ کې په دې بريالي شول چې د برېښنا د ليږدولو نږدې شل ستنې ونړوي. خو دوی هم نږدې اويا تنه په کې له لاسه ورکړل.

په دې توګه نو د ا.د.ج. کې حالات سخت خراب شول، مونږ اړ وو چې د پراخې ترهګرۍ او ورانکارۍ په شرايطو کې عمل وکړو...

ما په دغو ورځو کې کندهار ته څېرمه شکيدچنکه ته د ورتلو لام ترلی و چې د څلوېښتم لښکر له مرستيال سره يوځای د کابل-کندهار د لويې لارې په اوږدو کې پر پوځي عملياتو بوخت و. (دا عمليات د اتو هيليکوپتري ديسانتو په کوزولو، د مجاهدينو د ډلو په سره وېشلو او د ښارونو په پاکولو سره پيل شوي وو.) خو شرايطو له ما نه غوښتل چې په کابل کې پاتې شم او د ترهګرۍ (ترور) او ورانکارۍ پر مقابلې او د خپلو متقابلو ګوزارونو پر سمبالولو خپله ټوله پاملرنه راټوله کړم. زما ټوله اداره هم شپه او ورځ بيخي پر همدې کار بوخته وه.

د ببرک له پلار سره د کتنې وخت رارسېدلی و.

داسې مو غوټه کړه چې کتنه به د دولت د رئيس په ماڼۍ کې تر سره کېږي. دا پرېکړه مو هم وکړه چې دواړه به په پوځي کاليو کې راځو. ښايي بوډا غوښتل د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ يو ستر جنرال په خپلو سترګو ووينې چې څنګه برېښي.

مونږ د خبرو لپاره ډېر څه درلودل. د يوه تجربه لرونکي پوځي او د دولت د رئيس د پلار په توګه ماته د هغه افکارو او قضاوتونو ارزښت درلود.

... ډګر جنرال حسين ۱۲-۱۳ کاله تر ما مشر راوخوت، په زړه پورې بڼه يې درلوده، لږ څه نری و او له منځنۍ کچې نه يې لوړه ونه درلوده، د مخ کرښو يې د اوږده پوځي خدمت ښکارندويي کوله.

له دود سره سم مو يو د بل هرکلي وکړ او ګوره چې څه پېښېږي: يو ځلې بيا درته يو سړی يوه داسې خبره کوي چې هېڅ مانا نه لري، خو د اوړدې مودې لپاره په ذهن کې پاتې کېږي- ده له ما نه وپوښتل:

- دا نوځنګه په ټولو پوځونو کې د سترجنرالانو پر اوږو څلور ستوري وي او ستاسې يو غټ ستوری دی؟

اړ شوم چې پر اوږو د دغه يوه غټ ستوري د راڅرګندېدو ټول نکل ورته وکړم. ما ورته وويل: مخکې زموږ سترجنرالانو هم پر خپلو اوږو څلور ستوري درلودل. خو وروسته زموږ مشرتابه ته دا فکر په سر کې وګرځېده چې د شوروي اتحاد په وسله وال پوځ کې بايد يوازې يو مارشال وي او دا به اعلی سرقوماندان او د شوروي د کمونست ګوند د مرکزي کميټې عمومي منشي وي. خو تر دغه وخته څو تنه د شوروي اتحاد مارشالان شوي وو او ډېرو سترجنرالانو هم د مارشال کېدو خوبونه ليدل، نو ځکه يې داسې يوه پرېکړه وکړه چې ډېره خو په عقل پخه نه برېښي خو جوړ- جاړی يې راوستلی شو: هرڅه دې په همدې اوسني حال پرېښودل شي، خو د دې لپاره چې د شوروي اتحاد د راتلونکو مارشالانو خوابده شوې نه وي، د هغوی پر اوږو دې څلور ستوري نه، بلکې يو لوی ستوری ولګول شي خو د دغه ستوري دولتي نښان دې لږ څه کوچنی وي او د پوځي جمپر پر توره نکټايي دې له آلماسو سره يو د سروزرو ستوری ورزيات شي او دوی ته دې نور د "پوځ جنرال" (ستر جنرال-د.ج) نه، بلکې د "پوځ مارشال" نوم ورکړل شي. خو يا د زړښت او يا د خرابې حافظې له امله، هرڅه چې و، خو دغه پرېکړه تر پايه پلې نه شوه. د شوروي اتحاد مارشالان پر خپل ځای پاتې شول، خو سترجنرالانو پر اوږو له يوه کوچني دولتي نښان سره يو لوی ستوری ومونده، د "پوځ د مارشال" اصطلاح ژر له منځه ولاړه او دوی همداسې د سترجنرالانو په نامه يادېدل.* او د پوځ

---

* پر ۱۹۹۷ کال د روسيې د جمهوررئيس بوريس يلڅين د فرمان له مخې د روسيې د وسله وال پوځ د سترجنرالانو له اوږو نه د شوروي د زمانې يو لوی ستوری لرې او بېرته د مخکې په څېر ورته څلور ستوري وټاکل شول (د.ج).

په بېلا بېلو صفونو (مسلكونو) كې مارشالان خو مخكې هم وو: د توپچي مارشال، د مخابرې مارشال، د انجينرۍ مارشال او داسې نور.

د خبرو په پيل كې مو يو بل ته د لارې موندلو هڅه كوله، د هر-هرڅه په اړه وغږېدو او يو د بل پوځي كالي مو وستايل.

او وروسته هغه له مانه مخامخ وپوښتل:

- څنګه، هغه وخت رارسېدلى دى چې د افغاني پوځ د فرقو قوماندانې د ماڼو ته وسپارل شي؟
- تر اوسه خو لادا وخت راغلى نه دى، خو خلك په چټكۍ سره له يوې پوړۍ نه بلې ته پورته كېږي.

هغه وپوښتل:

- لكه چې د ېر پرچميان دي.
- د دې كار پاى تياره برېښي.

وروسته يې د عمر له پخېدو سره د خوب د خرابېدو نكل وكړ، ويې ويل چې د هېواد د برخليك له امله پرې انديښنې خپرې شوې دي.

هغه وويل:

- هرڅه كندې ته په لوېدو ښكاري.
- دا نو ولې؟
- تاسې دومره شتمن نه ياست.
- خو موږ څواكمن يو.
- امريكا هم تر تاسې په زور كې كمه نه ده...

موږ د تاريخ او د يو شمېر واكمنو د هوښيارۍ په اړه سره وغږېدو.

كله چې د تېرې پېړۍ په ۷۷- ۷۸ كلونو كې روسيې له تركيې نه جګړه وګټله او له تركانو سره د يوه تړون له لاس ليك د مخه بهير لا

روان ... و هم ویل، هم برلین او پاریس او لندن د دغه تړون لاس لیك ځني وه چې هم ترکان او هم اصلاً روسان کمزوري شي.

هغه خپله خبره اوږده کړه:

- او موږ تر دغه وخته د انګرېزانو یرغلګر لښکر مات کړی و. او زموږ امیر له خپلو وزیرانو سره غوڅه پرېکړه وکړه چې د خپل شمالي ګاونډي پلازمېنې ته ورشي، چې دغه ګاونډی یې حامي سي او د خپل وزر تر سیوري لاندې یې شته والی وژغوري. تولې ډالۍ، سره او سپین زر، قیمتي پوستکي او لرغوني وسلې یې له خانه سره واخیستې او شاه پخپله د دغه پلاوي (هیئت) په سر کې رهي شو. ترمز ته څېرمه یو چېرې د ارینبورګ پوځي واکمن د ده هرکلی وکړ. دغه روسي جنرال ته د پتربورګ لارښوونه دا وه چې تروسه- وسه دې باچا د هېواد په بېلابېلو سیمو او تاریخي ځایونو تر هغو وګرځوي چې څو له ترکیې سره د بلغاریا په اړه تړون لاسلیك شي او دا ددې لپاره چې له انګلستان سره د اړیکو د خرېړتیا مخنیوی وشي او چې تړون لاس لیك شو نو بیا دې یې پتربورګ ته ورولي. د ارینبورګ والي اوږده موده هغه باچا ګرځاوه. له بده مرغه د هغه پښې پړسوب پیدا کړ او پر ګانګرین اخته شو. باچا له همدې رنځه ومړ. دغه وخت په کابل کې هم کودتا شوې وه، بل واکمن د واك ګدۍ ته ختلی و او افغانستان هماغسې خپلواك پاتې شو: هم د شمالي ګاونډي له ننګې او هم د انګرېز له استعماره خپلواك و چې دغه وخت یې پر هند د واك لمنه پلنه کړې وه.

ما ته دا نکل دیمتري میلیوتین له یادښتونو چې باچا دویم الکساندر ته منلی سړی و، څرګند و. خو زما د جرګې ملګري له دې نکل نه یوه ژوره پایله راوایستله.

- او تاسې نه یوازې پر افغانستان د خپل حمایت د وزر خپرولو، بلکې د هغه د لاندې کولو لام ترلی دی.

ما ورته په ځواب کې وویل چې دا خو ستاسې خپل مشران وو چې ۱۲ ځلې یې افغانستان ته د عسکرو د استولو غوښتنه کړې وه.

- دا مشران لکه ستاسو دا ناپوهه دي.

ما نه شوای کولی په همدې روحیه خبرې اوږدې کړم. ځکه مې نو د هغو بهیر ناڅاپه واړوه:

- هرڅه چې دي خو نن یا سبا، بری زموږ دی.
- نه. پر افغانستان هېڅوك بریالي کېدلی نه شي. یوازې د افغانستان پېرودل امکان لري. خو تاسې هم د نفتي شیخانو او هم د امریکې په پرتله بېوزلي یاست...

څه موده وروسته همدا نظر راته دوه نور کسان هم وایي...

ما نه غوښتل چې د ببرك له پلار سره په خبرو کې د داسې یوه چا په توګه راڅرګند شم چې مات شوی وي. او ما پردې ټینګار کاوه چې موږ له افغاني پوځ سره په ګډه د حالاتو واګې تر ګټو کړې او په هېواد کې برلاسي یو، چې د افغانستان پوځ ۱۸۰- ۱۹۰ زره پرسونل لري او دا غټ ځواك دی... او داسې نورې او دې ته ورته خبرې.

او هغه په یوه غلي شان غږ وویل:

- تاسې غوښتل چې زه درته خپل نظر ووایم، ما هغه ووایه. او تاسې کولی شئ پر خپل نظر ټینګ پاتې شئ...

وروسته چې مې کله د ببرك د پلار خبرې تحلیل کړې نو ورو ورو دې پایلې ته ورسېدم چې زموږ شوروي مشرانو باید د افغانانو تاریخ ښه زده کړی وای، دا څنګه هېواد ته یې خپل عسکر واستول. هغوی د پوځیانو په تېره بیا د نیکلای اګارکوف د ګوت څنډنې په پام کې ونه نیولې چې د افغانستان جګړه اوږدېدلی شي او کېدی شي په دې توګه (شوروي اتحاد) له ټولې اسلامي نړۍ سره مخامخ شي.

یوازې پر خپلو جاسوسانو چې ډېر یې یا خاین دي یا د ذهني قضاوت لرونکي، د ډېرې لګول ناسنجولی کار و. په تېره بیا چې

جاسوسان د سرسر له کسانو یاني د ګوندونو، غورځنګونو او ټولنو (سازمانونو) د مشرانو له منځه غوره کېږي.

دا د اندروپوف یوه نه ښنونکې تېروتنه وه! خو د هغه څنګ ته یوه بله څېره هم ولاړه وه، یاني اندره ګرومیکو چې د ډاکټرۍ رتبه او لوړ او ستر ډیپلماتیك دریځ یې درلود. یو بل تحصیل کړی کس، اکادیمیسن پوناماریوف هم د اندروپوف تر څنګ و. نو ولې دوی مخالفت ونه کړ؟ او د بریژنف ملګری او باوري سړی چرننکه څنګه؟ ده نو ولې مخالفت ونه کړ؟

... یو- یو ګیلاس کنیاك یې موږ ته راوړل. د خبرو بهیر د ژوند ورځنیو چارو ته واوښت. او حسین داسې د خبرو په منځ کې او کېدی شي له خوابدۍ او څه لږې غوسې سره یو ځای وویل:

- زما پر دې بدمعاش دومره باور مه کوئ، دی له زلمیتوبه همداسې ځیلې و.

هغه سړي چې له ځلوښتو کلو ډېر عمر یې په پوځ کې تېر کړی او باچا او د هغه د باچایي واك د اوږدوونکي جمهوررئیس چوپړ ته یې ځان بېل کړی و، ما ته په زغرده (بې له ډاره) دغه خبرې کولې. خو فکر کوم چې پلار پر ببرك د زوی او د هېواد او پوځ د مشر په توګه هېڅ اغیز نه درلود.

مسکو ته مې د دغې غونډې په اړه په خپل دودیز رپوټ کې هغه پرانستې، په زړه پورې او مدني وبلله.

او زما له ذهنه تر ډېره دغه خبرې نه وتلې: "تاسې افغانستان نیولی نه شئ. تاسې یوازې هغه پیرودلی شوای خو له تاسې نه شتمن هېوادونه شته".

د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ ستر درستیز، د دفاع وزیر محمد رفیع او ما د پوځي حالت له مقرراتو سره سم د کار یو ځانګړی نظام پیل کړ: شپه او ورځ- شپه او ورځ په افغاني او شوروي پوځ کې کار او یا د دغو پوځونو لارښوونه.. د

معلوماتو راټولونه او بيا يې افغاني مشرتابه، (شوروي) سفير او د هغه اداري ته رسونه... که څه هم په ټول هېواد کې لاترووريزم او ورانکاري همداسې روانه وه خو يوازې د څو ورځو او شپو په ترڅ کې مو يوځلي عيني (سم) معلومات تر ګوتو شول. له هرې ورځې سره د نويو زياتونو او د نورو وګړو د وژنې خبر رارسېده چې ځينې به يې ملکيان وو.

موږ هم خپل اقدامات سخت کړل او ورانکارو او وېره اچوونکو ته به مو بېرحمه سزا ورکوله. په ښارونو کې (د شپې له خوا) ګرځبنديز، نيونې، د ښارونو او کلېو تلاشي، کمين جوړول او پياوړې شوې ګزمې- دا ټول کارونه د جنورۍ- فبزورۍ له پلان سره سم د ا.د.ج، د وسله وال پوځ او څلوېښتم لښکر د ټولګيو د جګړه ييزو عملياتو له چټکېدو سره يو ځای تر سره کېدل. د ا.دج، د قول اردوګانو، فرقو، غونډونو، مستقلو کنډکونو، د پوځي- سياسي حوزو او د هوايي او هوايي مدافعې پوځ ټولو سلاکارانو هرچېرې زغم او اتلولي ښودله او خپلې دندې يې په خورا سختو او ناوړه شرايطو کې سر ته رسولې. زموږ د وګړو مړينه روانه وه. تابوتونه... تابوتونه وو چې غلي او له څه زياتي شورماشور پرته به په الوتکو کې اچول کېدل او تاشکند ته به استول کېدل.

خو افغانان ډېر مړه کېدل. ترهګرو (تروريستانو) خپل هېوادوال داسې پرله پسې وژل چې خدای خبر که په قران (کريم) کې يې کړنو ته د درناوي کوم توری ومونډل شي... او چيريومنيخ همداسې پرخپله خبره ټينګار کوي.

- د يابو د بدلولو وخت دی، بيخي وخت يې دی. زما دا خبرې به دريادې شي خو کار به له کاره تېر وي.

ويکتورساموييلينکه له ګل اقا سره يو ځای د ا.خ.د.ګ، مرکزي کمېټې له مشرتابه، د ا.د.ج، له حکومت، د کابل له ونانفکرانو او د ښځو د غورځنګ له فعالينو سره د سياسي غونډو

د جوړولو پلان پلی کاوه. د ساموېلینکه له خبرو برېښېده چې د غونډو د ګډون کوونکو روحیه په عمومي ډول بیخي ځپل شوې ده. هر یو د خپل ځان او د خپلو خپلوانو د ژوندانه په اندېښنه کې دی.

ترهګري غچ اخیستنه ده، سخت خو موقتي غچ دی! او شك نه شته چې د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې د ستر وسله وال پوځ په درلودو او زموږ له خوا د هېواد د سیاسي او دولتي مشرتابه په شتوالي کې به چې واګې یې زموږ په لاس کې دي، بې له شکه او په چټکۍ سره داسې لارې چارې وموندلی شو چې د جهادي جګړه مارو ځناوریزه خواري په سین لاهو کړي. خو موږ د غلیم له کړنو له هغې برخې نه وېره درلوده چې په لومړي نظر سړي ته نه ښکاري. غلیم په ولس کې ځای درلود چې که څه هم په لړه فعاله بڼه خو بیا یې هم مرکزي واکمني او موږ (استعمارچیان)دواړه له ځانه پورې وهلو. ځکه چې د هېواد د کلیو او علاقداریو له دریو دوه برخې لا اوس هم د اسلامي کمېټو او د مجاهدینو د پلوي ملایانو په لاس کې وې... د مجاهدینو رښتینی ځواك هم په همدې کې و چې هم یې موږ او هم د ببرك کارمل رژیم ګواښه.

یوه روحیاتي او پوځي ځرخون ته اړتیا وه، که نه نو څو میاشتې په څټ یانې ۱۹۸۰ کال ته شاته غورځول کېدو.

ما شپه او ورځ په دفتر کې پر کار تېرولـه. ویلا تر ترمیم لاندې وه، ځکه نږدې رنګه شوې وه. یوه زما د کار کوټه روغه پاتې وه او په هغې کې هم انناواسیلفنا اړولې وو. چیریومنیخ د ویلا ساتنه نوره هم پیاوړې کړه.

په مخابره کې راسره اوستینوف مخامخ دی. او چې د اوپراتیفي حالت په اړه مې رپوټ بشپړ کړ د ټلفون غوږۍ مې کلکه په غوږ پورې ونښلوله چې ډ دربېره وزیر بیا څه سکونډل کوي.

چوپتیا اوږدېدلـه... برېښېده چې په دفتر کې یوازې نه دی یانې دا چې له کوم چا سره سلا کوي. وروسته یې وویل: تاییدوم یې.

ستاسي لـه نظـر سـره موافقـه لـرم. لـه کړنـو سـره مـو هـم موافـق يـم. دا ټول راتـه پـه ليکلـې بڼه وړانـدې کـړئ...

دا پوښتنـه يـې لا هـم وکـړه:

- زه څه مرسـتـه کولـی شـم؟

وزيـر پوهـېده چـې دلتـه د افغانسـتـان پـه ديموکراتيـك جمـهوريت کـې کـړاو دی...

- اجازه راکـړئ چـې انـدروپـوف تـه خپـل عـرض وړانـدې کـړم...

- خـبـره څه ده؟

- پولـه... او هيلـه تـرې وکـړم چـې د "الفـا" "کوبـالت" او "کـارپاتـی" څو ځانـګړي کنډکونـه لـه ترهـګرو او ورانکـارو سـره د مبـارزې لپـاره راکـړي.

اوستينوف پـه غړمبېدلـي غـږ پوښتنـه وکـړه:

- ايا هغـه څه چـې انـدروپـوف تـه يـې ويـل غـواړئ لـه ملـګري "او" سـره څېړل شـوي دي؟

مـا پـه بيـړه وويـل:

- هـو صـاحب! او پـه زړه کـې ايشـېږم چـې بيـا دا د شـيطان... ملـګری "او"!...

دا غـوړه مـالي چـې د دفـاع وزيـر يـې انـدروپـوف تـه کـوي مـا تـه اور اچـوي. خـو يـو کرغـېړن اغـزی زمـا پـه مغـزو کـې ښخ دی او هغـه د "بلـې صـاحب!" وينـا ده. د بـبرك لـه دغـه حـامي سـره بـه د خپلـو کړنـو سـلا وکړم... بـلا دې وريـسې شـي! خـو بيـا هـم لـه ډاره د دروغـو پـه ويلـو شـرم راځي.

چـوپتيـا ده. اوږده چـوپتيـا.

- اجـازه ده. د خـدای پامـان. او لـه دې سـره د مخـابرې خپـل غـږ راپورتـه شـو.

او مـا د اوسـتينوف پـه اړه سـوچ کـاوه: افريـن شـه، ملکـي سـړی دی خـو بيـا هـم غريـب د جګـړې وږم پېژنـدلـی شـي. (د جـګړې شـامه لـري).

وخت مې له لاسه ورنه کړ او سملاسي مې د ځانګړي سوچبورد له لارې په ځانګړي ټلفون له اندروپوف سره د خبرو غوښتنه وکړه.

- السلام علیکم الکساندر میخایلوویچ (مایوروف)، څه حال، څه احوال؟...

له اندروپوف سره له روغبړ وروسته مې سملاسي ورته د اوپراتیفي حال تېرول پیل کړل...

- پوهېږم، پوهېږم همدا لږه شېبه وړاندې راته د دفاع وزیر صاحب ټلفون کړی و. ما په شېږم حس جوته کړه چې اندروپوف سخت بوخت دی او ډېرو خبرو وخت به ونه لري. (هغه خبره داسې اوږده کړه:

- هرڅه به مثبت غوڅ شي... ملګري سپولنیکوف ته به په دې اړه معلومات ورسول شي... د معلوماتو د وړاندې کولو له امله مننه کوم... روغتیا ته مو پام کوئ تاسې زموږ په یاد یاست... مرکزي کمېټه په هرڅه خبره ده او ستاسې د کړنو ملاتړ کوي... مننه. د خدای پامان!

... هو، دا دوه وزیران په لنډو او مخامخ ګوزارونو کې بې جوړې وو او له بریژنف په راچاپېره ډلګۍ کې یې سیال نه لیدل کېده. دا د ستالین او خروشچف ښوونځی او د هغوی زده کړه وه. د شوروي اتحاد د کمونست ګوند سیاسي بیورو او مرکزي کمېټې د ارادې یانې چې د خپلې ارادې په کټ مټ پلي کولو کې متانت او اوسپنیز غوځوالی.

... پنځه- اوه ورځې وروسته اندروپوف (زموږ د وړاندیز) په تایید پرېکړه وکړه او جنرال سپولنیکوف خپل ډول (دهل) ته درز ورکړ:

- نهه کنډکه! درې "الفا"، درې "کوبالته" او درې "کارپاتي"! او تورنجنرال مکاروف ستاسې او همدا راز زما د مرستیال په توګه له یوې کوچنۍ اوپراتیفي ډلې سره راروان دي. اوس به نو پوله

ټپه وتړل شي! او د ترهګرو او ورانکارو په... او يوه ښه کنځا يې وکړه.

ما ترې هيله وکړه چې سفير تابييف ته هم دا خبر ورسوي، که څه هم باوري وم چې وختي يې وررسولی دی.

لکه هماغسې چې ما پټيلې وه بايد له ببرک نه نيولې د ا.خ.د.ګ، د مرکزي کمېټې د سياسي بيورو له ټولو غړو سره کتنې شوې وای او د ترور او ورانکارۍ د مخنيوي د پلان په اړه ورته معلومات ورکړل شوي وای چې څو ورځې وړاندې جوړ شوي و. دا کار بايد څلورو تنو په ګډه کړی وای: رفيع، چيريومنيخ، ساموېلينکه او ما. د هېواد حالات بايد ډېر ژر راکابو شي که نور نه وي نو چې پسرلني کښت ته لاره هواره وي: دا وه زموږ له بنسټيزو دندو څخه يوه. موږ دغه راز مهمه خبره هم هېره کړې نه وه: د شوروي اتحاد د کمونست ګوند شپږويشتمې کنګرې ته څو اووه نۍ پاتې وې. او هلته په مسکو کې به د ټولې نړۍ د عامه افکارو په وړاندې د افغانستان پېښې ارزول کېږي... او ببرک کارمل هم بايد کنګرې ته د برې وينا واوروي.

ښايي په پېښور کې مېشتو مشرانو هم په افغانستان کې د پراخې ترهګرۍ او ورانکارۍ د رانښلولو پر وخت دا خبرې په پام کې نيولې وې.

له اناهيتا راتب زاد پرته نورو ټولو د کتنې بلنه ومنله. اناهيتا غوښتل چې هغه او ګل اقا يوازې په خپل دفتر کې وګورم. ما ورسره موافقه وکړه او اټکل مې دا و چې خبرې به پېچلې وي. د ا.د.ج له مشرتابه سره د خبرو ښه داسې وه: چيريومنيخ د جګړه ييزو عملياتو او ساموېلينکه په کلو کې د ملي- ديموکراتيکې واکمنۍ د ټينګولو په اړه وينا کوله. رفيع غوږو- غوږو، هرڅه ته به يې د هو سر خوځاوه او تاييدول به يې. په پای کې به مې د ا.د.ج، د مشرتابه د غړو د روحيې او پوځي مورال د لوړولو لپاره له اوستينوف او اندروپوف سره

د کړو خبرو غټ غټ ټکي هغوی ته اورول او د هغو تدبیرونو په اړه به مې معلومات ورکول چې مور او مسکو د ا.د.ج. د پولو د ټړلو لپاره طرحه کړي وو.

ټولې کتنې به د تل په څېر په خوښیو، موسکاوو او ښکلولو پای ته رسېدې. البته چې ببرك کارمل تر ټولو ډېر باوري او خوش بین بریښېده! "مننه، شوروي!... سپاسی بو...".

تر اوسه هم دغه څېره لا راته ډېره مرموزه بریښي! له منطقه وتلې، یوه نه تشریح کېدونکې څېره وه! هېواد په اور کې سوځي سلګونه او زرګونه هېوادوال یې مري، د هېواد اقتصاد په ړنګېدو دی، خو دی ارام دی او خوښي کوي... زه به دې څیز هیښ (حېران) او لك- څك کولم، خو تر څه وخته مې باید دا هرڅه منلي او... زغملي وای! چیریومنیخ البته چې خپله خبره بیا- بیا کوله!

- نور د یابو د بدلولو وخت دی!

له مشرتابه سره د خبرو د لړۍ له پای ته رسولو وروسته له اوپراتیفي ډلې سره یوځای په دریو زغره والو ګاډو او دریو محاربوي ماشینونو کې د کابل په لمنو کې روزنیز مرکز ته ولاړو. باید دا خبره مو جوته کړې وای چې د پلان شوې چارې چمتوالی څه ډول پرمخ درومي.

خو له هرڅه مخکې چیریومنیخ یادونه وکړه:

- بل سبا پر یوولسو بجو اناهیتا او ګل اقا تاسې ته درتلونکي دي. ایس کریم؟
- پنځه ډوله...
- زه او ساموېلینکه هم ګډون وکړو که څنګه؟
- نه! او تا ته خو بیخي اجازه نه شته!...
- ولې؟
- کله چې ته هغې (اناهیتا) ته ګورې نو له سترګو دې واړه- واړه ژېړ شیطانان رااوري... د دې کار پای خراب وینم.

- هاها... هاها... راباندې پوه شوئ. وموښیولم... هاها....

د ژمي لنډه کې ورځ مو په روزنیز مرکز کې واړوله او بېرته کابل ته راستانه شوو.

تیک پر یوولسو بجو له تک- تک پرته زما دوه جګړه ییز ملګري، په پوځي کالیو کې دوه تورنجنراله: ولادیمیرچیرومنیخ او ویکتور ساموېلینکه په داسې حال کې چې اناهیتا راتب زاد او جنرال ګل ا قا یې له ځانه مخکې کړي وو، زما د دفتر ورپرانسته او دننه راننوتل.

اناهیتا تور انګرېزي کالي اغوستي وو. پر هیلۍ وزمې غاړې یې چې کومې سرې ګردې پټۍ په بې پروایۍ متې کړې کړې وې د هغې سپین کمیس یې تینګک ساتلی و. د وېښتانو سپینو زرو یې چې لوړ پورته رېمنځ شوي وو هغې د ښکلي تورېلي څوان مخ ښکلا نوره هم زیاته کړې وه....

د دود له مخې مو درې څله مخ په مخ سره ښکل کړل او په دې توګه مو یو بل ته هرکلی ووایه. ګل اقا ته هم هرکلی وویل شو.

- اناهیتا زه ځومره خوښ یم چې د دې زیړو پوځیانو په منځ کې مو وینم... هیله من یم چې روغتیا به مو ښه او طبیعت به مو عالي وي؟...

- ګل اقا ورته زما خبرې وژباړلې او ما ولیدل چې د مېلمنې پر مخ یو سیوری راخپور شو: نه پوهېږم چې د اندېښنې سیوری و که د ناخوښۍ.

- زما په هېواد کې ډېرې وینې بهېږي، د ښځو او کوچنیانو وینې،- ګل اقا د هغې خبرې راته ژباړي،- او زه دلته د یوه مهم کار لپاره راغلې یم...

ما خپله لباسي غوړه ژبه ژر واړوله او د ځان په اړه مې وویل:

"ای زوړه توکماره".

ګل اقا په ډډ اواز وویل:

- مېرمن ستاسې د ښه چای هیله لري او ماته که- کخي، کخي،- د تل په څېر یو ګیلاس کنیاك راوړئ.

چیریومنیخ او سامویلینکه مخه ښه وکړه او ووتل. او د هغو له وتلو سره جوخت زموږ دوه روسی ګارسوني نجوني له پتنوسونو سره رانوتې... مېوه، خواږه، چای او بیا پنځه ډوله ایس کریم! ما ولیدل چې اناهیتا له دې امله چې ناکراره شوه خو نه لکه د تېر ځل غونډې. په تېره بیا زموږ د دغو نجونو په راڅرګند ېدو: هغوی هم ځوانې وې او هم ښکلې... او تر کومه ځایه چې څرګنده ده ښځینه ښکلا او پوهه له ځوانی سره سیالی کې ماته خوري. اناهیتا راتب زاد دا هرڅه احساسول: هغه له هرڅه وړاندې ښځه او وروسته بیا سیاسي څېره وه. سربېره پر دې ما او چیریومنیخ لکه چې دا ځلې هسې عبث ډېره خواري کړې وه: ښکلې نجونې او ایس کریم له لوی پوځي سلاکار سره د اناهیتا راتب زاد د کاري خبرو- اترو له کېدونې (احتمالي) موخې (هدف) سره نه جوړېدل. یوه پېړۍ ژوند وکړه خو یوه پېړۍ یې زده کوه هم... په تېره بیا نازکې ډیپلماتیکې خبرې.

اناهیتا ګل اقا ته څه شی وویل.

- مېرمن تاسې ته خبر درکوي... په نږدې راتلونکې کې به په کابل کې درې ښځینه کنډکونه جوړېږي. په هر یوه کې به ۲۰۰ نجونې تنظیم وي،- ګل اقا خبرې کوي او اناهیتا ورو ورو سرخوځوي او بیا په تېره نظر ماته ګوري چې غبرګون مې ځان ته جوت کړي.

ګل اقا خبرې اوږدې کړې:

یو کنډك به د نرسانو، بل به د مخابره چیانو او درېیم به د لارو- کوڅو د تنظیم لپاره وي.

ما چې سملاسي بل هېڅ ونه موندل نو غږ مې وکړ:

عالي خبره ده! څومره په زړه پورې ده: وطنپالې ښځې په افغانستان کې د انقلاب برياوو ټینګولو ته مټې رانغاړي...

ناڅاپه د هغو لباسني خبرو د کولو له امله چې نه يې وخت و او نه ځای، راباندې د شرم خولې راماتې شوې. خو د خبرو مرغۍ بيا الوتې وه نو...

هغه په يوه غړپ د کنياك پياله ورواړوله او بيا يې وويل:

- ميرمن راته- کخي- کخي د دويمې اجازه هم راکړه.

اناهيتا ورو ورو له زړو ډك ايس کريم خوړل او بيا يې ورپسې د ټينګ- ټينګ چای غړپ کاوه. دا ګڼې د همدې يوې خبرې د کولو لپاره چې د ښځو درې کنډکونه به جوړېږي، دلته ماته راغلې وه؟ فکر نه کوم...

ګل اقا په تالو (ستوني) کې وويل:

- مېرمن له دې امله په انديښنه کې ده چې دلته په هېواد کې او له هغه نه بهر د اسلامي احکامو رښتينې لاروي پاتې نه شول...- اناهتيا په برندو سترګو ماته ګوري-، په قران (کريم) کې د ښځو او ماشومانو وژنه ناروا بلل شوې ده... ان په جګړه کې...- اناهيتا لږه تروه شوه-، ای لويه خدايه! څومره افغاني ښځې او ماشومان وژل شوي، ځورېدلي او کړېدلي دي...

- کخي- کخي، دا بله پياله به هم وڅښم...

ما ګل اقا ته يوه بله پياله هم واچوله او هغه ټوله يو غړپ کړه.

هغه خبرې اوږدې کړې:

- همدا لږه موده وړاندې د مجاهدو جګړه مار ستاسې پر کور دروختل... انناواسيلفنا کخي- کخي... او دا ځل يې پخپله ځان ته شراب واچول- د مرګ په پوله ولاړه وه... کخي- کخي...

اناهيتا غلې خو چټکه پاڅېده سره نښتي لاسونه يې پورته کړل، مخ يې ختيځ پلو کړ په عصبانيت او چټکتيا يې څه دعا وکړه. زه هم پاڅېدم. ګل اقا لا وختي پاڅېدلی او سر يې کوږ نيولی و. ای زما خدايه... ټول ژوند به مې دغه ښځينه دعا چې د سماع حالت ته ورته وه او د چيچکي جنرال په سترګو کې غړېدلې او ښکې په

یادوي!... برېښېده چې یوه پېړۍ تېرېږي او د سترګو په یوه رپ اوړي... هو، دغه ښځه په رښتیا د خپل هېواد له برخلیك نه کړېدله... کړېدله... او د مبارزې متې یې رانغښتې وې: یا د هېواد لپاره او یا د هغه خلاف. هغه شېبه مې زړه نړېدې چاودلی و:- په هرځه پسې دې اورشي! خلك ژوند غواړي. دوی سولې ته اړتیا لري! او مور... دلته... دکوم چا د واکمنۍ د عقدو د سړولو لپاره پر وژنو بوخت یو...

اناهیتا دومره په حقه برېښېده چې رښتیا یوه شېبه وبوږنېدم.

- مېرمن غواړي چې له تاسې سره (شراب) وڅښي...
  ما دوه پیالې ډکې کړې.
- هغه وایي چې خدای دې بیا... انناواسیلفنا له داسې مرګني خطره وساتي... مېرمن خدای ته دا دعا کړې ده...
- ډېره مننه!

زه او اناهیتا یو بل ته ګورو، هرڅوك په خپل سوچ کې دي او په چوپتیا سره له کوچنیو پیالو نه واړه- واړه غړپونه کوو. او ګل اقا یوه پیاله په بلې پسې تشوي.

- لکه چې- کخي- کخي- د تګ وخت دی...

هغوی ووتل: ګل اقا په سپکو ګامونو او اناهیتا لکه چې د سترګو په رپ کې لړه زړه شوې وي خو له پرتم او برم سره...

زه لاندې- باندې شوم... او دلته مې د خلیل خبرې رایادې شوې چې لږځه وړاندې یې په روزنیز مرکز کې د کتنې پروخت راته کړې وې:

- زه پرون د مرکزي جومات ملا ته ورغلی وم له هغه نه مې وغوښتل او الله ته مې زارۍ وکړې چې ستاسې ویلا...

خو په همدغه شېبه کې چېریومنیخ او برونینیکس راغلل او خلیل چوپ شو.

کور ته چې راغلم نو دا هرڅه مې ټکي په ټکي اننا واسیلفنا ته وویل. هغې راسره هغه څه شریك کړل چې په فکر کې ورګرځېدلي وو:

- سانیا، مسلماني ښځې په دوديزه توګه سپېڅلې دوستي خوښوي. ځکه نو اناهیتا له تا نه او له مور نه له دې امله مننه وکړه چې تا په خپل وخت کې د هغې ځمکني معبود د شرابو له ډنډ نه راایستلی و.

له همدې وخته بیا د افغانستان په دیموکراتیك جمهوریت کې زما د اوسېدو په ټول بهیر کې هېڅکله (هېڅکله!) هم زما پر کور بیا برید ونه شو. رښتیا به هم اناهیتا د مجاهدو جګړه مارو او زما د کابلي استوګنځي تر منځ سپین پوړني هسك کړی وي، هه؟

د اناهیتا زارۍ، د ګل اقا شراب چې یوه پیاله یې په بلې پسې تشوله او د خلیل خبره چې نیمګړې پاتې شوه... زما په ذهن کې د پاتو دغو څېرو تر منځ کومه نامریي رابطه لااوس هم کله کله زما اندېښنه راپاروي او د افغانستان د جګړې، د هغې د رازونو، رښتیاوو... په اړه د تېرو او راتلونکو یادونو کړۍ له سره تازه کوي.

د دغې لعنتي جګړې هرګډون کوونکی به ښایي خپله رښتیا، خپل انځورونه، او د یادونو خپلې کړۍ ولري او دا ټول څیزونه به هم ښایي همدومره ژور دهغوی د شعور په تل کې ناست وي او هریو به هغه څه ته چې بیا نه راستنېږي، ورستنوي.

# لسم څپرکی

مـوږ د لومـړي لمبر قـول اردو پـه روزنـيز مرکـز کـې اکتشـافي چارې بشپړې کړې او چې څو هـوا روښانېدلـه کـابل تـه راستانه شو.

ښار تـش- تـور و. خـو چـې څومـره ښار تـه رانـږدې کـېدو هومـره ګڼې ګزمې بيـا بيـا تـر سـترګو کـېدې. پـه څلـور لارو کـې، د پلونـو لـه پاسـه او د دولتـي ودانيـو څنـګ تـه "مجـاربوي ماشـينونه" او زغـره وال ګاډي ليدل کېدل. پـه هرڅه کې لـه انديښنـې ډکـه نـاکراري تـر نظـر راتلـه. پـه پـېښور کـې ناسـتو مشـرانو د ترهـګرۍ او ورانکـارۍ لـه لارې پـه څرګنـده د دې خـبرې د ښودلـو هـڅه کوله چـې نـه حـالاتو ټيکـاو (ثبـات) مونـدلـی او نـه د افغـان او شـوروي پوځونـو لـه خـوا د ۱۹۸۰ کـال پـه پـای کـې د ترلاسـه کـړو بريـاليتوبونو څه نـښه شته او ورسـره جوخـت پـه هـېواد کـې د کومـې ځواکمنـې واکمنـۍ پتـه هـم نـه لـګېږي.

لـه مـوږ سـره دا انديښنـه وه چـې آن پـه ولايتـي مرکزونـو کـې د واك واګې "پېښوريـو مشـرانو" او جـهادي قوماندانـانو تـه پـه لاس ورتللـی شـي. د دغسـې يـوې پـېښې لـه کـېدو وروسـته بـه زمـوږ غليمـان لـه سياسـي پلـوه نـور هـم کلـك شـوي وای، يـانې دا چـې زمـوږ دريځونـه بـه کمـزوري شـوي وای. بـې ويلـو څرګنـده ده چـې د کـابل رژيـم او ورسـره جوخت بـه پـه سيمه کـې زمـوږ اغـېز لـه ربښتينـي خطـر سـره مخـامخ شـوی وای.

د شپې له اتو بجو وروسته په کابل کې د سختو پوځي مقرراتو پلي کېدل پيل‌ېدل. له همدې امله نو زموږ ناوخته ستنېدنې ناوړه پايلې درلودلی شوای. پوځي ګزمو خپلې دندې خورا ټينګې سرته رسولې. خو هره ګزمه له ژونديو وګړو جوړه ده او هر وګړی د پېښو جلا غبرګون لري. کله کله د دريځ له امر او د خپلو اسنادو له ښودلو نه سرغړونه د دې سبب کېده چې د دغو وګړو زغم له منځه ولاړ شي او دلته به نو د شپې چوپتيا د ماشينګڼو په ډزو ماته شوه او رساپر موټرو، د ګاډو پر زغرو او ټايرونو به د ډزو باران جوړ شو. که به چا د يوه ناوړه مقصد لپاره يا د زړورتيا د ښودلو او يا د ناپوهی له امله له هغوی نه په ډېرې چټکتيا د تېښتې هڅه وکړه نو تر څټ به ورپسې د ماشينګڼو پرله پسې مردکي (غشي) ورخوشې کېدل.

خپل دفتر ته له رسېدو سره جوخت مو هغه د چا خبره د لارې دوړې له ځانه وڅنډلې او بيا ټول سره راټول شوو: برونينيکس، چيريومنيخ، د هغه نوی ټاکل شوی مرستيال نيکلای ايوانوويچ ستيپانسکي او ساموېلينکه.

موږ په دې اړه فکر کاوه چې په راتلونکو اووه نيو کې د څه شي د پېښېدو کېدونتيا شته او پېښې پر کوم لوري روانې دي. ما د هر يوه خبرې واورېدې.

ورانکاري او ترهګري په ټول هېواد کې روانه ده. آن همدا نن د ورځې چې موږ په روزنيز مرکز کې وو، د غرمې د ډوډۍ پر وخت چې د سرتېرو کاچوغې له لوښو سره وکړنګېدې، د سروبي د اوبو برېښنا پر بند بريد پيل شو. دا آن له هغه لومړني نه چې د شپې شوی و . سخت و، پوځي ګارنيزيون مجاهدينو ته وړ ځواب ورکړ. غليم يوازې برېښنا د څو ستنو په غورځولو بريالی شو. دغه نښته يونيم- دوه ساعته روانه وه. زموږ د ديسانت کنډکونو. د افغاني پوځ يوه پياده کنډك او د هوايي مدافعې د ۸۵ ملي متري توپونو يوه غونډ (۲۴ ماټ ۸۵ ملي متري توپونه خورا ډاروونکی ځواك دی!) دا بريد هم په بري سره په شا وتمبوه.

ورانکاریو له نورو ارزښتناکو کارونو او د مجاهدینو له کوم پراخ برید نه زموږ پام بل لوري ته اړاوه. کوم برید؟ افغاني یا شوروي استخباراتو لاتر دغه وخته کوم معلومات وړاندې کړي نه وو. خو که رښتیا رابانديږ وایاست ما پر یوه هم دومره باور نه درلود. او چیریومنیخ خو لا نور هم سخت دریځی و:

- دوی ټول ځان پلوري دي!

خو بیا به هم کله کله، زموږ د استخباراتو له خوا!، د هر ګټور معلومات تر لاسه کېدل، خو وخت به پرې اوښتی و (زه دا خبره له امکانه لرې نه بولم چې ځیني ځنډ په لوی لاس پېښېده).

د ملي دیموکراتیکې واکمنۍ د نسکورولو لپاره د جګړه یېزو عملیاتو لمن د تاجکستان شوروي سوسیالیستي جمهوریت (بدخشان او کندز) او د ازبکستان شوروي سوسیالستي جمهوریت (مزار شریف اوله هغه نه لویدیز لور) ته نژدې کېدله. څرګنده ده چې دا کار د دې لپاره کېده چې اسلامي نړۍ او په شوروي اتحاد کې تر ځمکې لاندې ځواکونو ته وښیي چې د ګډو کړنو د سرته رسولو وخت رارسېدلی دی. ما ته دا جوته شوې وه چې "پېښوري مشران" په شوروي خاوره کې مېشت مسلمانان له کفارو یانې په افغانستان کې شوروي پوځ او د شوروي اتحاد د منځنۍ آسیا په جمهوریتونو کې د ګوندي او دولتي مشرتابه خلاف جهاد ته راپاڅوي. دغسې هڅې بیا بیا تر سره شوې وې: د "باسمچیانو" اخلافو په تاجکستان او ازبکستان کې پر پوستو بریدونه کول. دغه معلومات راته د شوروي اتحاد د سرحدي ځواکونو قوماندان جنرال وادیم ماتروسوف راکړي وو. د شوروي د منځنۍ آسیا په جمهوریتونوکې سرحدي پوستو په لومړۍ درجې احطاراتو (چمتووالي) کې د دندې سرته رسول پیل کړل. تر ټولو ناوړه او کرغېړن خبر له کندزه راورسېد. دغلته د والي او د ببرك د استازي په ګډون (چې ویل کېدل د نوموړي شخصي ملګري وو) له ټول ولایتي مشرتابه نه سرونه پرې شوي وو.

دغـه راز پـه کندهـار کـې، جـلال اباد تـه څېرمـه او پـه ځينـو نـورو سيمو کې هـم د بريدونـو کمی نـه و. خـو د هيښتيـا خبر دا وه چـې پخپلـه کندهـار کـې کـراري وه. او لـه دې نـه هـم ډېرنـ کـراري پـه هـرات کـې وه. اوه لسـمه پلې فرقـه چـې وضـع الجيش يـې پـه هـرات کـې و د څلوېښتـم لښکـر د پنځمـې موتوريـزه فرقـې لـه قطعـو سـره يـوځاى د هـرات ښار شمال ختيز او شـمال لويديـز پلـو د غـرو پـه لمنـو کـې پـر جـګړه بوختـه وه او د مجـاهدينو ډلـې يـې لـه منـځه وړلـې. پـه هـرات کـې د اوه لسـمې فرقې لـه پرسـونل نـه يـوازې پـهره لرونکـې او د انضبـاط قطعـه پـاتې وه او بـس. دوی د والـي د مـانۍ، راډيـو، دولتـي بـانك او د شـمال لويديـز زون د آمـر د اداري پـه سـاتنه بوخـت وو... مـا د پنځمـې موتوريـزه فرقـې قومـاندان ډګروال (بـاريس) ګرومـوف تـه امـر وکـړ چـې د والـي او د زون آمر د کورونـو،راډيـو، بـانك او نـورو دولتـي ودانيـو ساتنه پيـاوړې کـړي. لکه چې څرګنده ده امر پـرځاى شـو.

د هـرات هـتيـ پرانسـتې وې او ورځنـۍ ژونـد عـادي روان و.د شپې لـه خـوا د ګرځبنديـز سـره جوخـت ځانـګړي مقـررات پلـې کېـدل او ښار پـه آرامـۍ کـې ژونـد تـه ادامـه ورکولـه. دې خـبرې لـړ څه راويښولـو. خـو هـېڅ د انديښنـې وړ اسـتخباراتي اطلاعـات نـه وو رارسـېدلي. دا خبره بريـد جنرال پتروخالکـه هـم تاييدولـه چـې د ا.د.ج، د وسـله وال پـوځ د اسـتخباراتو د رئيـس سلاکار و (مـوږ تـر خپـل منـځه نومـوړي "برکلـي دوتلـي" بالـه، ځکـه چـې د ۱۸۱۲ کـال دغـه اتـل تـه يـې څېره ورتـه وه). هغـه بـه تـل خـورا ډېر معلومـات درلـودل چـې زمـوږ او د افغـاني پـوځ خارګرو او دغـه راز د شـوروي اردو د اسـتخباراتو د لـوی رياسـت لـه لارې بـه يـې راتېولـول. ددغـه سـړي خـبرې د اورېدو وې. دی خـورا ځيـر سړی و او چې کله بـه يې کوم شمېر يـا عـدد ښوده نـو تـر يويـزه (کـوچنـۍ برخـې) بـه سـم خـوت. او کـه چـا بـه شـك څرګند کـړ نـو پتروخالکـه بـه پـه سره سينه وړانديـز وکـړ:

- پخپله يـې آزمـايلی شـئ...

څه نو اوس آزموینې کوه! اړ وو چې ورسره موافقه وکړو. جنرال پتروخالکه خپره چوپتیا داسې خپره له:

- ایران چې له عراق سره په جګړه کېوتی په دې وخت کې له موږ سره د اړیکو له پېچلتیا نه ډډه کوي. ځکه نو په هرات کې او دغه راز په کندهار کې هم کراري ده...

خو موږ هغه حقایق هم په پام کې نیول چې تر لاسه شوي وو. او هغو ښودله چې په ټول هېواد کې هره ورځ د ورانکارۍ او ترهګرۍ نږدې سل پېښې منځ ته راځي. خو له دې سره سره موږ هڅه کوله چې سینه سپره ونیسو. زموږ د ځواکونو له دریو دوې برخې چې پر پوځي زده کړو بوختې وې همداسې یې دغه کار ته دوام ورکاوه. درییمې برخې د جنورۍ- فبرورۍ له پلان سره سم جګړې تر سره کولې. له احتیاط نه د ناڅاپي پېښو پر وخت ګټه اخیستل کېده، لکه: د سروبي د برېښنا پر بند د برید او یا د کوچنیو ګارنیزیونو، ترانسپورتي کتارونو او داسې نورو د برید د دفع کولو لپاره.

د پنجشنبو په دود سبا ته باید سفیر ته ورغلي وای.

که څه هم دا خبره اوس تېره شوې خو لا تر اوسه هم د خپلې سیاسي نمایندګۍ له مشر سره د هغو خبرو له یادونې نه راته ناخوښي راپیدا کېږي. (له سفیر سره د سوکولوف او اخرامییف مخکنۍ کتنې هم ستونزمنې وې). زه به هغه وخت له دوی سره تابییف ته ورتلم او ښه مې په یاد دي چې یو ځلې هم د نظر یووالی تر لاسه شوی نه دی.

سفیر به تل په خوښېدو راته، سور به شو، په څوکۍ کې به اوښته راوښته او په خبرو کې به یې سپین سترګي کوله. سوکولوف له خپل ادب او زغم سره چوپه خوله پاتې کېده او اخرامییف ته به یې امکان ورکاوه چې دا کرغېړن بحث اوږد کړي. اخرامییف به کله ټونګه وهله او کله به یې ځان ساته. خو هرڅه به د غرمې په ډوډۍ پای ته رسېدل. وروسته به بیا موږ وتلو. چې د سفارت له لوی وره به

راووتو نو سوکولوف به په زړه کې په دې هرڅه تو کړل: "خدای دې په شنه لمبه کې وسېزه"- او بیا به یې اخرامییف ته وویل: "بل ځل به یوازې راځې!" خو اخرامییف به په سړه سینه ځواب ورکاوه:

- خو له تاسره یوځای.

آن د سوکولوف او اخرامییف په وخت کې لا ما فکر کاوه چې باید له سفیر سره د نږدې کېدو لارې چارې ولټوم. سفیر- سفیر دی او د هغه تر مشرۍ لاندې اداره د مرکزي کمېټې، حکومت او نورو ادارو هغه ټول وګړي سره یوځای کوي چې د مسکو له خوا افغانستان ته رااستول شوي دي. هرڅه چې وي د دولت بیرغ خو د سفیر په لاس کې دی. او ټولو ته په کار ده چې تر دغه بیرغ لاندې خپلې چارې پر مخ بوځي.

افغاني مشرتابه ته د پوځیانو او سفارت تر منځ د اختلاف پته لګېدلې وه او ښایي د اړتیا پر وخت یې له هغه نه د ځان لپاره ګټه اوچتوله.

د تاتارستان د کمونیست ګوند د مشرتابه پر څوکۍ د اوږدو کلونو کار په تابییف کې د ټینګار او قاطعیت داسې یو احساس کېنولی و چې یوازې ورته خپلې پرېکړې سمې برېښېدلې، خو ما ددغه سړي په اړه ټول مخکیني قضاوتونه او کینه (چې ښایي پرځای وه یا به نه وه) یوې خواته پرېښودل او ټینګ هوډ مې وکړ چې په افغانستان کې دده له خوا د ټاکل شویو دندو په ګډون د هرډول چارې د سرته رسولو لپاره به له سفیر سره ښه کاري اړیکې ټینګوم.

ما له ځانه سره ویل: آخر سړی باید پر هر ډول احساساتو غلبه وکړي او د جوړ جاړي لارې چارې ولټوي (البته چې په اصولي مسالو کې تېرېدنه نه ښایي) او دا د دې لپاره چې په دې لعنتي جګړه او په دې پردۍ خاوره کې د ستونزو حل تر ګوتو شي.

زما باور دا و چې د ځان غوښتنې ځای به عقل او په یوې سلاتر سره شوی کار ونیسي. او خپلو ملګرو- ساموییلینکه او چیریومنیخ ته مې هم په غوږونو کې همدا ورپوکل.

چیریومنیخ به په خندنیو ویل: خوشې بې ګټې یوه چاره ده، یوه ورځ نه یوه ورځ به دې پر ځمکه راولي...

موږ تر ډېره ناست وو او له سفیر سره مو د راتلونکې جرګې پر وخت خپل چلند څېړه: له کومه ځایه یې پیل کړو، څنګه ادامه ورکړو، په څه شي ټینګار وکړو او کوم ځای چوپ پاتې شو؟ څنګه هم ځان ورنږدې کړو او هم د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو د ځرنګوالي په تاکنه کې بشپړه خپلواکي وساتو (البته چې مسکو ته به بې خنده غاړه اېښودنه پر ځای وي). د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسونې په پلان کې د ترکستان پوځي حوزه هم راسره ګډه وه چې ځلوېښتم لښکر یې تر امر لاندې و (یادونه وکړم چې له اوپراتیفي پلوه دغه لښکر زماتر امر لاندې و).

ما له چیریومنیخ نه هیله وکړه سبا سفیر ته زموږ د دریواړو د ګډ تګ خبره ومني او پخپله د شپې تېرولو لپاره په دفتر کې پاتې شوم. د لوی پوځي سلاکار د اداري په درستیزوالي کې لاد مخکې په څېر پوځي احضارات وو. په ویلا کې د بیا جوړونې چاره روانه وه او لااوسېدو ته چمتو شوي نه وه. انناواسیلفنا زما د کار په خونه کې اړولي وو. زه د خپلې مېرمنې کړاو سخت ځورولم: دا جګړه لا زما پر ځګر زوږ راوړي او هغه غریبه نو ولې او د کومو ان ت ر ن اس ی و ن ال س ت ي ګټو لپاره باید دا هرڅه وزغمي؟

په خپله سفیر، د ا.خ.د.ګ په مرکزي کمېټه کې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند سلاکار سرګي کازلوف، د خاد د رئیس سلاکار جنرال ویکتورسپولنیکوف او عجیبه لادا ده چې د سفارت آن درېیم سکرتر چې د ک.ګ.ب، یو دنګ جګړن و د سفارت ودانۍ ته څېرمه زموږ هرکلي وکړ. دغه جاسوسګۍ زما بنه نه ایسېده او راته جوته وه چې له سفیر سره د کوم چا د کتنې پر وخت به ده ځان ته حق ورکاوه چې آن د تابییف خبرې هم سمې کړي. البته چې سفیر به دې کار راپړساوه خو ډېر ځله یې دا زړه نه کاوه چې جګړن د خبرو له ځایه

وشړي. خو ما به بيا هم همدا خبره غوښتله او تابييف به خوله سره ژووله خو بيا به يې موافقه وکړه.

په دې توګه مو يو د بل هرکلی وکړ. سفير راته وويل چې دفتر ته ورسره ولاړ شم. خو ما له دې کار نه کلك انکار وکړ. څرګنده وه چې د هغه په دفتر کې ټولې خبرې بايد د کاغذ پر مخ ليکل شوې وای. او ما دا کار نه غوښته. ځکه مې نو ورته خوړنځي ته څېرمه په لويه خونه کې د خبرو د سرته رسولو وړانديز وکړ. دا د سفير په طبيعت ښه ونه لګېده. هغه په عصبانيت سره وويل: "د کوربه" په توګه حق لري چې پخپل دفتر کې د خبرو د کېدو غوښتنه وکړي. (کله چې به د خبرو پر وخت په روسي ژبه کې د سفير د پردي توب فشار را څرګند شو نو مانا يې دا وه چې پخپله ځان عصبي کوي او کنترول يې له لاسه وځي) او ما درته وويل چې د "مېلمه" له حق نه په ګټې اخيستنې غوښتنه کوم چې دفتر ته ولاړ نه شو:

سفير موافقه وکړه:

- څه ښه ده نو.

بل مې ترې دا هم وغوښتل چې خپله مخکنۍ پرېکړه پرځای وساتو او درې په درې خبرې وکړو. سفير په ټينګار سره ويل چې ځلورم کس هم بايد د منشي په توګه ګډون وکړي. خو ما مخالفت کاوه. دلته نو زما پام شو چې د هغه مخ تك سور واوښته او شنه رګونه په کې ښبغ راووتل. ما لا دا فکر وکړ چې ښايي زموږ کتنه پر همدې ځای پای ته ورسېږي.

کازلوف په خوند خوند زمزمه کړه چې: بلېده په زوږ د مسکو اور- لوګی يې پر سين پلن کړ.

تابييف زموږ شرايط ومنل:

- ښه ده...

او دا دی موږ په هغې غټې کوټې کې ناست يو چې په دوديزه توګه په کې دسفير د مېلمستيا پروخت خواړه کښته پوړته کوي.

ما خپله نقشه پرانسته او د سفارت ملګرو ته مې رسمي خطاب پیل کړ او د هر یوه له نامه سره مې د "محترم" کلمه هم ورزیاته کړه. د حالاتو جدیت، جدي چلند او ښه ټینګ رسمیت غوښته.

- غواړم د وروستیو دوه- دریو میاشتو یانې د ۱۹۸۱د حالاتو په اړه خپلې ارزونې او دغه راز د جنورۍ- فبرورۍ لپاره خپل پلانونه وړاندې کړم.

ما لالومړنۍ خبرې بشپړې کړې نه وې چې سفیر په کې خپله یادونه راواچوله:

- کوم پلانونه؟ نوښت خو ستاسې له لاسه وتلی دی!
- خو دا په دې اړه لري چې څنګه یې ګورې.
- څنګه، څنګه! په ټول هېواد کې مرګونه دي، چاودنې دي...
- سفیر صاحب! دا د ټول هېواد حالات نه ټاکي. د ټولو ۲۹ ولایتونو مرکزونه، د هېواد مهم حیاتي مرکزونه او لارې زموږ په لاس کې دي.
- د دې ګټه نو څه ده چې په هېواد کې د ترور ناتار وي او هره خوا ورانکارۍ روانې وي. او تاسې په پوځي ښوونه او روزنه بوخت یاست. لګیا یاست کوم احتیاط- محتیاط راټولوئ...

البته چې چیریومنیخ نور ټینګ نه شو:

- خو کوتوزوف* غریب ویلي وو: "تر هغو چې له جنرال سره احتیاط (ځواکونه) وي څوك ترې برې ګټلی نه شي".

سفیر وپوښتل:- نو ستاسې د هلوځلو مفهوم څه دی؟

- د جنورۍ- فبرورۍ د پلان له مخې د دولسو ولسوالیو او دولسو علاقداریو ازادول په پام کې نیول شوي دي. او په ۳۳ علاقداریو او ۱۳ ولسوالیو کې به د واك ستنې لا نورې ټینګېږي.
- او له پنځو- اوو ورځو وروسته به بېرته عسکر راایستل کېږي او واکمني به په سین لاهو کېږي؟

* جنرال کوتوزوف د روسیې د نونسمې پېړۍ مشهور پوځي قوماندان او ملي اتل دی. (د. ج)

- هو، داسې خو ده نو. اوس چې داسې ده نو له دې نه هم خبر شئ چې په دې تېرو څو اووه نيو کې د هغه څه نبنه هم پاتې نه شوه چې موږ له سپتمبره تر دسمبره له مجاهدينو نه تر لاسه کړي وو.
- دا ستاسې ګنې څه پوځ نه دی!
- سفير صاحب! پوځ خو د افغانستان دی چې تاسې په کې فوق العاده استازی...
- دا پوځ، دا ناولی لعنتي پوځ باید دړې وړې شي!

بيا د سفير په خبرو کې احساسات او تر څه ځايه کينه راڅرګنده شوه. ما له ځانه سره فکر کاوه: لوی او فوق العاده... صاحب که غواړې زموږ خبرې واورې نو وايې وره او که نه نو موږ کولی شو خپلې نقشې بېرته راونغاړو او دراندده درنه ووځو.

ساموېلينکه هڅه وکړه چې سفير لږ څه آرام کړي:

- څنګه امکان لري چې افغاني پوځ دړې وړې کړو؟
- داسې د نر غوندې! دا پوځ ټول خلقي دی! په هغه کې ديارلس نيم زره خلقيان دي؟

ما ورې ورزياته کړه:

- صيب په دې کې د خلقي ډلې د ټولو ۱۸۰-۱۸۵ زرو غړو يوازې ديارلس نيم زره استازي دي.
- او پرچم ټول هېواد کې ټول- ټال يوازې ۱۳۰۰-۱۵۰۰ تنه لري.

ساموېلينکه خبره پسې اوږدوله:

- تاسې غواړئ پرچم له پاسه وروټومبی، نه دا چې له لاندې يې...
- خو تاسې زموږ مخه نيسئ.

چيريومنيخ قهرژلي وويل:

- که چېرته مو مخه نه وای نيولې نو وختي به لاد دي پوځ نبنه هم نه وای. واك به د پرچم ممتازو وګړو ته رسېدلی وای او بيا به نو څوك نه وای چې د جګړې ډګر ته ولاړ شي...

چیریومنیخ لـه اوږده او درانـده ځنډ وروسـتـه خپـل ګوزار نـور هـم پراخ کړ:

- پـرچمیـان ځمکـوال دي، جـګړې تـه ځان نـه ورکـوي. ټولـو سـرونه پـه دفـترونو ننه ایستي او پـه مـاڼیو کـې یـې اړولـي دي...

سفیر پـه کلکو ټکو کې مخالفت څرګنـد کـړ:

- پـرچمیـان چـې دي پـه ایدیـالوژۍ پاخـه دي او د مارکسـیزم- لنینـیزم پـر اساسـاتو ښه پوهـېږي...

- هـا ،هـا ،هـا ،- او چیریومنیخ لـه سـپین سـترګۍ پـه ډکـې خنـدا سـره وویـل: دلتـه ټوپـك تـه اړتیـا ده چـې پـه غـاړه دې پـروت وي او ټك- ټك ټك او بیـا ټك ټك- ټك ډزې وکـړې. پـه اساسـاتو خـو... نـه رالاتـدې کـېږي.

تـابییف پـرې ورغړمـب وهـل:

- جنرالـه، تـه پوځي کـارپوه یې، سیاسـتوال نـه یـې!

چـیریومنیخ پـرې خپـل ګوزار وکـړ:

- او پـر دې ویـاړم.

سپولنیکوف هـغه کولـه چـې خبرې یـوه آرام بـهیر تـه راواړوي.

- راځئ هلکـو هـرڅه پـه تلـه وتلـو، ویـې ارزوو او بیـا یـوه پایلـه تـرې راوباسـو.

خو تـابییف هماغسـې ایشـیده:

- لکـه چـې مـوږ پایلـه راوایسـتله. یـا سـمه بـه وي کـه ووایـم لـه دې نـه هېڅ پایلـه نـه راوځي

ده نـو ولـې ځان داسـې نیولـی و؟ دې کـار جـدي دلیلونـه درلـودل: مـا مخکـې لیکلـي چـې د ۱۹۷۹ کـال (د جـدي د شـپږمې) کودتـا (چـې زمـوږ د لښکـرو د ورتـګ سـبب شـوه) د پـرچمیـانو کـار و. لـه دې نـه مخکې امیـن د پـرچـم ټولـه ډلـه دړې وړې کـړه، غـړي یـې اعـدام کـړل او د ببرك، نـور او راتـب زاد پـه څېر مشـران یـې پـه بېلابېلـو هـېوادو کـې سفیران وټاکل او چې څه ترې پـاتې شـول نـو هغـوی ځانونـه پـه ځمکـه ننه

ایستل او پټ شول. همدوی خپلو پرچمي مشرانو ته چې یا په بهر کې وو او یا بندیان وو، اطلاعات رسول. امین د خپلې خلقي ډلې د شمېر زیاتېدو ته ملا وتړله او البته چې زیاته مخه یې اردو، څارندوی او استخباراتو ته وه. خو کله چې پرچمي کودتا بریالۍ شوه او څلوېښتم لښکر په افغانستان کې ځای ونیوه، افغان پوځ پر خپل ځای پاتې و. پرچمیانو یوازې د امین استخباراتي دستګاه ړنګه او پرځای یې خپله راجوړه کړه چې مشري یې نجیب ته په غاړه اچول شوې وه. او څارندوی دومره ښه وسله واله نه وه، که څه هم یې شمېر ډېر وو، خو جګړه ییزه وړتیا یې نه درلوده او ځکه یې نو په هېواد کې دومره رول نه شوای لوبولی. "خلق" د یوه کلك او کوټلي سازمان په توګه لا هم په ټولیو، کنډکونو او غونډونو کې پاتې و خو په فرقو کې یې شُمېر په لږېدو و ځکه پرچمیان په دندو ګمارل شوي وو. سفیر هم د پرچمي توب د ملاتړ لپاره د ورکړ شویو لارښوونو پر بنسټ په ټول هېواد کې د پرچمي کولو سخته تګلاره رامخته کړې وه. ده غوښتل چې همدا کار په یوه وخت کې په پوځ کې هم تر سره شي. خو موږ ښه پوهېدو که یو ځل د پرچمي توب لمن هم پر ټول پوځ پلنه شوه، نو د یوه سازمان په توګه به د هغه شتسوالی پای ته ورسېږي. اردو به له منځه ولاړه شي. ړنګه به شي. هرڅه چې وي، اوس دیرلس نیم زره خلقیان ( واړه ظابطان، تیتپوړي افسران او ځینې، ځینې جګپوړي افسران او آن جنرالان چې د پرچمیانو له ټکونې نه بچ پاتې شوي دي) د پوځ شمزۍ جوړوي که دا وسله وال کسان چې جګړه یې زده ده او له دښمن سره جنګېدلي دي خو پرچمیانو ته په کرکه ګوري، له اردو نه ووځي، ورسره سم به هغه تر بنسټ ونړېږي. سفیر له کرکې او په لوی لاس له دغه حقیقت نه په ناخبرۍ (یا یې داسې ښودله چې نه پوهېږي، ځکه د دې خبرې تصور ګران دی چې تابییف ته دې دومره جوت شیان څرګند نه وي) په خپلو ارزونو کې د حماقت تر پولې غورځېده:"دا لعنتي پوځ" تس نس کړئ، لکه هماغسې چې پر ۱۹۱۷ کال (د روسیې)

باچـايي پـوځ لــه منـځه يـوړل شـو او پـرځای يـې نـوی راجـوړ کـړئ. ماتـه د دغـه تـاريخي تشـا بــه (ورتــه والــي) خطــر لــه ورايــه جـوت بــرېښېده.. او پوهېدم چې پـه همـدې تکـي کـې د نـورو خـبرو ترځنـگ هغــه نـه پخـلا کېدونکـې مبــارزه انـگازه کـوچـې آن مخکـې لا د سـفير او اخراميـيـف او سـکولوف ترمنځ روانـه وه. شـك نـه شـته چـې د سـوکولوف او اخراميـيـف يـا ورپورتـه د د دفاع وزير نظريـې چې کلـه راتـه پـه مـيراث پـاتې شـوې نـو هغـه مـې خپلـې وبللـې او ټينـگ پـر دغــه دريـځ ودرېدم. زه پوهــېدم چـې ځوك زمـا تـر شـا ولاړ دي. زه لکـه د غـره پـر خپـل (دريـځ) ټينـگ وم. سـفير هـم لــه خپلـه دريـځه کلکـه دفـاع کولـه. ده، هومـره د گروميکـو دريـځ نـه منعکسـاوه، څومـره چـې د انـدروپـوف. يـانې دهغـه سـړي چـې پـرچميـان يـې واك تـه رسـول او د اردو پـرچمـي کـول يـې غوښـتـل. خـو د خـدای شـکر دی چـې د سـوکولوف او انـدروپـوف تـر اغــېزې لانـدې داخل اوسـتينوف "د انـدروپـوف پـښو تـه ځان وانـه چـوه". زه لــه دې حقيقـت نــه خـبر وم او د تـابييف پـه ترخـو نـاندريو پسـې مـې سـر نـه گرځاوه. همـدې خـبرې البتـه چـې لــه سـفير وار وپـار خطـا کـاوه او تولـه تـرې ورانـېده. مــوږ پـر دې هـم پوهېدو چې د انقلابي پـوځي شـورا او سياسـي بيـورو غـړو تـه چـې تـل بـه ورسـره نـاسـت وو، د ده لــه غـوړو- غــوړو ژمنـو سـره زمـوږ ملاتـړ نـه شـته. خـو ده همداسـې د ژمنـو ورکـړې تـه دوام ورکـاوه. او پـه نتيجـه کـې د دغـو ژمنـو نـه پلـي کـېدو د هغـه اعتبـار تـه زيـان رسـاوه او دا هغـه څه وو چـې ده منلـی نـه شـوای او لا يـې هـم د لـوی پـوځي سـلاکار لـه اداري سـره د کينـې اور تـودېده.

خبره ټولـه همداسـې وه، پـېچلي او لـه حماقتـه ډکـه. پـه اصـل کـې خــو د يـوه شـوروي دولـت اسـتازي، د جـگـو- جـگو ځوکيـو خـاوندان چـې د سياسـي بيـورو او (د افغانسـتـان پـه اړه) د سياسـي بيـورو د کميسـيون لارښوونـې پلـې کـوي بـايد پـه پوهـاوي (تفـاهم) کـې کـار وکـړي. خـو پـه حقيقـت کـې پوهـاوی هـېڅ نـه و او د حـل د يـوې پخـلا کوونکـې خـو کـاري

لارې د موندلو لپاره زمونږ هڅې دا ځل هم شنډې شوې. دا مبارزه هم زما پر وخت او هم زما له تګ نه وروسته، همداسې روانه وه.

د دې او نورو کتنو په ترڅ کې مې دا باور پوخ شو چې له سفير سره د ګډې انډيواليزې چارې د سرته رسونې لپاره له اصولي پلوه د يوه واحد نظر موندنه د عُنقا سيوري دی. سفير هڅه کوله هرڅه د انګېرنو هغه بهير ته واچوي چې دی يې له پېښو لري او د حل لارې له حالاتو نه د خپل تعبير پر بنسټ راوباسي. ما او زما مرستندويانو دا کار نه غوښته او بايد يې هم د هغه کېدو ته اجازه نه وای ورکړې.

د کتنې بهير ته بيا ورګرځم. ساموېلينکه لا هم د سفير پر قانع کولو بوخت و:

- سفيرصاحب، لا هم په ولسواليو او علاقداريو په تېره بيا په کليو کې ملي ديموکراتيکه واکمني له سياسي پلوه ټينګه نه ده.
- د دې پړه ستاسې په غاړه ده!
- څنګه زمونږ په غاړه ده؟
- ما خو ځله ويلي او بيا وايم چې: بايد پوځي ټولګي (په کليو کې) تروسه- وسه د اوږدې مودې لپاره پرېښودل شي.

ما وويل:

- داسې چې ده، راځئ دا مفکوره لرې راوخېږو. زمونږ باور دا دی چې دغه کار له دوو اووه نيو نه د اوږدې مو دې لپاره شونی نه دی.
- دا نو ستاسو باور دی!
- چيريومنيخ معلومات وړاندې کړه.

ما په لوی لاس د ګارنيزيون په اړه د خبرو لړۍ چيريومنيخ ته وسپارله. هغه کلک سړی دی او د ټکو په لټه پسې په جيبونو کې لاس نه منډي.

سفير له قهره وابښېده:

- د غونډې مشر څوك دی، هه؟

ما په څرګندە ناخوښه بڼه د شونډو په سر وویل:
- محترم سفیر صاحب، مهرباني وکړئ، غونډه پخپله مخ ته بوځئ، خو له دې سره سره راځئ خپلې ګډې ستونزې هم غوڅې کړو. هرڅه چې موږ دلته د لوی او فوق العاده استازي په دفتر کې غوټه کړل هماغه څه به موږ سبا د ا.خ.د.ګ، د سیاسي بیورو، د حکومت، د دفاع د وزیر، د... له لارې پلي کوو.
- ښه چې داسې ده، زه موافق یم.
چیریومنیخ خپله کتابچه پرانسته او له شمېرنې یې راپیل کړه:
په هېواد کې څومره کلي دي، څو ولایته دي، څومره ولسوالۍ دي، څه شمېر علاقدارۍ شته او په دې کې څومره غټ او څومره منځني کلي دي او چېرته باید پوځي قطعې واچول شي.
- سفیر صاحب، په دې توګه نو که ستاسې له وړاندیز سره سم چلند وشي او پوځي ټولګي د اوږدې مودې لپاره پرېښودل شي، نو اړکېږو چې په افغاني پوځ کې نورې ۱۲-۱۳ فرقې راجوړې کړو او د شوروي پوځ نورې ۵- ۶ فرقې هم راولو.
- دا خبرې ته د ببرك په کدو سر کې (په ناسم روسي تلفظ [د.ج]) پو کوه، ما ته یې مه کوه ما نو نوره خوله ونه شوه نیولی:
- صبر وکړه! لوی او فوق العاده (استازیه)! صبر وکړه! د دغسې خبرو په بدل کې ملګری سفیر درواخله: "کوتاکین باش"کوتاکین باش"!*
تابییف پر څوکۍ ښاته وښویېد لکه چې هڅه یې کوله کومه سخته خبره ومومي او ما ته یې وکړي. خو بیا یې لکه چې په ځان ولکه بیاموندە او ویې ویل:
- تاسې په تاتاري ژبه هم پوهېږئ؟
ما ځواب ورکړ:

---

* دا د تاتاري ژبې ښکنځل ده چې پښتو ژباړه یې داسې راځي: "دا د... سر مې" (د.ج)

- ستاسي څه خيال دی چې ما سره په دې دوسيه کې يوازې هغسې کاغذونه راټول دي؟

هغه په بيړه پر دوسيه بريد وکړ. خو ما د هغه مخه ونيوله:

- روښانه نه دی*

حالات خورا ترينګلي شول. بشپړ بيلتون نږدې و. هيڅ ګډپوهاوي (مقابل تفاهم) ته سره ونه رسېدو. او زه پوهېدم چې نور به هېڅکله هم ورونه رسېږو. هغه به پر خپل نظر ټينګار کوي. او البته چې سپولنيکوف به دهغه ملاتړ کوي: هم د اردو د پرچمي کولو په هڅو کې، هم (په کليو کې) د پوځي قطعو د اچولو د مودې او هم آن د جګړه ييزو عملياتو د څرنګوالي په برخه کې. او کازلوف په سړه سينه وويل:

- ټولې هغسې تشې خبرې دي، هغسې خبرې دي او د ودکا نوم هم څوك نه اخلي.

سپولنيکوف وويل:

- رښتيا وايي سفير صاحب، ګنې د غرمې د ډوډۍ وخت نه دی؟

زموږ خبرې داسې تر سره شوې: بې ادبه او ګډې وډې. هغه ټول ټال دوه نيم ساعته روانې وې.

زه او سفير لکه چې بيخي جلا خلك وو، چې يوځای کېدلی نه شو، د ژوند تجربې مو سره جلا وې. په وروستيو شلو کلونو کې د فرقې له قوماندانۍ نه بيا د پوځي حوزې تر قوماندانۍ پورې د ډېرو هوښيارو او درندو لوړو قوماندانانو تر مخامخ امر لاندې وم. او له زلميتوبه مې ځان ته دا ويل چې هلکه له مشرانو څخه نه يوازې ښه، بلکې ناوړه ځيزونه هم زده کړه چې پخپله يې له کولو نه ځان وساتې. سفير بيا د ډېرو اوږدو وروستيو کلونو په ترڅ کې په تاتارستان کې د

---

* ليکوال غواړي ووايي چې سفير يې په خپله دوسيه کې د ټايپ ريکارډر په شتوالي وډاروه، خو بيا يې ورته وويل چې اوس روښانه يانې چالان نه دی! (د.ج)

نـاپايـه سياسـي واك ځښتـن و. د هغــه د دې ترخـه خـوی او بـدې ژبـې سرچينه په دې کې وه چې هغه پـه جـګې ګونـدي کـړۍ پـورې تړلـی و چـې د قاعدې لـه مخـې پـرې لـه کـوزه چـا د نيوکـو واك نـه درلـود. پـه پوځيـانو کـې د هغـه سروکار د هغـې تنقيـص شـوې ميکـانيزه فرقـې لـه قومـاندان سره و چـې پـه کـازان کـې ځـای پـر ځای وه.. مـا بيـا پـه خپـل وار د ډېرو لـوړو سياسـتوالو او سـفيرانو سـره ناسـته پاسـته کـړې وه او د دې کـار غوښتنـه بيـا دا وه چـې بـايد هـم خپـل عقـل او هـم روح ښه وسـاتې، زغـم ولـرې، دقيـق واوسـې، پـام دې بـايد پـر اصلـي ټکـي راټول وي او ددغـه مـهم څيز د لاسـته راوړلـو لپـاره بـايد د ارزښت لـه پلـوه دوېـم او کـوچنـي شيان ځار کـړې.

زه پـه څرګنـده لـه تـابييف سره نـه جـوړېدم او د "کدوسـر" ټکـي بـه چـې سـفير داسـې ناسـنجولي لـه خولـې راوايسـتل يـوه ورځ نـه يـوه ورځ ماته بـلا شي ځکـه: "لـه هغـه چـا نـه ډار کـوه چـې لـه تـا ډارېږي".

البتـه چـې مـوږ لـه مخـې نـه دې غونـډې تـه ښه چمتـو وو او بېلابېـل واريانتونـه مـو مخکـې لـه مخکـې ښه هراړخيز څېړلـي وو. لـه مـا سـره ښه هوښيـار کسـان ملګري وو. ولاديمـرچـيريومنيخ کـه څه هـم ژبـه يـې کلـه ناکله ترخه کـېده، خوته هـرڅه دمخـه د خپلـې ښې پـوځي پوهـې لـه املـه ځلـېده. او ويکتورسـامويلينکه بـې لـه شـکه کولـی شـوای حـالات لـه سياسـي پلـوه ژور او هراړخـيز تحليـل کـړي (وښنـي).

د سـامويلينکه د پـېژندنې لپـاره بـه هـم يـو څو ټکـي وکـاږم. ويکتـور ګيواګيويـچ سـامويلينکه افغانسـتان تـه د راتـګ لـه لومړيـو ورځو نـه لـه افغـاني مشـرتابه سـره پـه توافـق او هوښيـارۍ پـر کـار بوخـت شوی و. دی افغانسـتان تـه پـه سياسـي چـارو کـې د لـوی پـوځي سلاکار د مرسـتيال او د ا.د.ج د وسـله وال پـوځ د سياسـي چـارو د لـوی رياسـت د سرسلاکار پـه تـوګه لـه راتـګ ورانـدې د اورال د پـوځي حـوزې د پـوځي شـورا غـړی او د حـوزې سياسي امـر و او پـر دغـه دنـده يـې پنځه- شپږ کاله کـار کـړی و. پـه وسله وال پـوځ کـې دی د يـوې پـوځي حـوزې تـر ټولو

ځوان سیاسي امر و. (مارشال اندره) ګریچکو* له ده سره مینه لرله او اپیپشیف هم ورسره ښه اړیکي درلودل. ساموېلینکه د حوزې له قوماندان ډګر جنرال نیکلای سیلچنکه سره په ښه فضا کې همکاري کوله. یادونه وکړم چې بوریس یلځین هم (چې هغه وخت د سویردلفسك د ګوندي کمېټې لومړی منشي و) د دغې پوځي شورا غړیتوب درلوده او د ساموېلینکه ورسره اړیکي ډېر ښه وو. ما ساموېلینکه، یو ربښتنی ملګری کارکوونکی وموندو چې زموږ له ګټو نه یې د ننګې وړتیا درلوده. ده ماته یوه ورځ وویل: د سفارت په ګوندي کمېټې کې بیا بیا هڅه شوې چې زموږ دواړو ترمنځ اوبه خړې شي او ساموېلینکه له ما نه بېل شي. بې ځایه هڅې وې. او لکه چې څرګنده ده ساموېلینکه د هغوی خبرو ته غوږ ونه نیوه.

بېرته به له سفیر سره د خبرو بهیر ته ورستون شم. زموږ اټکل دا و چې غونډه به بې کومې پایلې پای ته رسېږي، خو په لوی لاس مو ترې سر غړاوی نه شوای کولی، ځکه هرڅه چې وي خو بیا هم دا یوه رسمي غونډه وه. موږ د شا له لوري یوازې د دفاع وزیر په اعتبار ډډه لګولی شوه، خو دا خبره هم باید یاده وساتو چې زما او د اوستینوف اړیکي پیچلي وو. د سفارت اړخ بیا د بهرنیو چارو وزارت، مرکزي کمېټې او ك.ګ.ب استازي توب کاوه. (تابییف، کازلوف او سپولنیکوف). له دې نه سترګې پټول شوني نه وو او موږ اړ وو چې خپله له چله ډکه او سنجول شوې متقابله لوبه پر مخ بوځو.

... مېز خورا په ښه بڼه د شېږو تنو لپاره په خوړو ډك شو. موږ کیناستو. دوه ګارسونې نجونې د تاتارانو په ملي کالیو کې په منډه له دوو لورو سفیر ته ورننږدې شوې. خو هغه ورته په تاتاري ژبه د شونډو په سر څه وویل او هغوی بیا ماته راغلې. ان په ډېرو عادي حرکاتو کې هم د سفیر دودیز استبداد ځان څرګنداوه: په دې کې نه

---

* مارشال اندره کریچکو له اوستینوف نه مخکې د شوروي اتحاد د دفاع وزیر و. (د.ج)

چې هغه څه کول (مېلمه ته د ست لپاره د ګارسونو استول بېخي رسمي کار دی)، بلکې په دې کې چې څه ډول يې سرته رسول... څه ورك يې کړه، اوس خبره د بله څه په اړه ده.

سفير لومړنی توست (د شرابو پر وخت څه خبرې يا په کابلی اصطلاح "شعار") واوروه. هغسې چې په کار وه: د کړنو د يووالي لپاره، پر مارکسيزم- لينينيزم د ټينګ درېدو لپاره، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند، سياسي بيورو او پخپله د ليويند ايلچ (بريژنف) له خوا د سپارل شويو دندو په سرته رسولو کې د بري لپاره... دا خبر يې هم واوروله چې "زه او الکساندر مايوروف (ليکوال) د ګوند د شپږويشتمې کنګرې استازي يو" او په خپلو دندو کې بايد ټينګ او غوځ ګامونه پورته کړو... افغانستان د (شوروي) اتحاد په شپاړلسم جمهوريت اوښتونکی دی او هرڅه ګواکې پرهمدغه لوري پرمخ درومي.

چيريومنيخ خپله خوله ونه شوه نيولی:

- سفير صاحب هرڅه پر دغه لور نه درومي!

خو سفير خپلې خبرې اوږدې کړې:

- هرڅه چې وي خو برى زموږ دی!... او يو ځلې بيا د مارکسيزم- لينينيزم، ليونيد ايليچ (بريژنف)... په اړه وغږېده.

زموږ مخې ته بل تابييف ولاړ و، هغه نه و چې څو شېبې وړاندې يې په څېرمه خونه کې د افغانستان د سياسي حالاتو په اړه خبرې کولې او هغه يې دا وه چې د سياستوالو او پوځيانو ګډې کړنې وتاکي. دا هسې يو عوام غولوونکی و چې د شرابو پياله په لاس يې له سياست سره لوبې کولې.

خو خبرې د ډوډۍ پر سر هم پر کاري مسايلو پر ترهګرۍ او ورانکارۍ او زموږ پر متقابلو کړنو راټولې شوې. موږ البته چې خپلې کړنې (فعاليتونه) سختولی شوای. خو زړه مې دا راته ويل او نامستقيمې نښې هم وې چې پښبور غوارې موږ بې لارې کړي او له

خپلو نورو لاجدي کړنو نه مو پام بلې خوا ته واړوي. باید د دغو کړنو څرنګوالی جوت شي او یا لږ تر لږه همداسې هراړخیز چمتو او هوښیار واوسو.

خو جګړه- جګړه ده او د غلیم د فعالیت له امله زموږ حالت نور هم خرابېدلی شي. خو نه غواړو چې نوښت مو له لاسه ووځي. جګړه ییز عملیات به هم کېږو او پوځي روزنه به هم جاري وي. او د هېواد حالات چې هره ورځ ونیسي خو د حالاتو واګې به زموږ په لاس کې پاتېږي.

ما تابییف ته وکتل او له څېرې یې څرګندېده چې خبرو ته یې هسې لکه له لرې غوږ نیولی او په نیم غوږ یې اوري...

هغه پر دې کار نه درلود چې موږ د جګړه ییزو عملیاتو په اړه څه وایو، په دې اندېښنه کې هم نه و چې څه شی څېړو او څه کوچ ترې راوباسو، دهغه چورت بیخي بلې خبرې خراب کړی و او هغه د "ببرك د کدو سر" فقره وه چې داسې بې ځایه ترې راووته. البته چې سپولنیکوف د هغه مرستې ته ورودانګل. له لېرې یې خبره پر دې راوسته چې ګنې ټول په دې غونډه کې قهرېدلي او ګنې حتمي نه ده چې دلته ټولې ویل شوې خبرې جدي ونیول شي... یانې هغه غوښتل ووایي چې د غوسې پر حال ویل شوې خبرې باید اوستینوف ته ونه رسول شي،له دغو خبرو نه سملاسي اندروپوف او ګرومیکو هم خبرېدلی شول.

په کار وه چې حالات لږ څه ساړه شي. هرڅه په ما پورې تړلي وو، او زه پرې ښه پوهېدم. ما د ټولو مثبتو او منفي اړخونو له سنجولو وروسته او د سفیر د عزت او ځان غوښتنې پر ځای ساتلو لپاره مخامخ هغه ته وویل:

- سفیر صاحب، اندېښنه مه کوئ ما هېره کړه او زما ملګري به یې هم خپلو مغزو نه وباسي. په ژوند کې هرڅه راځي... خو ډاړېږم چې تاسې به یې پخپله هېره نه کړای شئ.

هغه غلی پاتې شو. د ډوډۍ خوراك لا روان و.

وروسته بیا کازلوف له اصلي (دویمو) خوړو وروسته د واین جام په کیڼ او د "سمیرنوف" ډوله ودکا بوتل په ښي لاس کې ونیول، پیاله یې تر مورګو ډکه کړه او په خواږه غږ یې زمزمه کړه:

په یوازې سر وتلی یم دې لار ته
لار د لړو (غبار) له برستنې هویدا ده
شپه خاموشه، سارا غوږ خدای ته نیولی
هلته وړاندې ښه د ستورو مشغولا ده

په یوه غړپ یې پیاله تشه کړه، بیا یې په کراره پر مېز کېښوده، ودرېده او چوپه خوله له دغه ځایه ووت...

موږ پوځیانو په حیرانتیا یو بل ته سره وکتل.

سپولنیکوف د یادونې په دود وویل: اوس ترسهاره نه راښکاره کېږي.

سرګي واسیلیوویچ کازلوف د سیاسي بیورو له پرېکړې سره سم د منځنۍ روسیې د یوې ولایتي ګوندي کمېټې د منشي له دندې نه د ا.خ.د.ګ د مرکزي کمېټې د سیاسي سلاکار په توګه افغانستان ته رااستول شوی و. دی زما په ذهن کې د یوه تحصیل کړي او له نزاکته ډك سړي په توګه انځور شوی و چې خبرې یې زړه راښکونکې وې. خو چې پته ورته ولګېده چې په څه ډول شرایطو کې راګیر دی او په تېره بیا د دغسې یوه غوڅ، زورواکي او له عصبي پلوه ناارام سفیر تر لاس لاندې ځمکې ځای نه ورکاوه او ښایي له موږ ټولو مخکې ورته څرګنده شوه چې دا وړۍ پر هغو لارو- چارو چې شوروي استازو پیل کړي، شړۍ کېدلی نه شي.

له هغه نه مو ډېر شعرونه اورېدلي دي. سفارت ته زموږ له راتلو وروسته هرځل د غرمې ډوډۍ په ورته صحنې پای ته رسېده. هغه به پیاله اوچتوله، "سمیرنوف" ودکا به یې په کې تویوله، د کوم شعر یو بند به یې وایه او بیا به تر سهاره تری تم کېده.

داسې برېښي چې هغه د پيوترلېشچنکه، الکساندر ويرتينسکي، اناستاسييا ويالڅيوا، واديم کوزين، ايزابل يورئيووا... له هنري پروګرامونو خبر و او پرې پوهېده. ځينې وخت به يې زمزمه دومره اغېزمنه وه چې له سترګو به اوښکې جاري شوې:

اوس په دغه زمانه کې
لکه مخکې يم يوازې
هېڅ امېد مې دڅه نه شته
له پسې اوږدې درازې

دی يا رښتيا هم دومره بېوزلی او يوازې و او يا يې په دغو شعرونو له مور تولو نه په زياتې هوښيارۍ له جګړې سره د خپلې کينې پر اور اوبه تويولې. خوهېڅ هېڅ نه شول کولی: د حالاتو جبر و چې بايد د مسکو له لاړښوونو سره سم چلند وشي.

نه پوهېږم چې په خپلو اټکلونو کې په حقه يم که نه خو کازلوف زما په زړه کې تود او له خواخوږۍ ډک ځای درلود. د هغه ځانګړتياوو او سايکالوجۍ راته د چيخوف د اثارو ځينې اتلان راياد ول.

مور له سفارته ستړي، خپه او ښايي مړاوي (بېروحه) راستانه شو. مور تر څومره فشار لاندې خپل څومره وخت د دې لپاره ولګاوه چې سفير د يووالي په لور د ټاکلو ګامونو د پورته کولو پر اړتيا باوري کړو، خو په دې ترڅ کې د سفير له ځان غوښتنې سره مخامخ شو.

ساموئيلينکه بې پردې وويل:

- په خپل تاتارستان کې په باداری روږدی شوی دی.

او بيا يې زياته کړه: خطرناك سړی دی.

چيريومنيخ يادونه وکړه: اخ څه خوند کوي چې له دې ګرېوانه يې راونيسې.

زما ملګرو له مانه وپوښتل: دا څه دې سفير ته (په تاتاري ژبه) وويل چې له غريب نه يې وار- پار خطا کړ. ما ځان تېر کړ:

- دا یوه اصطلاح وه د لیکلو نه ده.

چیریومنیخ وویل:

- پوهېږئ، ما د هغه لپاره هغه د چا خبره "عجیبه" غوندې غږ په پام کې نیولی دی. چیریومنیخ خپله نقشه له مونږ سره شریکه کړه.

د ساموییلینکه له څېرې داسې برېښېده چې لا مخکې یې له چیریومنیخ سره دا له چله ډکه نقشه څېړلې او منلې وه.

زما له خولې نه ورته ووته:

- هلکه چیریومنیخ، ډېر سپین سترګی یې.

- سترجنرال صاحب، دا هسې د تاریخ د ښکلا لپاره کوو.

ساموییلینکه د چیریومنیخ پلوي وکړه:

- پرېږده چې (خپله نقشه) تر سره کړي، خدای ښښونکی دی.

- هرڅه به داسې پاك او منظم وي... لکه موریس دریووان* چې سرته رسول.

چیریومنیخ پوهېده چې زه په وزګار وخت کې د "ملعونو ټولواکانو" یو ناول په بل پسې لولم چې له دسیسو، چلونو او ناوړه کړنو ډك دي.

- اجازه ده صاحب؟ هه؟...

هغه څه چې چیریومنیخ غوښتل زما له اخلاقي اصولو سره یې سمون نه درلود. خو زړه راښکون هم په کې ډېر و... او یوه پټ رزیلکي احساس د پرېکړې کولو ته ورخکولم...

- چیریومنیخ، تا څه ویلي نه دي او ما څه اورېدلي نه دي...

- پوه شوم!

---

* موریس دریووان د نونسمې پېړۍ فرانسوي لیکوال چې یو اثر یې "شل کاله وروسته" نومېږي (د.ج).

زه لا نن هم چمتو نه یم د هغې "عجیبه ډالۍ" بشپړ جزنیات په ډاګه کړم...

یوازې دومره به ووایم چې د مشهور هندسي رسم- مثلث جوړول په کې حتمي و چې یوه زاویه یې له بنځې جوړه شوې وه.

په سبا یې زه له پلان سره سم د یوې لویې اوپراتیفي ډلې په ملتیا کندز ته روان وم. چیریومنیخ د چارو د ادارې لپاره پاتې کېده. ساموېلینکه زموږ له پلان سره سم له ګل اقا سره یو ځای سیاسي دنده تر سره کوله: حکومت ته ورته، له وزیرانو او د کابل روڼ اندو سره یې کتل. زما دنده په اتو- لسو ورځو کې د پوځونو پلټنه (تفتیش) وه. ما باید د بېلابېلو پوړیو له قوماندانانو سره کتلي وای. په تېره بیا د سمنګان (سالنګ- د.ج) پر غاښي د ژوندانه غزېدلې لارې د امنیت جاج اخیستنه اړینه (ضروري) وه چې ترمز یې له کابل سره نښلاوه. پر دې لاره بیا بیا ورانکارۍ کېدې، موټرې سوځول کېدې یا چاودلې. یرغمل شوي ګاډي چلوونکي به خورا ځورول کېدل او بیا به یې سېزل. د چیریومنیخ له وړاندیز سره سم باید زموږ باوري پوستې نورې هم پیاوړې شوې وای. په کار وه چې د لارې په هرو ۲۰۰- ۳۰۰ مترو کې اوسپنیز- بتوني پوششونه جوړ شي چې زموږ عسکر له (افغاني) شلمې پلې فرقې سره په ګډه شپه او ورځ دا لار وساتي چې پرې له شوروي اتحاد نه افغانستان ته د مالونو بهیر روان دی.

د سهار له خړې سره سم زه له خپلې اوپراتیفي ډلې سره یوځای په انتونوف- ۲۴ ډوله الوتکه کې کندز ته والوتم. تاکل شوې وه له موږ وروسته د سهار په لومړیو شېبو کې څلور چورلکې (هیلیکوپترونه) له زیاتو ساتونکو سره زموږ لورته راوالوزي.

پر هوایي ډګر د دوه سوه لومړۍ لمبر موتوریزه فرقې قوماندان ډګروال دریوکوف زما هرکلي ته ولاړ و. جګه نرۍ ونه، بنکلې د پهلوانانو بڼه، څلوېښتو کلو ته نږدې عمر. څنګ ته یې د فرقې د قرارګاه څو نور پوځیان او یو شمېر وګړي په ملکي کالیو کې ولاړ وو.

دریوکوف په لنډو د حالاتو څرنګوالی یاد کړ او بیا یې د فرقې قرارګاه ته د تللو بلنه وکړه.

هغه په غوڅه توګه وویل چې په کندز کې واکمنې یوازې د ۲۰۱ موتوریزه فرقې په ګزمو تینګه ده. له ځایي خلکو نه د واکمنې د جوړولو هڅو لاتراوسه څه پایله نه درلوده او په تېره د والي د کورنۍ له وژنې وروسته چې د ببرک کارمل نږدې ملګری و، هېڅوك په خپله غاړه د دغه پیتي پورته کولو ته چمتو نه دی. له کابله یې هم لاڅوك رااستولي نه دي، داسې بریښي چې لاتراوسه د وړ سړي په غوره کولو بریالي شوي نه دي. د قوماندان په آند په فرقې کې حالات عادي دي او د خوړو رسونه هم له معیار سره سمه ده. خو تر کومه چې د پرسونل د تلفاتو خبره ده نو بې له دې هم نه کېږي. جګړه- جګړه ده.

د یورکوف د فرقې پر حالتو او د هغې د مسوولیت د سیمې پر ښه خبر و. ما ته جوته شوه چې تر لاس لاندې وګړي ورته درناوی لري. په ذهن کې مې راوګرځېده: د دې قوماندان راتلونکی ښه بریښي: ځوان دی، هوښیار دی او اوس جنګي تجربه هم لري. خو داسې چې "ښاغلي بري" پتیيلې وه چې له ده نه مخ وګرځوي پېښه داسې وه:

کله چې سرګي سوکولوف د خپلو سفرونو په لړ کې بیا افغانستان ته راغلی و نو د دیورکوف فرقې ته هم ورغی او کندز ته څېرمه یې د یوه شوروي پوځي ټولګي د جګړه ییزو عملیاتو بهیر وکوت. سوکولوف ته د فرقې د قوماندان مسلکي چمتووالی خوند ورکړی و. له سختې ورځې وروسته یې ناوخته د ماښام ډوډۍ خوړلې وه (یادونه وکړم چې سوکولوف به کله کله د غرمې ډوډۍ نه خوړه چې کارترې پاتې نه شي وخت یې له لاسه ونه وځي). د ډوډۍ خوړلو مېز په هسې یوې موقتي کوډلې کې ایښی و چې په ځانګړې بڼه د افغانستان د شرایطو لپاره جوړېدلې. دغو کوډلو کوچنۍ کوچنۍ

کړکۍ درلودې چې شاوخوا منظره ترې تر څه ځایه لیدل کېدی شوه خو د کوډلې دننه غږ رسا اورېدل کېده.

د ماښام د ډوډۍ پر وخت لږ شراب هم وڅښل شول او نیمې شپې ته نږدې پوځي ملګري خپلو- خپلو خونو ته ولاړل چې دمه وکړي خو سوکولوف چې اوس یې د ځوانۍ پېر تېر شوی و، د (استراحت لپاره) د څو آرامو شپو هیله درلوده. خو پر دې نه پوهېده هغه وخت چې دوی لا ډوډۍ خوړله د فرقې قوماندان ته یې د جګړې د ډګر معشوقې په بې صبرۍ لار څارله...

لنډه دا چې د یورکوف له هغې سره هم له شرابو او ډوډۍ وروسته ونه شوای کړی چې د خپل پارېدلي هوس مخه ونیسي.

(لږ وروسته له سفیر سره د یوې بلې کټنې پر مهال کازلوف دا شعر ویلی و:

"او هلته خواږه خوارږه غږونه،
کړۍ شپه تر غوږو رارسېدل..."

سوکولوف پر خپل ځیګر غابن ټینګ نیولی و: دیوال یې ونه ټکاوه او د خاموشۍ د ساتلو غوښتنه یې ونه کړه. خو ستړیا یې هم ونه وتله.

سهار له پاڅېدو سره سم یې د شفر کارکوونکی راوغوښت، مسکو ته یې شفر واستوه او بې له دې چې له دیورکوف سره مخه ښه وکړي یا د سهار ډوډۍ وخوري، مخامخ هوایي ډګر ته ولاړ او کابل ته والوت.

د هماغه ورځې په ماښام د ۲۰۱ موتوریزه فرقې د قوماندان په نامه له مسکو نه د شوروي اتحاد د دفاع وزیر له خوا شفري تلګرام راورسېده چې په څرګنده په کې ویل شوي وو: "ډګروال دیورکوف د ۲۰۱ لمبر موتوریزه فرقې له قوماندانۍ ګوښه شو". البته چې د دغې لرې کېدنې دلیل ښودل شوی نه و. خو دا کار وروسته، په دوبي کې پېښ شوی و.

خو اوس د جنورۍ د رېيمه اووه نېۍ روانه وه.

په دې توګه نو موږ ماسپښين مهال د غونډونو او کنډکونو قوماندانان راټول کړل او ما غونډه پرانستله. باید د افسرانو خبرې اورېدل شوې وای. ټولو په يوه خوله ويل چې واکمني يوازې د شوروي لښکرو په زور ټينګه ده. چيرته چې زموږ ټولی يا کنډک وي- هلته واکمني هم شته. د ا.د.ج د شلمې پلې فرقې جزوتامونه چې قرارګاه يې په بغلان کې وه د لارې پر دفاع بوخت دي. خو دا ټوله دفاع يوازې هله ټينګه وي چې له افغاني يوه ټولي سره د شوروي لښکرو يو ډلګی هم وي....

په دغه پېر کې د تودوخې درجه په غرنيو سيمو کې تر منفي شلو- ديرشو لوېدله. د غرونو په غاښو کې چې درې- څلور زره متره لوړ پراته دي، د اکسيجن لږوالی بيخي محسوسېږي.

ما خپلو پوځيانو ته څه ويلی شوای؟ "انترناسيونالستي دنده ده"... "خپله جګړه ييزه ورتيا وساتئ... څه چې زما له لاسه کېږي کړي مې دي او کوم يې".

د وژل شويو ياد به تل ځلاند وي... اوله هغو نه چې ژوندي پاتې دي مننه. پر هغوی هلته ډېرې، ډېرې زياتې خوارۍ تېرې شوې. پوښتل يې: پرځای به يې بل څوك راځي؟ ما په ډانګ پيبلي ځواب ورکاوه چې بدلون يوازې د فرقې په چوکاټ کې شونی دی. د څلوېښتم لښکر ټولې فرقې پر خپلو چارو پوختې دي او عسکر نه بس کېږي. نور عسکر خو به نه راغواړو؟

ځواب يې راکاوه

نور مه راغواړئ، موږ به پخپله يوه چاره وکړو.

ما خپلو افسرانو او سرتېرو ته د سپارل شويو دندو د نورې بريالۍ سرته رسونې هيله وکړه او په دريو هليکوپترو کې بدخشان ته وخوځېدو. هلته (۸۶۰) م لمبر مستقل موتوريزه غونډ ځای پرځای و چې مخامخ د څلوېښتم لښکر د قوماندان تر امر لاندې و. غونډ له

نورو بېل (مجزا) پروت و او په دغسې يوه حالت کې بې جګړه کوله. په غرونو او شېلو کې د جګړه ييزو دندو د سرته رسولو پښتې پخپله ورترغاړه و... او مجاهدينو دلته هم د ځواك پوره ننداره بنودله. او دا دی دغه مستقل موتوريزه غونډ خپله تولهوسه کوله چې د هندوکش (په لړۍ کې) د افغانستان د شمال ختيځ په ډېر لرې ګوټ کې ملي ديموکراتيکه واکمني ټينګه شي.

او دلته يې هم د بدلولو خبرې پوښتلې. او ما دلته هم ځواب ورکاوه چې بدلول نه شته. وسله کافي وه، مهمات ډېر وو، او خواړه هم بس کېدل. زموږ افسرانو دلته هم ويل چې افغاني پوځ په خلاص مټ نه جنګېږي. دلته هم بيا بيا دا خبره کېده چې تر څو په ګارنيزيون کې زموږ يو ډلګی شته، واکمني هم شته. او چې څنګه زموږ سرې ووځي، واکمني هم درې ورې شي.

په فرقې اوغونډ کې دغو کتنو وښوده چې زموږ د پرسونل روحي حالت ښه دی او خلکو داستو نزمنه او په مجموع کې هسې دنده په ښه نيت سرته رسوله چې دوی ورته هېڅ اړتيا نه درلوده. دا دنده دمسکو په کار وه، د کابل په کار وه او ښايي د لوی پوځي سلاکار او د مسکو د دغې پوځي او دولتي تګلارې د پلي کوونکي په توګه زما هم په کار وه. خو د دوی يې پرې څه؟! د کنډك او ټولي د قوماندان يې پرې څه چې له خپلو بچو نه لرې خدای خبر په کوم ځای کې او شيطان پوهېږي چې د څه لپاره پروت دی!... ښايي يوازې هغه کسان چې دغه چاپيريال يې ليدلی دغلته زموږ د جنګېدونکو وګړو احساس بشپړ وازرولی شي. يوازې هغه کسان چې د سرتېرې سترګې يې ليدلې او خبرې يې اورېدلې ښايي په څه شي پوه شي.

د پوځ هر څه عالي وو. او بې ځايه نه وه چې مډالونه او نښانونه يې ورکول. او هسې خوشي نه ده چې آن اوس هم د "افغانانو"* يادونه

---

* په اوسنی روسيه کې هغه شوروي پوځيان چې افغانستان ته استول شوي وو د "افغانانو" په نامه يادېږي. (د ج)

کېږي. خو ان اوس هم هماغه فرقه او هماغه غونډ په ورته ستونزو کې خو دا ځل په تاجکستان کې راګير دی. اوس دغه زلميان، واړه ضابطان، افسران او سرتېري د نوې سياسي واکمنۍ له ټينګېدو سره مرسته کوي. له هغې واکمنۍ سره چې د ګورباچف د ګډوډۍ او ناخاپي اوښتون له منځه رازېږېدلې ده.

د ماښام له خوا سره بېرته کندز ته ستون شوم. څه مو چې ليدلي وو ومواززول او د راتلونکې ورځې پلان مو وټاکه. مخې ته د بغلان حتمي سفر پروت و چې دښمنانو (سالنګ- د.ج) د لارې په شمال کې دی. هلته شلمه پلې فرقه ځای پرځای وه. ما بايد د هغې له مشرتابه سره، د غونډونو له قوماندانانو سره سره کتلي وای. او ښايي پخپله په ټانک يا زغره وال ګاډي کې (د حيرتانو- کابل) پر لاره لږ تېر شم چې د هغې د ساتنې څرنګوالی پخپلو سترګو ووينم. زما د شمېر له مخې نږدې دوې فرقې د دغه کار (د لارې د ساتنې د.ج) لپاره په کار وې. ښايي د ۲۰۱ فرقې اصلي ځواکونه او ټوله شلمه پلې فرقه ورته بېله شي. له ما سره ستيپانسکي، اراکيليان، کالاميېخيف، برونينيکس، سافرونوف، کارپوف او البته چې ساتونکي بايد يوځای تللي وای. له چيريومنيخ سره مو د حالاتو په اړه اطلاعات تبادله کړل. هغه راته وويل چې د پخوا په څېر په ټول هېواد کې د ترهګرۍ او ورانکارۍ نږدې (۹۰) پېښې شوې دي. خو د هغه له وينا سره سم د جګړه ييزو عملياتو پلان پلی شوی، په روزنيز مرکز کې د (تطبيقاتو) چاره د چمتو کېدو په بهير کې ده او لکه د پخوا په څېر په کندهار او هرات کې ارامي ده.

د شپې مې د راتلونکو اقداماتو سوچونه وهل. ليدلو شيانو اړ کولم چې په پای کې د سفير او د هغه له نږدې کسانو سره د خپلو اړيکو د عادي کولو لپاره يو ځلې بيا هڅه وکړم. يووالي ته اړتيا وه: د نظر درك او د حالاتو د ارزونې يووالي ته. او په پای کې هغه څه چې ارزښت يې درلود مسکو ته د رپوټ ورکولو عيني والی و. دغه رپوټونه هره ورځ د بهرنيو چارو وزارت، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې، ك.ګ.ب، او د دفاع وزارت ته ورروان وو. يوازې په دغسې کولو سره کېدی شي په افغانستان کې زموږ په

سیاست او ستراتیژۍ کې نوی والی رامنځته شي. نو که نور نه وي لږ تر لږه ما په انساني لحاظ دانه غوښتل چې د سفیر، د هغه د نژدې کسانو او د لوی پوځي سلاکار د اداري تر منځ بېلتون پراخ او ژور شي. موږ پوځیان تل له نورو مخکې په کینه ښه د اړیکو رغولو ته ورمخکې کېږو. یو ځلې بیا باید ۀ شتو اختلافونو د لرې کولو، اصلاح کولو او هوارولو هڅه وشي. خو بیا هم باید په اصلي خبره کې تېرېدنې ته غاړه کېښنبودل شي. سفیر او په هغه پورې تړلي کسان تول وخت په کابل کې ناست وي او د هېواد حالات د نورو د نکلونو او رپوټونو له مخې ارزوي، یاني حالاتو ته د نورو په سترګو ګوري او فکر هم د پردیو په مغزو کوي. زه چې یم بیا تل د خپلې اداري له غړوسره د هېواد له یوه ګوټه بل ته په الوتو یم. څه چې پېښېږي هغه وینم او تعقیبوم او تر ډېره د راتلونکو پېښو سوچ وهم او اټکل یې کوم. څنګه دا سفیر په دې خبره نه پوهېږي؟ او ښایي د پوهېدو لېوالتیا نه لري؟ ځان غوښتنه ده؟ غیرت دی؟ باید د یووالي لارې چارې وسنجول شي... خو سبا د بغلان په لور.

چې بغلان دی نو وي دې. راځه چې اوس ویده شو...

سهار وختي، نژدې شپږ بجې وې چې د خوب په خونه کې د ایښودل شوي سارایي ټلفون شرنګا شوه. البته چې ما لا د کار چمتووالی نه درلوده. غوږۍ مې پورته کړه. له هغه لوري چیریومنیخ په نادوده رسمي ژبه خبرې کولې:

- ملګری سترجنرال، داسې بریښي چې هرات...
- چیریومنیخ، کله چې څوك وایي "داسې بریښي" ورسره سم صلیب هم کاږي.*

* دلته لیکوال د عیسویانو دود ته ګوته نیسي چې د ناوړه پېښې په درشل کې پر مخ او اوږو د لاس په اشاره صلیب ایستل کېږي او په دې توګه له خدایه مرسته غوښتل کېږي (د.ج)

- ما لاوختي صليب کنبلي دی (ياني دوعا يې کړې ده د.ج).
خو هوايي ډگر لازموږ په لاس کې دی والي هم لاتر اوسه پر خپل ځای دی. د راډيو تم ځای (ستيشن) هم ټينګ دی.
هغه لور ته ستاسې د الوتنې اړتيا ده
- صبر وکړه، يو څو دقيقې خو د سوچ وهلو فرصت راکړه.

هغه، خبره داوه... ورانکاري په ورانکارۍ، ترهګري په ترهګرۍ، خو د دې ټولو شا ته غټه پښبه راروانه وه. پښبوري مشران ډېر هوښيار دي! په دې پسې لکه چې د کندهار وار دی که څنګه؟ هلته هم هرڅه ارام دي او دا د دې لپاره چې والي، د زون امر او د دويم لمبر قول اردو قوماندان مير طهاس غافل کړي. څه مره پرېږده دا... اوس د هرات خبره ده. د چيريومنيخ له خبرو راته جوته شوه چې هرات يا غليم ته سپارل شوی او يا نږدې دی چې وسپارل شي. او دلته په هرات کې خو د ډګروال ګروموف تر قوماندانۍ لاندې پنځمه موتوريزه فرقه او د ا.د.ج. اوولسمه پلې فرقه پرته ده چې غونډونه يې د هرات د شمال لويديځ او شمال ختيځ په غرنيو لمنو کې پر جګړه بوخت دي. دا هرڅه مې لکه د برېښنا په سر کې راوګرځېدل. ما هڅه کوله د حالاتو اصلي ماهيت ځانته جوت کړم.

څه بايد وکړو؟ ما چيريومنيخ ته وويل چې د ببرك کارمل په اجازه د دفاع له وزير رفيع او دغه راز نور، زېري او نجيب سره يوځای بې له ځنډه هرات ته والوزي. له ځانه سره دې د ځلوېښتم لښکر درستيزوال جنرال پانکراتوف هم بوځي. زه پخپله هم له ٢- ٣٠ دقيقو وروسته هرات ته روانېږم.

- ياني تاييدوئ چې هوايي ډګر له موږ سره دی؟
- بلې صاحب، لازموږ سره دی.

ما خپل ملګري راوغوښتل، د حالاتو د چټك اوښتون لنډ حال مې ورته تېر کړ او بيا مې د ستيپانسکي، کالاميېڅيف او اراکيليان

نه وغوښتل چې د ساتونکو له یوې کوچنۍ ډلې سره بغلان ته ولاړ شي او د حالاتو جاج واخلي چې بیا یې رپوټ ماته وړاندې کړي.

او زه له سافرانوف، شکیدچنکه، پتروخالکه، برونینیکس، کارپوف او ساتونکو سره بې له ځنډه هرات ته روانېږم.

او په سر کې مې یو ځلې بیا دا خبره تېره شوه چې: دا د پېښور مشران څومره هوښیار دي! دوه اووه نۍ یې په ټول هېواد کې د ترور او ورانکارۍ د عملیاتو په سرته رسولو بوختولي وساتلو. اوس یې داسې په مهارت سره د شپږویشتمې کنګرې په درشل کې چې باید د افغانستان د حالاتو رپوټ وړاندې شوی وای، دا ناولتوب راته جوړ کړ. (د ځوانو لوستونکو لپاره یادونه کوم چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند هره کنګره د ستر ارزښت لرونکې پېښه بلل کېده چې د هغه په ویاړ راپورونه جوړېدل، حسابونه ورکول کېدل او هر چا هڅه کوله چې تروسه وسه ښه وبرېښي. له دې امله موږ کنګرې ته دومره ارزښت ورکاوه).

تر هغو چې په انتونوف - ۲۴ ډوله (الوتکه) کې تر هراته تللو درانده- دراندې سوچونه مې په سر کې ښکته پورته کېدل.

د هرات د لاسه تلو مانا به د مخالفینو د یوه مستقل ولایت او یا د هرات جمهوریت جوړېدل وای (هرات په لرغونو وختو کې د افغانستان پلازمینه وه). له دې وروسته به بیا حکومت جوړېدای او ملګروملتو ته به مخ اړول کېدای. په دې ترتیب سره به هېواد په داسې حال کې چې د شوروي ښکېلاک په منګولو کې دی په سختې کورنۍ جګړې ښکېل شوی وای.

ما د چیریومنیخ د راپور جاج اخیستنه. د ده د خبرو بنسټ بیا د هغو وګړو څرګندونې وې چې د پېښو د کېدو او پرمختیا په اړه یې معلومات ورکړي وو. او البته چې چیریومنیخ ما ته د حقایقو ښه لږ څه نرمه (پسته) انځورولې.

هرات ته له رسېدو سره سم مې دا دنده مخې ته پرته وه چې د هرڅه جاج پخپله واخلم. احساسوله مې چې د مسووليت ځومره درونـد پيتی مې پر اوږو رالوېږي او هېڅوك نه وو چې دغه پېټي ته راسره اوږه ورکړي. بايد پرېکړې شوې وای او بيا د هغو د پلي کولو لپاره امرونه صادر شوي وای او بيا د دې لارڅارل شوې وای چې ودريږه څه کوچ به ترې راووځي. او په همدغې پايلې پورې د ټول هېواد او ان زما برخليك تړلی و. ما دغه راز د دې سوچونه هم وهل چې د پېښو ستونزو حل ته څه ډول د افغاني مشرانو پښه هم راکښل شي. نو اخر دا خو د دوی هېواد دی. او بايد د هغوی د دولتي او شخصي ګټو په پام کې نيولو سره مو په مهارت سره دا لوبه پرمخ بيولې وای. اوس به د کابل په ارګ کې د وارخطايی يو حالت وي. چيريومنيخ چې څنګه ببرك ته خبر رسولی وي، نو په باوري توګه به يې د هغه هېښې، هکې- پکې سترګې ليدلې وي، هغه سترګې چې په کې د پېښې ځای ته د نور، زيري، نجيب، قادر، رفيع او نور هرچا د استولو چمتووالی ځلېږي. ټول دې واستول شي خو چې شوروي په هرات کې حالات راکابو کړي. دومره پوهه او هوښياري يې درلوده چې د هېواد په شمال لويديځ کې د حالاتو جاج پرې واخيستلی شي. او زموږ ملګري "او" هم البته چې په هرڅه کې ورته د هو سر خوځوي.او ورسره- ورسره لکه د مني پانه رپېږي. د خپګان ځای و... او د بې جوړې حسرت ځای ما خو د ځلوېښتم لښکر قوماندان تکاچ، د هرات د زون امر سېربلنه او لورنجنرال ويتالي بابينسکي ته ګوته خنډلې وه چې: هوښيار اوسئ، د هرات ارامي کېدی شي غولوونکې وي. خو داسې برېښي چې زما خبرو پر هغو اغېز نه و کړی. دا هم کېدی شي او لکه چې همداسې وه هم، مجاهدينو پرې چل کړی وي. زه پوهېدم چې بابينسکي د هغه په وينا د يوې غدی (باند) له مشر سره ښه اړيکې لري او دواړه له يوې پېتالې او يوې کټوې څښي او خوري او په اووه-

نی کې یو ځل هرومرو سره ګوري. ما ورته په ټوکو ویل: پوهېږم چې د ځه لپاره سره ګورئ: دواړه په ښځو پسې مړه یاست او دایې پایله ده.

په هوایي ډګر کې یوې رنګینې ډلې زما هرکلی وکړ. له ټولو مخکې تورنجنرال بابینسکي راغی چې (د غازو ضد) ماسک یې اغوستی، د کارتوسو ګردنۍ یې یو د بل له پاسه دیخوا- هاخوا اړولې او په ملاوستني (کمربند) کې یې لاسي بمونه راځړېږي او په پښو یې ښې موزې دي، خو پر سر یې افغاني خولۍ ایښې ده.

- ملګری سترجنرال...
- ویتالي، ته لکه همدا اوس چې په مالینوفکې* کې له واده نه راستون شوی یې...
- دلته ځوك ځان سمولی شي ګنې...

رحم مې پرې ورکړ، نور مې د خپل ملګري ځان غوښتنه ونه ځپله. د دې خبرو وخت نه و خو د خپګان تر پولې خندنی وې...

له هغه نه وروسته سربلند چې (د پرچمیزم د نظریه جوړوونکو "تیوریستانو" څخه و) راواړاندې شو. ده هم د ګاز ضد ماسك اغوستی او (د روسي عسکرو) شډلې موزې یې په پښو او د (روسي سرتېرو) شاپو ډوله خولۍ یې پر سر وه.

درېیم ځوك چې راغی نو هغه په شیکو کالیو کې نغښتی، تبی مخی او د سررو باړخوګانو څښتن د پنځمې موتوریزه فرقې قوماندان ډګروال ګروموف و چې په پښو کې یې د نه کرېدونکیو پوندو جنرالي موزې د ځلا تر بریده پاکې وې. ما چې د ده په پښو د جنرالۍ په قالب کې پېچلې ډګروالیزې موزې ولیدې نو په کوېرۍ کې مې راوګرځېدل: "دا شی لکه چې جنرالۍ ته د رسېدو هڅه کوي".

---

* "په مالینوفکه کې واده" مشهور شوروي طنزي فلم و چې د دوو داسې کلیوالو عاشقانو ژوند انځوروي چې له اوږدو ستونزو وروسته وصال ته رسېدلي دي (د.ج)

ما وویل: ای ویتالي والیریانوویچ همدا ده هغه ستړي مه شي چې مشر ته ویل کېږي؟ او چې کله ډګروال ګروموف خپله عسکري خولۍ له سره پورته کړه او ما یې د پاریس د نایانو په ډول جوړ شوي پیچك (کاکل) ولیده نو یو ناوړه فکر راباندې برید وکړ: "تو لعنت پر شیطان، دغسې څېرې زموږ ځای نیولو ته په تلوار دي!" هماغه وخت ما ته په سر کې دغه فکر راګرځېدلی و، خو اوس چې ټول پوهېږي (بوریس) ګروموف کومې پوړۍ ته رسېدلی* داسې به ګڼل کېږي چې زما دا خبرې ګڼې بې ارزښته (زړې) دي. خو داسې نه ده. په دې سرې کې داسې یوڅه وو چې هېڅکله یې زما د زړه ستنې د ځان لور ته ورکړولی نه شوای. زه پوهېدم چې دی سرګي اخرامییف راپورته کړی دی.همدا اخرامییف و چې ده ته یې د ستردرستیز له لارې د څلوېښتم لښکر د قوماندانۍ لاره پرانیستله. څه، ورك یې کړه، داهسې جزئیات دي...

موږ د فرقې د قوماندان سپرلۍ ګاډي (سرویس موټر) ته وختلو. له خبرو څرګنده شوه چې څو ورځې په هرات کې کراره کراري وه. دولتي ادارو کار کاوه. پلورنځي، هټۍ او بازارونه ښه په درز پر سوداګرۍ بوخت وو. د شپې ګرځبندیز لږ څه نرم (پوست) شوی و. د حالاتو د چټك اوښتون هېڅ نښه نه وه.

اووه لسمه پلې فرقه لا اوس هم د هرات شمال لویدیز او شمال ختیز پلو پر جګړو بوخته وه. یوازې ځینې ساتونکي او لوژیستیکي قطعې یې چې څو ټولي تري جوړېدل په هرات کې پاتې وې. خو دا ګډوډې او له جګړه ییز پلوه لږې چمتو قطعې وې. د ګارد پنځم لمبر موټوریزه فرقه هم په پوځي ښوونې او روزنې او په سیمه کې پر جګړه

---

* بوریس ګروموف وروسته په افغانستان کې د څلوېښتم لښکر قوماندان او له افغانستان نه په وتلو پسې د کییف د پوځي حوزې لوی قوماندان او وروسته د روسیې د دفاع وزیر مرستیال شو. (د.ج)

پرخته وه خو د ولایت د مقام، راډیو، بانك او ځینو نورو موسسو له ساتنې او دفاع پرته یې له هرات سره نور کوم تماس نه درلود.

او پرون ماسپښین مهال په ټول ښار کې پر یوه وخت سختې نښتې پیل شوې وې. پر مهمو تاسیساتو برید شوی و لکه: د ولایت، راډیو د هرات د زون اداره او نورې موسسې. جنرال بابینسکي او سربلند له هرځه نه چې په لاس ورغلي وو ګټه پورته کړې وه او واړ ته وتلي وو او بیا یې په بري ځانونه د مرګ له خولې ژغورلي او هوایي ډګر ته رسولي وو.

تر سهاره تقریبا ټول هرات د یاغیانو لاس ته ورغی. خو خبره دا ده چې زما د محاسبې له مخې هغوی خپله دنده بشپړه سر ته ونه رسوله. د ولایت مقام چې درې ټانکونه، څلور زغره وال ګاډي (B T R) او محاربوي ماشینونه (B.M.P) او د پنځمې موتوریزه فرقې یو کندك یې دفاع ته ولاړ وو، او دغه راز د راډیو تم ځای چې همدومره ځواکونو یې ساتنه کوله لاهم په هرات کې زموږ پیاوړې مورچلې وې. د اوولسمې پلې فرقې د لوژیستك ټولې ډېر کسان ووژل شول. البته چې پنځمې موتوریزه فرقې هم د سر زیانونه درلودل. موږ د هرات له بایللو سره مخامخ وو. خو یوځلې بیا یادونه کوم چې اساسي ځای یانې د راډیو تم ځای (ستیشن) زموږ په لاس کې و.

د سهار تر نهو- نهه نیمو بجو ډزې ودرېدې او په هرات کې کراري بیا ټینګه شوه. ښایي غلیم د حالاتو په څېړنه او د نویو پرېکړو په کولو بوخت شوی وي. زه هم بیخي پر همدغه کار بوخت وم. لکه چې ما ته خبر راکړل شو، بهرنی راډیوګانې غلې وې. یو ټکی هم د هرات په اړه نه ویل کېده. مانا دا چې "پښنوریان" په هرات کې چېرې نښتې دي او نور نه شي کولی چې خپلې بریاوې پراخه کړي. د کړنو کړی، کوم ځای شکېدلې وه...

زه له خپلې اوپراتیفي ډلې سره د هرات په هوایي ډګر کې وم له مجاهدینو نه مې د هرات د ژر پاکولو سوچونه وهل.

حالت بحراني (کړکیچن) په نظر راته. حالاتو د داسې اقداماتو غوښتنه کوله چې ما ترې په زړه کې کرکه درلوده. زه پوهېدم که پر ښار د مخامخ برید لارښوونه وکړم نو پر اوږو به مې درنده اخلاقي پړه (مسوولیت) راولېږي. ځکه نو داسې څه په کار وو چې هم پرې هرات تر لاسه شي او هم سړی د اخلاقي قوانینو له پولې بهر نه شي. خو چې دا څه ډول تر سره شي، زه پرې لا نه پوهېدم. خو ټینګ باور مې پیدا شوی و چې: د غلیم په فعالیت کې له دې وقفې نه باید غوڅه او چټکه ګټه پورته شي. د هغوی نوښت باید په سته کې شنډ شي او باید د خپل تخنیك، ډزو او د همغږو (منسجمو) کړنو په ټول وس یوه ترهه، یو ډار منځته راشي او (د غلیم) مورال له منځه یوړل شي.

بې له ځنډه دې د هرشي کارول پیل شي! خو څه ډول؟ هوایي ډګر ته چیریومنیخ، نور احمد نور، زیری، محمد رفیع، نجیب، ګلابزوی او قادر راورسېدل. مانا دا چې له ببرك، کشتمند او راتب-زاد پرته د هېواد ټول غټ مشران دلته راغلي وو. د ځلوېښتم لښکر درستیزوال پانکراتوف هم له دوی سره راغی. البته چې دا له ماسره یوه ښه مرسته وه. په دې توګه نو داسې مغزي ځواك راټول شوی و چې کېدی شوای د حالاتو د څېړنې او د پرېکړو د کولو لپاره پرې ډډه ولګول شي.

د ځانګړي ټلفون له لارې راته اوستینوف زنګ وواهه.

هغه په غلي، ارام او په امرانه لهجه وپوښتل:

- هرات له لاسه ووت؟

ما لا ځواب ورکړی نه و چې په غوږۍ کې د ټلفون د سوچبورد د کارکوونکي غږ پورته شو:

- خبر اوسئ چې ستاسې مکالمه بشپړه مصوونه نه ده او نور یې هم د اورېدو امکان لري.
- ښار زموږ په لاس کې دی.
- سند لرې؟

- د هرات د ولایت مقام او اداره زموږ له خوا ټینګه او باوري ساتل کېږي. راډیویي تم ځای تر دې نه هم تر باوري ساتنې لاندې دی او دفاع یې کېږي. هوایي ډګر چې همدا اوس په کې زه ولاړ یم، زموږ دی. په ښار کې کراري ده.
- د ښار د پاکولو لپاره څومره وخت په کار دی؟

شیطان به تري خبر وي!... اوس چې هغه شېبه رایاده شي نو لکه سړی چې کنګل اوبو ته ورودانګي. خو هغه وخت د احساساتو لپاره هېڅ ځای نه و. د سترګو په رپ کې مې یو حساب وکړ او مې ویل:

- دوه- درې ورځې...

بلې پوښتنې ته سترګې په لاره وم. که د دفاع مخکني وزیر مرحوم ګریچکه (دده پرځای) راسره خبرې کولې، نو هغه به پوښتلي وای: "ستا په فکر د حل لاره کومه ده؟" یانې زما د پرېکړې د تایید له لارې یې که ټوله نه وي نو د پړې (مسوولیت) نیمه برخه پر خپلو اوږو اخیستله.

خو اوستینوف د هرات د جګړې د غوځولو څرنګوالي وه پوښته او داسې یې وښووله چې ګنې ای مهربانه سړیه چې څه دې غوښته کړي وي پخپله یې پلې کوه او پړه یې هم پر خپله غاړه وړه. پر خپله غاړه!

له همدې امله نو له غوږي نه دا یوه خبره راووتله:

- تاییدوم یې!

او په همدې سره (ټلفوني) تماس پای ته ورسېده.

ما له کابله راغلو ملګرو ته د حالاتو انځور وړاندې کړ.

نور ډېل ته ځای نه و. دوی زما د پرېکړې انتظار کاوه.

خو دا ځل د اندروپوف ټلفون راغی:

- څنګه یاست الکساندر (مایوروف)؟ همدا شېبه له دیمتري (اوستینوف) سره وغږېدم. په هرڅه خبر یم. تاکل شوی وخت زما د تایید وړ دی. پیل وکړئ. ده هم ونه پوښتل چې

څنګه به پیل کوم. "څنګه؟"- داسې برېښي چې همدې پوښتنې پر ټول هسك سیوری غوړځولی و.
د ښېښې په غوښتلو مې له چیریومنیخ پرته نورو ټولو نه هیله وکړه چې له سپرلۍ ګاډي نه کوز شي. باید مهمه پرېکړه مې کړې وای او ټوله پړه (مسوولیت) مې په خپله غاړه اخیستی وای. موږ ناست وو، خبرې مو نه کولې او کله کله به مو په سترګو کې یو بل ته سره وکتل او بې له دې چې خوله پرانیزو یو بل ته به مو هغه څه وویل چې په سر کې راګرځېدل. چېرته یې ته، ای یوازینۍ سمې پرېکړې؟...
ناست یو، او څه نه وایو
د ټلفون شرنګ شو. دواړه ولړزېدو.
د اګارکوف غږ و:
- السکاندر (مایوروف) السلام علیکم! همدا شېبه مې له کنستانتین اوستینوویچ (چرننکه) سره خبرې درلودې.
پاکه خدایه راورسېږې، دا څنګه ټول په خوځېدو راغلي!...
- هغه درته خپلې ښې هیلې څرګندولې او ویل یې پخپله درنه په دوه- دریو ورځو کې د مثبت ځواب لاره څاري. پوه شوې چې زما مقصد څوك دی.
- هوګرانه اګارکوفه پوه شوم. ستا مشوره څه ده؟
- هرڅه تا ته رانه برېښي. خو هرڅه چې پېښېږي زه دې تر شا ولاړ یم.
همداسې خاموش ناست یو سوچونه کوو. سوچونه کوو...
په پای کې چیریومنیخ چې زما په سوچونو پوه شوی و، وویل:
- زه پوهېږم جنرال صاحب چې تاسې په څه اړه فکر کوئ، او ستاسې په پرېکړو کې زه هم ځان شریك بولم. چې هرڅه کېږي، خو هرات باید په دوو ورځو کې بېرته تر ګوتو

شي... ما د خپل انډیوال د ملاتړ له امله د مننې احساس کاوه.

هغه خپله خبره پسې اوږده کړه:

- په ټول وس یې باید وچقوو! پرځمکه یې باید وسولوو! داسې یې سترګې په لاره وساتو چې فکر وکړي دغه دی برید کېږي او هغه دی برید کېږي! خو...

او هغه د دغه "خو" په اړه د پرېکړې کار ماته پرېښوده.

- زه خو د همدې لپاره د لوی پوځي سلاکار دنده سرته رسوم چې دا ټولې پاتې "خو" ګانې په خپله غاړه واخلم.

- نور هم (بېرته) راوبوله.

سپرلی ګاډي ته هغه ټول کسان بېرته راوختل چې مخکې مې ترې د کوزېدو هیله کړې وه. د دود له مخې قوماندان یا اعلی سرقوماندان د خپلې پرېکړې له څرګندولو وړاندې خپله نظریه اوروي: څه غواړو او دغه "څه" باید څنګه ترلاسه کړو. وروسته بیا خپله پرېکړه سره راجوړوي او رووسته هرچا ته دندې سپاري. خو دا کلاسیك فورمول له دغو ناکلاسیکو حالاتو سره نه جوړېده.

ما د خپل ژباړونکي په مرسته خپلو همکارانو ته وویل:

- حالات خراب دي. هرات عملاً له لاسه وتلی دی. خو موږ سره لا دا هیله شته چې په دوه- دریو ورځو کې یې بېرته پاك کړو. د ښار ځینې کلکې مورچلې لا زموږ په لاس کې دي لکه: ولایت او راډیو او هرات ته څېرمه پوره ځواك چې نږدې دوه فرقې کېږي، له موږ سره دی. همدا اوس غوڅو کړنو ته اړتیا شته او د دې لپاره ستاسې موافقه او ملاتړ غواړم.

بې له دې چې زما له پرېکړې خبر شي او بې له دې چې ورته د ټاکلو کړنو پته ولګېږي، ټولو ناري کړې چې موافق دي او چمتو. امر کوئ صاحب!

- لومړی: ملګری سافرونوف، د ښار له پاسه په پیل کې د څلورو او د نن ورځې د ماسپښین له دوو بجو وروسته د اتو هلیکوپترو وار په وار الوتنه سمبال کړئ داسې چې ټوله ورځ هسې د تشو (بې مرد کي) کارتوسو ډزې وکړي.

دویم: د ګارد د پنځمې موتوریزه فرقې او د اوولسمې پلې فرقې قوماندان دې د سبا ورځې تر سهاره سل داسې ګډې ډلې راجوړې کړي چې په هره یوه کې یو ټانک، دوه یا درې زغره وال ګاډي یا محاربوي ماشینونه او له ۲۵ تر ۳۵ تنه ګډون ولري.

د دې کار د سرته رسولو مسوولیت: په اوولسمه فرقه کې جنرال شکیدچنکه ته او په پنځمه موترویزه فرقه کې پانکراتوف ته سپارل کېږي.

دریم: کره ورځ دې تر شپې پورې د پنځمې او اوولسمې فرقې ځواکونه له هره لوري هرات محاصره کړي او ښار ته دې د تلو-راتلو ټولې لارې وتړي.

څلورم: د شپې د تیارې په خپرېدو سره دې د ډول ډول وسلو په کارولو سره بې ځنډه ډزې پیل شي چې په کې زرګونه رسام (روښانونکي) توغندي هم وکارېږي او داسې وښودل شي چې ګنې پر ټول هرات یو پراخ برید پیل شوی دی. مجاهدین دې اړ ایستل شي چې پر ښا هرومرو کېدونکي برید په تمه شپې وشمېري.

پنځم: که څه هم د "چ"* شېبه به وروسته اعلانېږي، خو له سهاره دې ټاکل شوې ډلې له څلرویشتو لورو په څلورو برخو د ښار له ویشلو وروسته د ټانکونو، زغره والو ګاډو او محاربوي ماشینونو تر شا په دریو- څلورو کتارونو کې پر ښار وروخېژي او د ښار په مرکز کې دې له ولایت او راډیو سره یو له بل سره وصل شي. خدای دې ما ته عفوه وکړي خو که چا د توپك یو ډز وکړ تاسې پرې د ډزو باران جوړ کړئ!

---

* شبېه- یاني د یوه عمل د پیل دقیق مهال. "د.ج"

د دې دندې په تر سره کولو يوه مهمه خبره په پام کې ساتئ او هغه د وينې توېولو مخنيوی دی. د دې لپاره چې دغه موخه تر لاسه شي نو نن د ورځې او ماښام پر ښار تبليغاتي پاڼې وشيندئ چې داسې په کې ليکل شوي وي: ښار محاصره دی، مجاهدينو! تسليم شئ او خپلې وسلې له دېوالونو بهر وغورځوئ. څوك چې مقاومت وکړي ځای پرځای به ووژل شي، تسليم شويو ته ښننه کېږي.

د ا.خ.د.ګ منشيانو سرونه خوځول چې: موافق دي.

- د دغو تبليغاتي پاڼو په پای کې به څوك لاس ليك وکړي؟

نور احمد نور پاڅېده او بيا زيری هم را جګ شو:

- مورږ يې لاسليك کوو....

ما چيريومنيخ ته وکتل. د هغه سترګو ويل چې "نه". ما له نور او زيري نه مننه وکړه اومې ويل چې لا د دې وخت نه دی چې ګوند ګوزار ته ونيول شي.

- فکر کوم غوره به وي که دا پاڼې...

ما خبره لړه وځنډوله. په دې کې د دفاع وزير رفيع راجګ شو...

- هو، غوره به وي که د دفاع وزير يې لاسليك کړي.

نجيب راجګ شو. ما وويل:

- سمه ده د خاد رئيس دې يې هم لاسليك کړي.

سربلند هم زړه نازړه راپاڅېده:

- زه يې هم د هرات په زون کې د ا.خ.د.ګ، د واکمن استازي په توګه لاسليکوم.

- چيريومنيخ! د ځواکونو او وسايلو عمومي اټکل، د کړنو د سرته رسولو او د هرات د پاکولو د عملياتو د سرته رسولو عمومي لارښوونه تاته سپارم!

- صاحب امر وکړئ!

- ټولو ته د تللو اجازه ده.

زه لـه خپلـو درنـدو سـوچونـو سـره يـوازې پـه سـپرلۍ ګاډي کـې پاتې شوم. ايا هـرڅه سم تـر سره شـوي دي؟ پخپلـه مـې ځان کـراراوه چـې هـو، هـرڅه سـم دي. اوس لـه هغـې شـيبې ډېر کلونـه تـېر دي خـو زه اوس هم ځان ته وايم: په هغو حالاتو کې يوازې همدغسې کـول پـه کـار وو.

نـږدې لـه يونيـم- دوه سـاعتو وروسـته د غرمـې پـر ۱۲ يـا دولـس نيمو بجو لومړني څلور هليکـوپترونـه پـر هـرات راوالوتـل. وړانـدې هـرڅه د پـلان لـه مخې پرمـخ ولاړل. اوس بـه ګورو چـې څوك پـر چـا چـل کـوي... زمـا برى پـه کـار و. يـوازې بـرى.

زمـا ټول ملـګري چـې دنـده ورتـه سـپارل شـوې وه (خپلـو- خپلـو) عسـکري قطعـو تـه ولاړل. لـه مـا سـره يـوازې ايلمـار برونينيکـس پـاتې شو چې بې ځنډه يې معلومات ترلاسـه کـول. والـي ورتـه پـه ټينګار ويلـي وو چـې کلکـه دفـاع کـوي او ولايـت بـه تسـليم نـه کـړي. د راډيـو د تـم ځاى سـاتونکي هـم غبـتلـي وو او مـوږ ورتـه دا هـم وويـل چـې مرسـته درروانـه ده.

- ايلمـار زمـا پړېکـړو لکـه د تـل پـه څېر لـه سـترګو پټولـو پرتـه نيـوه کـې کـوه.

د پنځلسـو کلـو ګډ پـوځي خدمـت پـه تـرڅ کـې زمـا او د برونينيکـس اړيکـو تـر ډېره ديموکراتيکـه بـڼه غـوره کـړې وه. مـا د لاتـوـ يا لـه دغـه لـږ څه لـېټ (خـو) پـه کـار ميـن او صـادق اوسـېدونکي سـره مينـه درلـوده او د هغـه د هوښيـارۍ درنـاوى مـې کـاوه. مـا تـل هغـه تـه اړتيـا درلـوده: کـه دايوانـووه- فرانکوفسـك پـه ۳۸ لمـبر لښکـر کـې وم، يـا پـه چکوسلواکيا کـې د پوځونـو پـه مرکـزي ډلـې کـې او يـا دريـګا پـه پـوځي حوزه کـې. دغـه سرې تـل زمـا د وجـدان پـه څېر و.

هغـه بـه د ځواب پـه ورکولوکـې ځنډ کـاوه. ښايـي غوښتـل يـې خپـل هر ټکى سم وسنجوي.

- دا مجـاهدين لـه خپلـې ټولـې بېرحمـۍ، سـپين سـترګۍ او بـې حيايۍ سره سره خـورا ډارن هـم دي. تاسـې سـمه پرېکـړه وکـړه: دوى بـايد هسـې وخپـل شـي چـې پـه خـوب کـې يـې هـم نـه وي ليدلـي. وبه ګورئ، هرڅه بـه سم شـي...

- مننه ایلماره

مابنام مهال نو هلیکوپترونو د تبلیغاتي پاڼو په شیندلو پیل کړی و.

د پنځمې موتوریزه او اولسمې پلې فرقې ټولګي د ښار ځنډو ته په لاره وو او د جګړه ییزو ډلو جوړېدنه هم روانه وه. ما مخکې د هغوی ترکیب ښودلی دی او که په سلو کې یې ضرب کړو نو څو زره جنګیالي ترې جوړېږي.

دا به ښې سمبال او روزل شوې ډلې وي چې د هرات کوڅې له مجاهدو پاکې کړي. خو څومره چې د کورونو او انګړونو د تلاشۍ خبره ده نو دا کار نجیب ته او دهغه خاد او څارندوی ته پرېغاړه اچول شوی و.

شپه راباندې شوګیره خو له پلان سره سمه تېره شوه. سختې ډزې او د توغندیو ویشتل روان وو. مانا دا چې (د غلیم) هراړخیزه غولونه روانه وه. غلیم چلونه کول او ما هم د هغو غولولو ته ملا تړلې وه. هغه غوښتل چې پر هرات زموږ برید راولمسوي او بیا ټولې نړۍ ته وښیي چې: راشئ وګورئ روسانو څه ډول یو افغاني ښار د ځمکې له مخې ورك کړی او سپین ږیري او ماشومان یې څنګه وژلي دي. البته چې موږ دا کار نه شوای کولی. خو دا مو هم نه شوای کولی چې ښار غلیم ته ورپرېږدو. او موږ هغه ته د سوچ کولو وخت ورکاوه چې پر هرات د بېرحمه برید په پام کې نیولو سره باید څه وکړي.

د هرات پر شاوخوا د ډزو یوه بوربوره کې (ګردباد) راخوځېدلې وه. د ښار هسك د سروزرو رنګ نیولی و. او دغه ځلانده رنګ، د توپونو غرمبا او د ماشینګنو او ټوپکو ټکهار زه په تیارو چرتونو کې ډوبولم چې همدومره د ښار له پاسه له روانې "اور لوبې" سره په تناقض کې وو. ته به وایې له ډاره د وچو شویو ښاریانو خبرې مې مخې ته وې... "او ناپکان راپرېوزي، داسې چې د اور او مرګ غبږ پرې راګرځېدلې وي." هغه وخت مې د پوشکین داڅو ټکي راپه

زړه شول چې دهغه په اثر "د قران له مخې" کې راغلي دي. او د خپلو کړو بار مې پر اوږو زور اچوه او زه یې پر مخکه موښلم. دا اعتراف هم څوروونکی و چې: د غلیم د منځه وړلو بله لاره نه وه.

برونینیکس د مخابرې له لارې د کنډك د قوماندان راپور واورېده: ملایانو دعاګانې پیل کړې او له الله(ج) نه مرسته غواړي.

ای لویه ربه دوی ته عقل ورکړه! که نه هرڅه دا دي ربښتیا هم د مرستون (هدیرې) په خاوره اوړي!...

د سلو ډلو په جوړولو بریالي نه شول. له پنځمې موتوریزه فرقې نه چې دا چاره په کې په ښه نظم تر سره شوې وه، څلوېښت- پنځوس ډلې راجوړې شوې او په اوولسمې پلې فرقې کې چې څو د جګړې له ډګره راوتله او خپل بهیر ته لوېدله (او وخت هم ډېر لنډ- تنګ و) ایله ۲۰-۳۰ ډلې چمتو شوې. شپه مو د دغو ډلو په سمبالولو تېره شوه. یوځلې بیا د چمتووالي جاج واخیستل شو او ټول چانسونه له سره وارزول شول چې: بری به تر لاسه شي که څنګه؟ .

ما دا پرېکړه هم کړې وه: د سهار له رڼا سره جوخت دې د بم غورځوونکو الوتکو لړۍ- لړۍ پر ښار الوزي- راالوزي او په دې توګه دې ښار "اتو" کړي. او دسهار له رڼا سره جوخت دې یوځلې بیا پر ښار تبلیغاتي پاڼې وشیندل شي او د څلورو- شپږو هیلیکوپترو ډلې دې پرله پسې پر ښار د پاسه له بوږنوونکي غږ سره والوزي او په دې توګه دې د ښار له څنډونه د مرکز په لور دایره تنګوي او لا نوره تنګوي.

غلیم باید له سایکالوژیك پلوه مات شي او ورته وښودل شي چې له څه یوه څواك سره مخامخ دی. په تېره بیا چې غلیم بشپړ او ناڅاپي بري ته هم رسېدلی نه دی. مانا دا چې هغوی وخت له لاسه ورکړی او اوس د ډګر واك له موږ سره دی.

تر نهو بجو ما ته راپور راکړ شو چې تر شپېتو ډېرې جګړه یېزې ډلې چمتو شوې، همکاري منځته راغلې، وګړي ښه په وسلو سمبال او په خپته ماړه دي. کېدی شي چې په لومړي کتار کې شل،

ورپسې نور شل او وروسته بيا شل ډلې وګمارل شي، او چې دا کار تر سره شو، دلته به نو نورې ډلې هم رارسېدلې وي.

د "ج" شېبه لس بجې ټاکل شوې وه.

د ډزو يو باران جوړ شو خو دا ډزې د هرات د اوسېدو پر سيمو نه وې. بم غورځوونکو جنګي الوتکو هم په لړ لوړوالي الوتنې پيل کړې... هليکوپترونه هم له بوړنوونکي غړ سره داسې الوزي چې ته به وايې د کورنو بامونه کښېکاږي... دا هرڅه به کړي ورځ تر هغو روان وي چې څو جګړه ييزې ډلې د ښار پر واټونو او کوڅو د پرمختګ په حال کې تر ولايته او د راډيو تر تم ځايه رسېدلې نه وي.

په پای کې مجاهدينو له دېوالونو د خپلو وسلو په راغورځولو لاس پورې کړ، چا په کې تر مځکې لاندې او يا جوماتونو کې ځانونه پټ کړل، ځای- ځای مقاومت هم وشو او د ډزو غړونه پورته شول... جګړه ييزو ډلو په تېره بيا هغه وخت چې زموږ وګړي ووژل شول د ډزو ځواب د ډزو په باران ورکاوه.

د ماښام تر شپږو- اوو بجو په هرات کې کراري شوه.

د دويمې ورځې تر پايه هرات بشپړ پاك شوی او واکمني په کې بشپړه ټينګه شوې وه. زيانونه؟ زيانونه ستر وو. او دا د دغې دندې د سرته رسولو ډېره ګرانه بيه وه. د شپې پر اتو بجو مې د دفاع وزير اوستينوف ته خبر ورکړ چې ښار بشپړ تصفيه شوی، واکمني پر ځای ده او زه کندهار ته الوزم.

# يوولسم څپرکی

چې ژر له دغه ځایه والوزم- دا و هغه څه چې زما زړه یې په تلوسه کې و. خو کندهار ته له تګ سره چیریومنیخ مخالفت وکړ. ده لکه چې د دویم لمبر قول اردو د قوماندان له سلاکار جنرال لیفچنکه سره تماس نیولی او هغه ورته ویلي وو چې د حرکت د نږدې او لرې لیږدېدنې د فني دستګاه د خرابۍ له امله د کندهار هوایي ډګر د دفاع وزیر او لوی پوځي سلاکار د الوتکې منلو ته چمتو نه دی. زه دې خبرې حیران کړم، دا ځکه چې د کندهار هوایي ډګر په لومړۍ درجه ډګرونو کې راتـه او د الوتنو د لارښوونې او لوري ورکونې سیستمونو یې کولی شوای د شپې او ورځې په هره شېبه او هر ډول جوي حالاتو کې د الوتکو منل شوني کړي. داسې برېښي چې هم د قول اردو قوماندان، هم والي، هم په سیمه کې د ا.خ.د.ګ او حکومت استازو په هغه شېبه کې زموږ ورتګ نه غوښته. څه، په دې توګه خو به هغوی د کوم شي د پټولو هڅه نه کوله؟

په عمومي ډول دا هسې خیالونه وو چې هرات ته خبرمه د الوتنې په تمه- تمه مې پرې خپلو مغزو ته تمرین ورکاوه. د حقیقت

جوتول يوازې په کندهار کې شوني کېدلی شول. خوبيا هم ما ټينګار ونه کړ: څه اړتيا چې سرې پر خپل برخليك لوبې وکړي په داسې حال کې چې درته وايي د شپې به په الوتکه کې نه راځې؟

دننه په سرويس ګاډي کې په هوايي ډګر کې څملاستم. خو رفيع، نجيب، سربلند، ګلابزوی او نور افغانان هرات ته ولاړل. خبره دا وه چې نجيب ته پخه پته لګېدلې وه، او ما په دې اړه غوڅ معلومات درلودل، چې دښمنانو د جوماتونو له ديوالونو د خپلو وسلو په غورځولو ځانونه په دريو جوماتونو کې ايسار ساتلي او الله (ج) ته په زاريو دي چې داهرڅه پرې په خير تېر کړي او په هرات کې د کړو ناروااوو بښنه ورته وکړي. په تقريبي ډول د هغوی شمېر ۶۰۰- ۸۰۰ تنو ته رسېده. د هغوی د نيولو دنده د خاد د رئيس پر غاړه وه. سربېره پر دوی، په هرات کې داسې نور مجاهد اسيران هم وو چې زموږ پر تبليغاتي پاڼو د باور له مخې يې ځانونه سپارلي وو او له بريمن څخه يې د بښنې هيله درلوده. د هغو شمېر هم لکه چې تر سلګونو رسېده، ځکه د جنرال پيتروخالکه د رپوټ له مخې پر ښار په دې بريد کې له ۲۵۰۰ نه تر ۳۰۰۰ دښمنانو ګډون کړی و. که وژل شوي او په جوماتونو کې د ايسارو کسانو شمېر ترې منفي شي نو څو سوه تنه ترې جوړېدلی شي. نجيب په دوديزه توګه له خپل خاد سره يوځای د جنګي اسيرانو چاڼ کاوه، ياني دا يې جوتوله چې څوك دې چېرته واستول شي: زندان ته، که کوم لرې ولايت ته يا د نيستی کندې ته... دا منل شوې وه چې زموږ يې په دغو چاڼولو کار نه شته او که کمه اړه يې په ما پورې درلوده هم، هغه يوازې له اخلاقي پلوه وه. اصلي مسوول نجيب و چې په خپل وار يې د ترسره شوي عمل په اړه ببرك کارمل ته راپور ورکاوه.

رفيع خپل مخکني قوماندان، د هرات والي کره ولاړ چې البته زما د تخمين له مخې د دې لپاره تللی و چې ورسره يو ځای د مړو وير وکړي او د ګناهونو بښنه وغواړي. د ډېرو څېزونو په اړه به سره

وغـړېږي. مـا بـه ډېر څه يـوازې لـه دې نـه ځار کـړي واى کـه د دغـو دوارو د خبرو لـه څرنګوالـي خبر شوى واى او لـه دې نـه هـم زيـات کـه دا پټـه راتـه لګېدلـې واى چې پـه سـرونو کـې يـې څه خيالونـه دي...

مـا لـه چـيريومنيخ نـه وغوښـتـل چې لـه نـور، زيـري او قـادر سـره يوځاى بې ځنـډه کـابل تـه ولاړ شـي. لـه هغـه نـه مې دا غوښتنـه هـم وکـړه چې سبا سـهار دې لـه دوى او سـامويلينکه سـره يـوځاى د ببرك مـانۍ تـه ځانونـه ورسـوي. غـوره بـه وي کـه چـېرې داسـې شـي چـې د حکومـت رئيس کشـتمند او اناهيتـا راتـب زاد هـم پـه دې کتنـه کـې برخـه ولـري. د ريـوټ ورکولـو حق بـه البتـه چې لـه نـور او زيـري سـره وي. پـرېږده چـې دوى پخپلـه هـرڅه پـه ترتيـب سـره ووايـي: يـانې دا چـې لومـړى څه خبـره وه او وروسـتـه بيـا څه پـېښ شـول. چـيريومنيخ او سـامويلينکه دې خپـل غوږونـه تـېره ونيسـي او پـه يـاد دې سـاتي چـې افغانـان څه وايـي، پـه څه ډول او د څه شـي ويـل نـه غـواړي او څه شـى پـه څه ډول تعبـير او تفسـيروي.

مـا لـه چـيريومنيخ نـه دا هـم وغوښـتـل چـې د لومـړۍ لمـبر قـول اردو لـه قومـاندان ډګروال خليـل سـره دې وګوري او د کـابل پـه روزنـيز مرکـز کـې د پيـل شـوې چـارې د سرته رسېدو خبره دې ورسره وڅېړي. هغـه زمـا د غوښتنې د منلـو پـه ترڅ کـې ورزياتـه کـړه چـې غـوره بـه وي کـه پـه روزنـيز مرکـز کـې د افغانـانو لپـاره د يـوې "ډالـۍ" غـم وخـوړل شـي.

- اى چـيريومنيخ، لـه دغسـې سـرګرځېدو وروسـتـه ګنـې اوس دا "د ډاليـو" وخـت دى؟!
- اى جنرال صاحب هرڅه به سم شـي ځُرت مـه خرابـوه.
- اى چيريومنيخ د وخت پـه تـېرېدو بـه ګونـدې ربښتيـا هـم دا هـرڅه سـم شي خو ګرانـه اوس خـو دا ټول هسـې يـو غـم دى.

ماتـه اوس هـم لـه چـيريومنيخ سـره هغـه خـبرې پـه ټولـو جزئيـاتو پـه زړه دي. دا خـبرې کـه څه هـم نـه اوږدې وې او نـه لکـه چـې اوس بـرېښي د کـم ځانګـړي ارزښت درلودونکـې، خـو زمـوږ همت او زمـوږ وجـدان يـې

راویښناوه او تر هرڅه لومړی یې راسره مرسته کوله چې کړنې له مسلکي زاویې وارزوو.

- په هرات کې بری زمونږ و؟- زمونږ و.- او څه مو ترلاسه کړل؟ هیڅ مو تر لاسه نه کړل! غلیم مو مات کړ، سلګونه مړي مو پرځای پرېښودل او له دې نه ډېر مو ټپیان کړل.- وړاندې به څه کېږي؟ وړاندې نو څه دي؟

البته چې مونږ د غلیم د ژورو پلانونو یوه ستېه غوڅه کړه او البته همدا خبره خورا ډېره ارزښتناکه وه. له دې سره جوخت زه باوري وم چې د کابل د ارګ (اوسېدونکي) به چې له لومړنۍ وارخطایۍ او آن ترڅه ځایه له لومړني ډار نه په راوتلو اوس په عمومي ډول له هغه څه نه خوښ وي چې پېښ شول. ځکه چې د هغوی لپاره چې څومره خرابېږي، هومره ښه کېږي. (ستا په بېخیرۍ کې زمونږ خیر دی)
دغسې یو تناقض موجود و.

- ځه نو، که ډالۍ غواړې او که بې ډالۍ ستا خپل کار دی. یوازې ننداره سمه او پخپله د افغانانو په متو سمبال کړه. پر لومړۍ قول اردو ډډه لګوه. د دې چړې په مرسته باید مونږ ځانونه له سمبالیز (سازماني) او اخلاقي پلوه بېرته سپین کړو. له دې لعنتي هرات وروسته باید بېرته پر پښو ټینګ ودرېږو او د دې کار لپاره د افغانانو له څواك نه تروسه وسه ګټه اوچته کړو.

زه په سپرلۍ ګاډي کې یوازې پاتې شوم. نه مې غوښتل چې هیڅوك وګورم، درانده سوچونه مې په سر کې ګرځېدل. که مې کړای شوی چې تېر مهال ته بیا ستون شم او هغه حالات د اوسني دریځ له مخې وارزوم (تحلیل کړم) نو ما به ښایي له هرڅه نه انکار کړی وای! ځکه اوس په تېره بیا له ورایه څرګندېږي چې: هغه یوه ناپایه غمیزه (تراژیدي) وه چې متن یې نیمګړی، څېرې (پرسوناژونه) یې خراب او لوبغاړي یې تر دې هم بې خونده وو. او زه د دغې غمیزې یو ډېر فعال

خو ورسره سره یو داسې تر سره کوونکی وم چې نه د چا په کار وم او نه مې ځای دغلته و...

یو وخت رایمون پوآنکارې، ظاهراً د فرانسوي لښکرو د اعلی قوماندان مارشال ژوزف ژوفر د ارزښت د لړولو لپاره ویلي وو چې پر جنرالانو باید د جګړې د سرته رسولو باور ونه شي. هه، خبره داسې ده! دلته باید جګړه د وسله والې مبارزې ترځنګ د یوې سیاسي او اقتصادي مبارزې او دیپلماتیکې لوبې او تصادم په توګه په پام کې ونیول شي. داسې بریښي چې د پوآنکارې په آنده (عقیده) جنرالان د دغو کوټلو هڅو د مجموعې د پېژندنې (درک) وس نه لري.

ښایي ترڅه ځایه د هغه خبره سمه وي. خو د فرانسې د زاړه جمهوررئیس بیا په دې بله خبره سرنه خلاصېده: چې د جګړې پیل باید د سیاستوالو په لاس ونه شي. دا ځکه هغه ثوك چې په دې نه پوهېږي جګړه څنګه باید پای ته ورسېږي، باید د هغې د پیل اجازه هم ورنه کړل شي!

د نیکلای اګارکوف په مشرۍ ستر درستیز د افغانستان د جګړې له پیل سره دغه هېواد ته د عسکرو له لېږلو سره مخالفت کاوه. خو چې څه ډول دا جګړه پای ته ورسول شي، پرېږده چې جنرالان ېرې خپل سرونه کدوان کړي.

خو د افغانستان جګړه د هرډول پوخي پوهې له بریدونو بهر روانه وه. آن د افغانستان دا جګړه د کلمې په بشپړه مانا ښکېلاکګره (استعماري) جګړه هم بلل کېدلی نه شي. په ښکیلاکګرو جګړو کې د پوځیانو متې پرانستې وي او له غلیم لوري سره یې چلند ډېر سخت او کله کله آن د اخلاقو مخالف وي. خو دلته به هم جګړه کوي او هم به د خپلې "تنې خلا ساتې" ځکه چې عسکر (د دوست) حکومت په غوښتنه استول شوي دي. خو جګړه به څوك کوي او چې هغه هم پحپله د افغانانو خلاف وي؟ ځکه نو پایله (نتیجه) دا راوتله چې جګړه په عمومي توګه مونږ یانې څلوېښتم لښکر پرمخ بیایو او د

افغانستان پوځ په ټول وس له جګړه ییزو عملیاتو، د تروریستانو او ورانکارنو د ورکولو (امحا) له چارې ځان ګوښه کول غواړي.

یو زوړ فورمول چې په خپلې انسانپالنې کې خورا ستر دی وایي: جګړې له پیل وړاندې ګټل کېږي. په بله ژبه دولتونه خپلې سیاسي، ایدیالوژیکي او نورې زېرمې د خپل ولس پر ښېرازۍ لګوي او په دې توګه آن د ډېرو لوړتیا غوښتونکو هدفونو په ګډون هرډول موخه ترلاسه کېدلی شي. دغسې یو سیاستوال به چېرته وي چې دا فورمول په عمل کې پلی کړي؟ که نه، دغه فورمول خورا پر خیال (ایدیالیزم) ولاړ دی؟

... زه ډېر ښه پوهېدم چې پښتنوري مشران مې په هرات کې کومې خواته د ښویولو هڅې کوي. نږدې و چې په دغه لومه کې وهم ښبلم. د هغوی اټکل دا و چې که د ببرك د رژیم خلاف غټې ولایتونه راپورته نه شي کړی نو بیا خو به پر هرات برید د شوروي لښکرو له خوا تر سره کېږي. مجاهدینو ونه شوای کړی د شپې په پرانستې جګړه کې هرات تر ګوتو کړي: ولایت، راډیو او هوایي ډګر زموږ په لاس کې پاتې وو. په نورو ولایتونو کې چې څوك د هرات د تېرې شپې له جګړې نه هېڅ خبر نه شول نو دغلته د مجاهدینو هڅو ملاتړ ونه مونده. خو هرات پخپله نږدې ټول د مجاهدینو لاس ته ورغلی و!

نو هله ښاغلي لوی پوځي سلاکار پرښار د ورختلو امر ورکړه، امر ورکړه چې بمونه وغورځوي، هرڅه وسوزوي، وران کړي او تصفیه کړي. وروسته به نو بیا په افغانستان کې د شورویانو د بېرحمۍ او ځناورتوب خبرونه په چټکۍ ټولې دنیا ته رسېدلي وای.

په سر کې مې هغه وخت دا سوچونه چې د هرات د هوایي ډګر د ځغاستې کرښې ته نږدې په سپرلۍ ګاډي کې دننه پر اوږده څوکۍ یوازې غزېدلی وم، تر هغو ګرځېدل چې څو ور پرانستل شو...

ما څراغ ولګاوه او جنرال پیتروخالکه مې ولیده. هغه ډېر احساساتي برېښېده.

- وبښئ... خورا مهمه خبره ده.
- وواياست.
- نجيب او خاد په هرات کې لټونتوب پيل کړی دی. اعدامول روان دي.
- اسيران؟
- هو صاحب، بې پوښتنې او بې محاکمې.

زه خبر وم چې د طب ډاکټر نجيب الله ډېر سخت زړی سړی دی. خو له دې سره سره مې تصور هم نه شوای کولی چې زموږ د تبليغاتي پاڼو له خپرېدو وروسته دې چې په کې ويل شوي وو: که غليم تسليم شي بښنل کېږي، بيا هم د هغوی د اعدام امر وشي. دا نو سوچه ځناورتوب و.

- ما غوښتل چې د اعدامونو مخه ونيسم خو نجيب راته وويل چې دا پخپله د ببرك امر دی. سترجنرال صاحب، هلته بوربنوونکې...

پتروخالکه پر څوکۍ ورکوږ شو په داسې حال کې چې ژبه يې بندېده ويې ويل:

- او په جوماتونو کې ملايانو الله ته د رحم لپاره لاسونه په دوعا هسك کړي دي.

دايې وويل او بيا يې مخ په دواړو لاسونو ونغښته او يوه لنډه ـ کۍ، نيولې کړيکه يې له خولې ووته...

- جنراله، چوپ شه، حوصله دې پرځای کړه. هله چيريومنيخ راخبر کړه. او بيا مې د ټلفون غوږۍ په لاس کې ورکړه:
- ژر شه خبروه يې!

ای ببرکه، ببرکه! اوس څرګنده شوه چې ته رذيل هم يې او ټګ هم. موږ خو ژمنه کړې وه چې تسليم شويو اسيرانو ته به څه نه وايو. ښه يې ويلي چې کمزوری سړی هم بېرحمه وي او هم چلباز.

- جنرال چيريومنيخ،- او پيتروخالکه د ټلفون غوږۍ ماته راکړه.

- جنرال صاحب چیریومنیخ! له سلام وروسته کلام دا دی چې غوږ راته ښه ټینګ ونیسه... نجیب د ببرك په لارښوونه په هرات کې یو مخیز اعدام پیل کړی دی.
- پوه شوم...
- همدا اوس باید ته، ساموېلینکه او ګل آقا له ژباړونکي پرته ځانونه ارګ ته ورسوئ او د اولتیماتوم په ژبه وغواړئ چې تر...
او ما چې ساعت ته وکتل نو پنځلس کمې پنځه بجې وې:
- ... تر اتو بجو په هر ډول چې کېږي باید د دغې بې قانونۍ مخه ونیول شي.
- پوه شوم.
- تا او ویکتور (ساموېلینکه) ته د هرډول خرګندونو امکان شته. خو یوه خبره چې باید په پام کې یې ونیسئ دا ده چې له دغه رذیل... سره له فزیکي ټکر نه ځان وساتئ.
چیریومنیخ ځواب راکړ:
- صاحب، هرڅه به اجرا شي.
- د سهار له اوو- اتو بجو نه مخکې باید ما ته بېرته معلومات راکړې.
- صاحب، همداسې به وکړم.
او پیتروخالکه ته مې امر وکړ:
- هرات ته ځان ورسوئ او د نجیب مخه ونیسئ. له هغه سره ډېر سخت چلند وکړئ او (د لارښوونو د سرته رسولو) غوښتنه ترې وکړئ.
زما له خولې نه بې اختیاره راووتل:
- دا ټول چې دي د سپي زامن دي. په تېره بیا دا... نجیب!
پیتروخالکه ولاړ.
ما خپله، خپل ځان ته ویل: سترجنراله آرام شه، آرام شه. تا خو ډېر رذیلان او له زړونوتش وګړي لیدلي دي. خو داسې!...

ژر به رڼا شي. کندهار ته الوتنه په مخکې ده.

سهار ایلمار برونینیکس خبر راکړ چې نجیب لاتراوسه په جوماتونو کې د پټو شویو مجاهدینو په اړه د جوماتونو له ملا امامانو سره کومې موافقې ته نه دی رسېدلی. خو د برونینیکس په وینا اعدامونه لااوس هم روان دي.

ما له ځانه سره فکر وکړ: مانا دا چې چیریومنیخ ارګ ته په ورتګ بریالی شوی نه دی. او ایلمار خبره اوږده کړه:

- په ښار کې اداره بیا ټینګه شوې. ګزمې ژوانې دي. والي آرام دی او سربلند او جنرال بابینسکي په اداري زون کې خپل- خپل ځایونه نیولي دي.

کندهار د الوتکې د ورتګ خبره ومنله.

برونینیکس د تلفون غوږۍ پورته کړه، په غوږ پوري یې ونښلوله او ما ته یې وویل:

- چیریومنیخ دی.
- سترجنرال صاحب بې پردې (له شفر پرته) غږېږم. که اورئ مې اطمینان.* د چیریومنیخ غږ له ورایه راته، خو جوت و:
- پوه شوم، اطمینان.
- زه، ملګری "او" او چیچکی هغه ته ورغلو. اطمینان.
- هغه یوازې و؟ اطمینان.
- لههغه سره هغه ښځه وه خو "او" نه و. اطمینان.
- غبرګون (عکس العمل) یې څه و. اطمینان
- په پیل کې یوه هنګامه وه، خو وروسته دواړو ځانونه راکابو کړل (کنترول کړل). هغه لاآن خان زړور- زړور کاوه. اطمینان.
- اصلي خبره کوه. اطمینان.

---

* د مخابره چیانو په اصطلاح کې "اطمینان" د جملې په پای کې د دې لپاره راوړل کېږي چې یو مقابل لوري ته د خپلې خبرې د پایته رسېدو خبر ورکړي او بل ترې د پوهېدو ډاډ ترلاسه کړي. (د.ج)

- ما ترې وپوښتل: ډاکټر ته تاسې ویلي چې "عملیات" تر سره کړي؟ هغه ځواب راکړ: "هو، د کور ټولې سپړې باید ووژل شي"- او بیا یې په سوك مېز ته ګوزار ورکړ. ما ترې وپوښتل: "خو هغه ژمنه چې ټانکیست، ډاکټر او فیلسوف ورکړې وه؟ له هغې نه خو سر وغړول شو". د هغه ځواب دا دی: "ما هغوی ته دا اجازه نه وه ورکړې. دا د لېونو کور دی!" دی په خونه کې یوې او بلې خواته ځي او هغه (اناهیتا د.ج) چوپه ده، چیچکی (ګل آقا- د.ج) ژباړه کوي.
- دلته نو ملګري (له چیریومنیخ سره ورغلی بل روس جنرال- د.ج) خبره واخیسته:
- "د ژمنې ملاتړ خو غبرګونو وروڼو (نور او زیري د.ج) هم کړی و.
- هغه ځواب راکړ: "د دې هرڅه پړه یوازې پر ما او ډاکټر (نجیب د.ج) ده.
- زه: "الله څه شو، قرآن څه شو او شریعت؟"
- هغه: "زه اته ئیست (لامذهبه) یم او ډاکټر به هرومرو دغه عملیات بشپړوي!!"
- ملګری: "لعلونه* به په دې خبر شي او بیا به شپږویشتمو لوبو ته د ګډون ټکټ درنه کړي*. عملیات ودروئ!"
- او بیا ده هغې ته وکتل او ویې ویل: "زه به فکر وکړم". او بیا همدغه "لامذهبه" خدای ته زاری کولې.
- ما او ملګري دواړو پرې زور اچوه: او "خبره غوڅه کړئ که نو همدا اوس لعلونو ته خبر ورکوو".

---

* څرنګه چې خبرې د مخابرې له لارې کېږي چې غلیم یې هم د اورېدو وس لري نو دواړه روس جنرالان هرڅه په شفر کې رانغاړي. دلته له "لعلونو" نه مقصد "سره" یانې "روسان"
* له شپږ ویشتمو لوبو نه منظور د شوروي اتحاد د کمونست ګوند شپږ ویشتمه کنګره وه چې ببرک یې په رسمي توګه ورته بللی و. دلته روس جنرال هغه ګواښلی که یې غوښتنه ونه مني په هغې کې ګډون نه شي کولی (د.ج)

- ده یو ځلي بیا هغې ته وکتل. هغې سپین پوړنی اوچت کړ او نری غونډې یې وښانده. دلته نو موږ پوه شو چې خبره غوڅه ده. اطمینان
- له تا او ملګري نه مننه کوم. اطمینان.
- د هغه له سري ټوټې (څټ) نه جوړه چپن په غاړه وه چې زرین تارونه پرې راګرځېدل او ځلانده زرین مزي ترې تاو وو. په پښو یې د ګوډ تیمور څپلکې وې. یوه څپلکه له بلې لنډه وه او د هغې پر زرغونې لمن سرې لیکې تېرې وې او پر غاړه یې نری پوستین تاو و. د چین د امپراتوریسې ځیسې څپلکې یې په پښو وې.
- ته خورا ځیر سړی یې. اطمینان.
- د هغې ښکلا سړی خوري. اطمینان.
- زه د ټوکو وخت نه لرم. لړمون مې خوړین دی لکه پیشوګانو چې خوړلی وي.
- نیمې پیشوګانې پخپله اخلم. نیمې ملګري ته ورکوم. وارخطا کېږئ مه.
- له ملاتړ نه مو مننه کوم زما عزیزانو.

په همدې سره مخابره یې رابطه پای ته ورسیده او ما دستګاه مړه کړه. تر کندهاره ۲۰- ۳۰ دقیقې الوتنه پاتې وه. رفیع په رسا روسي ټکو کې وویل:

- نجیبه، بوینه (بویناکه) ګیدړه.

او ما هم د هغه په وزن ورزیاته کړه:

- ببرك هم همداسې درواخله.

رفیع په دې خبره چوپ پاتې شو. هغه محتاط و. الوتکې ځان کوزېدو ته جوړاوه.

پرهوایي ډګر د دویمې قول اردو قوماندان تورنجنرال میرطهماس (رووف) زموږ هرکلی وکړ. دغه پنځوس کلن خوارینجي (ډنګر) سړي چې ونه یې له منځنۍ کچې لږ څه لوړه او ځېرې یې تر

څه ځایه ښکلی جوړښت درلود، ښه نوي پوځي کالي اغوستي وو. پر شونډو یې داسې موسکا خپره وه چې له ورایه په کې د غوړه مالۍ او ترڅه ځایه د څرګندې پرې (ملامتۍ) نښې بریښېدې. د قول اردو د قوماندان سلاکار لیف چنکه، د کندهار د زون سیاسي سلاکار کوم څوک چې په نامه کې یې "ش." راته او البته چې د اویایمې لوا قوماندان ډګروال شاتین هم له ده سره وو. ما محمد رفیع ته وخت ورکړ چې له ما نه لومړی له الوتکې کوز شو. جنرال لیف چنکه په منډه او ژر ژر، خو داسې چې څوک یې وانه وري وویل:

- جنرال پیتروخالکه له هراته تاسې ته خبر درکړی چې: په جومات کې ناست دښمنان بندیان شول. اعدامول درېدلي. په ښار کې کراري ده.

دغه هومره پیښې مې له اوږو کوز شو. خو له دې سره سره د دې هرڅه په اړه زوره پلټنه په مخکې وه.

زموږ پلان دا و چې: رفیع  په دویم قول اردو کې پر کار بوخت شي، پنځلسمې فرقې یو غونډ، د اوومې زغره والې لوا د ټانک (شوبلو) یو کنډک او ورسره ورسره کیدی شي ۴۳ لمبر پلې غرنی غونډ معاینه کړي.

دویم قول اردو له لویدیز لوري د کندهار زون او له کندهاره تر کابله د غزېدلي لوی واټ د ساتنې مسوولیت په غاړه درلود. د افغانستان د وسله والې مبارزې په سیستم کې دغې قول اردو د ښې سمبالتیا له امله نوم درلود. ترکوم ځایه چې ماته پته وه د قول اردو قوماندان میرطهاس (رووف) په خلق یا پرچم پورې تړلی نه و. دی دودیز پوځي و، چې ښه خدمت یې کړی و او د قول اردو د قوماندان په توګه په خپلو دندو سم پوهېده. اړیکې یې هم له سلاکار لیف چنکه سره روغ وو.

د کندهار والي نورالفك (نورالحق علومي- د.ج) و، چې په رتبه ډګروال او په زړې اشرافي کورنۍ پورې تړلی و. (په دغه زون کې د

ا.خ.د.ګ. د مرکزي کمېټې مسوول د ببرك کارمل وراره "دده د ناسکه ورور زوی" و.) څرګنده ده چې دواړه د پرچم فعالې څېرې وې. دوی هغه کوله چې په "کندهار زون" او دویمې قول اردو کې پرچم "وټومبي" (راوټوکوي) خو چاره یې دومره ښه پرمخ نه تله ځکه چې د لوا ګانو او غونډونو په کچه د "پرچمیزم" په وړاندې مقاومت کېده او د "خلق" نظریې عامې وې. پخپله میرطهاس دومره په سیاست ورګډ نه و.

محمد رفیع چې ما ورته د عمل بشپړه خپلواکي ورکړې وه د پنځلسمې فرقې یو غونډ او د اوومې زغره والې لوا د شوبلو یو کنډك معاینه کړ خو ۴۳ پلې غرني غونډ ته په ورتلو بریالی نه شو. رفیع ما ته معلومات راکړل چې د قطعو داکمال د. کچې، د قطعو او جزوتامو د سمبالښت او د وسلو او تخنیك له حالت نه خوښ دی. وزیر په دې توګه زموږ هغه ارزونه (ارزیابي) تایید کړه چې د دویمې قول اردو په اړه مو درلوده.

هغه وخت زه په اویایمې مستقلې موتوریزه فرقې کې پر کار بوخت وم. د لوا په وضع الجیش کې چې د ژمي د شرایطو لپاره جوړ شوی و (یادونه وکړم چې دغه وخت جنوری څلورمه اووه نیے روانه) په اصطلاح "مودولونه" یانې داسې بیلګیز (نمونه یي) قاغوشونه جوړ شوي وو چې د اړتیا وړ ټول شیان یې دلودل: خوړنځی، تشنابونه، د استراحت خونې، د سیاسي تنویر کوټې، د.محاربوي تخنیك د درولولپاره تم ځایونه، د تیلو د اچولو لپاره ځانګړي پم سټیشنونه (ټانکونه) لنډه دا چې هر هغه څه چې د یوه پوځي ګارنیزیون لپاره اړین (ضروري) وي. شاتین هره خوا ښه نظم ټینګ کړی و او هرلوري ته د هغه د قوماندانی (بولندویی) د غښتلي لاس نښه برېښېده.

په افغانستان کې دد غسې صحرايي پوځي ښارګوټو شمېر د (۱۹۸۱ کال د جنورۍ تر پایه تر ۶۷ رسیدلی و. البته چې افغانان له دې هرڅه خبر وو او لیدل یې چې شوروي د څومره اوږدې مودې لپاره

اړولي دي. همدا خبره مجاهدینو ته ښه پلمه شوې وه چې په مسلمان افغانستان کې د کفارو دشتوالي خلاف تبلیغاتو ته زور ورکړي. په دې سره د ببرك كارمل او شوروي پوځونو خلاف د هغوی د مبارزې دریځونه پیاوړي کېدل. خو د شوروي پوځي ټولګیو جنګیالو باید هم خپل ژوند ترڅه ځایه سمبال کړی وای، ځکه نو په ټول هېواد کې (دغسې) ښارګوټو جوړېدل روان وو...

ما د لوا له افسرانو سره د ټولي د قوماندان تر بریده وکتل. ټولو په یوه غږ هماغه خبره کوله چې په شمال کې کېده: جګړه ګرانه ده خو کوي به یې. د پنځلسمې پلې فرقې او اوومې زغره والې لوا جزوتامونه چې کله له شوروي اویایمې مستقلې موتوریزه فرقې سره په ګډه ډګر ته ووځي، نو بد نه وي، خپل وس چار کوي. خو چې کله یوازې وي نو یوازې (د کاغذ پرمخ) د جګړې د ډګر پر نښه کولو بسنه کوي. خو څرنګه چې د کندهار زون جنوب لورته د اوسېدونکو شمېر ګڼ نه و، نو موږ د خپل یا افغاني پوځ ټولګي په کلیو کې نه وو اچولي. په عمومي ډول دغو ټولګیو د کندهار ساتنه کوله، په هغه کې یې د بیړنۍ (فوق العاده) حالت او د شپې د ګرځبندیز مقررات پلي کول. اویایمې لوا لکه د ورانډې د کندهار- کابل لویه لار ساتله، استخباراتي چارو ته یې زور ورکړی و او که به اړتیا وه نو د کندهار شمال او شمال ختیز لور ته په هماغه مشهورو انګوربڼو کې به یې جګړه ییز عملیات تر سره کول.

رښتیا ما له شاتین نه وپوښتل:

- له هغو عملیاتو وروسته اوس انګوربڼونه په څه حال کې دي؟

هغه ځواب راکړ:

- تر ډېره بېرته راجوړ شوي دي. ښایي د ۸۱-م. کال حاصل هومره شي چې تېر کال و.
- خدای دې وکړي!...

مـا ددې خبرې لـه جوتولـو سـره مينـه درلـوده چـې د هـرات د پـېښو پـه درشـل کـې پـه کندهـار کـې څه تـېرېدل. مـا تـه ويـل شـوي وو چـې پـه کندهار کـې ورځني ژوندانـه عـادي بڼه درلـوده.

د شـپې لـه خـوا د ګرځبنديز مقررات سم پـه پـام کـې نيـول کـېدل. خـو پـه وروسـتيو درې- څلـورو شـپو کـې ملايـانو پـه ځانـګړې شـوق او جذبـه (د الله اکبر) نـارو تـه زور ورکـړی و. د ولايـت او پـه تـېره د کندهـار د زون د کـارکوونکو پـه منـځ کـې يـوه مرمـوزه شـان نـاکراري تـر سـترګو کـېده. د ولايـت اداري کـارکوونکو د دويمـې قـول اردو د قومـاندان او درسـتيزوالۍ لـه سـلاکارانو او دغـه راز د اويـايمې موتوريـزه لـوا لـه افسرانو سره له غوره مالـۍ ډك ځانـګړې چلند پيـل کـړی و.

يـو ځلـې يـې د کـوم جشـن پـه ويـاړ (اوس مـهم نـه دی چـې کـوم جشـن و) شـورويان د غرمـې مېلمسـتيا تـه وربللـي وو. پـه همدغـې مېلمسـتيا کـې پـه غـوره مالـۍ د پوځونـو ګډې هـڅې او د شـوروي او افغـان ولسـونو دوسـتي پـه ځانـګړې تـوګه سـتايل شـوې وه. دې خـبرې، زمـوږ قوماندانـان اندېښمـن کـړي وو. پـه تـېره بيـا چـې افغانـانو پـه لـوی لاس د شـوروي افسـرانو مېلمسـتيا ځنډولـه او خـبره آن د مـابنام د خـړې تـر خپـرېدو اوږده شـوې وه.

خـو شـورويان هوښـيـار راوختـل. دوی د خپلـو کوربنـو کـړه- وړه پـه دې وروسـتيو ورځو کـې د کندهـاري ملايـانو لـه کـړو وړو سـره پرتلـه کـړي وو، چـې د دود خـلاف پـه ځانـګړو تشـريفاتو لمونځونـه کـوي او دا پـايلـه يـې راايسـتلې وه چـې کومـه "ډالـۍ" د جوړېدو پـه حـال کـې ده.

زمـوږ وګړو پرېکـړه کـړې وه چـې د. افغانـانو غـوره مالـۍ تـه ځانـګړې غـبرګون وښيـي: د اويـايمې لـوا درې ټولـي د غليـم د بريـد پـه وړانـدې د واك د سيمه يـيزو ارګانـو د سـاتنې او ننګې لپـاره کندهـار تـه وروسـتل شـول او قومـانده يـې بشـپړه د قـول اردو او ولايـت مشـرتابه تـه وسـپارل شـوه. خـو البتـه چـې د راډيـو تـم ځای د نـورو مـهمو ځايونـو ترڅنګ زموږ د پاملرنې پـه مرکـز کـې و.

وروسته ماته جوته شوه چې همدغو کړنو د هرات د پېښو د تکرار په مخنیوي کې که اساسي نه وي، نو ډېره ونډه هرومرو درلودلې ده.

همدا چې د هرات د پېښو انګازه تر کندهاره ورسېده نو د اویایمې لوا قطعې بشپړې تیارسئ شوې وې. جنرال لیف چنکه پنځلسمې پلې فرقې ته د بشپړې تیارسئ امر کړی و او پر واټونو د ګزمې لپاره یې د دویمې قول اردو اوومې زغره والې لوا یو شوبلیز کنډک ښار ته وروستی و.

البته چې دې کار زه بشپړ اقناع کولم: له هرات وروسته په کندهار کې د پاڅون د مخنیوي لپاره پر خپل وخت تدبیرونه نیول شوي وو.

ما خپلو افسرانو ته د خپل هېواد او افغانستان د حالاتو معلومات ورکړل، د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسېدو څرنګوالی او د هرات پېښې مې ورته انځور کړې او هیله مې ترې وکړه چې په شتو شرایطو کې د پوځي ژوندانه پېټې په نره او زغم پورته کړي. په عمومي ډول زما خبرو د اورېدونکو زړونو ته لار کوله.

فکر کوم د کندهار په اړه مې هرڅه ویلي وي.

ما شپه په اویایمې موتوریزه لوا کې په سپرلۍ ګاډي کې تېره کړه. برونینیکس او کارپوف څنګ ته وو. رفیع او یاور یې د دویمې قول اردو له قوماندان میر طهماس سره پاتې شول. د شپې ناوخته چیریومنیخ او ساموییلینکه په ټلفون زما لټون پیل کړی و. هغوی په سفارت کې د وینا له اورولو او په مړه خېټه د ډوډۍ له خوړلو همدا اوس راستانه شوي وو.

ساموییلینکه وویل چې په سفارت کې شورماشور جوړ دی.

- ودکا هم څښې. او له دې سره سره کازلوف زموږ پر خوا دی. نن یې د فکرت (تابییف) غوږونه سره کړل ورته ویې ویل چې د رذیلانو روزنه او پلوي کوي. تابییف یې هم لحاظ ونه کړ او کازلوف ته یې وویل ته خو هسې د خبرو بوجۍ یې سیاستوال خو

نه يې! څرګنده ده چې کازلوف خپله پياله ډکه کړه، په سر يې واړوله او زمزمه يې وکړه: "آخ چې دا شپه دومره ښه څه له وه؟ نه به سيني درد کاوه نه به روح عذاب ايسته..." او ولاړ.

ما د ساموېلينکه خبره ورغوڅه کړه:

- څه پرېږده، ټوکې دې بس کړه. په روزنيز مرکز کې د ننداريې غم وخورئ. زما تر درتګه چې ورنه شئ. خبرې په همدې ځای پای ته ورسېدې.

سهار وختي په دريو چورلکو (هليکوپټرو) کې ګرديز ته والوتو. د الوتو پر وخت مو احتياطي تدبيرونه نيولي وو، يانې زه او رفيع په جلا- جلا چورلکو کې کېناستو.

ګرديز د درېيمې قول اردو قرارګاه وه. په دې قول اردو کې درې فرقې: ديارلسمه، څوارلسمه او پنځويشتمه او ۲۲ لمبر غرنۍ غونډ او يوه د کوماندو قطعه وه. قول اردو د پکتيا او پکتيکا په ولايتونو کې ځای پرځای وه او د جنوب له لوري يې د خوست- کابل او غزني- کابل پر لويو لارو د کابل ساتنه کوله. د قول اردو قوماندان د يوې لرغونې او مشهورې کورنۍ غړی تورنجنرال غلام نبي و.

د دود له مخې د قول اردو قوماندان بايد د دفاع وزير مخې ته راغلی وای. خو د ځغاستې کرښې ته څېرمه د قول اردو درستيزوال او البته چې د قوماندان سلاکار (تحربه لورنکي، له ځواکه ډك او آمرخويه) بريد جنرال لېنېرچيك زموږ هرکلي ته ولاړ وو.

مخکې له دې چې زه د قوماندان په اړه وپوښتم، درستيزوال رالومړی شوويې ويل چې هغه په خپل کور کې دی.

د دفاع وزير خپله غوسه پټه نه شوه کړی. ما وپوښتل: چېرې ځو؟ رفيع اله درستيزوال سره تر غږېدو وروسته وويل چې د قوماندان کورته ورځو.

- ځئ چې ځو.

په افغاني معيارونو عادي مانې وه چې درې متريز دېوالونه ترې تاو وو او دننه په کې يو بڼ او لمبا ډنډ هم وو. له ځمکې سره سره چې هرڅه کنګل شوي وو، دلته دَ ونو- بوټو پالنه تر سترګو کېده.

د مېلمنو خونې ته ورننوتو. له پرانستې وره هاخوا مې سالون تر نظره شو چې سرتر پايه په غاليو کې ډوب دی. بر دېوال ته چې د هسك لور ته ترې درې کړکۍ وتلې وې، يو ۴۵ يا ۴۷ کلن سړی چې ښايسته کوږې کوږې (تاو- تاو) وېښتان او مۍ وريجې ږيره يې درلوده او شاوخوا ترې بالښتونه راچاپېره وو، ناست دی. چپنه يې په غاړه، ورېښمين کالي اغوستي او جورابې يې په پښو وې.

همدا د افغانستان دوسله وال پوځ تورنجنرال او د درېيمې قول اردو قوماندان غلام نبي و.

د کوربه ښۍ خوا ته په ململ پوښلي ميزونه ايښي وو چې پر سر يې مېوې او شربتونه انبار شوي وو.

رفيع په بيړه خپل بوټونه وايستل او کوږ- کوږ په لنډو ګامونو غلام نبي ته ورننږدې شو. کوربه رفيع ته لاس ورکړ او (اى الله!) د دفاع وزير يې پر لاس شونډې کېښودې. وروسته بيا دواړو درې ځله يو د بل مخونه ښکل کړل.

دا لومړی ځل و چې ما داسې يوه صحنه ليدله.

ما هم خپل بوټونه وايستل خو نور څه وکړم؟ ښه دا وه چې ما د افغاني پوځ کالي بې له دې چې رتبه ترې وبرېښي اغوستي وو او که نه نو عجيبه به واى که چا د شوروي پوځ جنرال بې بوټونو په جورابو کې ليدلی وای!

غلام نبي ته ښه ورنږدې شوم او ومې ليدل چې لاس يې راغزولی چې ښکل يې کړم، خو ما وويل دا... به مې يې ښکلوي!

هسې لاسونه مو سره ورکړل او مې ليدل چې څنګه د کوربه پر څېره سيوری خپور شو خو مخونه مو له دوديز هرکلي سره سم درې ځله يو له بل سره ومو ښل.

ما ته پته نه شته چې وړاندې جنرال ژالنېرچيك د هغه لاسونه ښکل کړي که څنګه خو فکر کوم چې نه به يې وي. هرڅه چې وي، خو داخل يې په لاس ورکولو بسنه وکړه. طبيعي ده چې د قول اردو درستيزوال په غوره مالي د کوربه پرلاسونو وړپرېوت او د ژباړونکي خو پوښتنه مه کوه. زما ژباړونکی کوستين همداسې هسکه غاړه پاتې شو او جنرال ته يې يوازې د سر په خوځولو سلام ورکړ.

کېناستو. عمومي لومړنۍ جملې مو يو بل ته سره وويلې. محمد رفيع نږدې په وازه خوله غلام نبي ته کتل او په څرګنده يې نه شواى کولى چې د وزير په رول کې ننوزي او خبرې يې د کاري بهير ته وغورځوي. دلته نو ما له مجبوريته نوښت ترګوتو کړ.

لومړى مې غلام نبي ته د هرات د پېښو حال تېر کړ. د قول اردو قوماندان له اوريدلو خبرو سره هېڅ مينه ونه ښوده. ښايي د هغه د فکر مارغه چېرته وړاندې- وړاندې په الوتو و.

ما وپوښتل چې دلته په قول اردو کې د چارو څه حال دی.

هغه بې له دې چې وشرمېږي، ځواب راکړ: د دې هرڅه حال الله ته ښه څرګند دی.

- البته چې الله ته څرګند دی، ځوك په دې کې شك کولی شي! خو کېدی شي چې دقول اردو قوماندان ما او وزير ته ووايي چې د پرسونل او تجهيزاتو د اکمال کچه څومره ده؟

خو غلام نبي په څرګنده وپوهولم چې دا د ده کار نه دی. مخکې ژالنېرچيك بيا بيا ما ته خبر راکړی و چې غلام نبي بيخي د قول اردو د چارو له څرنګوالي سره مينه نه ښيي.

د دې سرېي د کورنۍ مخورتوب او لرغونتوب او د ننګې هغه ځانګړي فرمان چې امير يې نيکونو ته ورکړی و، د ده لپاره د شتمن او ښېرازه ژوندانه ضمانت کاوه او ټاکلي عمر ته په رسېدو يې ورته د تورنجنرالۍ په رتبه تقاعد ټاکلی و.

ده خو هسې هم دغه رتبه درلوده.

د تېرې پېړۍ په اويايمو کلونو کې چې افغانان په خپله خاوره کې له انګرېزانو سره پر جګړه بوخت وو او د برتانيې يرغلګر پوځ ته يې ماته ورکړې وه، د ده نيکه هم ډګروال و چې (د جبهې) د مخکينو ټولګيو قوماندانې ورتر غاړه وه او د امير لاربښوونې يې بريالۍ ترسره کولې. دغه وخت نو ده ته ځانګړی فرمان ورکړل شوی و چې حکم يې کاوه: د ده پر ټولو اخلافو (او په دقيقه توګه پر مشرانو زامنو) بايد "غلام نبي" نوم کېښودل شي او عسکري خدمت بايد همداسې لکه چې د وی نيکه سرته رسولی، بشپړ کړي. دهغه نيکه د خپل عمر په پای کې د قول اردو قوماندانۍ او د تورنجنرالۍ رتبې ته رسېدلی و.

د ده د کورنۍ هر مشر زوی د ۱۳-۱۵ کلو په عمر بايد د افغاني اشرافو د نورو مخورو له زامنو سره د زده کړو لپاره انقرې ته واستول شي. او دغه زده کړې له پنځلسو تر اوولسو کلو اوږدېدلې... دغو افغانانو په انقره کې د خپلو زده کړو په ټول بهير کې حق نه درلود چې کورته راستانه شي. دغسې ټينګ دود و. افغاني اشرافو زلميانو چې به له زده کړو وروسته د بريدمن رتبه ترلاسه کړه نو نور لس- دوولس کاله به هم هلته د ډګروالۍ تررتبې پاتې کېدل او بيا به مجبور وو چې له ترکو نجونو سره ودونه وکړي. او د غلام نبي د کورنۍ بل مشر نارينه د افغانستان په وسله وال پوځ کې د دندې له بوختېدو سره جوخت د غونډ قوماندانې ترلاسه کوله. نور نو چاره پرهماغه جوړښت پرمخ تله: پنځه- شپږ کاله به يې د غونډ د قوماندانۍ دنده تر سره کوله، خو اساسي پام به يې خپلو کورنيو چارو او د ماشومانو، په تېره بيا د مشر زوی روزنې ته و. نور پنځه شپږ کاله به يې بيا د بريد جنرالۍ په رتبه د پلې فرقې قوماندانې کوله. او وروسته به يې بيا هم همدومره موده او البته چې دا ځل د تورنجنرالۍ په رتبه د قول اردو د قوماندانۍ چارې سرته رسولې.

دا ترک پلوه افغاني پوځيان چې تل د انقرې تر پاملرنې لاندې وو، د افغاني اشرافي دودونو لېږدوونکي وو او د ترکيې اغېز به يې هم په خپل چاپېريال او هم په پوځ کې خپراوه.

په دغو کلونو کې د غلام نبي زوی په انقره کې پر زده کړو بوخت و.

نو دغسې يوه سرې په يوه ډېر مهم عملياتي لوري کې د پر تې قول اردو قوماندانې په غاړه درلوده. او ما ليدل چې د دفاع وزير ددغه سړي د رالاندې کولو په چل نه پوهېده، وروسته له ببرک کارمل سره د خبرو پر وخت مې ترې د غلام نبي د ګوښه کولو غوښتنه کړې وه. خو ببرک ځواب راکړی و:

- کابل ته څېرمه د لسو- پنځلسو مترو په لوړوالي د ګرانيت ډېرې يوه ستن ولاړه ده. دغه ستن مقدوني سکندر د خپلې امپراتورۍ په پوله کې درولې وه. هه، پوهېږئ: ماته د دغې ستنې خوځول د غلام نبي تر ګوښه کولو آسان دي.

له پېښو نه لږ مخکې کېږم او وايم: په اګست کې چې د افغانستان حالات کړکېچن شول او مجاهدينو د خوست په سيمه او د ګرديز او غزني په لورو کې بېرحمي کوله او د قول اردو قوماندان لکه د پخوا همداسې لاس تر زنې ناست و ما د اولتماتوم په بڼه له ببرک د قول اردو قوماندان غلام نبي ګوښه کول وغوښتل. ببرک دا کار وکړ، غلام نبي يې (له خپلو ټولو امتيازونو سره) احتياطوته سوق کړ. (نوموړي ته د قول اردو له قوماندانۍ نه هم لوړه څوکۍ ورکړل شوه او د دغه ولايت والي وټاکل شو).

د دريمې قول اردو فرقې په بنستيزه توګه په ګارنيزيونو کې ځای پرځای شوې وې. دهغه د اکمال کچه ټيټه وه: په سلو کې له **۳۴** نه تر **۷۵** پورې. په سلو کې څلوردېرش يانې څه؟ دا دومره ځواک او وسايل دي چې کله کله د خپل ځان د ساتنې لپاره هم نه بس کېږي. د قول اردو وسلې او تخنيک په ناوړه حالت کې وو. البته چې د ځوان

وزیر په توګه رفیع له دې حالته قهرژلی کېده، خو غوسه به یې د غلام نبي له سترګو پناه ځرګندوله. هو، که مجاهدینو هغه وخت د درېیمې قول اردو په سیمه کې خپلې هڅې ګړندی کړې وای، نو موږ به هم ورسره ښه ځنډل شوي وو. خو لکه چې هغوی په هغو سیمو کې چې د افغاني او شوروي پوځ اساسي ځواکونه په کې پراته وو، فعالیت غوره باله او داسې یې ګڼله چې نور هرڅه به په خپله ونړېږي. دغسې یو اټکل بې بنسټه هم نه و.

البته چې موږ وروسته بیا د درېیم قول اردو د پیاوړتیا لپاره وړ تدبیرونه ونیول. او په دې هرڅه کې زموږ سلاکارانو غټ رول ولوباوه چې په هرغونډ او هر کنډک کې یې خدمت کاوه.

د دې درې ورځنۍ پلټنې په پای کې اسدآباد ته والوتو. دلته، د جلال آباد شمال ختیز لور ته د لومړۍ قول اردو نهمه غرنۍ فرقه ځای پرځای وه. زموږ ستړي مشي ته د قول اردو قوماندان ډګروال خلیل الله له خپلې کوچنۍ اوپراتیفي ډلې سره او د نهمې غرنۍ فرقې قوماندان راغلي وو. دغې فرقې د جلال آباد شمال ختیز پلو د پولې ساتنه په غاړه درلوده، داسې چې جزوتامونه یې د پلي کنډك تر کچې د پولې په اوږدو کې خواره- واره اچول شوي وو. دغې فرقې په مجموع کې د مجاهدینو په ورکولو کې کومه د پام وړ ونډه نه درلوده، ځکه چې په دې غرنۍ سیمه کې د هغوی شمېر دومره ډېر نه و. خو د سیمې ساتنه یانې د خاورې په ولکه کې ساتل پخپله څه بې ارزښته خبره نه ده.

دهغه وخت له شرایطو سره سم د نهمې غرنۍ فرقې د قطعو او جزوتامونو د اکمال کچه دومره بده نه وه یانې په سلو کې له شپېتو نه تر ۷۵ رسېدله. له دې نه زیاته هیله کول هم بې ځایه و.

که رښتیا راباندې وایاست ما په نهمې غرنۍ فرقه کې کوم ځانګړی کار نه درلود. ما یوازې په دې وسیله کابل ته خپل ستنېدل ځنډول. د هرات پېښو لاوس هم ځورولم.

دا څه وو چې پېښ شول؟

او زما کړنې ګنې سمې وې؟

پوښتنې مې بیا بیا په سر کې تاوېدلې او آرام ته یې نه پرېښووم.

په دې توګه مې له خپلې اوپراتیفي ډلې سره یوځای کړی نهه ورځې د پوځونو په پلټنه (تفتیش) واړولې. زموږ تګ لوري د ګړۍ د ستنې له معکوسې تاوېدنې سره پرتله کېدلی شي. له شمال ختیځ نه لویدیځ ته او وروسته بیا جنوب ختیځ ته (بدخشان، کندز، هرات، کندهار، ګردېز او اسدآباد). کله کله به د ګړۍ (ساعت) قاب په خوب کې راغی چې ستن په کې همداسې سرچپه (معکوسه) په منډو وه. آیا په دې توګه مې، که نور نه وي په تحت الشعور کې هڅه نه کوله چې زمان په شا وګرځوم، هغه مهال ته یې بېنا بوځم چې په افغانستان کې زما د سترګو په وړاندې دتېرو شویو پېښو بیخي پته هم نه وه؟ البته چې دا فانتیزي (د خیال نیلي ځغلول) دي.... آخ، که کېدلی شوای رښتیا هم د ګړۍ ستنې په څټ واړول شي او سړی آن په تصور کې هم له هغه غم لړلو پېښو سره بیا مخامخ نه شي!...

د هرات پېښو ته یو ځلې بیا ورستنېږم. په یوه نږدې بایللي ښار کې د پوځي عملیاتو سرته رسول او که په دقیقه توګه ووایم د ډېرو تخنیکي وسایلو په شتوالي کې او د الوتکو د بشپړ ملاتړ په سیوري کې له سلګونو جګړه مارو ډلو نه د ښار پاکول څنګه درته برېښي؟ هو، ما د غلیم د افرادو د وژنې مخامخ امر نه و کړی خو دا خبره مې کټ مټ ورته کړې وه: د یوه ډز ځواب د ډزو په باران ورکړئ. او همداسې شوي وو. څوك چې د انځورولو وړتیا لري نو هغه صحنه له ځانه سره انځورولی شي...

کابل ته له الوتو وړاندې مې له خلیل سره خبرې درلودې. هغه په روسي ژبه کې په وړ تکي پسې ګرځېده:

- هرات مزی... مزی ... و.

ما یې د کلمې په موندلو کې مرسته وکړه:

- فلته (فلیته)؟ * خو مور تر دې هم ور ټکی وموند: "چوونکې ماده" (پټاکی).

که مجاهدین په هرات کې د خپلې دندې په سرته رسولو بریالي شوي وای او که راډیو د هرات د خپلواك ولایت د جوړېدو خبر ورکړی وای، نو د کندهار، ګردېز او مزارشریف راډیو ګانو به هم هغه د چا خبره د پټاکی په دود د پاخون لمبه پورته کړې وای. په دې توګه به نو په دغو ولایتونو او آن په ټول هېواد کې د ملي- دیموکراتیکې واکمنی د رنګولو لپاره کودتا سرته رسېدلې وای. مجاهدین هیله من وو چې په دې ټکان به په ټول افغانستان کې جهاد پیل کړي. دا ځکه نو د کندهار ملایانو خپل عبادت ته ځانګړې بنه ورکړې وه او د کندهار (ولایتي) مشرانو شورویانو ته غوره مالي کوله او چلونه یې ورسره کول.

ما له خلیل نه وپوښتل:

- نجیب په هرات کې څومره وګړي وویشتل؟

- اوه لویه خدایه... درې سوه افغانان یې وویشتل!

خلیل لاسونه د زارۍ په دود هسك کړل. رفیع هم دهغه کړنه غبرګه کړه. زه لکه په سرو سکروټو چې ناست یم.

خلیل خپله خبره پسې اوږده کړه:

- له دغه بویناك ګیدړ نجیب نه به د هرات غچ اخیستل کېږي.

- او تاسې؟- ما رفیع ته وکتل.

هغه په تروه بڼه وویل:

- له مور نه هم- خو په پسرلي.

- تر پسرلي به مور خان ښه چمتو کړی وي.

رفیع هېڅ ځواب رانه کړ.

خلیل وویل:

---

* هغه تار چې په بم پورې نښتی وي او له راښکلو سره یې چاودنه پېښېږي (د.ج)

- خدای دې د خپلو ټولو غلیمانو د ماتولو وس او حوصله راکړي.

له خلیل نه تر لاسه شویو معلوماتو لومړۍ درجه ارزښت درلود. هغو د جنرال پیتروخالکه معلومات تاییدول چې له نورو سرچینو نه یې ترلاسه کړي وو. مونږ د مجاهدینو له چل او غولونې ډك پلان په هرات کې تس- نس کړ. خو د پخوا په څېر دا خبره لا رڼه نه وه چې د هرات د عملیاتو مشري د چا پر غاړه وه: د احمدشاه مسعود؟ د عبدالرشید دوستم؟ د ګلبدین حکمتیار؟ او که د بل کوم چا؟...

په هاغه ژمنۍ ورځ (د دفاع) وزیر رفیع، د قول اردو قوماندان خلیل الله او زما اوپراتیفي ډله په دریو چورلکو کې له اسدآباد نه د کابل په لور والوتو.

# دولسم څپرکی

کورته په راستنېدو سره مې انناواسیلفنا په دې ټکو هرکلی وکړ: "ستا خو ښېځې خبره اوښتې ده". ما ځواب ورکړ چې خبره مې لکه چې ژغورلې خو روح مې ټپي راوړی دی.

ښځې مې د دې لپاره چې پام مې یوڅه بلې خوا ته کړي د ن.ا. استروفسکي د ډرامه لیکنې په اړه د خپلو خبرو نکل راته پیل کړ. هغې هڅه کوله د روسیې اړوند کوم شي په اړه د خبرو له لارې مې پام له دې لعنتي جګړې بل لور ته واړوي.

د بلې ورځې په سهار چې لا په خپله کوټه کې ناست وم، ځان مې لړ یا ډېر دمه احساسوه. طبیعت مې ببرته ټیک کېده. پر مېز مې نقشه پرته وه: "د ۱۹۸۱ کال په جنوري- فبروري کې د جګړه ییزو عملیاتو پلان". د "اودار- ۳"، "ګرانیت -۲" او "سالیوت- ۲" عملیات، د پکتیا، لغمان او ننګرهار په ولایتونو او په "شمال ختیز" او "شمال" زونونو کې جګړه ییز عملیات. دغو جګړو ته دا دي د افغاني پوځ ۷۲ پلي کنډکونه او ۱۹ توپچي کنډکونه او د څلوېښتم لښکر ۲۵ موتوریزه او اووه توپچي کنډکونه ورګډ شوي دي. دیارلس هوایي غونډونه او د څورلکو څلور غونډونه د هغوی عملیات تامینوي او ملاتړ یې کوي.

د فبرورۍ تر پایه به ټول ټال د پوځي پرسونل ۱۶۰- ۱۷۰ زره غړي، ۲۵۰- ۳۰۰ الوتکې او له ۶۰- ۷۰ جنګي چورلکې په جګړه کې برخه واخلي. د افغاني او شوروي پوځ پاتې ټولګي په پوځي ښوونه او روزنه بوخت دي خو د ورځې یا شپې په هره شېبه کې د هغو قطعو او جزوتامونو د مرستې لپاره جګړې ته استول کېدلی شي چې لاوختي د جګړې په ډګر کې دي. زموږ اټکل دی چې دولس ولسوالۍ او دولس علاقدارۍ به له مجاهدو آزادوو، په هغو کې به ملي- دیموکراتیکه واکمني ټینګوو او په آزادو شویو سیمو کې به د دوو اوونیو لپاره کوچني ګارنیزیونه اچوو. سربېره پر دې په نورو ۳۷ علاقداریو او ۱۳ ولسوالیو کې د واکمنۍ د لاټینګښت ویلاړ لرو او دلته به هم د څه لنډې مودې لپاره کوچني ګارنیزیونه پرېږدو. نقشې ته په یوه سرسري کتنه به هم دا جوته شي چې جګړه ییز عملیات نږدې د ټول هېواد خاوره رانغاړي. او د دې اړتیا پېښېږي چې بیا بیا هم له احمدشاه مسعود، هم له حکمتیار او هم له دوستم سره وجنګېږو. د افغانستان په دیموکراتیک جمهوریت کې مې د پنځه میاشتنۍ اوسېدنې په ترخ کې د دوی هر یوه "کړه وړه" ژور وڅېړل. ګومان کوم چې اوس مې کولی شوای بې له تېروتنې د هغوی راتلونکې کړنې اټکل کړم. ما په سلګونو لویو او وړو خو له بېرحمیو او توربورولیو ډکو عملیاتو کې یا ګډون کړی یا مې څارلي او یا مې ورته لارښوونه کړې ده. لکه: په پنجشېر کې د احمدشاه مسعود د ډلو ماتول، کندهار ته څېرمه د حکمتیار د غونډونو له منځه وړل او د مزارشریف جنوب ختیز پلو د رشید دوستم له پوځونو سره د شپې نښتل. په دې ټولو مهمو او سترو عملیاتو کې دغه قوماندانان هرچېرې په زړورتیا جنګېدلي خو هرچا خپله- خپله لاره درلوده.

تر ټولو ټینګ، زړور او لرلیدونکی په کې احمد شاه مسعود و. تر کومه ځایه چې زه پوهېږم نو هغه پرانستې جګړه خوښوله. خپل غونډونه یې هم د همدې لپاره چمتو کول. هغه ګوزار ته د ځایي

خلکو لـه مخـامخ کولـو نـه ډډه کولـه. هېڅکلـه يـې لـه شـوروېانو او يـا افغـاني پـوځ سـره د همکـارۍ لـه املـه لـه چـا نـه غـچ نـه اخيسـته ځکـه پوهېده چـې خلك د مـرګ لـه وېرې دغـې همکـارۍ تـه غـاړه ږدي. احمـد- شـاه (مسـعود) ډېر ښه تاکتيسـن و او کـه د دې خـبرې کـول سـم وي، نـو مـا تـه لـه هغـه سـره جـګړه پـه زړه پـورې وه. هغـه ځو ځلـه ټپـي شـوی خـو د جـګړې لـه ډګره هغـه د چـا خـبره تـر وروسـتي مردکـه (کارتوسـه) نـه ده تللی. او يـوازې د بـايللو پـر وخت بـه تـری تـم کـېده. احمـد شـاه مسـعود لـه خپلـو جنګيـاليو سره پـه زړه سـوي چـال چلنـد کـاوه. زړور کسـان بـه يـې پـه سـخاوت سـاتل. مـوږ د هغـه لـه دې مشـهورې خـبرې نـه خـبر وو چـې: "جـګړې تـه جنګيـالي، قومـاندان تـه اتلولـي او لارښود تـه ټينـګښت او مېړانـه". پـه افغانسـتان کـې د مجـاهدينو د مرکـزي جبهې قومـاندان پـه خـټه پښتـون ګلبديـن حکمتيـار هـم يـوه وتلـې څېره وه. ښايـي د ده اوپراتيفي تفکر تر احمدشـاه (مسـعود) اوچـت و، خـو پـه ځوانـۍ کـې هغـه تـه نـه رسېده. چـل، لـه بې شـرفۍ ډك خطـر او غولونـه يـې پـه خـټه کـې وه. ده د ملکـي وګړو د سـر پـر زيـان څه ځانـګړې زړه نـه سـېزه او لـه همـدې املـه تـرې عـادي ولـس کرکـه کولـه. د کندهـار د ملايـانو هـم ښه نـه ايسيده. لکه چې ګلبديـن د پردې تر شا پـه دسيسـو جوړولـو کـې تـر نـورو ميدان ګټلی و. پـه زړه کـې يې لـه هغـه درنـاوي رخـه راتلـه چـې احمـد شـاه مسـعود تـه خپلـو جنګيـاليو کـاوه. خـو دا هـرڅه د يـوه خطرنـاك او هوښيـار قومـاندان پـه تـوګه د حکمتيـار وړتيـا نـه شـي کمولـی. د هغـه پـه زړه کـې دا هيلـه وه چـې تـر ټولـو لومـړی کـابل تـه ننـوځي او د هـېواد مشـر شـي او احمـد شـاه مسـعود او رشـيد دوسـتم تـر شـا پـرېږدي. د ګلبديـن پـر جنګي عمليـاتو بـه تـل بلـه پـرده پرتـه وه او مـوږ تـه د متقـابلو کړنـو د سنجولو لپـاره د هغـو پوهېدنـه ګرانـه پرېوتـه. لـه همـدې املـه و چې مـوږ تـل هڅه کولـه د هغـه لـه ګوزار مخکـې پـرې ګـوزار وکـړو.

ازبـك عبدالرشـيد دوسـتم سـخت زړی او بېرحمـه قومـاندان دی. هغه پر هېچا رحم نه کـاوه. هغـه بـه هرهغـه ځوك چـې لـه بـې دينـو سـره د

ده د مبارزې د لارې حنډ کېده او یا به یې دعسې یو قصد درلود. په چاره، رسی یا مردك اعدامـوه او لـه منځه وړ. هغـه پـه تېره بیا پـه سیمه ییزه اداره کې لـه خپلـو قومیـانو او یـا هغـو ملایـانو سـره چـې شورویانو تـه یې غـاړه ایښوده پـه بې رحمی چلند کـاوه. هغـه پـه ټولـو شمالي ولایتونـو کـې د تـورې او اور پـه زور یـو ډار کېنولـی و. مـوږ پوهېدو چې هغه ته نه احمد شاه (مسعود) نه گلبدین او نه په تېره بیا رباني درناوی کوي. دوستم د هسې یوه قومـاندان پـه توګه چې د وینې تویونکـي جـلاد کرغـېړن شـهرت یـې ګټلـی و، د خپلـې واکمنـی د ټینګولو لپـاره هـرډول بېرحمـی او غولونـې تـه چمتـو و.

خو بیا هم، زما په آند نه دی، نه دویم او نـه هم دریم پـه هغـه څه پوهېدل چې "پښتوریـو مشـرانو" یـې د هـرات لـه پرمختیـاوو د راوتلـو لاره څارلـه.

ښه نـو هلتـه مشـري د چـا پـه غـاړه وه؟ دا خـبره راتـه د هـرات د غمیزې د تـاریخي بـهیر لـه پلـوه نـه بلکـې د پـېښې د "اصلـي مـاهیت" د رڼولو لپـاره مهمـه وه چې پـه راتلونکـي کـې یې د بیـا کېدو مخه ونیـول شي.

د یـادونې وړ ده چې د هـرات لـه پـېښې وروسـته پـه ټول هېواد کـې تـرور او ورانکـاری پـه لـړېدو شوې: پـه یوه شـپه او ورځ کې بـه مـو لـس-پنځلـس پـېښې جوتولـې او داهمـا غومره پـېښې وې چـې د تـېر کـال پـه سپتمبر- دسمبر کـې کېدلـې.

مانا دا چې ونه لویـدو او ټینـګ پـاتې شو. او یـو ځلې بیـا پـه ټول هېواد کې جګړه ییز نـوښت زمـوږ پـه لاس کـې دی.

د چـیریومنیخ، سـامویلینکه او شـکیدچنکـه پـه مشـری زمـا مرسـتندویه ډلـه او لـه هغـو سره یـوځای محمـد رفیـع، بابجـان، ګل آغـا او خلیـل روزنـیز مرکـز تـه ولاړل چـې د افغانسـتان د وسـله وال پـوځ د لومـړی قـول اردو پـه تاسیسـاتو کـې د پـوځي- سیاسـي تطبیقـاتو د چمتووالـي کـار بشـپړ کـړي.

لکه مخکې چې مې وویل مور د غو تطبیقاتو ته ځانګړې سیاسي ارزښت ورکاوه. د هرات له پېښې وروسته خو دغه کار ته نوره هم اړتیا ډېره شوې وه.

د لوی پوځي سلاکار په اداره کې چوپتیا ده. نږدې ټول په سفر وتلي وو. خو عجیبه خبره ده چې له مسکو نه هم راته څوك ټلفون نه کوي. وروستی ټلفوني خبرې لس ورځې مخکې شوې وې چې په ترځ کې یې ما اوستینوف ته په هرات کې د واکمنۍ د بیا ټینګښت خبر ورکړی و. داسې برېښي چې هلته په مسکو کې هڅه دا ده چې ځان د هرات له غمیزې په ځنګ وساتي. یانې دا چې پرېږده دا هرڅه لوی پوځي سلاکار پخپله درك کړي او ویې زغمي. اندروپوف، اوستینوف، سوکولوف، اخرامییف او آن اګارکوف داسې خولې ګنډلې، ته به وایې په افغانستان کې کومه ځانګړې پېښه بیخي شوې نه ده. نو څه کولی شم، قوماندانانو، آمرانو له دې امله هم مننه...

وړپرانستل شو او خونې ته جنرال پیتروخالکه راننوت.

ده یو کوچنی رنګه عکس پر مېز زما مخې ته کېښوده. دا عکس د یوه سړي دی چې پر سر یې لنګی ده، غټې زرغونې سترګې او سپینه تر وزګوړي اوږده ږیره لري خو پاسنۍ شونډې یې خریلې ده. له سترګو یې پوخوالی، پوهه او ښایې مکاري او بېرحمي رابرېښېده.

- څوك دی؟
- برهان الدین رباني. تاجك او د کابل پوهنتون د شرعیاتو استاذ.
- یانې چې رباني همدا دی...- او همداسې د تصویر پر کتلو بوخت یم:
- رباني! په غور ښه لګېږي، هه؟

پیتروخالکه د عسکر په دود راسره د هو سره وخوځاوه:

- هو صاحب! د هرات په نیولو کې مشري د ده د یوه پلوي امیر اسماعیل خان په غاړه وه.

- پيتروخالکه، د دې خبرو په سموالي باوري يې؟
- هو صاحب! پرېکړې يوې پنځه کسيزې شورا کولې. د پېښور په لوى جومات کې له دې امله ځانګړى لمونځ هم شوى و.

"ميخاييل باګدانوويچ" (پيتروخالکه يې ملګرو په دغه نامه يادوه- د.ج) په خوبنى ترلاسه کړي معلومات وړاندې کول.

هغه عکس مې پر مېز تر پرتې نښينښې لاندې کړ.

- دغسې غليم ته بايد درناوى وشي او په چل کې ترې بايد مخکې شو.

پيتروخالکه د هو سر وخوځاوه:

- هوصاحب. ده په ټول افغانستان کې د جهاد پيلول غوښتل. په هرات يې حساب کاوه، اوس به بله پلمه لټوي.
- ښه نو چې داسې ده، مانا دا چې تر بل هروخت راته د هرې ګړۍ او هرې ورځې د حالاتو څېړنه او له هغو نه د پايلو رااېستنه اړينه (ضروري) ده. ما جنرال پيتروخالکه ته مننه وويله او د تللو اجازه مې ورکړه.

او پخپله بيا په تصور کې هرات ته ورستون شوم. بلا دې يې ووهي، د دې موضوع نه ځان نه شم ژغورلى. هو، ډګروال ګروموف ښه پروخت د هرات د ولايت او د راډيو د ودانيو امنيت په غښتلو کندکونو پياوړى کړى و. د يادونې وړ ده چې دا هرڅه په مهارت او پوهې تر سره شوي وو. بايد له ګروموف سره پر خپلو اړيکو له سره کتنه وکړم. ښايي سرګي اخراميېف په ده کې هغه څه ليدلي چې ما ونه شواى موندلى. او البته چې د کندهار پر جنرال ليفچنکه او ډګروال شاتين دې هم آفرين وي، اوچت راوختل: د چلبازو افغانانو په غوړه مالۍ ونه غولېدل چې په کندهار کې د پاڅون د پيل لپاره د هرات اشارې ته سترګې په لاره وو.

د ښينښې له شانه راته رباني راکتل: رباني چې د افغانانو پرګنهکاره خاوره د خداى استازى و.

مازیګر مهال و چې د چیریومنیخ په مشرۍ د جنرالانو ډله د لومړۍ قول اردو له روزنیز مرکزه راستنه شوه. د قول اردو قوماندان ډګروال خلیل هم ورسره ملګری و. رفیع، بابه جان، ګل آقا او سامبویلنکه ارګ ته د ببرک کارمل لیدو ته ورغلي وو چې دغې ننداري ته د رابلل شویو کسانو د جوړښت (ترکیب) په اړه یې نظر وپوښتي.

جنرالان خبرې کوي، شور او زوږ یې جوړ کړی دی. دوی چې خړ وړین زیړه پوځي کالي یې اغوستي سړي ته د یوې داسې خیالي جوړنیزې (ساختماني) ډلې د منځنۍ کچې تخنیکي کارکوونکي په نظر ورځي چې له خپله هېواده لرې پاتې شوي وي. یوازې د کلونو په اوږدو کې یې پنجې شوې پوځي ونې (قدونه) په پوځ پورې د هغوی د تړاو څرګندویې کوي.

د تصادف خبره ده دغه وتلي جنرالان چې هر یو یې د شوروي اتحاد په بېلابېلو پوځي حوزو او له هېواده بهر په پوځي ټولګیو کې د اور، اوبو او مسینو نلونو له منځه وتلي او اوس د تقدیر په لاس د افغاني جګړې دې بنۍ ته اچول شوي او دلته بیا د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د لوی پوځي سلاکار په اداره کې په غټو څوکیو تر ګمارل کېدو وروسته زما مادونان شوي دي. •

هره ورځ، بې له کورنیو، د ژوندانه د منځنیو پېړیو په شرایطو کې، په نښتو او رفتار کې له جګړې سره څنګ پرځنګ: که چېرې په انساني شرایطو کې د انسان د عادي ژوندانه له نظره سپین سترګي ونه بریښي، نو دا هرڅه دوی ته له یوې ورځې نه بلې ته عادي کېدل... او دا دی هغوی آن د ټوکو ټکالو د کولو او د بل سبا د ننداري د ننني بریالي تمرین له امله د خوښېدو وړتیا هم لري. لکه چې د پوځي سړي خوش بیني ناپایه ده، آن که د نړۍ په هاغه بل ګوټ کې د اوو غرونو تر شا له هېواده لرې پر پوځي چوپړ بوخت وي!

زما ښۍ خوا ته چیریومنیخ ناست دی چې زموږ د کارکوونکو او د لوی پوځي سلاکار د اداري ماغزه او اعصاب جوړوي. پوه، هوښیار، په ژبه زیږ، کله کله د مخالفینو په وړاندې سپین سترګی او له زغمه ډك، لنډه دا چې د غوره پښت (اخالتیقین) د ډول زین کړی آس دی! څنګ ته یې ځیلي سړی چې ته به وایې سکروټې یې خولې ته اچولې داسې ناست دی چې "خپله حکومتي برخه یې په مېز پوري" کلکه نښلولې او نېغ ماته ګوري. دا تورنجنرال ایوان خاریتونویچ کالو میسیخیف دی. نرډې یو متر او نوي سانتي لوړ دی: وېښتان یې سپین دي خو ښه یې ځوانه برېښي. هغه د چیریومنیخ نږدې اندیوال دی او په نارسمي وخت کې (او البته زما په نشتوالي کې) یو بل ته وانیا او والودیا وایي (د "ایوان" او "ولادیمیر" د نومونو کوچنۍ شوې بڼه – د.ج)

ایوان کالومیسیخیف په لوژیستیك چارو کې زما مرستیال او د افغانستان د دیموکراتیك جمهوریت د وسله وال پوځ د لوژستیك رئیس پوځي سلاکار دی. په حقیقت کې دی د مجاهدینو د ورانکارۍ او ترهګرۍ په شرایطو کې د سون موادو، مهماتو، کالیو او نورو له پلوه د ا.د.ج. د وسله وال پوځ د تامین په برخه کې د حکومت د رئیس کشتمند ښي لاس و.

چیریومنیخ په مالونو بار کتارونو د ساتنې لپاره ایوان کالومیسیخیف ته د اړتیا وړ پوځي ټولګي او له هوا نه یې د ننګې لپاره جنګي اولېږدوونکې چورلکې ورکوي. په دې وروستیو کې کالومیسیخیف خبر راکړ چې د جګړه ییزو عملیاتو د تېرېدو ګرانو (صعب العبورو) ځایونو ته یې د خورا مهمو مالونو د لېږدولو لپاره یو مستقل نقلیه غونډ جوړ کړی دی چې سل [illegible] زغره وال ګاډي په کې دي (دا لس ټولي کېږي چې هر ټولی لس زغره وال ګاډي لري). دا بارونه به په زغره والو ګاډو او په ټریلرونو کې لېږدول کېږي. البته چې دا د "والویا- ایوان" د ګډې نظرې پلي کېدل وو.!

ایوان کالومییخیف یوازې د پوځي مسایلو په اړه معلومات نه راکول. یوه ورځ یې راته وویل:

- زما قیم (یانې د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د لوژستیک رئیس) په افغانستان کې تر ټولو ښمن سړی دی...

ما ورته ځواب ورکړی و:

- د همدې لپاره خو هغه د لوژستیک رئیس دی.
- ن- نه. زما په خبره پوه نه شوئ...
- ښه، نو له راز نه دې پرده پورته کړه.
- څلور ښځې لري... و..ا-ا!
- دومره غټه شته منې خو ده. سربېره پردې قران (شریف) مسلمان ته د څلورو ښځو اجازه ورکړې ده...
- شتمني یې په بل شي کې ده. هره یوه- هره یو یې!- یوولس- یوولس بچي لري.

له ما نه ورته دا راووتل:

- داسې نه شي کېدای.
- ما سم معلومات کړي دي. او دا ټول روغ او ژوندي دي. فاطمه به جلال اباد کې، هلاله په هرات کې، سافیك (؟) په بغلان کې او اوروچاګ (؟) په مزارشریف کې اوسي...

... که چېریومنیخ یې د لیننګراد په پوځي حوزې کې د حوزې د درستیزوال د مرستیالی له څوکۍ او کالومییخیف یې د کارپات د سیمې په پوځي حوزې کې د لوژستیك په چارو کې د حوزې د قوماندان د مرستیالۍ یا د لوژستیك د ریاست له څوکۍ نه افغانستان ته رااستولي وو، هوایي تورنجنرال پیتر پیتروویچ سافرونوف د سایبریا په پوځي حوزه کې د حوزې د هوایي ځواکونو د قوماندان له څوکۍ افغانستان ته راغلی و او دلته د ا.د.ج د وسله وال پوځ د هوایي او هوایي مدافع ځواکونو د قوماندان جنرال نظر سلاکار (او په هوایي برخه کې زما مرستیال) و.

ده منځنۍ ونه او غغبنتلي جثه درلوده، څېره یې سوربخنه او وېښتان یې ګورسپین وو، خو سپینوالی یې لږ پام ځانته وراړاوه، هغه له بله چا سره په خبرو او حرکاتو کې پخ (لټ) راوخوت. خو جګړه ییزې پرېکړې یې په چټکۍ، دقت او مهارت کولې. هغه ته مې د یوه داسې کارپوه په توګه چې له کار سره مینه لري او لویې په کې نه شته، ارزښت ورکاوه. د کار په اړه د ده د کلکو پوښتنو له امله مو وشوای کړی چې د افغانستان په جګړه ییزو او ترانسپورتي الوتکو، جګړه ییزو او ترانسپورتي چورلکو کې جګړه ییز پرله پسې چمتووالی په سلو کې تر اویا- اتیا(!) وساتو. او دا په داسې یوه هېواد کې چې خپلې هوایي صنایع نه لري او د "هوایي بازانو" د تخنیکي (څارنې) د کلتور کچه په کې ټیټه ده او د کاروونکي جګړه ییز تخنیك په وړاندې یې چلند بربري دی: والوت، بمباري یې وکړه، کېناست، نور ایسته د الله کار دی...

سافرونوف څنګه کولی شول دا دومره ډېرې الوتکې او چورلکې د پرله پسې جګړه ییز چمتووالي په حال کې وساتي؟ ده د مرکز په مرسته کابل ته څېرمه د بګرام په هوایي اډه کې د ترمیم او احیا درې (!) فابریکې جوړې او په کار واچولې. یوه د ښکاري او ښکاري بم غورځوونکو الوتکو د تخنیکي کتنې او احیا (دورځني او منځني ترمیم) فابریکه وه؛ بله د جنګي او ترانسپورتي چورلکو لپاره وه او په درېیمه کې ځمکنۍ تخنیك ترمیمېده او کارته بیا چمتو کېده.

له دې سره یې په یوه وخت کې د دغو فابریکو فرعي څانګې د کندهار، هرات، کندز، مزارشریف او جلال آباد په هوایي ډګرونو کې پرانستلې او د ترمیم او نورو تخنیکي خدمتونو اړین شمېر کارکوونکي یې ورته بېل کړل. د شوروي پوځ د هوایي ځواکونو تورنجنرال سافرونوف د افغانستان په هسك کې برې په دې توګه "تر ګوتو" کاوه.

... جنرال په څرګنده د لومړي قول اردو په روزنيز مرکز کې د تمرين له پايلو په شوق راغلی، ټوکې کوي، يو بل ته "پرزې" وايي او يو پر بل ملنډې وهي. آن تل چوپ او څير سافرونوف هم راپوست (نرم) شوی، موسکی دی او د بد ژبي چيريومنيخ له ريشخندي ډکې خبرې زغمي:

- سافرونوفه، دا خو څه د فراه شمال لور ته په خاك سفيد کې بمباري نه ده. تمرين دی، تمرين دی! د درمل جوړوونکي هومر، ځيرتيا غواړي! پام ورته لره، پام! ما کتل چې سافرونوف څنګه سپين واوښت او خپله غوسه يې خوړله. او ماته داسې يوه صحنه چې له سافورنوف سره تړاو لري، را ياده شوه...

يوه ورځ چې د ۱۹۸۰ کال د دسمبر مياشت نږدې نيمايې شوې وه، د نيمروز ولايت خاص کلي ته نږدې د غليم پر يوې ډلې د ښکاري بم غورځوونکو الوتکو له ګوزارونو وروسته، جنرال سافرونوف لکه چا چې ټکولی وي، غلی زما دفتر ته راننوت او خبر يې راکړ:

- عمليات پای ته ورسېدل: دايي وويل او بې له دې چې اجازه وغواړي پر څوکۍ کېناست او بيا يې زياته کړه: موږ جنايت کوونکي يو. له ټولو وړاندې زه پخپله!

سافرونوف ډېر بوږنېدلی برېښېده.

ما هڅه وکړه چې لږ يې آرام کړم:

- جګړه پخپله يو جنايت دی.

- دا نه وايم... دا نه وايم! او له دې سره جوخت له اجازې پرته له خونې ووت. او زه په حيرت کې پاتې شوم. حيرانتيا مې ډېر ژر هله له منځه ولاړه چې چيريومنيخ راته خبر راکړ:

- پر "خاش" يې له ميخونو ډك بمونه غورځولي دي.

له مانه ورته راووتل:

- احمقان!

چیریومنیخ خبره اوږده کړه:

- دا خو لا هېڅ نه دي، که نور واورې.
- نور نو څه؟!
- په یادمو دي چې د خاك سفېد په غرونو کې یې کارېزونه له منځه یوړل؟ غلیم په هغو کې پوځي خونې جوړې کړې وې.
- نه.
- پر دغه ځای داسې بمونه چې پراخې چاودنې کوي وکارول شول...
- پر ټول ځان مې کرکه راخپره شوه او بې ځنډه مې اګارکوف ته مخابره وکړه.

په لنډه توګه مې ورته اوپراتیفي حالات بیان کړل او بیا اصلي موضوع ته ورتېر شوم:

- موږ په جنایت لاس پورې کړی دی. پر مجاهدینو له میخونو ډك بمونه... ډېر تخریبوونکي بمونه اوروو.

اګارکوف غلی شان ځواب راکړ:

- دا نه ستا کار دی او نه زما!

او له لږې چوپتیا وروسته یې زیاته کړه:

- دا د "لوړو مقاماتو" پرېکړه ده! پوه شوې؟!
- پوه شوم. خو دا کار د هاګ د کنوانسیون له مخې منع دی.
- د هاګ نړیوالې محکمې ته عریضه وکړه. بریالیتوب دې غواړم.

مخابره په همدې ځای پای ته ورسېده.

پوځیان په دې ډول د جنایتکارۍ لوري ته راښکل کېدل.

ډګروال خلیل په خپلو ښایسته افغاني پوځي کالیو کې چې رتبه یې ترې ځرګندېده، لږ وارخطا غوندې و. د دغې کتنې پر وخت یې بارخو کله سور کېده او کله یې سوروالی له منځه تـه. کله کله آن موسکا هم کوي او د خپلو کړنو په اړه چې د ستاینې کومه خبره واوري، نو خوښ شي.

چیریومنیخ ترې په نارسمي بڼه مننه وکړه:

- هرڅه سم و، هرڅه چمتو و- خو ژمی و، لکه د اورال ژمی.

زه د هغه پر حالت پوهېږم:

- امر کوئ!

څو دقیقې وروسته د چایو مېز جوړ شو چې د ختېز خواږه، چاکلیټونه، د لیمو وړې وړې چنډې او البته چې د "ناپلیون" (کنیاکو) بوتل پرې ایښي دي.

ما امر وکړ.

- یوه یا دوه پیالې او بس.

کالومییڅیف، شکیدچنکه، سافرونوف، ستیپانسکي، برونینیکس، اراکیلیان، خلیل- ټول خپله حیرانتیا نه شي پټولی: دا لمر له کومې خوا راختلی چې لوی پوځي سلاکار مېلمنو ته د چای پر ځای کنیاك ورکوي؟ یوازې چېریومنیخ پوهېږي چې خبره څه ده. ته به وایې په خپلو دوستانه کړو وړو راسره مرسته کوي چې د تل لپاره د هرات له ترخې خاطرې نه راووځم.

یوه یوه پیاله یې سره وڅښله (ما د تل په څېر هسې شونډې لمدې کړې) او بیا مو د تمرین نښته وڅېړله:

چیریومنیخ وایي:

- سافکا* د دوشنبې په ورځ ژرنده کوي او په سه شنبې ځپلې ګنډي.

د هغه پر سترګو شیطنت له ورایه برېښي.

بې ډالې هم نه کېږي. پرېږده چې خلك حیران شي.

- له چار شنبې تر پنجشنبې سافکا په کور کې چوپړ کوي.

زه یې خبره ورغوڅوم.

- نه، څپلۍ به ګنډو! ځئ دویمه پیاله هم ډکه کړئ.

---

* سافکا د تېرې پېړۍ په روسي افسانو کې د یوه کلیوال مزدور نوم دی چې مرګ او ژوند یې د مسلط فیوډالي نظام (سرواژ) له مخې په بادار پورې تړلی دی او د اووه نۍ ټولې ورځې یې او د هرې ورځې هره شېبه یې په کار تېرېږي. لیکوال خپله بوختیا د سافکا له بوختیا سره پرتله کوي. (د.ج)

یه دې کې ساموېلینکه خونې ته راننوت.

هغه خبر راکړ:

هوکې مو ترلاسه کړه، - او په داسې حال کې چې یې د چیریومنیخ له لاسه د شرابو پیاله تر ګوتو کوله زیاته کړه:

اناهیتا غوښتنه کوله چې د رسمي کارکوونکو او روښانفکرو پراخې ډلې دې، البته چې د ښځو په ګډون راوبلل شي.

- خدای دې وکړي! چې خپلې ګنډل دي، نو راځئ چې ویې ګنډو- چیریومنیخ ته ګورم: پوهېږې که نه؟ پوه شو.

- هلکو لکه چې نور د تلو وخت دی. راځئ چې مېلمانه وشمېرو.

او "د منځنۍ کچې تخنیکي کارکوونکي" د لوی پوځي سلاکار له دفتره ووتل.

زه او خلیل دوه په دوه پاتې شو.

تر هغو چې نجونو د مېز له سره اضافي څیزونه اوچتول، موږ چوپ وو او هر یوه له فکري پلوه ځان خبرو ته جوړاوه. زما لپاره مهمه دا وه چې خلیل له لومړي سره په دې پوه نه شو چې خبرې به په څه اړه وي، که نه خوله به یې ګنډلې وای او د روڼ ځواب له ورکړې نه د بچ پاتې کېدو لپاره به په ځان کې ننوتی وای. خو ما بیخي د دې بر عکس غوښتل.

ما په دې خبره زړه تړلی و چې زموږ پوځي انډیوالۍ کې نه یوازې صداقت په پام کې نیول شوی، چې څرګندو (بې پردې) خبرو ته هم ځای په کې شته دی.

ما خبره له لرې راوسته چې ګنې له دې وروستیو پېښو وروسته مې طبیعت تکېدلی دی، خو اوس د خدای شکر دی په روزنیز مرکزکې چمتووالی سم روان دی او اوس همدا مهمه ده. خو له دې سره سره مې د بل څه په اړه خبرې غوښتې.

خلیل الله نېغ راوکتل:

- د هرات په اړه؟

- کاشکې يو هرات وای... د نورو جګړو او نښتو په اړه هم.

ما په لاس وقفه اوږده کړه چې ګڼې په ورټکي پسې ګرځم چې خليل ته دا امکان په لاس ورشي، چې له ما سره "مرسته" وکړي.

ده هم له دې امکان نه ګټه واخيسته او په پسته ژبه يې زما خبره پرې کړه:

- څومره ډېرې وينې دي، ای خدايه!- او بيا يې لاسونه مخ ته ورول او تر شونډو لاندې يې څه دعا وکړه.

زما په نظر راغله چې د انتظار شېبه نوره رارسېدلې ده: څکه کله چې د خدای نوم ياد شي ټول ځمکني شيان بې ارزښته کېږي يا لږ تر لږه زما او خليل تر منځ يې د پټېدو اړتيا نه وي.

- ووايه، سږ کال به دښمن ته ماتې ورکړای شو؟

د هغه پر غنم رنګه څېره د سوروالي نښې راڅرګندې شوې او سترګې يې تکې توري واوښتې (ما خپله خبره اوږده کړه)

- او ددغه کار لپاره بايد څه وکړو.

- اجازه راکړئ،- خليل دا وويل او د شرابو پياله يې پورته کړه.

- دارو دې شه.

پياله يې وڅښله

- شوروي لښکرې بايد له افغانستان نه وايستل شي...

- څنګه؟

- برى نه شي ليدای. آن که لس، پنځلس او شل سپېڅلې روژې هم درباندې واوړي.

ما دې پوښتنې ته د نېغ (روڼ) ځواب لاره څارله چې: برى څه وخت تر ګوتو کېدلی شي؟ خو هغه ځواب راکړ چې د برې مخ هم ليدلی نه شئ. تاسې ته سپينه خبره کوم، حالت مې داسې شو لکه چا چې پر سر په تبرګي وهلی يم. خپله وارخطايي مې راکابو کړه او بيا مې د خليل پياله له شرابو ډکه کړه.

- ته يې سمه په دليل روښانه کړه زه به يې ومنم.

هغه پیاله تشه کړه او همداسې چوپ ناست و.

- ای خلیله، ژمنه درسره کوم چې زموږ د دې خبرو راز به لس-پنځلس کاله همداسې پټ وساتم.

خو هغه لا همداسې چوپه خوله ناست و. او ما پرې همداسې زور اچولی ساته.

- هغه وخت، جلال آباد ته ځېرمه ما پر تا باور وکړ. اوس ته پر ما باور وکړه.

زموږ خبرې له دریو ساعتو هم اوږدې شوې. خبرې زیاتې، خلیل کولې داسې چې کله به په روسي ژبه کې د خپلو ستونزو د لرې کولو لپاره تم شو. البته د دود خلاف چې د ژباړونکي په شتوالي کې به مو خبرې ثبتولې، د امرکه د کاغذ پر مخ ونه لیکل شوه او ما یې هم نکل هېڅکله چا ته په رسمي ډول نه دی کړی. خلیل په لومړي سر کې ځان بایللی و، خو د لږو نورو کنیاکو تر څښلو وروسته، د ختیزوالو د دود خلاف "پرانستل" شو او هغه هرڅه راته وویل چې د تار په څېر نري اسلامي وجدان یې د ویلو اجازه ورکوله.

دغه ټکي مې له هغو خبرو- اترو نه په حافظه کې پاتې دي:

- په افغانستان کې هرڅوك د هرچا خلاف جنګېږي. او هرڅوك له هرچا سره خیانت کوي.
- له موږ سره هم؟

خلیل له مخامخ ځواب نه په کړېدو وویل:

- افغانستان یوازې جرګه او د سپین ټیکري مېرمن چې د الله رضا ورسره وي، ژغورلی شي.
- اناهیتا؟
- تر هغه وخته به خدای هغه ځان ته وربللې وي. بله همداسې ښکلې او هوښیاره.

هغه یوه بله پیاله هم په سر واړوله او په خنهاري یې وویل:

- او تاسې به شرمېدلي له افغانستانه وځئ.

- خلیله خوله دې وګنډه.
- ښښنه غواړم، تاسې پخپله غوښتنه درلوده...

او له لږې چوپتیا وروسته یې بیا په خندیدلي غږ وویل:

- سلاکار صاحب افغانستان پېړلی شئ خو ماتول یې ناشوني دي.

په دې کې جنرال چیریومنیخ رانووت.

- تاسې ته خبر درکوم چې پنځه سوه تنه.

خلیل وخوځېده. زه هم وار دواره پوه نه شوم چې څه شی یادوي. آخ، دی خو په روزنیز مرکز کې د تمرین خبره کوي.

خلیل په داسې حال کې چې سم په پښو ټینګېدلی نه شو ودرېده او د "زه نور ځم" په ویلو یې مخه ښه وکړه. مونږ یو بل ته لاسونه سره ورکړل، مخونه مو له دود سره سم درې ځله یو په بل پورې وموښل او سره جلا شو.

- په مخه دې ښه خلیل لله! مننه.
- مننه

او له خونې ووت.

(ښایي غوره به وای که لږ وړاندې مې یادونه کړې وای چې نوموړی پر ۱۹۸۲ کال زموږ دستر درستیز د اکاډمی مستعجل کورس پای ته ورساوه او وروسته یې د ا.د.ج د دفاع وزیر د لومړي مرستیال دنده سرته رسوله).

ډګر جنرال خلیل الله، ته اوس هم ژوندی یې که څنګه؟...

ما له تا سره اوږده کلونه وړاندې کړې ژمنه پر ځای وساتله. هغه وخت د ۱۹۸۱ کال په جنورۍ کې ته رښتیا هم د کریملین او دغه راز د کابلي سیاستوالو په اند ول هم ډېر هوښیار او هم ډېر لرلیدونکی وې. له ما نه هم هوښیار وې چې په افغانستان کې مې پر مجاهدینو پر نږدې بري باور درلود. "ټول له ټولو سره جنګېږي. او هرڅوك هرچا ته خیانت کوي." دا هغه څه و چې د ۱۹۷۹ کال په ډسمبر کې افغانستان ته د خپلو عسکرو د استولو پر وخت پرې نه

پوهېدلو او نه مو منلې شواى. خليله، زه دې تر دا اوسه په درنايو يادوم، ستا پاکوالى او له خپل هېواد سره ناپايه مينه مې راياد ېږي. ما له تا سره د خپلو اړيکو يوه ځنډه هم هېره کړې نه ده او هرځه هغسې چې وو رانکلوم.

په کابل کې د پخوا په څېر ګرځبنديز لګېدلى و. د لوى پوځي سلاکار اداره د احضاراتو (چمتووالي) په حال کې وه. زه د شپې په خپل دفتر کې ويده شوم.

نږدې نيمه شپه وه چې په پاى کې اګارکوف د ځانګړي ټلفون له لارې راته زنګ وواهه.

- پوهېږم چې ولې زنګ نه راته وهې، دايې وويل او بيا يې په پسته ژبه ورزياته کړه:
- هرات؟
ما ځواب ورکړ:
- خداى دې دا هرات په سين لاهو کړي.
نيکلاى اګارکوف بيا په سړه سينه ځواب راکړ:
- دا پېښنه ددې وړ ده چې د اوپراتيفي تاکتيك په درسي کتاب کې ځاى ورکړل شي. بې جګړې او بې ډزو د دغسې يوه لوى ښار بيا نيول استاذي ده!
- وينه توى شوې او په تېره نجيب او باريس کارلوويچ (منظور کارمل دى د.ج) ډېره وينه وبهوله. زه پر هغو ورځو لعنت وايم.

اګارکوف زما په ننګه کې يو څو نورې خبرې هم وکړې او مخه ښه يې وکړه: "په غېږ کې دې نيسم".

دا ټکي زه د ۱۹۹۴ کال د جنورى په ۲۶ ليکم. پرون د شوروي اتحاد مارشال نيکلاى واسيلويچ اګارکوف په نووه د يوويچي* هديره کې خاورو ته وسپارل شو. هغه ته په قطعو، قرارګاوو، پوځي علمي مرکزونو او پوځي ښوونځيو، (لنډه دا چې) په

---

* د نووه د يوويچي Novo Divitchi هديره په مسکو کې د مخورو سياسي، دولتي، علمي او هنري څېرو د ښخولو لپاره ځانګړې شوې دى. (د.ج)

هر داسې ځای کې درناوی کېده چې روسي پوځيان او افسران په کې په پوځي چوپړ بوخت دي. زه له تشريفاتي قطعې سره يوځای په داسې حال کې چې له اوښکو ډکې سترګې مې له رپېدو پاتې وې د هغه د تابوت څنګ ته ولاړ وم. دهغه تېرې پوزې، مومي تندي او وتلو رمېښتو ته مې کتل چې يو وخت ګور او کوړې- کوړې (مجعد) وو او له ځانه سره مې فکر کاوه: په وياړ سره ژوند کول بس نه دي بايد چې پای يې هم همداسې له وياړه ډك وي. نه پوهېږم چې ولې مې د ميرا لاخويڅکايا دا څو ټکي راياد شول: "غواړم چې ځوانه مړه شم..." هغه په پنځه دېرش کلنۍ کې مړه هم شوه... خو ولې مې داګارکوف د تابوت تر څنګ دا خبرې را په زړه شوې؟

قسمت يو داسې ژوند ليك هغه ته په برخه کړی چې په دايرة المعارف کې د ځايولو وړ دی. خو څوك به يې ګنې (دايرة المارف ته ورسوي؟... د ۱۹۹۱ کال په اګست کې اګارکوف (د يلڅين او ګورباچوف خلاف د کمونست ګوند) د کودتا ملاتړ وکړ. بنايي له همدې امله و چې د جنورۍ په دغه ورځ د دولتي کچې يو سياستوال هم د ده په جنازه کې ګډون ونه کړ. خو د شوروي اتحاد مارشال ديميتري تيما فييوويچ يازوف او سترجنرال والنين ايوانويچ وارينيکوف راغلي وو او دواړو د وير غونډې ته ويناوې وکړې...

د افغانستان ژمی په تېرېدو و. واورين پوستکی لا ويلې شوی نه و، خو پنډېده هم نه. ځمکه لا هم کلکه وه او واورين پوټکی لا هم د غرو پر لمنو او درو غوړېدلی و. پر تنګيو، غتو او وړو درو لا هم واورې پرتې وې چې سختو او سپين سترګو افغاني بادونو کينې ايستلې. د تودوخې درجه د منفي پنځو او دريو تر منځ وه.

کابل د هندوکش جنوب لويديز پلو پر هواره ځمکه پروت دی چې د افغانستان د نورو سيمو په پرتله يې اقليم ډېر مناسب دی. دلته د اتموسفير فشار تر ډېره ثابت وي (دا فشار د ۶۸۰- ۷۰۰ تر منځ وي او له دې پلوه زموږ د کيسلاودسك "بنار" شرايطو ته ورته دی چې

د ښې هـوا پـه درلـودو د انسـاني وجـود لپـاره د پاکـۍ او راحـت ښېلـګه بلـل کېږي). خـو د کـابل هـواري ځمکـې چـې لـه جنـوب- لويديـز لـوري پرانسـتې دي، پـه کـال کـې دوه ځلـه يـانې لـه مـې نـه تـر جونـه او لـه سپتامبره تـر اکتوبـره د سـختو بـادونو تـر بريـد لاندې راځي چـې د ۴۵-۵۰ ورځو پـه تـرڅ کـې د کـوچنيـو شـګو وريـځې پـرې را خپـروي. لـه دې املـه د افغانسـتان د نـورو سـيمو پـه پرتلـه د دې سـيمې طبيعـي غـوره والـی خپل ارزښت له لاسـه ورکـوي. دلتـه کلـه کلـه رڼا ورځ پـه تکـې تـورې اورنـۍ شـپې اوړي. آن کـه شـونډې دې کلکـې ګنـډلې هـم وي د شـګو وړې- وړې ټوټې د پـوزې لـه سـوريو تـېرېږي او تـر غـاښونو لانـدې کـرچېږي. خـو يـوځلې بيـا يادونـه کـوم چـې دا پـېښه يـوازې څو ټاکلـې ورځې روانـه وي.

د تېرې پـېړۍ پـه اتيـايمو پـه تـېره بيـا نـوي يمـو کلونـو او د روانـې پـېړۍ پـه پيـل کـې د روسـيې د سـتر درسـتيز د کارتوګرافـۍ خدمـاتو د غورځېدنې پـه پـېر کـې څو ځلې (د افغـاني) اميرانو پـه اجـازه د افغانسـتان د ځمکنـي جـوړښت او اقليـم د څېړنـې لپـاره لـه روسـيې نـه پوهـيزې پلټونکـې ډلـې وراسـتول شـوې دي. د دغـو ډلـو مشـري څو ځلـه د روسـي دسـتر درسـتيز وتلـي جغرافيـه پـوه ا.ی. سنيسـاروف پـه غـاړه اخيسـتې وه. هغـه وخـت يـې د افغانسـتان نـوم لا پـه "و" ليکـه: "اوغانسـتان"...

د کـابل روزنـيز مرکـز لـه ښاره شـپږ- اتـه کيلومـتره وتلـی تـر څه ځايـه پـر متقـاطعي ځمکـې (سـطحې) جـوړو. د دفـاع وزارت دا سـيمه پـه بشـپړه تـوګه د تـاکتيکي زده کـړو لپـاره لکـه: انداخـت، بـم غورځونـې، توغنـدي ويشـتني او لنـډه دا چـې د هرهغـه څه لپـاره ځانـګړې کـړې وه چـې د جګړه ييزو زده کړو پـه لړکـې ورتـه د هـر هـېواد پـوځ اړتيـا لـري.

دغـې ننداري تـه پـه هغـه ورځ د هـېواد د لـوړو سياسـي، دولتـي او پـوځي مشـرانو او دغـه راز د ا.د.ج د روښانفکـرو او ښځينـه غورځنـګ ګڼ شـمېر اسـتازي وربلـل شـوي وو.د دغـې پـېښې د سـمبالولو او سـرته رسـولو او دغـه راز د روان بـهير پـه اړه مېلمنـو تـه د پرلـه پسـې معلومـاتو

د ورکړې مسوولیت د دفاع وزیر محمد رفیع ته وسپارل شو. وارله واره مو له افغاني لوري سره غوټه کړه چې زموږ شتموالی په هیڅ ډول په روان بهیر کې زموږ د لاس وهنې مانا نه لري. که رښتیا ووایم زموږ لپاره غوره هم دا وه چې دا ټول بهیر پخپله د افغاني لوري له خوا سمبال او تر سره شي.

د پروګرام لومړنۍ برخه د حربي پوهنتون د نظام (په کتار د درېدو) ننداره وه. د نظام لپاره کوچني قوماندانان یانې د افغاني پوځ واړه ضابطان غوره شوي وو. دغې ډلې ته تر ډېره هوښیار او د شتمنو کورنیو زلمیان غوره کېدل. دوی به لس میاشتې یا لږه ډېره موده زده کړې کولې. د ټولو محصلینو شمېر پنځه- شپږ زره تنه و او پنځه کنډکونه ترې جوړ شوي وو: دوه پکې کنډکونه (هر یو د زرو په شمېر)، درېیم شوبلیز، او څلورم د هوایي مدافعې او توغندیز کنډک و. په پنځم داکې د جګړه ییزو چارو مرستندوی مسلکونه لکه: کیمیا، مخابره، استحکام، لوژستیک او نور راټول شوي وو.

هرکنډک یو یو تر ټولو غوره ټولی د ننداري لپاره بېل کړ. وټاکل شوه چې دوی به پلي عسکري ګردې خولۍ پرسر خو په ژمنیو کالیو کې د پوهنتون له علم (جنډې) سره د موزیک په ملتیا د لوژ له مخې په پریټ تېرېږي. د یادونې وړ ده چې د موزیک باندویې د افغانستان د ټولو یوولسو فرقو او پخپله د دفاع وزارت له منځه غوره کړې وه.

د پروګرام دویمه برخه هغه د چاخبره د ډېرو نیول شویو وسلو ننداره وه. په امریکې، انګلستان، پاکستان، چین او نورو هېوادو کې جوړ شوي ماینونه او چاودېدونکي مواد، بې پسلګده توپونه، "ستېنګرې"(؟) هاوانونه او سپکې توپکې په تاخونو کې یا د ځمکې پر سر ننداري ته اېښودل شوي وې. دا هرڅه افغاني او شوروي پوځیانو د جګړې په ترخ کې نیولي او یا د نښتو له ډګره راټول کړي وو. د وسلو دغو غرونو ته کتنې هم خوند کاوه او هم یې زړه درداوه: یو

ځلې بيا په ډاګه کېده چې په دغه هېواد کې تر سره شوې جګړې خومره سختې او څومره پراخې وې.

د پروګرام دريمه ماده تر دې نامه لاندې تاکتيکي زده کړه وه: "د هغه غليم خلاف چې په بيړه يې د مدافعې حالت غوره کړی د تقويه شوي پلي کنډک تعرض". دغه موضوع ننداره کوونکي ته پردې خبرې د پوهېدو وس ورکوي چې اوسمهاليز (معاصر) پلی کنډک او چې لا يو شوبليز ټولی هم په کې ګډوي او د دوو توپچي کنډکونو ملاتړ ورسره ملګری وي، څومره غښتلی دی. د کنډک د تعليمي جګړه ييزو عملياتو له پيل وړاندې بم غورځوونکې الوتکې د کنډک د تعرض په حدودو کې پر خوځندو نښنو (هدفونو بمونه غورځوي. او د بريد له پيل لږ مخکې د دريو چورلکودرې ډلې پرنښې يرغل وروړي. او له دې هرڅه وروسته کنډک د "الله اکبر!" په نارو بريد پيلوي او د دوه- درې ساعتو په اوږدو کې له يوې څنډې نه بلې ته په رسېدو سره په پرله پسې توګه خپلې رښتينې نښې له منځه وړي (د کنډک په وړاندې د اېښودل شويو دغسې نښنو شمېر زرو ته رسېده چې په کې پلې، توپچي، د شوبلو ضد او شوبليزې او هوايي نښې راتللې.)

په دې توګه تر وسه وسه د يوې داسې رښتينې جګړې کټ مټ بهير انځورېده چې په کې يو پلی کنډک په درنو او سپکو وسلو سمبال د زرکسيزې غليمې ډلې خلاف چې په بيړه يې د مدافعې حالت غوره کړی، تعرض پيلووي.

د پروګرام څلورمه او وروستۍ برخه په آزادې فضا کې د ننداره کوونکو او مېلمنو د زړه خواله، د انګېرنو، نظريو او ارزونو راکړه ورکړه وه. په عمومي توګه له دغسې ننداړو وروسته پوځيان يو بل ته د ويلو لپاره ډېر څه لري.

هرڅه له دې اعلان وروسته پيل شول: "د ټولو د پاملرنې وړ!" د سهار پر لسو بجو مُلا په خوږښې او ترنم د الله ستاينه وکړه.. د دفاع وزير راټولو شويو وګړو ته د ننداري د پيل وينا واوروله. د موزيک

بانډ ملي سرود غږاوه. د دفاع وزير د پوهنتون قطعه معاينه کړه او د پوهنتون د قوماندان رپوټ يې واورېده. بيا يې اجازه ورکړه چې په پريټ تېر شي. لوړ جشني موزيك د ټولو احساسات راژوندي کړل. ټولي سم او دقيق روان وو او هرګام يې پرځمکه نښه جوړوله. د ډولونو (دهلونو) آواز پورته و، داسې برېښېده چې پر لوژ ولاړ افغانان ځانونه د خپلو زړورو پوځيانو په منځ کې ويني. له ټوليو وروسته د موزيك باندېود (حرکت) د پيل پر ټکي ودرېده او چې امر ورته وشو نو په تګ يې پيل وکړ. له لوژه ديرش ګامه راديخوا د باندو غړو د ډېرو راغلو وګړو د انتظار خلاف دا زمزمه وکړه:

زير (اوچت) نارينه غږ:

- وايه کاکا جانه څه بېځايه*

بم (ټيټ) نارينه غږ:

- مسکو سوی دی په اور

ټول په ګډه:

- الله اکبر، الله اکبر!

او بيا زير نارينه غږ:

- پېښې شوې دي جګړې
- هه، څومره خونړۍ وې

او ټول په ګډه:

- الله اکبر الله اکبر

او بيا په يوه عسکري اوسپنيز غږ:

- ته واهسې روسيه ساتي،
- د "بارادين" د جګړې ياد؟!

---

* دا د نولسمې پېړۍ د مشهور شاعر ميخاييل لرمونتف د شعر يوه برخه ده چې د ناپليون خلاف يې په "بارادين" نومي ځای کې د روسي عسکرو د مېړانې په ستاينه کې ويلی دی. دغه شعر روسانو د (الله اکبر) په زياتولو افغاني پوځيانو ته په خوله کې ورکړی و او په يادو شويو تطبيقاتو کې يې د "ډالۍ" نوم پرې اېښی و (د.ج)

او په پرتمين غږ ورسره غبرگه شوه چې:

- الله اکبر الله اکبر

د لاسو د پړکا يوه څپه راوخوځېده. احساساتي شويو افغانانو سره په غبږ کې ونيول او شکرونه يې وايستل...

د موزيك بانډو (د لوژله مخه) تېره شوه. ما چېريومنيخ ته وکتل. له ورايه يې څېرې ويل چې په اووم آسمان کې دی! مانا دا چې دا د هغه لومړنی ډالی وه.

له دې وروسته پلي کنډك پر بريد لاس پورې کړ. لنډ اورنی بريد لس دقيقې روان و. هم توپچي ډزې کولې او هم "کاتيوشا" *... زه خو البته چې له دې هرڅه سره بلد وم. خو د افغاني روښانفکرو او ښځينه غورځنگ د استازو خبره بېله وه. له ښښو ښښانو ځرگندېده چې هغوی له دې امله په شوق راغلي وو چې ته گوره څومره غښتلی پوځ لري او همدا پوځ د اپريل انقلاب ساتي...

د کنډك کړنې له پروگرام سره سمې روانې وې او د دفاع وزير هم پر روانو پېښو تبصرې کولې. هرڅه داسې روان وو ته به وايې په يوه ورغوي کې پېښېږي.

پلي کنډك خپلې دندې تر سره کړې او په غونډيو کې له سترگو پناه شو. د ډزو آوازونه ورو- ورو لړېدل او وروسته بيخي غلي شول. ښځايه به نه وي چې ووايم د دغې تعليمي جگړې په سرته رسولو کې پيترشکيدچنکه خولې تويې کړې وې. دا کنډك د لومړی قول اردو له غوره پلې ياني "اوومې" فرقې څخه خوښ شوی و او د تطبيقاتو لپاره يې د روزنې چاره پخپله ډگروال خليل الله تر مشری لاندې سرته رسېدلې وه.

وروسته رفيع ته لو ته بلنه ورکړه چې د نيول شويو وسلو ننداره وکړي، بيا يې لوډسپيکر خليل ته وسپاره: د ده قطعو دا وسله نيولې وه، پرېږده چې پخپله يې په اړه معلومات وړاندې کړي.

---

* "کاتيوشا" د رياکتيف توغنديو هغې دستگا ته وايي چې په يوه وار ډېرې ډزې کولی شي.

(د.ج)

خلیل الله د الهي مرستې له شکر وروسته یادونه وکړه چې دا وسله یوازې په تېرو دریو میاشتو کې نیول شوې او زیاته یې کړه چې له دې زیاته اوس هم دغلیم په لاس کې ده.

د راډیو، تلویزیون او ورځپاڼو خبریالان له یوې خوا نه بلې ته په تلو- راتلو وو. په راروانو ورځو کې به ددې هرڅه په اړه په ټولنیزو رسنیو کې رپوټونه خپرېږي. د شوروي اتحاد د پوځ د سیاسي چارو لوی ریاست به هم له خپله لوري مرستې کوي.

ما خلیل ځاره او له هغه سره مې خپلې کتنې رایادېدې. په تېره مې ورسره لومړنۍ کتنه راپه زړه شوه. دا د تېر کال د اګست اتمه نېټه وه او ما پر افغاني خاوره لومړني ګامونه اېښودل او کله چې د افغاني پوځي او ملکي څېرو له مخې نه چې زما سترې مه شي ته ولاړ وو، تېرېدم، ده په رسا روسي ژبه ځان راوپېژانده:

- ډګروال خلیل الله. قوماندان لومړی قول اردو (په ناسمه روسي ژبه چې ژباړه یې کټ مټ همداسې کېږي- د.ج)!

وروسته مې هغه په ډېرو جګړو کې لیدلی او پر مېړانه او هوښیارۍ یې باوري شوی وم. او پر غوځوالي (قاطعیت) یې هم. "ګلبدین... دلته!" "نجیب- بوین ګیدړ!" (دا د هرات له پېښو وروسته)... او څه نورې خبرې یې پخې په بله اړه راته کړې وې:

"افغانستان جرګه ژغورلی شي یا د سپین ټیکري مېرمن... او شوروي پوځ به شرمېدلی له افغانستانه وځي".

معاینې، تطبیقات... دا مې په دې پېړۍ کې څومره ډېر لیدلي دي. او ټول یې ژر یا وروسته د اوسني وخت په اصطلاح "په نارسمي چاپېریال کې" پای ته رسېدل.

د روغتیایي چارو په دوو کېږدیو کې مېزونه تیار شوي وو. اساسي خواړه د چڼو ښوروا وه. ولې داسې؟ نه پوهېږم. یوازې دومره راته پوره جوته ده چې په شوروي کې هم چې کله د لوړو ملکي مېلمنو په ګډون په غونډونو او فرقو کې ورته تطبیقات ترسره شي، نو بیا د چڼو (نخودو) ښوروا راوړي. دا یو دود دی...

البته چې چیریومنیخ یوه بله ډالۍ هم درلوده- روسي کواس*
چې کباب راوړل شول نو کواس هم ورسره و. بې شکه تمه وه چې
مېلمنو ته به لږ څه کلك (نشه راوړونکی) شربت هم ورکول کېږي. خو
دا تطبیقات له ډزو، د توغندیو له ویشتلو او د الوتکو له فعالیت
سره تړلي دي او همدا هم د ډېرو مېلمنو لپاره یو پیټی و (ما آن په
خصوصي ډول دا ګوته هم څنډلې وه چې یو شمېر مېلمانه به چې
دغسې تطبیقات یې د لومړي ځل لپاره لیدلي ښایي په دې اندېښنه
کې وي: هسې نه چې د تطبیقاتو سرته رسوونکي د هرڅه په پای کې
مور، هم همدلته ووژني!) له دې امله نو دا د شرابو ځای نه دی او
ښاغلو مسلمانانو یوازې کواس او همدا کواس ومنئ!
د ډګروال خلیل الله په قومانده د اوومې پلې فرقې قوماندان د
جګړه ییزو تطبیقاتو په اړه معلومات وړاندې کړل او د کندک د کړنې
ارزونه یې وغوښته. اجازه راکړئ هغه چا ته چې په دې اړه معلومات
نه لري د ارزونې (د نمرو د ورکړې څرنګوالی) لږ رڼ کړم. د دې کار
لپاره درې ځانګړنې (مشخصات) غوره کېږي:
لومړی: د انداخت د سرته رسولو څرنګوالی. که په سلو کې
پنځوس نښې ویشتل شوې وي نو "منځنی" نمره ورکول کېږي. که په
سلو کې له شپېتو د پاسه وي نمره "ښه" وي او که په سلو کې له اویا
ډېرې نښې ویشتل شوې وي نو د "ډېر ښه" نمره ورکول کېږي.
دویمه ځانګړتیا تاکتیك دی. دلته له اورني حرکت (یاني ډزو
او انداخت) سره د تاکتیکي کړنو تړاو (تلفیق) په پام کې نیول کېږي.
او درېیمه نمره په جګړه کې د کندك دډار ښوونې څرنګوالي ته
ورکول کېږي
دا دی په داسې حال کې چې خلك د ښوروا، پلو او کباب پر
خوړلو بوخت دي، د فرقې قوماندان خلیل ته راپور وړاندې کړ او

* کواس د روسانو یو ځانګړی شربت دی چې نشه نه لري او په لویدیز کې یې "تریو بیر" بولي.
(د.ج)

هغه بیا په خپل وار د دفاع وزیر ته. داسې بریښېده چې رفیع ما ته دراپور د وړاندې کولو لپاره ځان جوړوي خو ما په اشاره وپوهاوه چې هرڅه دې پخپله وکړي.

نمرې داسې راوختلې: انداخت: "ښه" تاکتیک: "ښه" او د کنډک د لارښوونې چاره که څه هم "له متانته ډکه" بلل شوې وه. خو وېتېپېل شوه چې "منځنی" نمره دې ورکړل شي (چې د دا ډول مواردو له معمولې وینا سره سم نمرې په لوی لاس اوچتې ونه ښودل شي). د کنډک د کړنې عمومي نمره "ښه" راوختله. لاسونه ورته ډېر وپړکېدل. آخ، که کېدای شوای چې په افغانستان کې خپلې ټولې چارې همداسې بشپړې کړو. تشریفاتي پریټ، دجګړه ییز انداخت تطبیقات د چنو له ښوروا سره او که کباب او روسي کواس هم ورسره ملګري شي!...

دغو تطبیقاتو خپلې سیاسي موخې ترلاسه کړې. بریښېده چې د راټولو شویو وګړو البته له څلویښتم لښکر سره په همکارۍ کې پر مجاهدینو د افغاني پوځ پر ژر بري باور پیدا شو.

ایلمار برونینیکس هم موسکی- موسکی کېده. ما چې د هغه تندی غوړېدلی ولیده نو له وخت نه په ګټې اوچتونې مې تړې وغوښتل چې د هغې ورځې د جګړه ییزو عملیاتو په اړه معلومات راکړي. هغه د نقشې پاڼه پرانستله. له معلوماتو یې څرګنده شوه چې د هرات په سیمه کې د څلویښتم لښکر د قوماندان د مرستیال تر لارښوونې لاندې د "سالیوت-۲) عملیات په پیلېدو دي. د زرنج په سیمه کې د "ګرانیت-۲" عملیات چمتو کېږي. د هغو مشري د پنځمې موتوریزه فرقې د قوماندان ډګروال ګروموف په غاړه ده.

- هغه لورته د تللو اړتیا ده.
- ښه به وي چې دا تګ د فبرورۍ له پنځمې مخکې تر سره شي.
- خوښه مې ده. هه، رښتیا د "اودار-۳" عملیات څنګه شول؟

برونینیکس معلومات راکړل چې د چورلکو اته دیسانت پلي

شوي دي. جګړې په سکټورونو (برخو- برخو) کې رواني دي. ټول عملیات په ټاکل شوې موده کې سرته رسېږي. د غزني په سیمه کې د قوماندانۍ په مرکز کې جنرال ژالنېر چیك ناست دی.

دا هم شوه ستا د چنهو ښوروا. تطبیقات- تطبیقات دي او جګړه- جګړه ده. عاجزو سرتېرو ته به هلته د خوړو لپاره څه ورکوي؟ البته چې کباب به نه وي- دا خو څرګنده ده.

د قومونو او قبایلو چارو وزیر سلیمان لایق زموږ څنګ ته راغی. هغه ښکاره احساساتي شوی و، هېره یې وه چې کتۍ (دبګ) یې په لاس کې دی، که څه هم رسمي پروتوکول ۸۱ نه وایي چې وزیر دې کتۍ په لاس له یو چا سره تر خبرو وروسته بلځ ته نه ورځي.

لایق وویل: د پسرلي په رارسېدو سره قبیلې له جنوب نه شمال پلو د افغان- پاکستان له ګډې پولې اوښتل پیلوي. هغه اورېدلي چې د تېرېدو- راتېرېدو په ځینو ګودرونو او لارو کې ماینونه اېښودل شوي او یا کمینونه جوړېږي. دا خبره هرومرو د وزیر د اندېښنې سبب ده، ځکه د خلکو او څارویو د ډله ییزې خوځېدنې پر وخت به ډېره مرګ- ژوبله وشي... نه یوازې به څارویو ته د سر زیان واوړي (څاروي د رمې په ډول تر کوچیانو مخکې درومي او ځکه تر هغوی لومړی له خطر سره مخامخ کېږي) بلکې ډېره ملېشه به هم له منځه ولاړه شي. تر کومه ځایه چې د کمینونو په تېره بیا د اندروپوف د ځانګړو کنډکونو له خوا د جوړو شویو کمینونو خبره ده نو ملېشې به ورسره په پرانستې جګړه کې مخامخ کېږي. او څرګنده ده چې ډېر به په کې ووژل شي. وزیر له مانه هیله وکړه چې په خو نږدې ورځو کې یې ځانته ومنم او دا حالت ورسره په مفصله توګه وڅېړم.

ما په خپل ذهن کې هرڅه وشمېرل: سبا سهار وختي تورنجنرال شکیدچنکه د معلوماتو د اورولو لپاره راځي، نهه بجې جنرال ساموییلینکه رابلل شوی دی (ښایي ګل آقا هم ورسره راشي). له دې وروسته د اکاډیمیسن وزیر د منلو غوره وخت دی. داسې برېښي چې

هغه کوم شي اندېښمن کړی دی او دا یوازې له پولې نه د کوچې قامونو د رااوښتلو خبره نه ده... څه، هرڅه چې دي سبا به روښانه شي.

ما لایق ته وړاندیز وکړ چې سبا دې پر لسو بجو زما دفتر ته راشي.

مننه کوم؛ لایق دا وویل او له موږ نه لرې شو.

ایله د سهار رڼا خپره شوې ده. زما د دفتر له کړکیو نه ځلاند لمر سپرلنۍ وړانګې ښندي.

موږ دوه تنه یو: زه او تورن جنرال شکیدچنکه- دی زما مرستیال او د جګړه ییزو عملیاتو د سرته رسولو ځانګې مشر دی. دا دویم ساعت دی چې چای څښو او په سړه سینه د اوپراتیفي- جنګي حالت پر څېړنه بوخت یو.

د ا.د.ج د وسله وال پوځ د ټولو سلاکارو جنرالانو له منځه شکیدچنکه تر ټولو لږ زما دفتر ته راځي، او دلته چې د چایو مېز تر شا له ما سره ناست دی هم ځان ورته محجوب برېښي. هغه تر دې د ترصد، ترصد او قوماندې او د قوماندې له مرکزونو نه د جګړه ییزو عملیاتو له لارښوونې سره ډېر روږدی دی. او که حالات پېچلي شول پخپله له سرتېرو وړاندې د جګړې ډګر ته وردانګلی شي. ما په عملي چارو کې تل خارلی او زغم، پوهه، زړورتیا او مېړانه مې یې چې له عمر سره یې سمون نه درلود، ستایلي دي. پیتر شکیدنکه لکه برېښنا د پوځي چوپړ له پوړیو پورته ختلی او د بلوك، ټولي، کنډك، غونډ، فرقې او قول اردو قوماندانۍ یې تېرې کړې دي. په شوروي کې یې وروستۍ دنده د پوځي ښوونې او روزنې په چارو کې د بایکال د پوځي حوزې د قوماندان مرستیالي وه. عقل ته نه پرېوزي: یو کلیوال هلك تر تورنجنرالۍ؟! نه، دا حقیقت دی. زیار، زیار او بیا هم زیار، مسلکي پوهه او معنوي پاکوالی- دا وو هغه څیزونه چې وګړي یې پر پوځي پوړیو پورته خېژول.

جنرال شکیدچنکه چې د خپلې ظاهري بڼې یانې ونې، ګڼې پیچک (پیکي)، غبنتلوالي او د ځواك خوښوونکي، پیاوړي، مهربان خو تندخویه او ځیلي انسان د عادتونو په درلودلو داسې بریښېده چې ګواکې د روبو* د انځورونو کوم اتل بهر راوتلی او موږ تولو ته یې د ۱۸۱۲م. کال د مشهور اتل جنرال ایرمولوف څېره رایادوله.

"ایل شه قفقازه ایل شه، ایرمولوف راروان دی!"

قفقاز ایل نه شو...

چې افغانستان به څنګه شي؟..

دا هغه څه و چې موږ یې هاغه سهار په اړه خبرې سره کولې.

- په کلیو کې واکمني د اسلامي کمیټو په لاس کې ده... پرچمي واکمن له ولایتونو نه کلیو ته ګام هم نه وراخلي.
- آن که د شوروي یا افغاني پوځ قطعې هم هلته پرتې وي؟
- سترجنرال صاحب بیخي همداسې ده!
- او خلقیان؟
- خلقیان په ولایتونو کې نه شته، ګوښه شوي دي.
- مجاهدینو د جګړو په تاکتیك کې څه نوی والی راوستی دی؟
- تمرکز (ټولېدنه). د هغوی شعار دا دی: "لارې مو جلا دي، خو جګړه به په ګډه کوو!" د هغوی وسله تون ته "ستهنګرې"، بازوکا، دوربین لرونکې توپکې، له لرې کنترولېدونکې ماینونه او نورې ډالۍ رسېدلې دي...
- د مجاهدینو زده کړه په کومه کچه کې ده؟
- ډېره لوړه ده! زړورتیا یې خورا ډېره- اسارت ته غاړه نه ږدي، ټپیان ځای پرځای ولي- خوای څوك په دې ګناه نه نیسي...
- او زموږ سلاکاران څنګه جنګېږي؟

---

* فرانس روبو (۱۸۵٦-۱۹۲۸) په روسیه کې اوسېدلی مشهور انځور ګر دی چې ډېر یې د جګړې ډګرونه انځور کړي دي. د هغه په انځورونو کې له ناپلیون سره د ۱۸۱۲ کال د "بارادین" مشهوره جګړه هم شته (د.ج)

- لکه د ټولو زمانو او ټولو خلکو د داوطلبانو په څېرد یوې تنګې او د پردیو د ګټو لپاره، کله د توپ پر سر کله له توپ سره...

- زموږ د برې لړلید درته څنګه برېښي (څه پایله ترې راوتلی شي)؟

- زه حساب او کتاب درکوم. زما کار جګړه ده.

او ښېښنه غواړم هرڅه راټولول او پایله ترې راایستل- دا ستاسې کار دی...

یوه سړه څپه راخپره شوه خو زه پوه شوم چې له دې نه زیات څرګند (ښکاره) ځواب له شکیدچنکه نه تر لاسه کولی نه شم.

- ځه نو چې داسې ده جنګېږه. د ځان خیال ساته. او موږ به دلته په ارزونه بوخت یو:...

- د مخه ښې غېږه مو سره ورکړه.

- خدای دې مل شه!

دا له شکیدچنکه سره په خپل دفتر کې زما وروستۍ کتنه وه. څو میاشتې وروسته چې زه له افغانستانه وتلی وم، پیتر ایوانوویچ شکیدچنکه ګردیز ته څېرمه ووژل شو. د هغه چورلکه یې ویشتلې وه. زموږ نور اته سرتېري او افسران هم ورسره مړه شول.

"زما کار جګړه ده، ستاسې کار ټولونه او پایله ایستنه ده" دې وینا زما د آمریت غرور یوڅه زیانمن کړ خو چې په دفتر کې یوازې پاتې شوم نو د دې (منل) منلو ته چمتو شوم: "د کونډې ښځې زویه، خپلې روټې ژویه". (د دې ټکي ښه ثبوت د ممنوعو بمونو د کاروني په اړه له اګارکوف سره زما خبرې دي. آن نیکلای آګارکوف په وسله وال پوځ کې له ناپایه واك او څرګند اعتبار سره سره "خپلې روټې ژوولې" او نه یې شوای کولی د "مقاماتو" مخې ته ودرېږي.)

د دفتر وربېرته شو او ساموېلینکه ترې په داسې حال کې چې مخ یې سور شوی و او پر شونډو یې موسکا خپره وه راننوت او په رسمي ښه یې راته وویل:

- د ملګري ستر جنرال روغتيا غواړم!*

ژر له خپله ځایه پاڅېدم او د هغه لور ته وخوځېدم- او د هغه په وزن مې ځواب ورکړ:

- د ملګري تورنجنرال روغتيا غواړم!
- ګل آقا استغفار وکړ...*
- د ارتدوکس عيسويت له مخې؟
- نه، خبره له دې نه هم جدي ده سترجنرال صاحب...
- بيا نو کينه او نکل پيل کړه.

دا دي هغه څه چې ساموېلينکه راته وويل:

ګل آقا د سهار د شپږو بجو شاوخوا ده ته ورغلی و (د لوی پوځي سلاکار اداري لاهماغسې په احضاراتو کې ژوند کاوه). هغه وارخطا او زار اونزار و.

- ژوند مې په سين لاهو شو... په سين لاهو شو او خدايه!

له ساموېلينکه سره د څو پیالې "سميرنوف" ودکا تر څښلو وروسته نور هم بړوس شوی و او په داسې حال کې چې ژړل يې او اسويلي يې ايستل او تينګار يې کاوه:

- زه ګيدړ يم... بدمرغه چوپان.

او بيا يې په لوړ آواز ژړلي او زياته کړې وه.

- غوښتل مې چې بادار رانه جوړ شي... هغوی ته ورغلم... پرچم ته... شيطان وغولولم...

---

* دا په شوروي پوځ (او اوس روسيه) کې له پوځي آمرينو سره د مخامخ کېدو رسمي بڼه ده چې کله کله يې زموږ د افغاني پوځ له "ژوند- ژوند ويلو سره پرتله کولی شو، خو دلته يې همدا ژباړه ټيک برېښي (د.ج)

* دا ژباړه دومره سمه نه برېښي، خو په پښتو کې يې د مذهبي ټکي "استغفار" پرته بل انډول نه شته. د عيسوي مذهب له مخې چې چا ګناه کړې وي نو بيا کشيش ته ورځي، په خپله ورته اعتراف کوي له نورو ګناهونو توبه کاږي او د ښښې غوښتنه کوي، دغه ټول عمل ته په روسي ژبه کې يو ټکی لري، چې موږ به يې همدا مانا سمه وبولو (د.ج)

ساموېلينکه ورته پيالې پيالې شراب اچولې او تر وسه وسه يې د هغه د کرارولو هڅه کړې وه. او هغه ويل:

- خلق ته ورځم! خلق پر پرچم بريالى کېږي!!!

اوبيا يې دوه پيالې يوه په بلې پسې په يوه ساه څښلې وې او په لوړ او کېوونکي آواز يې ويلي وو:

- ووايه څه وکړم؟

ما له ويکتورساموېلينکه نه وپوښتل:

- او تا څه ځواب ورکړ؟

- چې درې پيالې وڅښې نو هرڅه به سم شي.

- ويکتوره ته د "مېګرې" کميسار غوندې يې! راځه چې دا غوټه پرانيزو.

- خوښه مې ده.

- زرګران سره زر په اور معلوموي.

- پوهېږم.

- او مسلمانان رښتيا او صداقت په دروغو...

- او، ما هم همدا فکر کاوه چې دسيسه ده!

موږ ته يې تينګ چاى راوړ.

- د اناهيتا- نجيب- ګل آقا له مثلث نه ډار په کار دى. دوى د هغه په لارښوونه کومه لومه غوړولې ده...

- کېدى شي چې تابييف هم ورسره ملګرى وي؟

- امکان يې شته. هغوى په هره وسيله چې وي په پوځ کې د خلق ستېه غوځول غواړي...

دادي هغه څه چې دوى يې په لټه کې دي! کميسار، دومره مه تيتېږه او سهار مهال يوازې چاى څښه!

او له اوږدې چوپتيا وروسته مې ساموېلينکه وپوښته:

- د حساب- اقتصاد او سياست ستونزه څنګه غوځېږي؟

- چې څومره ډېر پوهېږم، هومره پرې نه پوهېږم...

- لتې (لغتې) مه وهه ایډیالسته. ځواب ته چمتو یې که نه؟
- اوس لاته. خو پر کار بوخت یم. ډارېږم چې په تصور کې لکه د چرې له پاسه چې روان یم...
- مور تول د چرې له پاسه روان یو. څه اوس ولاړ شه ویده شه. بیا مې ساعت ته وکتل او ورته ومې ویل:
- د ماسپښین تر دوو بجو. څو دقیقې وروسته سلیمان لایق دلته راځي.

هغه له خپل ژباړونکي سره راغی.

اټکل خو دا و چې خبره به د کوچي قامونو د حالت په اړه وي. مور نه دا وس او نه هم اخلاقي او سیاسي جواز درلود چې د خپلې ولکې سیمو ته د سلګونو بلوڅو، هزاره وو او نورو قامونو د راتګ مخه ونیسو. پر تېربېدو- راتېربېدو د څارنې ټینګول هم شوني نه وو. د کوچیانو له منځه د عادي ملکي وګړو او مجاهدینو باوري بېلونه هم زمور له وسه پوره نه بربښېده. له دې هرڅه نه داسې یوه ستونزه جوړه شوې وه چې نه په افغانستان کې زما د شتموالي پر وخت او نه له هغه نه وروسته بشپړه غوڅه شوه.

خو لایق بله خبره راپیل کړه او زه یې له بې پردې وینا هېښ پاتې شوم.

هغه په پوره زور څرګنده کړه، چې نه خلقي دی نه پرچمي.

- زه یو رښتینی پښتون یم. د خپل ټبر نهه پښته پېژنم. او ښاغلی جنرال غواړم دا خبره درته په ډاګه کړم چې هېڅوك به په هېڅ وخت کې افغانستان ونه نیسي. تاسې کولی شئ همداګړی ما بندي کړئ...
- تاسې څه وایاست لایق صاحب؟...
- نه، نه... غور ونیسئ چې زه څه درته وایم...

او هغه کټ مټ هماغه ټکي راته بیا واورول چې څو ورځې وړاندې مې د ببرك کارمل له پلاره اورېدلي وو.

- هېڅوك پر دې بريالي شوي نه دي چې افغانستان لاندې کړي. نه مقدوني سکندر، نه چنګېزخان او نه هم انګرېزان. او تاسې هم دا کار نه شواى كولى. افغانستان يوازې پېر (اخيستلى) شئ. خو تاسې خوارياست. تاسې له اسلامي نړۍ، له نفتي شېخانو او هم له امريكې سره سيالي نه شواى كولى.

ما هغه ته په خواب کې څه ويلى شول؟ کوم دليلونه مې ورته راوړلى شول؟ يو څه نا مقنع خبرې مې د ثور انقلاب، د افغانستان د کتو، د ګوند، د روښانفکرو له خوا د انقلاب د ملاتړ او داسې نورو په زره پيل کړې...

- هېڅوك ستاسې د دې انقلاب ملاتړ نه کوي! تاسې ايمان نه لرئ! اسلام به هېڅکله مات نه شئ کړى!

او دلته يې غږ زما په غوږو چړې خښې کړې:

لايق د ستوني له پايه دا ټکي راواورول:

- لاره رسا ده، حاشيې تنګې
- ستنې، اورګاډي او پلونه
- او د لارې پر دواړو غاړو
- پراته هډوکي د روسانو

او بيا يې د ژباړونكي په مرسته خبره اوږده كړه:

- زهږ ژوندون دى، زهږ سياست. افغانستان د شريعت له مخې ژوند كوي. موږ قران ته درناوى كوو او د هغه له مخې خپل ژوند سمبالوو. اسلام زموږ سياست دى.

له اكاډيميسن او شاعر سره زما خبرو داسې بڼه ونيوله. زه پوهېدم چې هغه د لنډيو له ټولولو سره مينه لري او راته جوته وه چې د روسي شاعرانو له ډلې ورته نكراسوف نږدې دى. خو دا چې هغه د روسي "زهږ سياست" د نكراسوف په شعر انځور كړ، زه يې حيران كړم.

لايق ژباړونكي ته ورو شانتې څه وويل خو هغه زړه نا زړه شو. لايق بيا په ټيټ غږ په خبرو پيل وكړ:

- ځئ له افغانستانه لاړ شئ، په سمه ووځئ، په حیا سره.

لایق چې د نفس له مناعته راضي برېښېده، په ګوتو یې د کهربایي تسپو (تسبیحو) د دانو په اړولو پیل وکړ. ما په دې ترخ کې کهربا ته کتل او له ځانه مې پوښتنه کوله: هسې نه چې ده همدا د کهربا تسپې په لوی لاس غوره کړې وي که نه نو ولې یې بل ډول مثلاً هډوکینې تسپې نه راوړلې؟ هسې نه چې په دې توګه یې خپل هېواد او هغه ځای رایاداوه چې مخکې مې په کې دنده سرته رسوله (د بالتیك د سمندرګي د کهربا ("یانتار") سیمه!) او هسې نه چې نغوته (اشاره) یې دا وه چې: څه ورکېږه، خپل هېواد ته دې څه؟

"له افغانستانه په سمه ووځئ، په حیا سره"،- دا فقره یا ژباړونکي بیا تکرار کړه او یا مې په مغزو کې ونښتله...

په دې کې چېریومنیخ راننوت او خبر یې راوړ چې د ا.خ.د.ګ د مرکزي کمیټې منشیان: نور او زېری نابللي نامنلي راروان دي. ما له لایق نه بښنه وغوښته.

زما نوي مېلمانه اندېښمن برېښېدل. نور له راننوتو سره جوخت هغه د چا خبره بې سلامه راګډ شو:

- ملګری سترجنرال تاسې او شوروي ملګري چېریومنیخ او ساموییلینکه سبا د ماسپښین پر دریو بجو په ارګ کې د غرمې رسمي مېلمستیا ته بلل شوي یاست. موږ ته واك سپارل شوی چې د ملګري ببرك کارمل ځاني بلنه تاسې ته وړاندې کړو.

بیا یې له یوې لنډې وقفې وروسته زیاته کړه:

- اکاډیمیسن لایق...

نور لایق ته چې لاله خونې په وتلو بریالی شوی نه و وکتل:

- لایق هم د ارګ مېلمستیا ته بلل شوی دی.

لایق نور او زیري ته د سر په ټیټولو درناوی وکړ.

زما درې سهارني مېلمانه یو ځایي ووتل. په تلو- تلو کې مې لایق ته وویل چې د هغه له خوا پر وړاندې شویو ستونزو به فکر وکړم.

سبا د جمعې ورځ او د مسلمانانو رخصتي وه. ما ساموېلينکه او برونينيکس راوبلل او ترې ومې پوښتل چې د ببرک دا بلنه څه مانا لرلی شي.

د ساموېلينکه اټکل دا و چې دا مېلمستيا له مسکو نه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په شپږويشتمه کنګره کې د ګډون په اړه د بلنليك له رارسېدو سره تړاو لري.

ما ټولو ته امر وکړ چې په رسمي مېلمستيا کې د ګډون له امله پوځي کالي (يونيفورم) واغوندي. يوازې ژباړونکی کوستين دې په ملکي دريشۍ کې وي.

د ماسپښين دريو بجو ته مو ځان ارګ ته ورساوه. يوه لوی زال ته ننوتو چې نږدې دېرش تنه په کې په خورا شوق او زوږ په خبرو بوخت دي. د زال په منځ کې ببرك كارمل ولاړ و. څنګ ته يې (شوروي) سفير ولاړ و چې په بې پروايۍ يې لاسونه دې خوا هاخوا غورځول او د دې لپاره چې له عمومي منشي لوړونه برېښي ځان يې کړوپ نيولی و. ژباړونکي هم لکه چې نه يې شوای کولی دا ټولې خبرې وژباړي له لاسونو نه کار اخيسته. ملګري "او" لکه د تل په څېر په خړه دريشۍ کې د خپل کابلې حامي کيڼ لور ته ولاړ و.

مېزونه پر خوړو او شربتونو ډك وو او د دېوالونو په اوږدو کې اېښودل شوي وو. دا و هغه څه چې زموږ سترې مشې ته د ارګ د کوربه له راخوځېدو وړاندې مې تر سترګو شول. ملګری "او" په هغه پسې داسې جوخت روان و، تا به ويل لکه کولمه يې چې ورپورې غوټه وي. "وايه کاکا جانه څه ښځايه..."- د دولت رئيس مو په دې ټکو په ورين تندي هرکلی وکړ. په سترګو کې يې د هرکلي ځلالېدل کېده. له لنډې سترې مه شې وروسته يې بيا سفير ته مخ ورواړوه، لکه چې د تابييف خبرو ډېر بوخت کړی و. او زما لورته اناهيتا راتب زاد او ګل آقا راوخوځېدل.

- ښاغلی جنرال، مېرمن د هرات له امله له تاسې نه مننه کوي.

(ګل اقـا دا وویــل او بیــا یـــې) راتولـــو شـــویو وګړو تـــه د ســر پـــه اشـاري زیاتـه کـړه:

- اوس دوی د بـري نمانځنـه کـوي خـو څو ورځې وړانـدې یـې کیـدی شـي ځای پلچرخـي وای، او یـا بـه یـې اوس الله تـه حسـاب- کتـاب ورکـاوه.

داسـې بـرېښېده چـې دا یادونـه مخکـې لـه مخکـې چمتـو شـوې وه.
دغـه وخت نو مـا چـې د نـورو کسـانو لـه نشـتوالي ډاډه شـوی وم وپوښتـل:

- پـه عمومـي ډول د هـرات د پېښـو ارزښت پـه څه کـې دی؟

هغـه اناهیتـا تـه وکتـل او بیـا یـې د خپلـې روانـې روسـي ژبـې پـه مرسته پـه باور (اعتمـاد) سره راتـه وویـل:

- (غلیـم) پـه کندهـار، ګردیـز، مزارشریف او ښایـي هـم پـه جـلال آبـاد کې لـه هرات نـه د راډیویـي اشـارې د وررسـېدو پـه تمـه و...

هغـه او اناهیتـا وروسـته د درنـاوي پـه کولـو لـه موږ نـه ولاړل.

بیـا کشـتمند راوړانـدې شـو او روغبړ یـې وکـړ. هغـه وویـل چـې د کوشـك- کندهـار او ترمـز- کـابل لویـو لارو تـګ- راتـګ بیـا پیـل شـوی او د هـرات لـه پېښـې وروسـته د ورانکـاریو کچـه لوېدلـې ده. د لـوژستیك پـه چـارو کـې یـې زمـا مرسـتیال ایـوان کـالومییخیف وسـتایه چـې لـه افغـاني وزیرانـو سره پـه ګډه یـې لـه شـوروي نـه لـه پـلان سـره سـم د مـالونو د رارسـولو چـاره پـه بریالـی تـوګه سـمبال کـړې وه. لومـړی وزیـر لـه دې املـه خـورا خـوښ و چـې د پسـرلني کـښت پـه درشـل کـې افغانسـتان تـه د سـون مـواد او تخنیکـي وسـایل رارسـېدلي دي.

د ا.د.ج لـه نـورو دولتــي او سیاســي مشـرانو څخـه د حکومـت د مشـر او د پـلان د وزیـر سـلطانعلي کشـتمند نـښې دا دي چـې هغـه پـه کـار کـې مـهارت لـري، پـر اقتصـادي قوانینـو پوهـېږي، خواریکـښ دی او ډېرې خـبرې نـه کـوي. آن حفیـظ الله امـن چـې پخپلـه هـم هوښیـار او ځواکمـن سـمبالوونکی او چلبـاز سیاسـتوال و د کشـتمند لـه دغـو ښېګڼو رخه کوله. دا رخـه پـه پـای کـې د دې سبب شـوه چـې امیـن د یـوه

سیال او د لوړ دولتي پست د کاندید په توګه کشتمند له خپلې لارې ایسته کړ او زندان ته یې واچوه.

موږ مخکې هم د ماڼیو دننه پر دسیسو خبر وو او اوس هم ناکاره او وړ مشران پېژنو او د هغوی خپل منځي رخه راته څرګنده ده. له همدې امله مو د خلکو تر مخه له کشتمند سره خواخوږي نه کوله او نه مو هغه هیلې په ډاګه کولې چې په راتلونکي کې د ځواکونو د انډول په پام کې لرلو سره په ده پورې تړل شوې وې. که چېرې ببرك ته د دغسې یوې خبرې پته لګېدلې وای (او د نجیب ګمارلو کولی شوای دغسې یوه اطلاع له خپل تبې سره یوځای وړاندې کړي) نو کشتمند هرومرو د ثور انقلاب یا د ا.خ.د.ګ د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو خلاف په کومه دسیسه کې لړل کېدلی شو. نو بیا که له "دسیسه کوونکي" سره بخت ډېره یاري هم کړې وای ځای به یې زندان و.

آیا کشتمند د ځان په اړه زموږ له دریځه خبر و او ګڼې پوهېده چې موږ د افغانستان د راتلونکي په اړه د فکر کولو په ترخ کې دی د هغو کسانو په ډله کې بولو چې حساب پرې کېدلی شي؟ ښایي نه. او یا ښایي اټکل به یې کاوه.

نوکرانو په سپینو دستکشو کې خواړه وړاندې کول او مېلمنو هم د هغو له ست سره سم خوراك او څښاك کاوه. او دا دي نوکران چوپ شول او باچا رامنځته شو. اعتراف کوم له هغه دسپلین او ظاهري درناوي نه مې رخه راتله چې درباریانو خپل مشرته کاوه.

ببرك کارمل په ویاړ سره وویل چې ملګري بریژنف او د شوروي مشرتابه نورو غړو (د شوروي مشرانو د هر یوه نوم یې واخیست) د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په شپږویشتمه کنګره کې د ګډون لپاره له افغانستان نه یو لوی پلاوی بللی دی.

ببرك زیاته کړه:

- موږ چمتو یو چې د شوروي اتحاد کمونست ګوند او نړیوال انقلابي غورځنګ ته خبر ورکړو چې وسلواله مبارزه مو څومره

بریالۍ روانه ده، ولسي واکمنې په څومره بریالیتوب ټینګېږي او زموږ په ویاړلي، لرغوني او ګران افغانستان کې دیموکراسي څنګه ټینګېږي.

سفیر د تایید په بڼه سرخوځاوه او ګواکې چمتو و چې له ببرک سره د وړ ټکو په موندلو کې مرسته وکړي. د شوروي نماینده ګۍ د مشر ټوله بڼه د دې باور ښکارندویي کوي چې افغانستان به ډېر ژر په شپاړلسم شوروي جمهوریت اوړي.

ټول په خوښۍ لاسونه پړکوي. ملګری "او" په خپل ځای کې ټوپونه وهي او یوازې کیښتمند پر مخ د موم پرده غوړېدلې ده.

او دا دی سفیر او ببرک سره غاړه وتل او هر یوه تر مورګو ډکه پیاله تر پایه وڅښله. خلیل الله هم سپین- سپېڅلی او چوپ دی، د غبرګونو ورونو- نور او زیري سترګې له خوښۍ ځلېږي، غونډ پوزی نجیب تر یو ولاړ دی. څنګ ته یې لایق په داسې حال کې موسکېږي چې له خپلې څېرې نه د اندېښنې د وربځو شړل نه غواړي. داسې برېښي چې یوازې اناهیتا چې خپلې مرموزتیا زړه راښکونکې کړې دا هرڅه زغمي...

ببرک په هېواد کې د روانو جګړو په اړه آن په تېروتنه کې هم یو ټکی ونه وایه. اوس نو وایه کاکا جانه څه بېځایه؟...

د دولت د مشر په کور کې له دغې مېلمستیا نه مې یوه تیاره خاطره په ذهن کې پاتې شوه.

موږ خپل دفتر ته راغلو او چیریومنیخ یو ځلې بیا وویل:

- د یابو د بدلولو وخت دی.
- ما د یادونې په دود وویل:
- ده ته لاد مسکو په کنګره کې وینا اورول تر مخه دي.

# دیارلسم څپرکی

موږ د ۱۹۸۱ کال د فبرورۍ تر نیمایي د هېواد په ټولو ولایتي مرکزونو کې ګرځبندیز سخت کړ، په لارو او د کاروانونو د تېرېدو په ګودرونو کې مو کمینونه جوړ کړل او له شوروي اتحاد نه په راغلو مالونو د بار موټري کتارونو ساتنه او بدرګه مو پیاوړې کړه. د افغاني پوځ د جګړه ییزې وړتیا درلودونکې قطعې او شوروي عسکر مو د ټولو دولتي، ګوندي او ټولنیزو ادارو د خورا ټینګې ساتنې لپاره وګمارل. رسمي تبلیغات هم چې ورانکاري او ترهګري یې غندله زموږ په ګټه روان وو. څرګنده ده چې ډېره پاملرنه مو د جنورۍ-فبرورۍ د پلان له مخې جګړه ییزو عملیاتو ته کوله. دې ټولو په ګډه دا امکان برابر کړ چې د مجاهدینو د تروریستي او ورانکارو، هڅو اغېز ډېر راټیټ شي.

بریښبېده چې اوس کولی شو خپله پاملرنه له دښمن نه په آزادو شویو ولسوالیو او علاقداریو کې د واکمنۍ پر ټینګولو راټوله کړو. البته چې په دې برخه کې ځینې کارونه تر سره کېدل او بریالي پای ته رسېدل، خو له بده مرغه پر بري ځانګړې ټینګار او باور نه و او ببرک او پلاوی چې یې په کوم پرتم (طمطراق) د فبرورۍ پر پنځلسمه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په شپږویشتمې کنګرې کې د ګډون لپاره مسکو ته ولاړل، هغې هم د دغې باور له پیدا کولو سره مرسته

نـه شـواى كولـى. د پـلاوي د مخـه بنې مراسـم د ختـيځ پـه دود ډېر پرتميـن جوړ شـوي وو.

ورو ورو لـه هغـې خواشـينۍ راوتلـم چـې د هـرات لـه پېښو وروسـته پيـدا شـوې وه. نـور د دې وخـت رارسـېدلى و چـې د سـپرلي يـانې د مـارچ- مـې مياشـتو لپـاره د جګړه يـيزو عمليـاتو پـلان جـوړ كـړم. (دا ځل مـو د دوه مياشـتني پـلان پـرځاى معقولـه وبللـه چـې د دريـو مياشـتو پـلان جـوړ كـړو. البتـه چـې موخـه هماغـه مخكنـۍ وه: پـه ټول هـېواد كـې د بشپړ بـري او د واكمنـۍ د ټينګولـو شـوني كـول.

دا دويمـه اووه نـۍ وه چـې دوو قـرارګاوو- د تركسـتان د پـوځـي حوزې او پـه افغانسـتان كـې د لـوى پـوځـي سـلاكار قـرارګاه- پـر دغـه پـلان خولـې تويولـې. تـر لاسـه شـويو او ارزول (تحليـل) شـويو معلومـاتو (مـا لـه دود سـره سـم دغـه معلومـات لـه چـيريومنيخ او سـامويلينكه سـره پـه ګډه ارزول) دا امكـان راكـاوه چـې روانـو پـېښو تـه د هغـو د خپـل منځـي اړيكـو او سـتونزو پـه پـام كـې نيولـو سـره پـه نـوي نظـر وګـورو.

پـه شـوروي اتحـاد كـې د كنـګرې چمتووالـى روان و. (اوس د دې خبرې كـول عجيبـه بـرېښي. ځومـره بـه سـړى احمـق وبـرېښي كـه ووايـي "د ګونـدي كنـګرې لپـاره ملـي چمتووالـى"- اوس ځومـره ډول ډول ګونـدي كنـګرې دي!) د دې مانـا دا وه چـې ټولـې مـهمې چـارې د هـېواد د مشـرانو او مـهمو ادارو لـه خـوا ارزول كـېږي (تحليلـېږي). او البتـه چـې د افغانسـتان حـالات پـه غـور سـره پـه كريمليـن، ك.ګ.ب او د بـهرنيو چـارو پـه وزارت كـې ځېړل كـېدل.

مـوږ داسـې پـوره دلايـل درلـودل چـې پربنسـټ يـې دا وګڼو چـې د مجاهدينو مقـاومت مـات شـوى او ځپـل شـوى دى او پـه نـږدې راتلونكـې كـې د كوم جدي عمـل د سـرته رسـولو وس نـه لـري. خـو پـه سلو كـې ځه د پاسـه شـپېته- پنـځه شـپېته كلـي، علاقـدارۍ او ولسـوالۍ يـا مخـامخ د اسلامي كمېټې په ولكه كې وې او يـا يـې هغـو ملايـانو تـه غـاړه ايښودې چې د دښمـن ملاتړ يـې كـاوه او د هغـوى پـه لارښوونـه يـې عمـل كـاوه.

دغه راز په پاکستان کې د ۶۰- ۷۰ او په ایران کې د ۲۰- ۲۵ کمپونو یا د مجاهدینو د روزنې مرکزونو شتوالي تر ځمکې لاندې مخالفین په جدي توګه تغذیه کول او د سپرلي له پیله له پاکستان نه افغانستان ته د قامونو (یو نیم دوه میلیونو کوچیانو) راتګ د هېواد په جنوبي ولایتونو کې حالات تر ډېره کړکېچن کولی شي.

نو څه وکړو؟ وړاندې څه پلان جوړ کړو او څنګه عمل وکړو؟ زما په دفتر کې ناست یو او پر همدې پوښتنو غور کوو. ما هغه کوله چې د چیریومنیخ او ساموییلینکه د نظر له اوریدو وړاندې خپله طرحه دوی ته ډاګیزه نه کړم. او په همدې ترخ کې مې د ببرك د پلار، خلیل او لایق دا خبرې له مغزو نه وتلې چې افغانستان ځوك لاندې کولی نه شي. زه پوځي یم. زه یې دلته د جګړې لپاره رااستولی یم. خو افغانستان باید ونیول شي!

زه لاله خپلو مرستیالانو سره په دې اړه نه غږېږم. جنرال برونینیکس راننوت. له خبرې یې برېښي چې څه نادوده پېښه شوې ده.

- چېرته؟

ایلمار ځواب راکړ:

- جلال آباد ته څېرمه.
- څه پېښ شوي؟
- د ښځو پر عزت تېری شوی او چې چا دا پېښه لیدلې سوي دي.

دې ته وایي د ګوندي کنګرې لپاره جوړه شوې ډالۍ!

ساموییلینکه د پېښې ځای ته د الوتو اجازه وغوښته. البته چې ما ورسره موافقه وکړه او ترې ومې غوښتل چې ګل آقا او د ځارنوالۍ کوم ځوك هم له ځانه سره بوځي.

- امر کوئ صاحب!
- همدا نن به بېرته راستنېږي.

د جګړو يوه رذيله ډالۍ بېځايه بېرحمي ده... په دې کې زموږ پوخ ګټه د "انترناسيوناليستي دندې د سرته رسولو لپاره" دې هېواد ته رابلل شوي و، د شرم خبره ده. کېدای شي د دې پېښې له ليکلو تېر شوی وای که چېرې په کې د لوړې پوړۍ د يو شمېر چارواکو اخلاقي بڼه نه څرګندېدلی.

په لويو چارو کې خو ټول مخور او هوښيار دي. نو هلته به څه کوې چې له اخلاقي پلوه شرموونکې پېښه منځته راشي؟

زه هڅه کوم چې ټول شيان په پوره دقت انځور کړم.

له ساموېلينکه سره برونينيکس هم دفتر ته راننوت. د ساموېلينکه بڼه سپينه او شنه برېښېده او ستړی و. هغه وويل:

- وحشتناکه پېښه ده. جلال آباد ايشېږي او نړېدې دی چې وچوي.
- په کابل پوهنتون کې متهګونه جوړ شوي دي. په ټول افغانستان کې د پاڅون غږ کېږي. په علومو اکاډيمۍ کې وير اعلان شوی دی.

ايلمار دا وويل او بيا يې زياته کړه:

- سينماګانې کار نه کوي او له احتماله لرې نه ده چې...

ما د هغه خبره غوڅه کړه:

- نوره نو څرګنده ده. ښه زيری د دوکان لاندې دی او بد په نړۍ کې انګازې کوي.

ساعت د شپې نهه بجې او پنځه څلويښت دقيقې ښودلې.

تر کومه چې ما ته پته ده د [illegible] کال جګړې په ترڅ کې داسې پېښه نه وه شوې. او که چېرته دې خبرې ته پام [illegible] چې دا ډول کار د شريعت له مخې نه يوازې بيخي منع دی چې تصور يې هم کېدلی نه شي، نو بيا خو د هغې ککړتيا تل ښه څرګندېدلی شي چې موږ ياني څلوېښتم لښکر يې ورغورځولي يو...

دا دي هغه څه چې ساموېلينکه راته وويل:

د فبرورۍ د خوارلسمې ورځې په دويمه نيمايي کې د فرقې د کشف کنډک د ګزمې يوه يوولس کسيزه ډله د لومړي بريدمن "ك" تر

قوماندانی لاندې جلال آباد ته څېرمه پر ګزمه بوخته وه. د ډلې قوماندان پتېيلې وه چې خپل کنډك ته د کبابونوليپاره د پسونو ډالی له ځانه سره يوسي. کله چې "ك" او د هغه ډله د يوه ختيځ کور له دېوال نه د پسونو په لټه ورواوښته، هلته يې درې ځوانې ښځې، دوه سپين ږيري سړي او له شپږو تر لسو کلو شپږ يا اووه کوچنيان په نظر ورغلل. يوه واړه ضابط چې خپل شهرت يې پتولی نه شو يادونه کړې وه چې "پېغلوټې بدې نه دي". د واړه ضابط خبرې لکه سپرغۍ په نورو کې هم اوربل کړ، دلته نو دغه واړه ضابط خپل عسکري بالاپوش غورځولی او د يوې ښځې د نيولو په نيت خوځېدلی و:

- هلکه ماڼو وهئ، ماڼو وهئ (ياني ژر کوئ، پيلوی يې)

زموږ انټرناسيونالستانو د سپين ږيرو او ماشومانو تر مخه تر پايه د ښځو پر عزت تېری کړی و. دا تيری دوه ساعته روان و. ماشومانو چې يوه ګوټ ته په منډه خلاص شوي وو په ژړا او نارو له خپلو ميندو سره د مرستې هڅه کوله. سپين ږيرې چې لړزېدل خدای ته زاری پيل کړې وې چې رحم پرې وکړي او ويې ژغوري.

وروسته واړه ضابط امر کړی و: "اور!" لومړی يې هغه ښځه وويشته چې همدا لږه شېبه وړاندې يې پر عزت تېری شوی و. وروسته يې نور ټول هم وويشتل (ساموېلينکه ستونی له عقـ..ي ډك- ډك کېده). وروسته يې د زغره وال ګاډي د تېلو له ټانکی نه تېل رااخيستي پر مړو يې شيندلي، دپاسه يې پرې کالي، زړې لتې او د کليوال بېوزلي کور کتهونه، لمڅي او پوزي غورځولي او بيا يې اور وراچولی دی. د ختيځ کور غولی سرولمبو رانغښتی و.

"ك" او ډلې يې بيا هم څو پسونه خپل کنډك ته ورسره بيولي وو چې ګواکې کليوالو د شوروي پوځ د ورځې* ډالی وراستولې ده.

---

* په مخکني شوروي او اوسنی روسيه کې د فبروری ۲۳ د پوځ ورځ بلل کېږي. (د.ج)

یوولس واړه څاروي یې د جګړه ییز ګاډي مخ- مخ ته له ځانه سره په مخه کړي وو.
ساموییلینکه زموږ پام بلې خبرې ته راواړوه:
- څه کرغېړنه شمېره ده: یوولس وژل شوي، یوولس ټپي کوونکي او یوولس پسونه...
وړاندې څه پېښ شوي وو؟
- د یوې وژل شوې ښځې یو دولس کلن ماشوم ورور چې په یوه ګوټ کې پټ و او دا هرڅه یې په خپلو سترګو لیدلي وو، ژوندی پاتې شو. همده هغه بریدګی پېژندلی و.
موږ د څه مودې لپاره چوپ پاتې شو او له اورېدلي نکل وروسته مو خپله ساه جوړه کړه. پر سر مې تیارو فکرونو زور راوړ- د بېګناه وژل شویو فکرونه، زموږ پر مرستو د باور د وژلو فکرونه (که څه هم خدای پوهېږي چې دا باور څومره غښتلی و) او په ناولتوب کې زموږ د پوځي حیثیت د ډوبولو فکرونه. هو څرګنده ده چې له دې خبرو وروسته د سپینږیري جنرال په سر کې نور څه فکرونه راټوکېدلي شي.
ساموییلینکه خبره پسې اوږده کړه:
- "ك" او واړه ضابط پر هرڅه اعتراف وکړ. ټوله ډله نیول شوې او پلټنې ترې روانې دي.
ما وپوښتل:
- یانې دا چې ببرك مسکو ته له الوتلو مخکې له دې هرڅه خبر شوی و.
برونینیکس په ټینګار سره وویل:
- او تابییف هم. ملګري "او" زما ترمخه هغه ته خبر ورکړ.
ما په قهرژلي لوړ غږ وویل:
- او پر هوایي ډګر یې ځان غلی ونیوه.
ساموییلینکه په غړمبا وویل:

- ټول له موږ نه دا خبره پټوي.

ایلمار یادونه وکړه:

- لکه موږ یې چې له هغوی نه پټوو.

شپه نیمایي ته نږدې کېده. د پرېکړې د کولو او لارښوونو د صادرولو وخت رارسېدلی و.

- راروانې دوه- درې ورځې به زه پر همدې پېښه بوخت یم. د پوځونو اوپراتیفي لارښوونه د چیریومنیخ (هغه به سهار په الوتکه کې له کندهاره کابل ته راستون شي)، شکیدچنکه او ایلماره، ستا په غاړه اچوم.

له ویکتور ساموییلینکه نه مې هیله وکړه چې د ا.خ.د.ګ له مرکزي کمېټې، د حکومت له غړو، د سفارت له ګوندي کمېټې، د کابل له روښانفکرو او علومو اکاډیمۍ سره د خبرو او جرګو له لارې راسره د دغې کرغېړنې پېښې د اغېز په لږولو کې مرسته وکړي.

- او سبا سهار پر نهو بجو له کشتمند سره د هغه په دفتر کې زما د کتنې چاره سمبال کړه.

- بل به څوك درسره وي؟

- ډګروال کارپوف.

- او ژباړونکی؟

- زه او کشتمند له فرانسوي ژبې نه ګټه اخلو. هیله من یم چې زما ساراتوفۍ* لهجه به د لارې خنډ نه شي. دا د شرم پیاله له شاهدانو پرته یوازې څښل غواړم...

- ایلمار برونینیکس! مسکو ته مو د شفري پیغام متن جوړ کړی دی؟

- هو صاحب، ایلمار دا وویل او د (شفري) متن چاپي پاڼه یې زما تر مخه پر مېز کېښوده.

---

* ساراتوف د روسیې یو ښار دی چې د ولګادسین پر غاړه پروت دی (د.ج)

پانه مې ولوسته، لاسليك مې كړه او په يوه گوټ كې مې وزته نېته وكښله: "د ۱۹۸۱ كال د فبرورۍ ۱۶- د شپې تېك دولس بجې."

- راځئ چې وخت قيد كړو، هغه زمور خلاف روان دی.* بايد مقاومت وكړو. باوري يم چې دا كار به زمونږ لپاره خورا گران وي. د ټولو شپه دې نېكمرغه وي.

په كټ كې وغزېدم خو خوب نه راته. په دې هېواد كې زمونږ له خوا د غوره شوي سياست او ستراتيژۍ په اړه مې فكر كاوه. او بيا بيا مې د خپل ځاني موقعيت په اړه سوچونه وهل. هڅه مې كوله چې د خپل رول په اړه مبالغه ونه كړم. عسكر خپل ځای پېژني، په تېره بيا چې آن د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ لوی درستيز اگارگوف هم د اندروپوف په لارښوونه له دې سياسته گوښه كړی شوی و. هغه لوري ته چې "د پرېكړو سنجول" بلل كېږي زما مخه ترلې ده. خو بيا هم مسكو دا ډول پرېكړې په افغانستان كې د روانو جگړو د پايلو په پام كې نيولو سره كولې. او د جگړې په برخه په تېره بيا د جگړه ييزو عملياتو د سرته رسولو په ډگر كې خو نه يوازې پر څه پوهېږم چې كارپوه هم يم! گنې د سترو سياستونو د ستراتيژۍ پر ټاكنه هغه جگړې چې ما يې خبر وركړی او دغه راز هغه چې خبر يې وركړل شوی نه دی، اغېز نه لري؟ د جگړه ييزو عملياتو اغېزمنتوب هغه ستنه ده چې زمونږ ټول بهرني تبليغات يې پر سر درول كېږي. د جگړه ييزو عملياتو په پايلو پورې دغه راز په ملگروملتو او د وارسا په تړون كې زمونږ د دريځ غښتلتيا او د مخالف ناټو تړون په وړاندې زمونږه ځواكمني او جگړه ييزه وړتيا هم ترلې ده.

په دې توگه نو، څومره چې په هېڅ شي كې مبالغه نه ده په كار، هومره يې د ارزښت ټيټول هم نه ښايي. ما خپل ځای او رول پېژانده او زه بايد هسك پاتې شوی وای.

---

* دا يوه اصطلاح ده مانا يې دا ده چې سر له همدا شېبې متې راونغاړئ بيره كوئ چې وخت تېرېږي. (د.ج)

ما په دې اړه فکر کاوه، له يوه اړخه پر بل اوښتم او دې پوښتنې ته مې د ځواب موندلو هڅه کوله. لوی پوځي سلاکار بايد څه وړانديز يا کوم نوښت د مسکو څېړنې ته وړاندې کړي. او يوازې يوه ټکي ته رسېدم: له هرڅه وړاندې په کار ده چې دلته په افغانستان کې غوڅ بری وګټو او د دې هېواد د خاورې له درېيونه په دوو برخو اوښه به وي که لاله څلورو نه په دريو برخو کې ولسي واکمنې ټينګه کړو. که چېرې دا موخه ترلاسه شوه نو هله بيا له مسکو سره له وړ دريځ نه خبرې شونې دي: هلته د برې ژبه خوښوي. او يوازې د بريمن حبرو ته غوږ نيول کېږي. دغه وخت نو کېدی شي چې اصولي وړانديزونه رامنځته شي. دغه ډول وړانديزونه ورو- ورو زما په مغزو کې پخېدل.

لاهم خوب نه راته. د ټيلفون شرنګا شوه. ګړۍ ته ګورم د سهار څلور بجې دي. مېرمن مې پوښتنه کوي:

- سانيا ويده نه يې؟
- البته چې نه.
- کريمه کشتمند نن له مور کره پاتې ده. هغې راته د هغې پېښې بشپړ نکل وکړ. دوعا کوي چې خلك عمومي پاڅون (جهاد) ونه کړي. وايي چې ډېر امکان يې شته دی.

ښځې ته مې تسلي ورکړه او ورته مې وويل:

- نهه بجې سلطان (علي) ته ورځم. هڅه به وکړو چې يوه لاره يې راوباسو.

داسې برېښي چې د حکومت رئيس د هېواد حالاتو دومره انديښمن کړی چې خپله ښځه يې د لوی پوځي سلاکار کور ته استولې چې خپلې انديښنې د هغه مېرمن ته ورسوي.

هغه په څرګنده دا ګڼله چې انناواسيلفنا سم دلاسه ما ته خبر راکوي او په دې توګه به ډېر ژر يوې پرېکړې ته رسېدل شوني شي: په کار وه چې منځته راغلې ترينګلتيا ډېره ژر له منځه يوړل شي.

جهاد... هغه خو دا یو کال روان دی خو ربښتیا عمومي بڼه نه لري او ځای- ځای په کليو کې چې ملايان په کې غښتلي دي ځان ثرګندوي. خو موږ ته پته لګېدلې چې پېښوري مشران له کفارو سره په مبارزه کې د ټولو ځواکونو او ګرد مسلمان ولس د يو موټي کولو هڅې کوي. خو هغوی دغې موخې ته خورا نږدې شوي وو: د هرات په نيولو په ټول افغانستان کې د جهاد اور بلېدلی شو. خو موږ پېښوري مشران په هرات کې مات کړل.

اوس د جلال آباد جنايت يو نوی طوس په لاس ورکړ.

د دې امکان له پامه غورځول هم په کار نه و چې کېدی شي په افغاني پوځ، ثارندوی، خاد، دولتي مامورينو او روښانفکرو کې له شورويانو نه د کرکې احساس غزونې وکړي. هلته به نو هرڅه له لاسه ووځي: ځلوېښتم لښکر به ربښتيا له ولس او د هغه له پوځ سره په جګړه ښکېل شي. نه مې غوښتل آن په تصور کې هم انځور کړم چې د دغه کار پايله څه شی راختلی شوای.

د سهار په ټيک اوو بجو مې جنرال ساموېلينکه او جنرال برونينيکس راوغوښتل. هغوی وارخطا او هېښ زما دفتر ته راننوتل. بې له دې چې خپلې خبرې ورته توضيح کړم (د کار په بهير کې به خپله وپوهېږي) امر مې وکړ:

- لومړی: سر له ننه دې په کابل، جلال آباد، کندهار، هرات، مزار شريف او کندز کې د مازيګر له شپږو نه د سهار تر اوو بجو ګرځبنديز ولګول شي؛
- د ورځې له خوا دې د دغو ښارونو په مرکزي واټونو کې د زغره والو ګاډو يا محاربوي ماشينونو ګزمې وګمارل شي؛
- د حکومتي، اداري او ګوندي ودانيو، پلونو، راډيويي سټېشنونو، د پښتې، بانکونو، سينماګانو، ځلورلارو او نورو ځايونو ساتنه او دفاع دې دوه يا درې ځله پياوړې شي؛

- همدا نن شپه دې په دغو ښارونو کې تلاشۍ پیل شي، شکمن کسان دې ونیول شي او د راتلونکي برخلیك د ټاکنې لپاره دې خاد ته وسپارل شي.
- دویم: د نن ورځې تر لسو بجو دې د دې ټولو او نورو اقداماتو په اړه له بابه جان، نجیب، ګلابزوي او د ا.خ.د.ګ له مرکزي کمېټې سره تفاهم وشي. دا موضوع دې زموږ د سفارت د خبرتیا لپاره هغوی ته هم ورسول شي.
- ټاکل شوي اقدامات د یوه سمبال جهاد د مخنیوي لپاره دي.
جنرال چیریومنیخ ساعت- ګړۍ ته رارسېدونکی دی. د دې هرڅه په اړه هغه ته هم معلومات ورکړئ. تیك نهه بجې زه کشتمند ته ورځم. له هغه سره به ټوله خبره غوټه کړم. فکر کوم چې د خپلو کړنو په اړه به موافقه ترلاسه کړم. بس همدومره.

د مخه ښې پر وخت مې دواړو ته یادونه وکړه چې د دې امر د سمې سرته رسونې مسوولیت د دواړو په غاړه دی.

پر اتو بجو مې جنرال پیتروخالکه ته امر وکړ چې هردوه ساعته وروسته دې د هېواد د حالاتو رپوټ راکوي او که حالات ترینګلي شول یا کومه ناوړه پېښه منځته راغله بې ځنډه دې خبر راکړي.

ما د رباني تصویر ته وکتل چې د مېز پر سر پرتې ښیښې لاندې نه یې سترګې ما په کې خښې کړې دي.

- خدایه، بیا د ده وس بر نه کړې چې موږ د چل په لومه ښکېل کړي.

پیتروخالکه په ټینګار او داسې لهجه چې سړی یې ژوندی کاوه وویل:

- تاسې به چا ته اجازه ورنه کړئ چې داسې وکړي.

پنځه کمې نهه بجې له ډګروال الکسي کارپوف سره یوځای چې دواړو د کتنې پر رسمیت د لازور اچولو لپاره پوځي کالي (یونیفورم) اغوستي وو د حکومت د مشر د سکرتر دفتر ته ننو تو. دلته ناڅاپه

لـه سـپولنیکوف او نجیـب سـره مخـامخ شـو چـې د کشـتمند لـه دفـتره راووتـل. یـو بـل تـه مـو سـره غونـډې سـترګې مـه شـي وويلـه يـانې بـې لـه دې چې یـو ټکـی وواېـو هسـې لاسـونه مـو سـره ورکـړل. د نجیـب پـه غونـډې- مونـډې څېره کـې د هـېڅ ډول احساسـاتو نښـه نـه وه، خـو د سـپولنیکوف پـر څېرې د مکـر سـپکوونکې موسـکا (نیشـخند) سـرګردانه وه. دواړه د حکومت د رئیـس د سـکرتر لـه خونـې پـه دومـره بیـړه ووتـل چـې کـارپـوف تـر شـا ورغـږ کـړل "کرغېړنـو".

د دې لپـاره چـې د حـالاتو د ارزونـې لپـاره څو ثـانیې وخـت پـه لاس راغلـی وي، لـه کشـتمند نـه مـې هیلـه وکـړه هغـه څه چـې ورتـه (لـه مـوږ مخکې) ویـل شـوي بیـا تکـرار کـړي. ګـورم چـې هغـه زمـا لومـه وپـېژندلـه، پر پراخ تندي یـې تیاره خپـره شـوه او د تـورو سـترګو پـر چـارچـاپېر یـې د ګونـځو جـال وغـوړېده. هغـه پـرځان کنـترول بیـا مونـده او ځکـه یـې پـه خـورا دقـت، بـې لـه بیـړې، پـه داسـې حـال کـې چـې ټکـی- ټکـی یـې سـره جـلا کـاوه وویـل:

- د خـاد رئیـس نجیـب او جـنرال سـپولنیکوف همـدا لـږه شـېبه وړانـدې خبر راکـړ چـې: دا جنـایت پـه بدلـو جـامو کـې غلیـم پخپلـه کـړی دی.
  مـا تـه د سـپولنیکوف د سـپکاوي موسـکا را یـاده شـوه.
- مـوږ ځـای پـرځـای د دغـه جنـایت پـه اړه پلټنـې وکـړې. لـه بـده مرغـه هغـه د څلوېښتم لښکـر پوځیـانو تـر سـره کـړی دی.
- دا هـېڅ امکـان نـه لـري،- کشـتمند دا وویـل او بیـا یـې زمـا خـوا تـه د مکـر لـه کتنـې وروسـته د هـرڅه د بیـا پلټنـې اړتیـا تـه ګـوتـه ونیولـه.
- نـن بـه همـدا کـار وکـړو. هیلـه کـوم چـې خپـل یـو مرسـتیال هـم د کمیسـیون د غـړي پـه تـوګه وګمـارئ.

لـه دې وروسـته مـې اوږده شـېبه د شـوې پـېښې لـه املـه پـه نامفهومـه بـڼه ښـنـه وغوښتلـه. ګـواکـې دا چـې جـګړه ده او جـګړه خپلـه غـم لړلـې بیـه لـري. خـو دا ټولـې خـبرې قـانع کوونکـې نـه بـرېښېدې... کشـتمند پـه چـوپـه خولـه هـرڅه اورېدل. هغـه زمـا پـر حـالت پوهـېده. خـو

هېڅ مرسته یې نه شوای کولی. زما په ویې پانګه کې د تحقیروونکې ښښنې غوښتنې د اړوندو ټکو ټوله زېرمه پای ته ورسېده. احساس یې کاوه چې پر تندي او شامې خولې بهېږي. خو هغه آرام دی. څوك پوهېږي ښایي له دې نه یې چې ما په دغسې یوه حالت کې ویني، خوند اخیسته.

ما احساس کړه چې د شرم پیاله مې تر پایه څښلې او څکه مې نو په آرام او ډاډه زړه د هغو دفاعي اقداماتو ماهیت کشتمند ته په ډاګه کړ چې د الوګولو د مخنیوي لپاره په هېواد کې پلې کېدونکې دي.

د حکومت رئیس موافقه وکړه:

- ښه ده.

ما د هوسایۍ ساه واخیسته او مخه ښه مو وکړه. هغه د داسې مواردو له دود سره سم ما ته د بري هیله وکړه.

د حکومت د رئیس له دفتره داسې راووتلم تا به ویل چې د ملا شمزۍ مې ماته شوې ده. یوځلې بیا مې د سپولنیکوف د سپکاوي موسکا سترګو ته نېغه ودرېده.

په دې ترځ کې (د څلوېښتم لښکر) قوماندان باریس تکاچ زما د راتګ لار څارله. زه چې د دغې ناوړې پېښې له امله د هغه پر اند ښښنه پوهېدم، دفتر ته مې د ننوتو بلنه ورکړه.

تورنجنرال تکاچ له یوه کاله راهیسې د څلوېښتم لښکر قوماندان دی. دی د لندې ونې او تورو وېښتو څښتن "د پالتاوا د سیمې"* اوکرائیني دی. دی مکار و او تل یې هڅه کوله چې کوم څه د خپل لښکر او ځان لپاره تر ګوتو کړي. په عمومي ډول د لښکر د قوماندانی د چارو له پیتې وتلی شو خو حالات یې تل له لاسه څه "احتیاط" سره ارزول. جګړو ته لاړ ته، ډېر به په کابل کې و او د لښکر

---

* دغه ټکي په اوکرائیني تلفظ چې روسان یې ښه نه بولي لیکل شوی او څکه په کوچنیو قوسونو کې نیول شوی دی (د.ج)

پر اداري چارو به يې ځان بوخت ساته. په دې رووستيو وختو کې يې غوره بلله چې سهار- سهار د معلوماتو د اورولو لپاره ماته رانه شي او هرڅه به يې راته په ټلفون ويل.

له دې نه مخکې زموږ په اړيکو کې يو ځنډ منځته راغی. زما دفتر ته د معلوماتو د اورولو لپاره له څو ځلي راتګ وروسته مې يوه ورځ د مشورې په بڼه ورته وويل چې سهار وختي يوه- يوه پياله ټينګ چای څښنه هغه چې په کنايه نه و پوه شوی راته ويلي يې وو چې "قهوه" څښي. له دې نه لږ وروسته د ده د نږدې مادونانو له ډلې نه کوم چا ورته ويلي وو چې لوی پوځي سلاکار چې نه سګرټ څکوي او نه شراب څښي، د.شامې (بويولو) ډېر قوي حس لري. کله چې جنرال تکاچ په دې اړه پلټنه وکړه او د خپل مادون خبره ورته ربښتيا وبرېښېده نو له هغه وروسته يې زما دفتر ته له سهارني راتګه پښه ونيوله او معلومات به يې راته په ټلفون راکول. پر دې به دا خبره هم ورزياته کړم چې تکاچ له سپولنيکوف سره ټينګه دوستي لرله او درېيم ملګری يې سفير و.

ما ته پته لګېدلې وه چې د لوی پوځي سلاکار د اداري له خوا د څلوېښتم لښکر پر قوماندان يو اوږد لقب ايښودل شوی و: "ونه په بڼ کې او کاکا په کيف کې دی" * زه له دې امله په قهر شوم: قوماندان- قوماندان دی او بايد د هغه حيثيت لوړ وساتل شي. کله کله به مې حوصله پای ته ورسېده...

جنرال تکاچ لکه د حربي ښوونځي د زده کوونکي په رسا ټکو کې وويل:

- ملګری سترجنرال! د ترکستان د پوځي حوزې قوماندان ډګر جنرال يوري ماکسيموف تاسې ته خپل سلامونه وړاندې کوي.

- مننه.

---

* دا هم اوکرائيني متل دی چې کله څوک ګډې وډې او بې ربطې خبرې کوي ورته ويل کېږي (د.ج)

- هغه هیله وکړه چې دا خبر دوورسوم: هغه ته له مسکو نه ویل شوي چې جلال آباد ته څېرمه جنایت غلیم پخپله د شورویانو په پوځي کالیو کې تر سره کړی دی.

هه، زه وایم چې د څلوېښتم لښکر قوماندان ولې زما دفتر ته تشریف راوړی دی!

هغه خبره داسې اوږده کړه:

- قوماندان ماته امر کړی چې دا خبره تایید کړم.

- تایید مو کړه؟

- هو صاحب!

- په شفاهي توګه؟

قوماندان د باور په فضا کې راته وویل:

- د شفري تلګرام له لارې. دا زما په ګټه ده.

نور مې زغم پای ته ورسېده.

- په ګټه ده، په ګټه ده، قوماندان په یوه سوړه ننوزي او له بلې سر راباسي. خو دا پر صداقت ولاړه خبره نه ده.

د تکاچ بڼه په تریوېدو (بړوسېدو) شوه:

- ما ته همداسې امر شوی دی.

ما له ځانه سره فکر کاوه: لویه خدایه، مانا دا چې ماکسیموف یې هم چې روښانفکر، پوست او زړه سواند سړی دی د دې ناولو دروغو په لومه ښکېل کړی دی. یا زه رښتیا هسې یو سترګور لړګی یم؟ ټول هغه څه ویني چې زه یې نه لیدلی شم او نه پرې پوهېږم.

- قوماندان اوس چېرته دی.

- دا ګړۍ خو په تاشکند کې دی. دوه ورځې وروسته مسکو ته ځي چې په کنګره کې ګډون وکړي.

دفتر ته ساموېلینکه، چیریومنیخ او برونینیکس راننوتل.

چیریومنیخ راپور راکړ:

- هرڅه مو سره غوټه کړل، امر نافذ شوی دی.

- چیریومنیخ او ساموېلینکه! تاسې دواړه به شوې پښنه له سره په خیر سره د پښنې په ځای کې یو ځلې بیا ځېږئ. له تاسې سره د کشتمند یو مرستیال هم درومي. نجیب او یاد هغه مرستیال ته هم د تګ بلنه ورکړئ. د مابنام له شپږو یا اوو بجو نه به مخکې ببرته راستنېږئ.

ما تکاچ ته مخ وروګرځوه او تري ومې پوښتل: په څلوېښتم لښکر کې تر ټولو زيات پر چا د ځان په څېر باور کوي.

تکاچ بې له دې چې فکر وکړي په قهر ژلي غږ وويل:

- د لښکر د مخصوصې څانګې (استخباراتو) پر مشر.
- ما د چیریومنیخ او ساموېلینکه په اشارې وویل:
- هغه هم له دوی سره واستوه.
- هغه زما تر امر لاندې نه دی،- دایې وویل او بیا یې په داسې بڼه لکه زه چې د مراتبو په سلسله هېڅ خبر نه یم زیاته کړه:
- هغـــه د ك.ګ.ب والا دی.
- تکاچه، ته ګنې مخکې پخپله د ك.ګ.ب غړی نه وې (نږدې مې له خولې ورته وتلې وو جاسوسکی خو به نه وې)*
- نه صاحب دا کار مې نه دی کړی.
- په یاد ساته قوماندانه، هرڅه چې د لښکر تر جنډې لاندې دي د قوماندان امر پرې چلېږي!
- همداسې ده صاحب!

خبرې په همدې ځای پای ته ورسېدې. بروڼيټیکس ته مې وویل چې پر دولسو بجو ډګروال خلیل او د هغه سلاکار جنرال برافچنکه راته راوبولي. زه بیا یوازې پاتې شوم.

---

* دلته لیکوال د دوو روسي کلمو د تلفظ نږدې والي ته یې "چیکیت (د ک.ګ.ب غړي) او "ستوکاچ" (جاسوسکی) دي په اشارې سره غوارې د خولې د خطا کېدو احتمال یاد کړي. (د.ج)

پښتانه له شریعت پرته د "پښتونوالي" یو دود هم لري. له هغه نه د سرغړونې سزا مرګ دی. نجیبه ته خو پښتون یې تا څنګه پښتونولي پر پښوده؟ او ماکسیموف؟...

مګر هغه نه پوهېږي چې لګیا دي په یوه ناوړه لوبه یې ښکېلوي؟

زه غواړم چې هغه ته ټلفون وکړم او (په دې اړه) ورسره وغږېږم!

یوولس بجې وې چې برونینیکس راغی او خبر یې راکړ چې پوځي عملیات له پلان سره سم پر مخ ځي. په کابل او جلال آباد کې آرامي ده. او زیاته یې کړه:

- الحمدلله!

پر دولسو بجو خلیل الله او د هغه سلاکار برید جنرال برافچنکه راغلل. یوبل ته مو په مینه هرکلی ووایه.

- د قول اردو قوماندانه، ربنتیا ووایه: مسلمان کولی شي د مسلمانانو ښځو عزت لوټ کړي او بیا یې د خپل جنایت له شاهدانو سره یوځای ووژني؟

خلیل بې له ځنډه وویل:

- نه. دوی به تر اوومه پښته د خدای پر غضب اخته وي. دا یې وویل او د شونډو لاندې یې څه دعا غوندې وکړه.

وروسته یې خپله خبره داسې اوږده کړه:

- امر راورسېده، پلی به شي. نه به په کابل او نه په جلال آباد کې الوکولو ته اجازه ورکړو. خدای دې له موږ سره مرسته وکړي- او بیا دعا.

برونینیکس، ستیپانسکي او پیتروخالکه د ماسپښین پر دوو، د مازیګر پر څلورو او د ماښام پر شپږو بجو د هېواد د اوپراتیفي حالت په اړه معلومات راکړل. زموږ عسکر له افغاني پوځیانو سره په ګډه خپلې کړنې د پلان له مخې سرته رسوي. د چیریومنیخ ډله د ماښام پر شپږنیمو بجو په الوتکه له جلال آباده راخوځېږي.

د شپې نږدې اته بجې وې چې چېریومنیخ او ساموېلینکه د حالاتو په اړه معلومات راکول:

- ټولې خبرې تاییدوو. زموږ رذیلانو دغه جنایت ترسره کړی دی.

داسې مو سره غوټه کړه چې سبا نهه بجې به موږ درې واړه د ژبارونکي کوستین او د کشتمند د مرستیال وکیل په ملتیا چې جلال آباد ته د پېښې د تحقیق لپاره تللي و، د ا.د.ج د حکومت رئیس ته د معلوماتو د اورولو لپاره ورځو.

چېریومنیخ وپوښتل:

- د ځلوېښتم لښکر قوماندان هم راسره بیایو؟

ما ځواب ورکړ:

- هرومرو!

ساموېلینکه په ضمني توګه یادونه وکړه چې وکیل یا د ببرک د ترور زوی دی او یا یې میرنی ورور دی.

ما تر شونډو لاندې وویل:

- د لاربښود کورنی نسب په دې کې نه ځایېږي.

چېریومنیخ وپوښتل:

- مسکو چوپ دی؟

ماځواب ورکړ:

- چوپ دی.

- مانا دا چې توپان راروان دی... - او بیا یې ترخه خندا وکړه.

- له ځانه د بدو زېری مه جوړوه... بس کړه. ټول رخصت یاست. ځانونه هوښیار کړئ.

د فبروري میاشتې لمر په موریتانیایي سبک له جوړو شویو چوکاټې پنځو کړکیو هاخوا چې د لرغونو اسلامي اساطیرو څرګندویي کوي، پرک ځلېده. پر کابل د پسرلي د رارسېدو زېری شوی و. سره له دې چې موږ د ګرځبندیز کړۍ نوره هم تنګه کړې وه،

خـو واېـونـه لـه ګنې- ګوڼې ډك وو. طبيعـت او انســاني ژوندانـه د جـډ ي
خلاف آواز جګاوه.

د حکومـت د رئيـس کشـتمند پـه دفـتر کـې يوولـس تنـه دي (داخه تپـل شـوې شـمېره ده!) شـپږ شـورويان دي: جـنرال چـيريومنيخ، جـنرال سـاموېلينکه او جـنرال تکـاچ پـوځي کـالي اغوسـتي او پـرتېر يـې د مډالونو پټې لګولـې دي. ډګروال کـارپوف هـم پـه پوځي کـاليو کـې دی، خـو د ژبـاړونکي کوستين ملکي دريشي پـه غـاړه ده. پـه افغـاني لـوري کـې لـه کوربـه پرتـه جنرال ګل آقـا او جـنرال بابـه جـان چـې دوی هـم پـوځي کـالي اغوسـتي، د حکومـت د رئيـس مرسـتيال وکيـل او يـو بـل تـن راتلـل چې لـه موږ نـه وړانـدې يـوه تيټ مـېز تـه کتابچـه او پنسـل پـه لاس ناست دي او ښايـي د کشـتمند سـکرتر يـا يـاور وي.

سـاموېلينکه معلومـات وړانـدې کـوي. ټولـو غـوږ نيولـی او دا دربېم ځل دی چـې نـور يـې زه نـه د اورېدو وس او نـه لېوالتيـا لـرم. دفـتر تـه ګورو. چـت يـې لـوړ دی او پـه ډېر ظرافـت پـه کـې ګچ کـارېدلي دي. رسا پـر زړه يـې د څو زره واټو پـه ځواك يـو لـوی قنديـل ځړېږي. پـه خونـه کې يو رسمي دوه پښيز مـېز (چـې پر دوو ستنو ولاړ وي) هـم شـته. څنګ تـه يې لکـه چـې پـه اروپـا کـې دود دی د څو مېلمنـو د منلو لپاره يـو بـل مـېز وريـورې نښتـی ايښی دي. د همـدې مـېز تـر شـا پـر نيمـو پسـتو څوکيـو اوس مـوږ ناسـت يـو. يـوازې کـارپـوف، ژبـاړونکی او سـکرتر ځانونه ګوښه ساتلي دي. کـارپوف زمـا تـر شـا کيـڼ لـور تـه څوکـۍ ايښې او چې ساه اخلي زما پـه غوږ کې يې پو کـوي.

کلـه چـې سـاموېلينکه د واړه ضـابط د خـبرو هغـې برخـې تـه ورسـېد چـې "پېغلوټې بـدې نـه وې". د ژبـاړونکي کوسـتين ژبـه ونښتـه او پـه ژبـاړه کـې يـې سـتونزې راپورتـه شـوې. پـه دې وخـت کـې وکيـل د حکومت رئيس تـه څو داسې ټکـي وويـل چې کوسـتين پـرې نـه پوهـېده او يـوه لنـډه شـېبه سـره سـترګه پـه سـترګه شـول. دواړه سـره بـړوس (تـروه) شول. بابـه جـان او ګل آقـا سـرونه ټيټ کـړل. چيرنومنيخ لـه قهـره اېشـېده.

زما شاته کارپوف هم درنده- درنده ساه واخیسته. تکاچ په سره سینه په داسې حال کې چې پیاله یې پوکوله ورو- ورو له خپلې قهوې نه غړپ کاوه او په سترګو کې یې ماته کتل.

کشتمند زموږ د سرونو له پاسه کوم ټکي ته ځیر او آرام و.

ساموېلینکه خپله غم لړلې کیسه جاري ساتلې وه. او ما لا هم په ټیټو پستو کوچونو او د هغو په کوچنیو بالښتونو، نرمو ټیټو میزونو او نازکو ظریفو څوکیو کې سترګې خښې کړې وې. مراجعین باید دلته د هوسایۍ احساس وکړي. ملایان، کروندګر، هټۍ وال، شاعران، لیکوال...

بابه جان ته ګورم چې اوس د دفاع وزارت سرپرستي ورپه غاړه ده او له ځانه سره وایم: خدایه نړۍ څومره تنګه ده...

... پر ۱۹۷۵ زه د شوروي اتحاد د وسله وال پوځ د ستردرستیز په اکاډیمۍ کې د آزموینو د دولتي کمیسیون رئیس وم.

د پنځو افغاني افسرانو وار و چې د پوځي ستراتیژۍ آزموینه تېره کړي. په دوی کې یو بابه جان و. د پوښتنو پاڼې، د زده کوونکو چمتووالی، د ښوونکو پوښتنې: دا اړین څیزونه وو. د کمیسیون پنځو غړو د افغانانو سطحي ځوابونو او "د انترناسیونالستي دوستۍ" مفهوم ته په پاملرنې سره پر هغوی دومره ډېر زور نه اچوه. خو په دوی کې د بابه جان ځوابونه بیخي بې خونده وو. د کمیسیون غړو له آزموینې وروسته "د سیاسي ملاحضاتو" په پام کې نیولو سره دغو زده کوونکو ته د هغوی له وړتیا پورته نمرې وټاکلې. ما د یوه فرعي کمیسیون رئیس او د قفقاز د سیمې د پوځي حوزې د درستیزوال لومړي مرستیال بریدجنرال شیاشویلي ته دنده وسپارله چې نمرې اعلان کړي.

د پرتم شبېه راورسېده او افغانان د کمیسیون په وړاندې په صف ودرېدل. له ښۍ لورې بابه جان ولاړ دی او سر یې له ویاړه هسک نیولی دی. زه د فرعي کمیسیون له غړو په څنګ د کړکۍ په خوا کې یم.

شیاشویلي د دریو ډګرمنانو نومونه او رتبې یادوي او اعلان کوي چې د پوځي ستراتیژۍ په مضمون کې یې د "بنه" نمرې ګټلې دي! بابه جان چې نوم یې په دې لړ کې نه و، نه شوای کولی خپله وارخطایي پټه کړي او رنګ یې والوت.

شیاشویلي په هماغه برم ادامه ورکړه:

برید جنرال بابه جان- نمره یې "منځنۍ" ("قناعت") ده. دلته بابه جان ویشتل شوې مرغۍ د کتار مخ ته پر ځمکه راپرېوته. کتار ګډوډ شو او په حاضرینو کې وارخطایي ګډه شوه.

شیاشویلي له خواخوږۍ ډکې ناري وهي:

- وای، وای ولې داسې، ولې داسې؟

ما ورته وویل:

- جنراله آرام شه او نرسې ته غږ کړه.

دغه وخت نو بابه جان بېرته په سد شوی و او خپل ورغوي یې په مخ کېښوده او الله- الله کوم څه یې وویل.

یو افغانی جګړن شیاشویلي ته وایي:

- دی د پیغمبر له اولادې دی. یوازې د "ډېر ښه" نمره غواړي. سید ته د "ډېر ښه" نمره ورکړه.

بابه جان راپاڅېد.

ما وویل:

- همدا (مخکنۍ) نمرې تاییدوم- او له خونې ووتم.

ساموییلینکه لا همداسې په شمبرلو- شمبرلو ټکو معلومات اوروي او کوستین یې ژباړي:

- پوهېږې، ستړه یې په اورکې کړه.*

---

* دا یوه اصطلاح ده. مانا دا چې د اثبات تولې نښې له منځه یوړل شوې چې د جنایت پته ونه لګېږي. (د.ج)

یوځلې بیا د کوستین ژبه ونښته. داسې بریښي چې افغانان د غه اصطلاح نه لري. وکیل یې مرستې ته رادانګي. تکاچ لا هماغسې د قهوې پر څښلو لګیا دی. زه له ځانه سره لړ په قهر ژلي بڼه وایم: په نس کې یې اور بل دی که څنګه؟ چیریومنیخ خپلې خړ رنګې سترګې په ده کې خښې کړې دي. کارپوف زما څټ ته تاوده- تاوده پوکې کوي.

ساموبلینکه همداسې پر خبرو لګیا دی، کشتمند ورته په سړه سینه او چوپه خوله غوږ نیولی دی. سکرتر همداسې چټک- چټک لیکل کوي.

او زه نه پوهېږم چې ولې خو بیابیا په فکر کې د بابه جان کیسې ته ورګرځم.

هغه ورځ ماښام مهال اخرامییف ټلفون راته وکړ:

- نیکلای ایوانویچ د "دوستانو" له لوري استازي درروان دي.
- هغه څوك دي؟

اخرامییف تر شونډو لاندې په ناراحتۍ وویل:

- چې درغی وبه یې پېژنې.
- "د دوستانو له لوري" راغلی نیکلای ایوانویچ دنګ، نری او ښایسته سړی راوخوت.
- جنرال صاحب! سیمیون کوزمیچ درته سلام وایه.- دایې ووې او بې له دې چې مې فکر کولو ته پرېږدي چې خبره د چا په اړه ده، زیاته یې کړه:
- هغه تاسې د چکوسلواکیې له وخته پېژني.
- څوېګون یادوې؟
- هو صاحب!
- خو ګومان کوم یوازې د دې خبرې لپاره به نه یاست راغلي.

تورنجنرال موسکی شو:

- پوهېږئ صاحب، یوځه اړنګ برنګ پېښ شوي دي.

- څه؟
- د جنرال بابه جان د نمرو په برخه کې.
- هو، رښتيا وايې، په خپل وجدان مې پښه کېښوده او "منځنۍ" نمره مې ورکړه.
- خو بايد د "ډېر ښه" نمره ورکړل شي.- دايې وويل او بيا يې په ناهيلۍ لاسونه وښورول: ياني داچې څه کولی شوای، چې غواړي يې ورې کړه. داسې خو ده نو!
- تاسې ټوکې کوئ؟
- دا زمونږ د مشرتابه نظر دی.
څه نوره شېبه مو هم سره ناندرۍ وويلې خو هر سړی پر خپله خبره ټينګ پاتې شو.
ما د بابه جان نمرې زياتې نه کړې. نيکلای الکسي يېوويچ دمخه ښې پر وخت وويل:
- ډېر د خواشينۍ ځای دی، کېدای شي ستونزې رامنځته شي.
- ماته؟
- نه، تاسې څه واياست. د دوو هېوادونو تر منځ.
هغه وخت چې لا "د دوستانو" پر کړو وړو ښه نه پوهېدم، د هر سړي د چوپړ واقعې پايلو او کاري ځانګړتياوو راته ارزښت درلود، نه د "دوستانو" د اداري ناپايه څواك. البته کېدی شي دا خبرې چا ته ساده په نظر ورشي، ځکه په ۱۹۷۵ کال کې خو زه څه ماشوم نه وم. خو د دغې ساده ګۍ لپاره توضيح لرم: د دفاع وزير آندره ګريچکه هغه کوله چې قوماندانان د دغو "دوستانو" آن له نامستقيم اغېز نه هم په څنګ وساتي.
خو تکاچ پر "سمه لار" روان و ځکه د ځانګړې څانګې (استخباراتو) رئيس يې په څلوېښتم لښکر کې تر ټولو خپل باوري سړی باله.
هرڅه روان دي، هر شی بدلېږي... او بدلېږي خلك...

- واړه ضابط او لومړي بريدمن "ك" پر خپلو جنايتونو اعتراف کړی دی. پاتې کسانو هم اعتراف کړی دی،- ساموېلينکه خپلې خبرې په دې جمله پای ته ورسولې.

کشتمند غلی دی. تکاچ په لوړ غږ پياله په نعلبکي وهي. چيريومنيخ ترينګلی دی. بابه جان او ګل اقا شونډې چيچي، وکيل په ډار او زاری کشتمند ته ګوري.

وروسته ساموېلينکه د شوې پېښې له امله زموږ له خوا خواشيني وړاندې کړه او بښنه يې وغوښته.

کشتمند چې تر دغې شېبې چوپه خوله ناست و، شونډې پرانستې او د هغه خبرې زموږ ټولو له انتظاره لرې وې. د حکومت رئيس د دې پر ځای چې زموږ بښنه ومني، سره له دې چې ملکي وګړو ته زموږ له خوا شوي سپکاوي ته يې بد وويل، د پرې ډېره برخه يې پخپله پر افغانانو واچوله. ګواکې دا چې افغانانو پخپله لکه د ځناور بې نظمه دي او له همدې امله يې دې ته لاره هواره کړې چې دغسې چلند ورسره وشي. اوس هغه له دې امله له موږ نه بښنه غواړي.

ښايي کشتمند خپلې خبرې له وړاندې نه سنجولې وې- د هغه ځرګندونو نور هم موږ د شرم په ډنډ کې غوپه کړو. موږ ځانونه ځپل شوي بلل اوله شرمه تك سره شوي وو. موږ د ختيځ اخلاقي درس واورېده.

اوس نو د دې وخت رارسېدلی و چې د شوروي لوري له خوا په نيول شويو تدبيرونو وغږېږو. چيريومنيخ شمېرلې، لنډې او له خوش بينۍ ډکې خبرې وکړې. د هغه د خبرو کوچ دا وو چې حالات په هرګوټ کې تر کنترول لاندې دي. اوس چې مو دا ځپېړه پر مخ راولګېده نو د جګړه ييزو عملياتو، ګرځبنديز او نورو ورته مسالو په اړه غږېدل به بېځايه وي.

کشتمند له موږ نه مننه وکړه او داسې په ضمني توګه يې وويل چې بل سبا د جمعې په ورځ ملګری ببرك کارمل د ليونيد بريژنف حضور ته منل کېږي.

- ځه شکر دی،- او ټولو افغانانو په موږ پسې دا خبره غبرګه کړه.

له مانۍ نه د وتلو پر وخت مې تکاچ ته وويل:

- که بله داسې پېښه وشوه نو له پتلونه دې دا سرې پټې په ګوتو شکوم.

تکاچ موافق شو.

- ښه ده صاحب!

- که هسې ژر ژر لکه سهار مهال چې قهوه څښې خپلو قطعو ته ورتلای، کارونو به بله بڼه درلودای.

- همداسې ده صاحب!

جنرال شکيدچنکه، جنرال کالوميیشيف، جنرال سافرونوف، جنرال برونينيکس، جنرال پيتروخالکه، جنرال ستيپانسکي او جنرال آراليکيان زما د ياور په خونه کې له کشتمند نه زما د راستنېدو لار څاري. دفتر ته ننوتو، د دې وروستۍ کتنې په اړه مو خبرې وکړې، اوپراتيفي حالت مو وڅېړه او له ببرك سره مو د خپل عمومي منشي د نږدې کېدونکې کتنې خبره هم له ياده ونه ايسته.

چيريومنيخ غوسه شوی و:

- دا د "پالتاوا له سيمې" راغلی (اوکرائيني) کاکا چې مې په دې څټ کې وهلی وای. د ده پوځونه...

- هلکه چيريومنيخ، دا پوځونه، شوروي پوځونه دي او که خدای کول هرڅه به آرام شي. راځئ غوره به دا وي چې د مارچ- مې مياشتو لپاره د پوځي عملياتو او د پولې د ساتنې په اړه وغږېږو. ما وړانديز وکړ چې تر وسه وسه ډېر ځواك او مالي امکانات دې کار ته اړم شي:

- ۱۴۰- ۱۵۰ کنډکونه دي چې ۳۰- ۴۰ کنډکونه يې په احتياط کې وي داسې چمتو شي چې په ترپ د جګړې ډګر ته ورودانګي؛ ټول هوايي ځواك د ترانسپورتي او جنګي چورلکو ټوله عمله دې (چمتو شي)؛ ټول توپچي او نور وسايل دې (چمتو شي).

ځانګړې پاملرنه دې جلال آباد، کابل، خوست، اورګون، کندهار، فيض آباد، کندز، بغلان، مزارشريف، شيترغان (ښايي شبرغان وي يا تاشقرغان- د.ج) او ميمنې ته واړول شي.

زموږ دا پلان و چې ۲۵-۳۰ ولسوالۍ او علاقدارۍ به له مجاهدينو راآزادوو او په ۷۰- ۸۰ علاقداريو او ولسواليو کې به ولسي واکمني د تل لپاره ټينګوو.

مخې ته له پاکستان سره د ګډې دولتي پولې د سيمې ساتنې (ستر) د پلان هراړخيزه څېړنه پرته وه. موږ پتيلې وه چې په دې اړه اکاديميسين وزير- لايق ته هم معلومات ورکړو خو دا معلومات به يوازې تر اړينې (ضروري) کچې وي.

دغه راز له ايران سره ګډې پولې ته هم د ټاکلې پاملرنې اړول ضروري وو.

کله چې په دفتر کې يوازې چيريومنيخ، ساموېلينکه او بروننيکس پاتې شول نو ساموېلينکه له مکره ډك وپوښتل:

- دوه نقشې؟
- هو.

له لږ فکر او د موضوع له اړولو وروسته يې زياته کړه:

- مسکو به مو يو وخت د دې پېښې له امله غوږونه کش کړي.

ما يې خبرې غوڅې کړې:

- ټول رخصت ياست.

او بيا يوازې پاتې شوم، او بيا د لنګۍ والا سړي نظر لکه د سيوري راپسې و. دی به هلته په پېښور کې همدا شېبه په څه فکر کې وي او کم پلانونه به جوړوي؟

باید له پیتر ایواشوتین سره تماس ونیسم. هغه کولی شي د رباني او د هغه د پلویانو د راتلونکو ګامونو له راز نه پرده پورته کړي.

له کړکۍ هاخوا ځلاند سپرلني لمر هري خوا ته وړانګې خپرولې.

په زړه مې د مسکو پسرلني سهار راواوريده، د اربات* راويښه شوې کوڅه، آرام غولي... هو رښتيا!... هلته خو کنګرې ته- "تاريخي پېښې ته" چمتووالی روان دی. دلته مو زړه د جګړې په خبرو او د ډول ډول ناوړو پېښو په يادولو وچاوده. دا مو عادي ورځې دي.

د ورځې ټوله دويمه نيمايي مې له کشتمند سره د کتنې او خبرو تر دراندو اغېز لاندې تېره کړه. د جلال آباد د پېښې ارزښت دويمې درجې ته ټيټ شو. د پراخ جهاد د پيلېدو له احتمال سره تړلې انديښنې له هرڅه رالومړۍ شوې.

له پېښې نه ايله څلور ورځې تېرې شوې، د مخنيوونکو اقداماتو په اړه لاربنوونې په ډاډمنه توګه پلې کېدې؛ هيچېرې لا د الوګولو نښه نه شته خو په کار ده چې حالات په دوه ځله زياتې هوښيارۍ وڅارل شي.

نظر مې بيا ترښيښې لاندې په ايښې تصوير ونښته او نه پوهېږم چې ولې خو لږه شېبه رابانديې د بدنيتۍ خوشحالي راخپره شوه: ای رباني د جهاد لپاره دې داسې ښه پلمه له لاسه وته، له لاسه دې ووته. ستا په اداره کې څه خلل پېښ شوی دی. اوس نو د وخت ځرخ زما په ګټه اوړي او زه به خپله ټوله وسه کوم چې د هېواد حالات د نااعلان شوي جګړې په لازم چاپېريال کې وساتم.

---

* د مسکو په زړه کې د اربات کوڅه د لويو روسي پوهانو شاعرانو او ليکوالو د اوسېدو د ځای په توګه د تاريخي ارزښت تر څنګ د سيلانيانو د پام وړ ځای هم دی. (د.ج)

هماغسې چې مو غوټه کړې وه د ماښام پر شپږو بجو زما انديوالان له ما کره راټول شول او حالات مو سره وڅېړل. پرېکړه مو وکړه چې: لومړی دې په کابل او نورو لويو ښارونو کې د ګرځبنديز لګېدلي سخت مقررات لږ تر لږه په مسکو کې د کنګرې تر پايه پر ځای وساتل شي. دويم دا چې په دې اړه دې د افغانستان د واکمنۍ ټولو مهمو ادارو ته خبر ورکړل شي. درېيم دې د جنورۍ- فبرورۍ له پلان سره سم جګړه ييز عمليات همداسې جاري وساتل شي او که اړتيا شوه نو د احتياط افغاني ځواکونه او وسايل دې هم په کار واچول شي. څلورم د فبرورۍ له ۲۲- ۲۶ پورې ياني د کنګرې د پيل په درشل کې پوځي- سياسي زونونو ته د لوی پوځي سلاکار د ادارې د جنرالانو او افسرانو د ډلو د استولو چاره سمبال شي. په اداره کې دې يوازې لوی پوځي سلاکار، جنرال برونينيکس او يوه کوچنۍ اوپراتيفي ډله د نويو دندو د سرته رسولو لپاره پاتې شي. موږ په آرامه پنه خوږترينګلو اعصابو موږ کره ناست يو او په سره سينه چای څښو. د تهران راډيو د موسيقۍ تر غږ لاندې چې له جګړې لرې ځيزونه په کې يادېږي، ورو- ورو خبرې کوو. له دغسې آرامو شېبو او د کنياکو بوتل په چارچاپېر له دغسې بوختوونکو (پام اړوونکو) خبرو اترو پرته به په افغانستان کې دنده رابانديې ښخي غمېدلې وای. خو دلته د تياتر په اړه غږېږو، ادبيات يادوو. او کېدی شي په دې خبرو کې زما ښځه هسې کارپوهه وي څومره چې زه په پوځي چارو کې يم او څکه نو هغه غږېږي.

ساموېلينکه د سوردلوفسک د موزيکال کُميک تياتر په پروګرام خبر دی او مينه ورسره لري. او زما انناواسيلفنا خو يو وختې د موسيقۍ او تياتر عالي ښوونځی لوستی او دوه ځلې يې د تولا (ښار) په موزيکال کُميک تياتر کې تمثيلي نڅاوې هم کړې دي. خو وروسته بيا واده شو، د پيداګوژۍ انستيتوت شو، کار شو، د ډاکترۍ (زده کړه) شوه، اته کاله د ريګا په دولتي پوهنتون کې

استاذي شوه، د ډاکټرۍ تيزس دفاع شوه او د کتابونو ليکل شول. له موزيکال کُميك تياتر سره يې مينه د ژوند د لارې ملګرې شوه، که څه هم هغه مجبوره وه چې له ماسره نورو تياترونو؛ د جګړه ييزو عملياتو تياترونو ته ولاړه شي.

ولاديميرچيريومنيخ خو هسې هم تياتر ته نږدې دی. د هغه پلار پيتر چيريومنيخ له ديرشمو نه تر پنځوسمو کلونو پورې د روسيې په ډېرو ولايتي تياترونو کې د يوه هوښيار رژيسور په توګه شهرت درلود.

ولاديميرچيريومنيخ په کوچنيوالي کې له خپل مور او پلار سره په شوروي کې ډېر له يوه ځايه بل ته لېږدېدلی دی هغه وخت به سر- رژيسور په يوه تياتر کې له دوو- دريو کلونه ډېر نه پاتې کېده. او تر اوسه لا د چيريومنيخ په حرکاتو کې، په تېره بيا چې د چا په اړه قضاوت کوي، د تياترال هنر ځينې نښې پاتې دي. صراحت، دقت او غوڅوالی (قاطعيت) له تمثيل سره ښنګ پر ښنګ وي...

انناواسيلفنا زما ملګرو ته دويمه پياله ډکه کړه. او دوی لا همداسې لګيا دي د تياتر په اړه او د تافستانوګوف* په اړه غږېږي...

لويه خدايه!... څومره له دوی سره خوښ يم! ای شپې لږه تم شه، ته څومره ښکلې يې!...

خو جنرال برونينيکس راننووت.

ايلمار برونينيکس وويل

- ورځنی پوځي خبر دی.

تر څو ما هغه لوسته، اننا واسيلفنا ايلمار ته د "ناپليون" کيناکو پياله ډکه کړې وه. داسې برېښېده چې هغه غواړي د مېلمستيا، آرامۍ او هوسايۍ دا څو شېبې پسې اوږدې کړي.

د ځانګړي ټلفون ("بولاوا") غږ پورته شو. زه هغې خونې ته ننوتم چې له دننه څخه د قلعې په پاڼو پوښل شوې ده (دا کار د

* تافستانوګوف د شلمې پېړۍ مشهور روس رژيسور دی (د.ج)

خوندي توب "مصوونيت" د ټينګولو لپاره شوی و چې له فضا نه د خبرو د اورېدو امکان له منځه وړي). په بې ميلۍ مې غوږ پورته کړه.

- ملګری ستر جنرال! د مشرتابه له نامه ډګر جنرال ابولينس خبر درکوي (دی د لوی درستيز يو مرستيال او د سفربرۍ لوی رئيس و).
- جنرال صاحب څه پېښه ده؟
- ستر جنرال صاحب، خبره دا ده چې د کومې ناوړې پېښې په اړه چې تاسي خبر ورکړی و، ښښه غواړم، حقيقت نه لري.
- موږ دوه ځله دا پېښه وڅېړله. هرڅه هماغسې و چې ما د شفر له لارې د دفاع وزير ته رسولي دي.
- خو د استخباراتو معلومات بل ډول دي....
- تا ته چا وويل چې له ما سره وغږېږه؟
- لوی درستيز.
- جنرال صاحب ابولينس! د چکوسلواکيا پېښې دې په ياد دي؟
- هو صاحب په زړه مې دي.
- رښتيا وايه، که هغه وخت ستا د ايرکوڅك ـ پنسك په دبرشمه فرقه کې داسې پېښه شوې وای، تا به څه کول؟
اوږده چوپتيا
- ولې غلی يې ملګري ډګر جنرال، ځواب راکړه.
- ما به جنايت کوونکي په پوځي محکمه (ټريبونال) کې محاکمه کړي وای... دابې وويل او بيا يې د نزاکت لپاره له څو ثانيو ځنډ وروسته وپوښتل:
- لوی درستيز صاحب ته څه ووايم؟
- ټکي په ټکي هغه څه چې اوس مو سره وويل. او "د استخباراتو غم هماغلته پخپله وخوري.
- ښه ده صاحب.

زه بـه ځان تـه لـږ لـه موضـوع نـه د لـري تلـو اجـازه ورکـړم. پـه پوځيـانو کې دا دود دی چې کـه يـو سړی ان پـه ژونـد کـې چېرتـه يـو ځلې هـم د بـل سـړي تـر لاس لانـدې و نـو د دې خـبرې سـيوری د دوی پـه ټول راتلونکـي ژوندانـه او پـوځي خدمـت همداسـې پـاتې کـېږي. ابولينـس اوس بيخـي لـه مانـه خپلـواك و- ځکـه هغـه خـو دا دی د لـوی درسـتيز مرستيال و. خو مـا لـه هغـه سره د يـوه داسـې کـس پـه تـوګه خبرې کولې چې يو وخت د فرقې د قوماندان پـه تـوګه زمـا تـر لاس لانـدې و.

مـوږ خپلـه مېلمسـتيا جـاري سـاتلې وه او لـه ابولينـس سـره وروسـتی خـبرې مـو ځېړلـې چـې نـږدې ځلـوېښت دقيقـې وروسـته اخراميېف ټلفـون وکـړ.

- ستر جنرال صاحب! روغتيـا مـو غـواړم! غـواړم خبر درکـړم او ورسره ورسره درتـه دا هـم ووايـم چې لـږ ځان سـاته: د انـدروپـوف پـه دې خـبره بـاور پـوخ شـوی دی چـې جـلال ابـاد تـه ځېرمـه کرغـېړن عمـل غليـم پخپله پـه بدلـو جـامو کـې تـر سـره کـړی دی. تـه بـايد خپـل شـفر ببرتـه واخلـې. بـاريس کـارلوويچ (ببـرك کـارمل) او ليوينـد بريژنـف بـه سـره ګوري او دواړه بـه دا پـېښه هرومـرو سـره ځېړي. او بـاريس کـارلوويچ تـه بـه دا خـبره کـېږي چـې پـړه پـه بدلـو جـامو کـې د راغلـي غليـم پـه غـاړه ده.
- اخراميېفـه، دا تـه مـا تـه داسـې وايـې؟

اوږده چـوپتيـا.

- تـه غـواړې مـا تـه ووايـې چـې زه پـه دې سپينه ږيـره دروغ ووايـم؟ کـه داسـې وکـړم تـر هرڅـا وړانـدې بـه تـه راتـه نـور درنـاوی نـه کـوې...
- جنرال صاحب ښښنه کوه، خـو ماتـه امـر شـوی چـې داسـې درتـه ووايـم.
- اخراميېفـه، تـا تـل د نـورو پـه امـر خـبرې کـړې دي. خپلـه خـبره هـم لـرې او کـه نـه.
- زه هغـوی تـه څه ووايـم؟

- څه مو چې سره ووېل ورته ويې وايه او که غواړې تکي په تکي ورته هرڅه ورسوه.

موږ حيران وو چې ته ګوره خبره اوس پر کومه خوا اوړي. هلته، په مسکو کې، د جګړې له دې ډګر ډېر لرې، څه بيخونده، او له دې نه هم بتر دروغجن (کاذب) انځور جوړېده. خو موږ پوځيانو ته چې هم د پوځي اخلاقو درناوی کوو، هم د لوبې چلونه راځي او هم رابانديې خپل عزت ګران دی په کار وه چې څه دريغ ونيسو. په عمل کې خو نور داسې شی نه و چې فکر پرې وشي. حقايق له همدې امله هم ډېر ځله "له ځيله ډك" بولي چې کله کله يې منل آسان نه وي، خو بايد ومنل شي.

ايلمار برونينيکس پر پوځي خبرپانه زما لاس ليك ته سترګې په لاره و. ما هغه بيا او بيا لوستله چې هرټکی يې ښه وسنجوم. ګرانه خبره ده: بل هېڅوك يې زما پرځای نه لاسليکوي او بل هېڅوك يې پړه هم په غاړه نه اخلي. داسې شېبې په جګړې د ښکېلېدو تر شېبې هم ګرانې وي.

ساموېلينکه او چيريومنيخ له ما سترګې نه اړوي.

ما خپله مسيحي دوعا ولوسته او بيا مې په دې اړه يو څو ټکي وليکل چې د پېښې په ځای کې دويمې پلټنې دا خبره پخه کړه چې د جلال آباد ناوړه پېښه د لومړي بريدمن "ك" تر قوماندې لاندې د پلانۍ موتوريزه فرقې يوڼس کسيزې ډلې تر سره کړې ده. دغه ډله نيول شوې ده. تحقيقات روان دي.

ما خپلو انډيوالانو ته وکتل- يوه ته مې وکتل، بل ته مې وکتل، د هغو له سترګو د ملاتړ نښې څرګندېدې نو بيا مې پاڼه لاسليك کړه. پاڼه مې برونينيکس ته ورکړه چې شفر يې کړي. ګړۍ د شپې لس نيمې بجې ښوولې.

بيا د ځانګړي ټلفون غږ پورته شو. اګارکوف دی.

- حالات څنګه دي؟

لنډ معلومات مې ورکړل
- څه ځېل دې پیل کړی دی؟
- پوه نه شوم چې مقصد مو څه دی.
- ته غواړې چې زموږ وسله وال پوځ وشرمېږي؟ لاهم وخت شته له هرڅه نه انکار وکړه.
- لوی درستیز صاحب نور هېڅ امکان پاتې نه دی.
- همداسې ګڼې؟
- د ردولونور هېڅ امکان نه شته. حقایق دوه ځله پلټل شوي او هغه چا پلټلي چې دولت پرې باور لري.
- خو پوهېږې چې موږ په بله آنده (عقیده) یو. "استخبارات" له ټولو زیات زور اچوي. د دفاع وزیر له اندروپوف سره هم غږېدلی دی. هو ربښتیا، سفیر هم له وزیر سره کتلي او ورته ویلي یې دي چې داهسې ډرامه ده او جنایت کاران هغه څوك وو چې په بدلو...
- لوی درستیز صاحب! ما او تا خو دا دېرش کاله یو بل پېژنو. زه تاسې ته ژور درناوی لرم... خو خبره داسې نه ده.
زموږ خبرې ډېرې اوږدې شوې. د لوی درستیز د خبرو له بڼې وپوهېدم چې نه غواړي زما د عقیدې د اړولو لپاره راباندې زور واچوي او رذیل رانه جوړ کړي. په پای کې یې یو ځلې بیا وپوښتل:
- یانې چې پرخپله خبره ولاړ یې؟
- بیخي کلك
- داسې چې ده ځان دې د دفاع له وزیر سره خبرو ته جوړوه.
مېلمانه مو رخصت کړل، زه او انناواسیلفنا په داسې حال کې دوه په دوه پاتې شو چې د هرې ناڅاپي پېښې منلو ته چمتو وو. څرګنده وه چې مخې ته له وزیر سره خبرې پرتې دي. دی به هم ګڼې پر ما همدومره زور اچوي او د دروغو شاهدۍ ته به مې اړباسي؟
زه پوهېدم چې اوستینوف د ستالین د وخت له زاړه عادت سره سم تر ناوخته په دفتر کې وي. ساعت د شپې یوه بجه ښودله. لږ نور به هم صبر وکړم، کېدی شي چې ټلفون وکړي.

- سانیا دا استخبارات به دې وخوري

- نه پوهېږم ښځې، نه پوهېږم. اوس هلته په مسکو کې داسې یو سړی په کار دی چې زما تر شا ودرېږي. دا به څوك وي؟

او ما د هغه ټلفون نمبر وواهه چې د سرګي سوکولوف په "داچا" (له ښاره بهر استراحت ځای) کې لګېدلی دی. زه باوري یم چې هغه صادق سړی دی او څوك یې پېرلی (اخیستلی) نه شي.

- مارشال صاحب ښښنه غواړم چې دومره ناوخته مې ټلفون کړی دی. غواړم ستاسې نظر خان ته څرګند کړم...

او ما د شوې پېښې غټ ټکي ورته تېر کړل. هغه وپوښتل چې دا خبره مې په شفاهي توګه وزیر ته کړې ده که نه. ورته ومې ویل چې لا تر اوسه نه. سهار یې ورته وایم.

او بیا په پسته ژبه، له لږې غوړه مالۍ او چلبازۍ سره سوکولوف ته ګډ شوم:

- مشوره راکړئ چې دا کار څنګه وکړم.

او هغه ځواب راکړ:

- ته پخپله ډېره تجربه لرې. ماته ګرانه ده چې له مسکو نه تا ته څه دروښیم. او ګټه هم نه لري. زه د ربښتیا پلوی یم. خو چې ته څه کول غواړې، دا ستا کار دی.

دا و د سوکولوف ځواب.

سهار لږ وختي دفتر ته ولاړم. اته بجې دي چې د ځانګړي ټلفون شرنګا شوه. نرم (پوست) او غوړ غږ و:

- السلام علیکم ستر جنرال صاحب څنګه یاست؟

د اوستینوف د پاسته او غوړ غږ شاته به جدیت او کله ناکله بېرحمي پټه وه.

- د اوپراتیفي حالت په اړه معلومات راکړئ.

ورمې کړل.

- او موږ دلته د ګونډي کنګرې پر چمتووالي بوخت يو. تاسې چُرت مه وهئ، ستاسې سياسي مقام، او زه فکر کوم د مرکزي کمېټې عقيده هم همدا ده، پرځای دی (د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په مخکينو دوو کنګرو کې زه د مرکزي کمېټې په غړيتوب ټاکل شوی وم).

ځرګنده وه چې زه يې چنو وهلو (معاملې) ته اړ کړی وم. ما له وزير نه مننه وکړه، په تېره بيا چې زما نوم د کنګرې د غړو په کتار کې و خو يوازې د افغانستان د حالاتو د آراموالو لپاره د هڅو په خاطر وزير اجازه راکړې وه چې د خپل کار په ځای کې پاتې شم.

او دا دی هغه اصلي موضوع ته راواوښت:

- البته چې تاسې به دا خبره اوس سپينه کړې وي چې پر ملکي وګړو دومره کرغېړنې ملنډې په بدلو جامو کې پخپله دښمنانو تر سره کړې دي. موږ د استخباراتو له لارې دغسې اطلاع ترګوتو کړې او د دې ترخنګ سفير هم همدا خبره تاييدوي.

ما تر وسه وسه وروستۍ هڅه کوله چې په غږ کې مې متانت وساتم:

- ملګری د دفاع وزير! دا خبره دوه ځلې پلټل شوې او دواړه ځل تاييد شوې ده او ما دوه ځلې د ځلوښتم لښکر د پوځيانو له خوا ددغه کرغېړن عمل د سرته رسولو له امله د شوروي حکومت له نامه د ا.د.ج د حکومت له رئيس څخه ښننه غوښتې ده.

- دا څه اوډل دې پيل کړي دي ملګری مايوروف؟ دا خبره خو بيخي سپينه ده!

- کيدی شي په مسکو کې هسې سپينه شوې وي چې تاسې يې واياست، خو دلته موږ دا ثابته کړې چې جنايت زموږ خپلو پوځيانو کړی دی. او دا جنايت کوونکي نيول شوي هم دي

دلته نو وزير له ما نه غلې پوښتنه وکړي:

- غوږ ونيسه، ته د چا پلوی يې؟

او ماته د ستاليني ولسي كميسار په غږ كې د پولادو (كلكوالي) وبرېښېده. او كه هرڅومره زړور او پرځان باوري هم وم، تندى مې له خولو ډك شو.

- ملګرى د دفاع وزير، زه د حقيقت پلوى يم.

او هغه بيا په غلي غږ:

- د كوم حقيقت؟
- د لنيني حقيقت ملګرى د دفاع...

ما لاله "دفاع" وروسته د "وزير" كلمه نه وه ويلې چې په غوږيه كې د "ټيو- ټيو" غږ ونه پورته شول. خبرې پاى ته ورسېدې.

غوټه پرانستل شوه.

ما ساموېلينكه او چيريومنيخ راوغوښتل او د وزير د خبرو غټ ټكي مې ورته واورول. هغوى ته مې په مسكو كې د تابييف د چلند او د ك.ګ.ب د استازي سپولنيكوف د درواغو او چلبازۍ خبرې وكړې. يوې خبرې لږ تسكين راكاوه: د كار ډېروالى. په كار وه چې د مارچ- مې مياشتو لپاره د عملياتو د پلان جوړونې چاره بشپړه كړو.

د هماغې ورځې په ماښام راته د ايپيشف يوه مرستيال ډګر جنرال ميخاييل سوبولوف ټلفون وكړ:

- سانيا، دغلته دې څه لېټې جوړه كړې ده؟ خپل ځان دې بيا وښوده؟ خو غوږ ونيسه: هرڅه چې پېښېږي، وي دې، خو زه تا ته درناوى كوم. او له دې نه هم خبره اوسه چې باسورمان تابييف ته وېلورلي. همدا اوس د سياسي چارو لوى رئيس (الكسي ايپيشيف) له واكمنه (وزيره) راستون شو. هغه ته ويل شوي دي چې ستا نوم د مركزي كميټې د غړو له لست نه وباسي... خو ته چرت مه وهه. ستا رښتيني ملګري پرتا وياړي.

دغسې پېښې هغه وخت زما په زړه کې د ېر شيان سره واړول. زه پوه شوم چې يا به ټينګ شم، خو له دې ځايه به مې پسې اخلي او يا به دړې وړې کېږم.

... د جنايت کوونکو غدی محاکمه شوه. ځينو ته يې د مرګ سزا واورول شوه يو شمېر نوريې پر اوږده زندان محکوم شول.

# څوارلسم څپرکی

د ۱۹۸۱ کال د مارچ د دوه ويشتمې نېټې پر خړ ماښام د کريملين د يوې ماڼۍ په هغې خونې کې چې په اصطلاح "غوز" (چارمغز) نومېږي، يوه کوچنۍ ډله د افغانستان د ستونزو د څېړنې لپاره سره جرګه شوې وه. پر سر يې لوی قنديل پړك ځلېده او ښايي دا د دې لپاره چې له دوی سره په افغانستان کې د شوروي شتوالي پر ارزولو د بشپړې رڼا له اچولو سره مرسته وکړي.

په دې ټوګه نو د غټو مېزونو شا ته د شوروي اتحاد د دفاع وزير لومړی مرستيال مارشال سرګي سوکولوف، د لوی درستيز لومړی مرستيال سترجنرال سرګي اخرامييف، د ترکستان د پوځي حوزې قوماندان ډګرجنرال يوري ماکسيموف، په افغانستان کې د شوروي اتحاد لوی سفير او فوق العاده استازي فکرت تابييف، په افغانستان کې د ك.ګ.ب استازی بريد جنرال ويکتور سپولنيکوف او زه سترجنرال الکساندر مايوروف په افغانستان کې لوی پوځي سلاکار او د شوروي اتحاد د ځمکنيو پوځونو د قوماندان لومړی مرستيال سره راټول شوي يو.

د همدغه سبز تر شا د دوی څنګ ته د افغانستان لپاره د شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو د کمیسیون څلور غړي: د کمیسیون رئیس او د شوروي اتحاد د دولتي امنیت د کمېټې (ك.ګ.ب) رئیس یوري اندروپوف، د شوروي اتحاد د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو غړی او د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر اندره ګرمیکو، د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو غړی او د شوروي اتحاد د دفاع وزیر مارشال دیمیتري اوستینوف او د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو علی البدل غړی او د مرکزي کمېټې منشي اکادیمیسن باریس پوناماریوف هم ناست دي.

همدا چې ببرك كارمل ګوندي کنګرې ته په کریملین کې خپله وینا واوروله نو په کابل کې پته ولګېده چې په مسکو کې به دغسې یوه غونډه کله جوړېږي او څه خبرې به په کې څېړل کېږي. مبالغه به نه وي که ووایم د ببرك وینا زموږ لپاره بیخي نوې (هیجان زېږوونکې) وه. موږ ته پته ولګېده چې سر له نننه د جګړې ژر ختمول لومړنی او د سرخبره ده، ځکه د افغاني مشر د څرګندونو له مخې جګړه نږدې پای ته رسېدلې او په هېواد کې د ملي- دیموکراتیکې واکمنۍ ستنې ټینګې شوې دي، د عادي وګړو پر جونګړو او د ولایتي او مرکزي واکمنو پر ماڼیو د سولې او آزادۍ وزر غوړېدلي دي. البته چې زورور لاسونه ورته وېرکېدل، خو دا چې جګړه رښتیا هم څنګه بریالۍ پای ته ورسوو- دا لاهم زموږ ستره ستونزه ګڼل کېده. د مارچ- مې میاشتتو لپاره د جګړه ییزو عملیاتو د پلان د پلي کېدلو او له پاکستان او ایران سره د پولو د تړلو مانا له هرڅه وړاندې دا وه چې په ټول هېواد کې به جګړې پېښېږي ستر زیانونه به اوړي او د انقلاب دواړو لورو ته د جنګېدونکو وګړو: مجاهدینو، شوروي پوځیانو، افغاني پوځ او د جګړه ځپلي افغان ولس محرومیت او کړاو به نور ډېرېږي.

البته چې نوښت (داګړه) زموږ په لاس کې و، خو دښمن له ځانه د دفاع ترځنګ، په بهر کې ځواك زېرمه کاوه چې د پسرلي له راتګ سره سم خپل ټولګي او جزوتامونه افغانستان ته راولېږدوي او له موږ نه په جګړو کې نوښت تر ګوتو کړي.

ما خپلو جګړه ییزو ملګرو ته هغه فکرونه په ډاګه وړاندې کړي وو چې اوږده موده مې په سرکې ګرځېدل خو آن له ځانه مې هم پټ ساتل. خو اوس چې د افغانستان په اړه (ځانګړی) کمیسیون په مسکو کې ټولېدونکی دی، او زه یې هم ورته بللی یم، په کار ده چې دغه فکرونه بیابیا د واقعیتونو په مرسته کره شي او احتمالاً یې د اوړلو چمتووالی ونیول شي. چیریومنیخ ساموییلنکه او برانینیکس زما ملاتړ کړی او د دې غونډې لپاره یې یو شمېر معلوماتي مواد چمتو کړي دي:

چیریومنیخ ټینګار کاوه:

- یابو باید بدل شي. دهغه په شتسوالي کې دا جګړه نه ګټل کېږي.

ساموییلنکه یې خبره ردوله:

- ناوخته شوې ده. له بریژنف سره تر غاړې وتو وروسته خو اوس په بیخي منل شوي مشر واوښته.

ایلمار د لاتویایي سروټوپك والاوو د خلف په توګه د هماغو په دود خوش بین و:

- کریملین به سمه پرېکړه راوباسي.

غونډه دا څو ساعته کېږي چې روانه ده. له ننبنو- نبنانو بریښي چې مخې ته پرتې ستونزې پېچلې دي، لر او بر یې ځرګند نه دي او ځوك په روښانه دا نه شي ویلی چې پېښې به کوم بهیر ته لوېږي. هر سړي ته چې د خبرو وار ورسېږي، ډېر څه وایي خو هېڅوك نه شي کولی چې بېلابېلې ستونزې په ټاکلې او کاري بڼه مطرح کړي. له همدې امله ده چې یوې روښانې او رښې پایلې ته سره نه رسېږي.

په "غوز" خونه کې له ناستو وګړو څخه يوازې يو د ك.ګ.ب افسر چې د اوچتو کړکيو څنګ ته اېښو ټلفونو ته مخامخ يوه مېز ته ناست دی، په خبرو- اترو کې ونډه نه اخلي.

دلته به هغه ستونزې يادې کړم چې په هغه غونډه کې د څېړنې لپاره وړاندې شوې وې:

د افغانستان پوځي- سياسي حالات؛ د هغو په ټينګولو کې د ا.خ.د.ګ او د هېواد د مشرتابه ونډه (رول)؛ اقتصادي حالت، د پوځ، خاد، څارندوی او روښانفکرو وضعيت؛ ملي او قامي سياست؛ له ايران او پاکستان سره د پولو تړنه (ستر) او د ځمکو د اصلاحاتو بهير. ډېره پاملرنه البته چې د وسله وال پوځ حالت او په عمومي ډول په جګړه او يا په ځانګړو عملياتو او نښتو کې د هغه ګډون ته او دغه راز له شوروي اتحاد نه د اړينو تخنيکي وسايلو او موادو رارسولو ته اړول کېده.

زما مخې ته د مېز پر سر دوه نقشې چې د ۱۹۸۱ کال د مارچ يوويشتمه نېټه پرې کښل شوې وه او د کلك سره پوښ درلودونکې کتابچه پرته وه چې لازم معلوماتي ارقام په کې ليکل شوي وو. د کميسيون غړو نقشې په لاسو کې اوچتولې او داسې يې ښودله چې ګواکې د هغو په وړاندې خپل دريځ ټاکي. د هغو له څېرې هېڅ ډول احساس نه بريښېده او ځکه نو کېدی شواى چې سړی ووايي هغوی پر هرڅه پوهېږي او ورته روښانه دي...

زما لپاره چې يو مسلکي افسر يم، اوږده موده مې پوځي چوپړ کړی دی او د حقايقو روڼ او ټاکلی درك مې زده دی او پر دې پوهېږم چې هغه څنګه په عيني ډول وڅېړل شي او ټاکلې پايلې ترې راوايستل شي، د اندروپوف له خوا د هغې غونډې د سرته رسولو ميتود د پوهېدو وړ نه و. زه په بيخي نه پوهېدم چې دی څه کوي. زه په "لوبيانکي" کې د هغه دفتر ته پنځه- شپږ ځلې ورغلی يم. او هرځل ترې له دې احساس سره وتلی يم چې سروکار مې له يوه داسې

هوښيـار جـګپـوړي چـارواکي سـره دی چې لـه څه اضـافي فضـل پلورنـې پرتـه راتـه د حقـايقو، کـه څه هـم يـو شـمېر بـه يـې څرګنـد (بديـهي) حقـايق وي، پوهـول غـواړي. لـه هغـه سـره خـبرو تـل خوند کـاوه. د خـبرو موضـوع بـه څرګنـده تاکـل کـېده خـو د ضمنـي مانـاوو جوتـول تـرې هـم ګران نـه وو. سـره لـه دې چـې د هـېواد د سياسـي تعقيـب د اداري د رئيـس پـه دفـتر کې بـه وم (او مسـلکي افسـرانو تـه دلتـه راتـګ دومـره پـه زړه پـوري نـه و) مـا بـه ځان راحـت احساسـاوه او کلـه کلـه بـه مې پـام شـو چـې لـه دغـه ډاروونکـي، سـپين ږيـري او د الوتـې بـڼې درلودونکـي سـړي سـره خواخـوږي هـم لـرم. خـو سـترګو يـې چـې پـر ښکـرور چوکـاټ د راجـوړو سترګيو (عينکو) د پنډو ښيـښو تـر شـاه پـټې وې، سـړي تـه د مخـاطب پـه وړانـدې د ده ربښتينـي دريـځ نـه څرګنداوه. فکـر کـوم لـه اندروپـوف سـره يـوه کتنـه بـس وه چـې سـړي تـه د هغـه پـه اړه داسـې نظـر پيـدا شـي: د ډېر لـوړ دولتـي مقـام څښتـن هوښيـار او پـه زړه پـوري خـو ورسـره ورسـره مکـار شـخصيت دی.

لـه اندروپـوف نـه د دې تمـه پـرځای بـرېښېده چـې لکـه د يـوه آمـر غونډه وځاري، هغـه غونـډه چـې يـو شـمېر ګډون کوونکـي يـې د آرامـو ديموکراتيکـو بحثونـو لـسـپـاره، نـه، بلکـې د دې لپـاره راغلـي وو چـې لاره ورتـه څرګنـده وښودل شـي او اړيـن معلومـات ورکـړل شـي. آخـر مـوږ خـو څه فيلسـوفان نـه يـو، آن مسـلکي سياسـتوال او ديپلوماتـان هـم نـه يو- موږ عسـکر يـو... خـو هغـه اوس د غونـډې د مشـر پـه تـوګه نـه بلکـې لـه نورو سره د برابرې کچې د يوه کـس پـه تـوګه خبرې کولـې.

د سـتونزو پـه اړه پـه تـېره بيـا اخراميـيـف، تـابييف، ماکسـيموف او سپولنيکوف تـودې خـبرې کولـې. پونامـاريوف بـه کلـه کلـه خـبره کولـه، پـه قضـاوت کـې يـې غوځوالـی (قـاطعيت) نـه و او تـر ډېره ګډ تفکـر تـه نـږدې بـرېښېده. اوسـتينوف بـه يـوازې هغـه وخـت راوغـوړېده چـې خـبره بـه پـه جـګړه کـې د کـارېدلو وسـلو او تخنيکـي وسـايلو راغلـه. هغـه بـه لـه ماکسـيموف نـه پـه غرونـو کـې د څلور- پنځه زره مـترو پـه لوړوالـي کـې د

مې- اته ډوله چورلکې د تخنيکي حالت يا په غرونو کې د لويو بمونو د اغېزمنتوب په اړه پوښتنې کولې. البته بې عدالتي به وي که ووايو د ستالين دې ولسي کميسار تخنيکي معلومات نه درلودل، خو د دې خبرې نه کول هم نه ښايي چې اوستينوف د جګړه ييزو عملياتو له بهير او ځانګړتياوو سره مينه نه ښودله او د سر د زيانونو پوښتنه يې نه کوله.

اندروپوف په سړه سينه او ظاهراً په ځير سره د اوستينوف غړمبېدلې پوښتنې او د ماکسيموف وړ ځوابونه اورېدل. ښايي دا ځيرتيا هسې يوه پرده وه چې لاندې ترې د افغانستان د غم لړلې جګړې په اړه دغه سړي ته د څرګندو معلوماتو د راټولولو او ارزولو لپاره دهغه د مغزو درونډ کار روان و؟ او يا ښايي دغو مغزو نور دا وس نه درلود چې کوم څه په پراخ ډول را احتوا کړي، تعميم يې کړي او ترې سمه پايله راوباسي؟ نه پوهېږم. خو د اندروپوف فزيکي بڼه په عمومي توګه ښه نه وه، او ښايي ناروغۍ ځوراوه او ځوك پوهېږي ښايي پر مخ غوړېدلې پردې يې يوازې د وجود دننه روان فزيکي مقاومت له نورو پټ کړی و؟ ما هغه ته کتل او فکر مې کاوه چې که دا سپين ږيري وی نو خدای خبر که زموږ هېواد کوم ځای ته ورسېږي. بريژنف دومره ناروغ دی چې ګوندي کنګرې ته يې وينا نه شوه اورولی، او سوسلوف خو دا دی اتيا کلنۍ ته رسېدلی دی...

- نظرونه څرګند کړئ، نظرونه څرګند کړئ ملګرو.- اندروپوف په دې وينا د غونډې برخه وال راوېښ کړل.

تابييف وړانديز وکړ چې پاکستان ته دې له دې امله چې په خپله خاوره کې يې د مجاهدينو کمپونه جوړ کړي دي، اولتيماتوم ورکړل شي.

- غواړئ چې يوه بله جګړه اوس راپيل کړو،- اندروپوف دا ټکي تر شونډو لاندې په داسې بڼه وويل چې د "اوس" پر کلمه يې فشار راوړ.

اوستینوف پر څوکۍ وخوځېده او راویښ شو:

- څه وایاست، ځئ چې پر هندي سمندر ورشو. وسله وال پوځ د دغسې دندې سرته رسولو ته چمتو دی.

ما لیدل چې غلی ناست سوکولوف دننه داسې راټول شو تا به ویل چې له دغسې یوه بې عقله لرلیده یې ټول وجود غمونجېږي.

اندروپوف ورو غونډې وویل:

- د اصلي موضوع له څېړنې کاږه شو.

سره له دې چې سوکولوف او اخرامییف په څرګنده لوړې څوکۍ درلودې او سره له دې چې تابییف او ګرومیکو مخامخ تماسونه سره درلودل، خو هغه وخت د افغانستان په پوځي- سیاسي لوبه کې لوی پوځي سلاکار ټاکونکې څېره وه. د جګړه ییزو عملیاتو د پلان جوړول، بیایې مسکو ته د منظورۍ لپاره وړاندې کول او په دې پسې یې په عمل کې پلي کول زما پر غاړه وو. په داسې حال کې چې نه غواړم د خپل رول په اړه مبالغه وکړم، د هغه د ارزښت ټیټول مې هم زړه نه غواړي. په دې کار سره د پېښو سم درك او د لوبې په ډګر کې د څېرو سمه پېژندنه ګډوډېږي. هغې غونډې چې نکل یې روان دی له ما نه د افغانستان د حالاتو او د جګړه ییزو پرمختیاوو په اړه د اساسي وینا اورولو ته سترګې نیولې وې. البته چې سوکولوف او اخرامییف هم له حالاتو ښه خبر وو او ښایي ځینې پېښې د دې په اړه چې زه یې له کابله ګورم، له مسکوه دوی ته روښانه برېښېدې. خو هغوی په پرتلیز توګه اوږده موده وړاندې له افغانستانه وتلي او ښایي د عیني حضور، د رښتینې جګړې عملیاتو او همدغه راز په افغاني مشرتابه کې د ځواکونو د انډول د مخامخ درك احساس یې بایللی وي.

ما غونډې ته خپله وینا په عمومي ډول له حقیقي موادو راپیل کړه او په دې ترخ کې مې هغو نقشو ته مراجعه کوله چې دا دی د

لومړي ځل لسپاره د لوستونکو پاملرنې ته ورانديي کېږي* په قضاوت (ارزونه) کې مې بېره نه کوله ځکه چې د کابل په هوايي ډګر کې مې د ساموېلينکه دا نصيحت په غوږ کې و.

- نور ټول پرېږدئ چې وغړېږي. طوس يوازې هغه وخت ميدان ته راواچوئ چې کله مو په مشخصه توګه وپوښتي: څه بايد وکړو؟

چيريومنيخ غږمبېده:

- څه بايد وکړو، يابو بايد بدل کړو.

خو زما د ساموېلينکه خبره ډېره خوښه شوې وه.

او دا دی اوس دغسې يوې شېبې ته سترګې په لاره وم.

- نور نو لکه چې د کوچ ايستلو وخت دی؟- اندروپوف دا ورانديز وکړ او سترګې لسيمه يې دسترګيو (عينکو) پنډو ښيښو له شا پورته شول.

څه کوچ به وباسو؟ په دې څو تېرو ساعتو کې خو يوازې ګڼې څرګندونې وې او بس. او په هغو کې هم د راتلونکو کړنو لوری ونه ټاکل شو. ما له ځانه سره فکر وکړ: ښايي کله چې نور ولاړ شي او يوازې داخلور تنه (د ك.ګ.ب رئيس، د دفاع او بهرنيو چارو وزيران او د مرکزي کمېټې منشي پوناماريوف- د.ج) پاتې شي کومه لاره به راوباسي؟ که داسې ده نو موږ يې د څه لپاره بللي يو؟

په هغه شېبه کې مې يو عجيب احساس درلود، احساسات او افکار مې په سر کې سره ګډ شوي وو. دا اوږده بحثونه او د هر ډول پايلې نشتوالی راته بېخي قانع کوونکي نه برېښېدل. اوس زه دا ګڼم چې: د واك په هماغه جګ پوړ کې ګڼې دا څه هسې بشپړه بې مسووليتي نه وه چې صبر به کوي څو د قربانۍ داسې يو پسه ومومي

* د جګړه ييزو عملياتو دغه نقشې د کتاب د ضميمې په توګه خپرې شوې چې د کټ مټ کاپي کولو د امکان د نشتوالي له امله په پښتو ژباړه کې له پامه وغورځول شوې. فکر نه کوم چې له دې امله دې د کتاب بشپړتيا ته زيان اوښتی وي (د.ج)

چې نور نه مخ ته تلی شي او نه شاته او دا ټول مسوولیت پرې ورواچوي.

اندروپوف د نتیجې اخیستنې په اړه له وړاندیز لږ وروسته مخامخ ماته وویل:

- څه به کوو ملکه؟

اوس به دا هسې باتې وبرېښي که ووایم دغه شېبه چمتووم چې طوس رامیدان ته کړم. له خپلو پوځي ملګرو سره اټکلونه کول یوه خبره او د یوه داسې بشپړ ځواکمن سړي په مخکې څه ویل بیخي بله خبره ده. چې څه درباندې کوي کولی یې شې. له بلې خوا د دې ټولې غونډې ځانګړتیا سړي ته دا ویل چې ته هم خپل قضاوت په همدومره تته او داسې بڼه وکړه چې هېڅا ته هېڅ ډول مسوولیت په غاړه وانه چوي. خو حقیقت، حقیقت دی: د سیاسي بیورو د کمیسیون رئیس تا ته د لوی پوځي سلاکار په توګه وایي چې: "څه به کوو؟" اوس چې هغه شېبې رایادوم، داسې راته برېښي لکه ګالګوف ته چې تللی یم.*

- د ك.ګ.ب رئیس صاحب! د افغانستان لانجه باید په عمومي ډول په سیاسي او دیپلماتیکو لارو غوڅه شي.

ګرومیکو تر شونډو لاندې وویل:

- دا کومه نوې خبره نه ده.

زه پوه شوم چې دستي به مې خوله وتړي.

اندروپوف ورو غونډې وپوښتل:

- بیا هم.

ما احساسوله چې زړه مې په څه درز د وینو خپرول پیل کړي دي. په داسې حال کې چې دڅوکۍ (مقام) له پلوه راته د دومره لویو سیاسي او پوځي څېرو په مخ کې غبرګېدل وړ نه برېښېدل، بیا مې هم ورو او له بیړې پرته د خپلې نظریې اوروول پیل کړل.

---

* دا د هغه ځای نوم دی چې د عیسویانو په اند په کې حضرت عیسي(ع) تصلیب شوی دی (د.ج)

- د ك.ګ.ب محترم رئیس او د کمیسیون درنو غړو. په افغانستان کې د شوروي وسله وال ځواك هره ورځ پاتېدنه او په دغه هېواد کې یې د جګړو سرته رسونه د شوروي اتحاد اعتبار ته زیان رسوي او اوبه د امریکې د متحده ایالتونو او ناټو ژرندې ته ورماتوي.

د دفاع وزیر سکوندلې پوښتنه وکړه:

- لکه چې تاسې په پنتاګون کې خپل سړي لرئ؟
- نه د دفاع ملګری وزیر، په پنتاګون کې خپل سړي نه لرم.

اوستینوف په بې نزاکتۍ ادامه ورکړه:

- نو بیا له کومه درته دا پته لګېدلې، د امریکې او ناټو د ګټو درونډ ساتونکیه؟

ما نه غوښتل او نه مې کولی شوای چې د دې غونډې ترمخه سپك شم نو ځکه مې په قهر ځواب ورکړ:

- وزیر صاحب، د دفاع مخکني وزیر اندره ګریچکو په خپل وخت کې رازده کړي وو چې د فکر کړې دې پراخه ساته، د پېښو سیاسي خواوو ته نظر کوه اوخپل قضاوت په ډاګه او مخامخ اوروه...

اندروپوف زما خبره غوڅه کړه:

- خو بیا هم.

زه ودرېدم او کومه نوې خبره به مې نه وي کړې که ووایم د دې لپاره ودرېدم چې زړه مې لوی شي. پرته له دې د دومره جګپوړي کمیسیون مخې ته په ناستې غربېدل هم بې نزاکتي وه. تر هغو چې له ځوکۍ نه جګېدم دومره فرصت مې وموندہ چې ځان راوخوځوم او خپل ځواب سره منظم کړم.

- په دې اتو میاشتو کې مې چې د لوی پوځي سلاکار په توګه دنده سرته رسولې دا امکان درلود چې حالات هراړخیز او ژور وځېړم او په وسله واله مبارزه کې پر غلیم د بري لپاره تولـه وسه وکړم...

تابییف د سترګو په رپ کې راغوپه شو:

- هو څکه یې پوځي ګارنیزیونونه له هغو ځایو بېرته وایستل چې له غلیم نه نیول شوي وو!

ګرومیکو د لاس په اشاره داسې وپوهوله چې: غلی شه، غوږ ونیسه چې جنرال څه وایي.

- زما له نظره باید د افغانستان د دیموکراتیك د جمهوریت مشرتابه او ملګري ببرك کارمل ته خبر ورکړو چې په راروانو شپږو میاشتو کې د څلوېښتم لښکر نیمایي برخه له هېواده وباسو او پاتې نیمایي به یې په نورو شپږو میاشتو کې ایستل کېږي... باید د انقلاب د ننګې مسوولیت د ا.د.ج د خلکو دیموکراتیك ګوند او د هغه مشرتابه پر غاړه واچول شي.

د څو شیبو لپاره مرګوني چوپتیا خپره شوه.

اوستینوف په قهر راوکتل او ویې ویل:

- موږ لګیا یو په پوځي او تخنیکي ډګر کې له امریکې او ناټو نه مخکې کېږو...

ما نوره حوصله ونه کړه:

- وزیر صاحب، زه دا اوس د افغانستان د ستونزې د غوڅولو پر امکاناتو غږېږم...

خو اوستینوف همداسې زما ستونی نیولی و:

- افغانستان د نړیوالې کچې د یوه پولیګون په توګه زموږ په کار دی. تاسې ګنې پر دې موضوع پوهېږئ ستراتیژي جوړونکیه؟

پوناماریوف هڅه وکړه چې په پسته ژبه او نزاکت د اوستینوف خبره سمه کړي:

- د یوه سیاسي او اقتصادي پولیګون په توګه، د دفاع وزیر صاحب.

- خو زه وایم: د نړیوالې کچې او تخنیکي پولیګون په توګه.

اندروپوف خپلې شونډې وزبېښلې. هغه بيخي دغې ژبنۍ جګړې ته اړتيا نه درلوده. ګروميکو هماغسې مرموز و. په منځ ته راغلې چوپتيا کې د قنديل دننه د يوه څراغ د سيم د ټکېدو غږ اوچت تر غوږ کېده او داسې برېښېده چې درنګ شېبې له بېه وسوځي.

په هغه شېبه کې مې هرڅه پرځان منلي وو: تربګني، ژبني ګوزارونه او د بې کفايتۍ له امله له دندې څخه ګوښه کول. خو هېڅکله مې هم دا نه ګڼله چې اوستينوف دې په دومره بې حيايۍ وغږېږي (او تر کومه چې ما ته څرګنده ده دا هغه خبرې وې چې بايد د نورو ترمنځ يې نه واى کړې). دغه راز مې دا تمه هم نه وه چې اندروپوف دې شونډې چيچي او ګروميکو دې پر مخ دراز پرده غوړولې وي...

ناڅاپه مې د شوروي عسکرو له خوا د شوي جنايت په اړه په ټلفون کې له اوستينوف سره خپلې خبرې رايادې شوې چې څه ډول يې د "حقيقت" د سم درك درس راکاوه.

څه لږه شېبه راباندې وارخطايي او ستړيا يرغل راوړ. خداى حاضر او شاهد دى چې دغه وخت د کړکۍ خوا ته د ايښي ټلفون شرنګ شو. ناست افسر چې تر دغه وخته چوپ و، خپلې شونډې پرانستلې:

- د ك.ګ.ب رئيس صاحب، کنستانتين چرننکه غواړي له تاسې سره وغږېږي.

اندروپوف ورو پاڅېده او د ټلفون پرخوا رهي شو.

- اورم کوستيا.* موږ هم همداګړۍ پر دغه کار بوخت يو. دا څلورم ساعت دى چې ناست يو. ليونېد ايليچ (بريژنف) ته ووايه چې پر کار بوخت يو. هو، هغه هم همدلته دى. ښه.

---

* کوستيا د کنستانتين کوچنى بڼه ده چې دوه دوستان او همزولي يې د بشپړ نامه پرځاى په دغه بڼه کاروي (د.ج)

دې ټلفون لکه د تیاتر کوم رژیسور چې په لوی لاس شرنګولی وي، سملاسي په خونه کې ترنیګلتیا راتیته کړه. بریښېده چې اندروپوف ورو- ورو خپلې څوکۍ ته د راستنېدو په تړخ کې څه پرېکړه کوي. ما ته داسې وبرېښېده چې څلور کسیزې ډلې په چټکۍ سره یو بل ته په مانا لرونکي نظر وکتل. اندروپوف پرخپله څوکۍ کېناست او په ستړي غږ یې وویل:

- ښه، راځئ چې تفریح وکړو. ټول رخصت یاست.

سوکولوف، اخرامییف، ماکسیموف، تابییف، سپولنیکوف او زه په بیړه له "غوز" خونې ووتلو.

زړه مې له هېچا سره خبرې نه غوښتلې.

د یادونې وړ ده چې د غوز تختو چې د دغې خونې دېوالونه پرې پوښل شوي، ما ته بیابیا دغوزانو هغه کوتکونه رایادول چې په پخوا وختو کې به یې ګنهکاران پرې وهل. دغه کوتکونه به یې د پلندیو په خوسا اوبو کې لندول او داسې ګڼل کېده چې له دغه مقدماتي (لومړني) چمتووالي وروسته به یې د روزنې کیفیت ښه شي... دا دی اوس چې کله "غوز" خونه رایادېږي بیا بیا له دې امله خوښي احساسوم چې "طوس مې میدان ته وغورځوه".

او یوه نیکمرغه تصادف له کوتك وهلو نه وژغورلم.

# پنځلسم څپرکی

زه په "چایکا"* کې کېناستم او په "اربات" (کوڅې) کې ستردرستیز ته د اګارکوف لیدو ته ورغلم. البته چې پر لاره مې پر هغه حالت فکر کاوه چې په کمیسیون کې ورسره مخامخ شوم. د عسکرو د ګام په ګام ایستلو په اړه زما د وړاندیز په اړه غبرګون منفي و او اوستینوف خو بیخي ورسره دښمني وکړه.

خو بیا مې هم د افغاني جګړې نوی درك ترلاسه کړ. زما په خپر سړي ته چې تاریخ یې هم زده دی خو د هغه وخت په دودیزه اصطلاح "د شوروي انترناسیونالیزم په روحیه" روزل شوی دی، د کمیسیون خبرو لړ او ډېره مانا درلوده. تر هغو چې په موټر کې تلم دغه خبرې مې لکه د ټایپ ریکارډر د کسټ په څېر بیا بیا په سر کې تاوېدلې: ګرومیکو: "بله جګړه راباندې اوس پیلوې؟"، چې د "اوس" پر ټکي یې څرګند خج (فشار) راوست.

---

* "چایکا" (په اصل کې د یوه سمندري مرغه نوم دی) د پخواني شوروي او اوسنۍ روسیې د جګپوړو چارواکو د سپرلۍ ځانګړي موټر دی چې معمولاً تور رنګ لري او تر عادي موټرو اوږد وي (د.ج)

مانا دا چې د بلې جګړې اتکل هم شوی و؟... د څه لپاره؟ چې هندي سمندر ته ووځو؟ له پاکستان سره؟... نه، زما ذهن له دې وړاندې د نور لرلید له انځورولو ډډه وکړه.

اوستینوف: "وسله وال پوځ هندي سمندر ته د وتلو د دندې سرته رسولو ته چمتو دی..." د هندي سمندر تودو اوبو ته د وتلو فکر له اوږدې زمانې راهیسې د روسي واکمنو په مغزو کې تاوېده. آن ډ لومړي پاول په پېر کې په ۱۷۹۸- ۱۷۹۹ کلونو کې په "دون" کې د کازاکو پنځه ویشت زریز پوځ ټول شوی.او د هند لورته خوځول شوی و. خو یوازې د دسیسه کوونکو له خوا د امپراتور وژنې دغه یرغل ګډوډ کړ او پوځ د آستراخان له څنډو په مارش- مارش په "نووه چرکاسك" کې خپل پلرنې ټاټوبي ته راوګرځول شو.

او د منځنۍ آسیا د لاندې کولو لپاره په ۱۸۷۹- ۱۸۸۰ کلونو کې د جنرال سکوبیلیف زړور یرغلونه؟ د روسي عسکرو له خوا د "ګیوك تپې" کلا نیولو او د عشق آباد رالاندې کولو هم د هندي سمندر لور ته د وتلو لار هوارولـه.

او د ملګري ستالین له خوا ایران ته د شوروي عسکرو استول (که څه هم د دویمې نړیوالې جګړې د متفقینو په سلا شوې وو) څنګه وو؟ هو دا هم جنوب پلو د امپراتورۍ د وتلو یوه هڅه وه.

ذاسې برېښي چې اوس افغانستان ته د عسکرو په استولو هدف (موخه) په ورغوي کې ده. زموږ هېواد یوې ځواکمنې پوځي ډلې (برید کوونکي پوځ) ته اړتیا درلوده چې جنګي تجربه ولري او د جګړې لپاره په هسې شرایطو کې روزل شوې وي چې د راتلونکې جګړې ډګر ته بیخي ورته والی ولري.

د دغسې تېرې لپاره د پلمې موندل تل شوني وو (ما ته بیا هغه د اولتیماتوم خبره رایاده شوه چې وایي پاکستان ته یې باید ورکړوچې ولې د خپلې خاورې په پوځي کمپونو کې مجاهدین روزي).

نو د دغسې يوې پرمختيا په وړاندې به د نورو هېوادو غبرګون څه وای؟ د شوروي اتحاد متحدينو به هغسې غبرګون ښوده چې مسکو ورته ويل او ښايي د رومانيې يا هنګري (مجارستان) په څېر يو- دوه ياغيانو به "بيطرف (محتاط)" دريغ نيولی وای. او ترکومه چې د ملګروملتو، امريکې او ناټو خبره ده نو هغوی به هم دا تريخ ګوټ هغسې څښلی وای چې پر ۱۹۵۶ کال يې پر هنګري زمونږ د ورختلو، پر ۱۹۶۸ کال په چکوسلواکيا کې زمونږ د عملياتو او د ۱۹۷۹ کال په پای کې پر افغانستان د ورختلو پر وخت څښلی و.

کارغه د کارغه سترګې نه باسي.* څه هندي سمندر ته د شورويانو د وتلو له امله خو به دريېمه نړيوالنه جګړه نه پيلېږي. سربېره پر دې به دغو پېښو د نړۍ په نورو سيمو کې د نفوذ د غزونې لپاره زمونږ د بالقوه سيالانو لاسونه پرانستي وای، نړۍ به نوره هم همداسې د تاريخ له خوا د ټاکل شوي نظم له مخې وېشل کېده او دواړو لورو بيا هم د خپلو کړنو د توجيه لپاره سياسي او اخلاقي دليلونه موندلی شوای.

هرڅه سم دي، خو مايوروفه دا څلوېښتم لښکر هېڅ نه شي کولی د يوې- نيمې مجاهدې غدۍ ستړه راوباسي. او بری، آخ چې څومره اړين دی. هله نو بيا کولی شو داسې يوه ځواکمنه پوځي ډله راجوړه کړو چې پر هندي سمندر د بريد لپاره د لومړي ستراتيژيك کتار بنسټ شي. او ځوك چې پر دې نه پوهېږي په لويو سياستونو کې هم په خاورو نه دي خبر او بايد د لوی پوځي سلاکار په توګه په افغانستان کې ونه ساتل شي. ګوښه يې کړئ- او بس!

ترڅو چې اګارکوف ته رسېدلم دغسې تياره فکرونه مې په سر کې تاوېدل. که داسې ده نو بيا ولې له افغانستان نه د عسکرو د

---

* دا يو روسي متل دی مانا دا چې انډول- انډول ته زيان نه رسوي. (د.ج)

ګام په ګام ایستلو لپاره تر سپین سترګي وړاندیز وروسته مې سملاسي له دندې نه د ګوښه کولو پرېکړه ونه شوه؟

زه لاد لوی درستیز د یاور خونې ته ورننوتی نه وم چې هغه سم دلاسه ځانته وبللم راته څرګنده شوه چې په "غوز" خونه کې له شوې پېښې نه خبر دی.

- هه، پېستېل له سنا ډګر نه راستون شو*.- اګارکوف دا خبره په کنایه نغښتې وکړه او ماته یې خوند رانه کړ. سربېره پر دې تېروتی هم و او مایې له همدې تېروتنې نه د خبرې د اغېز د دفعې لپاره ګټه اوچته کړه:

- ډګروال پاول پېستېل د دسمبر پر څوارلسمه په "سنا" ډګر کې نه و. هغه یې له دې نه وړاندې د دسمبر پر دیارلسمه د اوکراین په "تولچینا" کې نیولی و.

د اګارکوف پر څېره تیاره خپره شوه- د هغه د حیرانوونکې حافظې په اړه ډېرې خبرې شوې وې خو دلته یې "جاله پر کاړ وخته" او هغه هم په داسې یوه نامناسب وخت کې. وقفې نوره هم ادامه کولی شوای خو ما نه غوښتل چې خپل اړیکې ورسره ویجاړ کړم. داسې بریښېده چې اګارکوف هم نه غواړي زما حالت ډېر عجیب (ډراماتیزه) وښیي او موږ چې لا هم د دفتر په منځ کې همداسې ولاړ وو او یو بل ته مو ورسره ورسره موسکا هم کوله.

- لوی درستیز صاحب، اته میاشتې وړاندې مې په همدې دفتر کې د "افغانستان" ټکی د لومړي ځل لپاره لکه د یوې پوځي دندې تر غوږو شوی و.

---

* دلته د ۱۸۲۵ کال د دسمبر د میاشتې هغې پېښې ته اشاره ده چې په کې د مشهور روسي شاعر الکساندر پوشکین په ګډون یو شمېر روښانفکرو غوښتل د پترزبورګ"سنا" ډګر کې د ښار په وژلو مدني اصلاحاتو ته لاره پرانیزي. دغه غورځنګ په همدې دسمبر میاشت کې وټکول شو او ځکه د روسیې په تاریخ کې د دسمبریست یا په روسي تلفظ د "دکابریست" غورځنګ په نامه مشهور شوی دی. (د.ج)

اګارکوف ماته ګوري، په کتو کې یې څه مکر هم نغښتی دی او د خپل برخلیك په اړه د شوې- او ښایي ناشوې پرېکړې په برخه کې مې احتمالونو او شکونو ته پراخ ډګر پرانستی پرېږدي. او ما خپله خبره اوږده کړه:

- دغه ټکی ("افغانستان") خو به دا ځل د وروستي ځل لپاره نه اورم؟

اګارکوف یوه ثانیه ځنډ هم ونه کړ او زما خبره یې پرې کړه:

- تاته لا هم تر زین لاندې اړتیا شته.- هغه چې پوهېده چې ما په ځوانۍ کې د آسونو سپرلي هم کړې ده نو له دغسې سمبولیك ترکیب نه یې کار واخیسته. هغه زیاته کړه:

- سربېره پر دې ته پر ډېرو خبرو پوهېږې، څومره عملیات دې وکړل... پنجشېر ته ګوره، کندهارته، مزار شریف ته، هرات ته... دا ټولې خبرې هغو کسانو ته څرګندې وې چې نن ورسره غږېدلې، د دې ترڅنګ تر زین لاندې اېښوولو لپاره د بل چا موندل هم دومره آسان نه دي.- دا یې ووې، لږ چوپ شو او بیا یې په خورا لوړ آواز پرې زیاته کړه:

- "استخبارات"- دې د سپي زامنو بیخي وخوړو! او دا،- په ګوته یې د دفتر ځمکې ته اشاره وکړه (په لاندې پوړ کې د دفاع وزیر دفتر و)- د هغوی له خبرې وتلی نه شي!

په ډېرشو کلونو کې لومړی ځل و چې دا سړی مې دومره هیجاني لیده. شك نه شته چې هغه پر ما باور درلود، خو ډېوالونو، مېزونو او تخنیکي وسایلو ټولو دا خبرې اورېدلی شوای. لکه چې لوی درستیز یې ښه تر پوزې رسولی چې په لوی لاس په دومره اوچت غږ د "استخباراتو" په اړه غږېږي.

اګارکوف له یوې ډېرې لنډې شېبې وروسته په سړه سینه خپله خبره اوږده کړه.

- زه له تا سره موافق یم. ستا د نظريې ملاتړ کوم. ګورو به چې څه راپېښېږي. تر کومه چې د "استخباراتو" خبره ده نو زه د هغوی ډول ته د ګډېدو نیت نه لرم او تا ته هم د دغه کار د کولو سلا نه درکوم.
- مننه. مانا دا چې یا پر ډال یا له ډاله سره.*
- بیخي همداسې.

اګارکوف لږ چوپ شو او بیا یې په داسې بڼه چې ما ته لږه قهرژلې وبرېښېده زیاته کړه:
- ساشا، د هاغې شپې د خبرو له امله بښنه درنه غواړم. ناسم ګام مې پورته کړی و.

زړه مې دغه سړي ته له درناوي ډک شو. آن یوه کوچنۍ خطا یې هم ځان ته نه بښله. په پوځي زېږه ژوندانه کې دغسې تودې او له صداقته ډکې انساني شېبې ډېرې لږې وي.
- له سره مې وایستلې!
- مننه کوم. مېرمنې ته دې (انناواسیلفنا ته) سلام وایه.
- ډېره مننه. ته هم راییسې ګیورګیفنا ته زما درناوی ورسوه.

دمخه بې پر وخت مو غېږه سره ورکړه. د اګارکوف د یاور په خونه کې څو لوی پوځي قوماندانان د هغه لیدو ته په انتظار ناست وو. ګړی ته یې وکتل- وخت نږدې د شپې دولس بجې وې. ستر درستیز ربښتیا هم تر ناوخته کار کوي. له همدې امله ده چې زموږ پوځ دومره اوچت (غوره او ښه) دی. خو یوازې دې افغانستان یې عزت په خاورو ولړه. خو که نیاومنه (عادلانه) خبره وکړو پوځ ته په دې کې څه ګناه نه شته- آخر دا خو یوازې د کریملین سیاسي اراده پلې کوي. او دا چې په کریملین کې څوك څه ډول ارادې تېي، په

---

* متل دی: یاني "یا به وخوري ککری یا به کامران شي".

افغانستان کې د خپلو تجربو او د دې وروستيو مياشتو له خاطرو نه راته له ورايه څرګندې دي.

د لاتويا په دايمي نماينده ګۍ تل د مېلمستون يوه خونه زما په نامه ساتل کېده او دا دود په بالتيك کې د پوځي حوزې د قوماندان په توګه زما د دندې له وخته راپاتې دی. لاتو يايانو تل په مينه دغلته زما هرکلی کړی دی او زه يې تر اوسه په تاوده احساس او مننه يادوم.

مېرمنې زما د طبيعت په ليدو ويوښتل:

- سانيا، تا له بادي ژرندو سره جګړه پيل کړې ده.

که هرڅه دومره ساده وای! ما ځان په دون کيشتوت پورې نه تاړه او د کريملين سپين ږيري مې هم بادي ژرندې نه بللې.

اننا واسيلفنا ويوښتل:

- ځان کوم ناوړه خبر ته چمتو کړو؟

- ښايي تر ټولو ناوړه خبر ته.

خوب نه راته. راياده شوه- او دا ډېره پخوانۍ خبره ده- چې څه ډول اګارکوف د "دابره اولسکي" په روزنيز مرکز کې راته ټلفون وکړ او خبر يې راکړ چې بايد مسکو ته ورشم... او نن يې دا خبره: "تاته لاهم اړتيا شته چې د زين لاندې دې کېږدو." د افغانستان عمليات او جګړې رايادېدې... له ببرك سره، له سفير سره زما اړيکې... دې اتو مياشتو څومره ډېر شيان په ځان کې رانغښتې دي او داسې برېښېده چې دا هرڅه پر ما نه، بلکې پر بل چا تېرېږي- په مسکو کې دې اوسېدنې له خپله ځانه د "پرديتوب" يو احساس رامنځ ته کړ: د مسکو په ژوندانه کې کوم شی و چې په افغانستان کې يې له هغو عادي شپو- ورځو سره سمون نه خوړ چې ما او يا زما دويم "زه" ورسره په دومره تلپاتې بڼه اخښل شوي يو. له دې سره جوخت زه په دې هم ډېر ښه پوهېدم چې د "غوز" خونې په دغه جلسه کې چا ما ته د خاورو هومره ارزښت هم رانه کړ. چا راته آن سم غوږ هم ونه نيوه، نه کومې جدي پايلې ته ورسېدو او نه مو کومه غوټه پرانستله. خو بيا هم- خو

بیا هم... هغوی مې ګوته په غاښ کړل. د دوی دا تمه نه وه چې څوك به ورته د عسکرو د ایستلو د اړتیا په اړه خبره کوي او ځکه نو په پیل کې وارخطا غوندي شول- ځکه کمیسیون خو څه زموږ د وتلو د خبرنې لپاره نه و راټول شوی، بلکې د ... نږدې مې ویلي وو: د بري په لور زموږ د لارې د سیخولو لپاره، خو باور مې نه شي چې پخپله دغه سپین ږیري به هم پوهېدل چې ولې یې دا غونډه جوړه کړې ده. خدایه، تا چا ته د دې هېواد واګې په لاس ورکړي دي؟ یا زموږ په دې ګناهکاره ځمکه کې ټولو خپل عقلونه له لاسه ورکړي او نه پوهېږي چې څه کوي... او ولې یې کوي...

له درندې پرېشانۍ نه د ټلفون په شرنګار راویښ شوم:

- دا ملګری سترجنرال مایوروف دی؟
- زه پخپله یم.
- زه د ستر درستیز د مرکزي پُستې اوپراتیفي نوکرایول یم. په تاسې پسې مې ټوله دنیا چاڼ کړه.
- دا څه چټیات دي! زه خو څه ستن نه یم چې په بوسو کې درنه ورکه شوم.
- ښښنه غواړم، ملګری ستر جنرال. تاسې باید نن سهار پر لسو بجو کنستانتین او ستینوویچ چرننکه ته ورشئ. د کریملین په وره کې به څوك درته ولاړ وي او تاسې به د هغه دفتر ته ورولي.

ما د ګړۍ مخ ته وکتل: د سهار درې بجې دي، د ۱۹۸۱ کال د مارچ ۲۳. راځه چې لږ ویده شم. لکه چې اوس ډېر لږ وخت د هرڅه رنېدو ته پاتې دی.

هغه سهار مې نه ښه خوب ولید او نه خراب.

لسو ته پنځلس دقیقې پاتې وې چې ما ځان د چرننکه د سکرتر دفتر ته ورساوه. چرننکه د هېواد په مشرتابه کې تر ټولو وتلې څېره وه. دا خبره هغه چا ته کوم چې د شوروي اتحاد او روسیې په مشرتابه کې یې د وروستیو بدلونو له امله ښایي ، د ټولو سیاسي څېرو نومونه

په زړه نه وي، هه رښتیا، عادي خلکو ته چې نیکمرغي یې په خپلو لاسو او مغزو پوره تړلې ده د دغو نومونو د زده کولو څه اړتیا ده؟ خو هغه وخت زما د کچې خلکو د لوړو مشرانو ټول رسمي القاب او بشپړ نومونه ډېر ښه پېژندل ځکه ډېر ځله به ستا برخلیک او ستا د کورنۍ د غړو برخلیك د همدغو وګړو په مهربانۍ یا ځېل پورې تړلی و.

چرننکه د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د سیاسي بیورو د غړي او منشي په توګه هغه وخت په ډېرو ځواکمنو کسانو کې راته. هغه پر بریژنف خورا ژور اغېز درلود او ځکه یې سیاسي بیورو هم په منګولو کې وه.

ټیك لس بجې یې راته وربرانسته. زه یوې نسبتا کوچنۍ خونې ته ننوتم. زما دونې، کوږ او بیخي سپین ږیري سړي چې مهرباني سترګې او مهربان کاته یې درلودل د مېز له شانه ورو-ورو زما مخې ته راووت. په لاس کې مې د هغه پوست او لږ څه لوند لاس احساس کړ او بیا مې د هرکلي دا ټکي تر غوږ شول:

- السلام علیکم الکساندر میخایلوویچ (مایوروف).
- روغتیا مو غواړم کنستانتین او ستینوویچ (چرننکه).

بې له دې چې لاس مې پرېږدي، څنګ ته اېښودل شوي مېز ته یې بوتلم، د کېناستو یې راته وویل او پخپله راته مخامخ کېناست. ما د سترګو په رپ کې له دوسیې نه نقشې راوایستلې او د مېز پر سر یې پر خپرولو بوخت شوم.

- نقشې دې اوس پرېږده. وارکوه.
- غوښتل مې تاسې ته صاحب، د افغانستان د اوپراتیفي حالت معلومات درکړم.
- صبر کوه.

هغه یا ځان په ساده ګۍ وهلی و یا یې عادت همداسې و- د ساده ګۍ، هغه وخت پرې ونه پوهېدم. هرڅه چې و خو په ګوند کې

دې دويمې څېرې په شوروي اتحاد کې د بېلابېلو مقامونو تجربه ليدلې او څو ځله برېژنف په بهر کې په کمونستي غونډو کې د ګډون لپاره د شوروي پلاوي په مشرتابه استولی دی...

ما فکر کاوه، ښايي هغه په لوی لاس په خبرو کې داسې ساده ښه غوره کوي چې ځان د کريملين له هسکه راکوز او په ځمکه له ولاړ يوه جنګي جنرال سره سم کړي. بايد اعتراف وکړم چې د ځان په ځمکني او ساده ښودلو کې بيخي بريالی و- داسې ساده لکه هغه کاکا چې کندو ساتي. نه پوهېږم چې ولې مې دا پرتله (مقايسه) په سر کې تېره شوه؟

- جنرال صاحب، ليونيد ايلچ (برېژنف) سلامونه ويل.

تا به ويل چې وجود مې سپك شو، د سر له پاسه تياري وربځې د سترګو په رپ کې خورې- ورې شوې او آرام لمر پرك راوځلېده.

- هغه مو د چکوسلواکيې له وخته ښه پېژني او هيله من دی چې په افغانستان کې به هم زموږ د ګوند د مرکزي کمېټې له خوا شوی باور سم راوخېژوئ.

- مننه، کنستانين اوستينوويچ (چرننکه).

- موږ د افغانستان پر حالاتو خبر يو، خو البته دا ويل غواړم چې مهمه خبره زموږ لپاره ګوند دی د خلکو ديموکراتيك ګوند. بايد پر دې کار بوخت شې.

زما اټکل خو دا و چې ګوندي چارې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې د استازي يا سفير په غاړه دي، نه د لوی پوځي سلاکار په غاړه.

ته به وايې لکه چرننکه چې زما فکر لوستی وي:

- حيرانېږئ مه. د ګوند رول بيخي د وسله والې مبارزې په پايلو پورې تړلی دی. د ګوند حيثيت بايد اوچت شي. او دا ډلې چې دي، دا وزرې او بيا يې ورو خپل لاسونه تر اوږو پورته کړل، ويې غزول- پرچم (ښي لاس يې وښوراوه) او خلق (هغه په "ك" تلفظ کړ:

"کلك" او بیا یې کیڼ لاس وښوراوه) باید سره یو شي.- او بیا یې خپل لاسونه چې لږ رپېدل ورو- ورو راټول کړل- هغه وخت نو ګونډ ستر ځواك ترلاسه کولی شي.

- کنستانتین اوستینوویچ، خدای خبر که هغوی له ایدیالوژیك یا سازماني پلوه یو شي.

- خو موږ یې یو کوو. د لنین لارښوونې ډېرې زورورې دي. او په نړۍ کې د لیونید ایلچ (بریژنف) حیثیت خورا ستر دی.

نه پوهېږم چې چرنکه د (ا.خ.د.ګ) د وزرو (ډلو) د یو کولو لپاره په دغو دلایلو کې څه لیدل، خو خبره یې پسې اوږده کړه:

- لیونید ایلچ بریژنف ته د شوروي اتحاد د کمونست ګوند په شپږویشتمه کنګره کې د ببرك کارمل وینا ډېر خوند ورکړی دی! څه جنګیالیتوب! څومره انقلابي جوش! پر بري څومره باور! د هغه ملا باید وتړې،- چرننکه په ټینګار دا لارښوونه راته وکړه. او ما ته د یابو په اړه د چیریومنیخ خبره په زړه شوه چې باید بدل شي.

چرننکه خپلې لارښوونې اوږدې کړې:

- له سفیر سره دیپلماتیك چلند کوه، آخر هغه خو مسلمان دی او پر ځان مین. د "استخباراتو" استازی هم له ځانه مه لرې کوئ. موږ ستاسې تر شا ولاړ یو. له دې نه وروسته باید ملګري اوستینوف ته ورشئ او د هغه مشورې هم واورئ. او نقشه...

هغه بیا د خبرو ساده بڼه راپیل کړه:

- کله ناکله هغه وخت را یادېږي چې په قرغزستان کې مې په یوه امنیتي قطعه کې دنده سرته رسوله. د قطعې قوماندان، نه پوهېږم چې توپیشکین نومېده که پوتیشکین، حافظه مې خرابه شوې... لکه چې زوړ شوی یم...

ورو یې څه ناز شروع کړ او زړه یې وغوښتل چې زه ورته ووایم: نه، داسې نه ده، خو ما دا خبره ونه کړه، که څه هم په سترګو

ستر ګو کې مې هغه کوله چې ورته ووایم: لوبې ته دې درګډ شوی یم... او هغه خپله خبره اوږده کړه:

- کله به یې د سیاسي تنویر خونې ته ټول کړو، زموږ د قطعې لویه نقشه به یې وغوړوله او موږ ته به یې زده کړه راکوله، د تیوری زده کړه البته. عملي کارونه خوبه موږ په هوا کې کول. هغه وخت زه د ګوندي حوزې منشي وم او د جګړې پر وخت مې د مانور ډلې قوماندانې په غاړه وه. های، چې څه وخت و: "ټول پر آسونو سپاره شئ! توري جګړې ته چمتو کړئ!"

او د سپین ږیروکي په ستر ګو کې سپرغۍ وځلېدې. هغه لا څه نوره شیبه دا نکل هم وکړ چې څه ډول یې د باسمچیانو* په ورکولو پسې متې رانغښتې وې او ما هغه ته په کتو- کتو فکر کاوه: مخې ته مې تجربه لرونکی جنګیالی ناست دی او زه یې پوره درناوی کوم. او که زوړ کندووال ټول دروغ ویلي وي، بیا نو څه؟

چرننکه یو ځلې بیا په دې حیران کړم چې څنګه زما په شك پوه شو:

- ته ناست یې، غوږ دې نیولی او فکر کوې: سپین ږیري لکه چې بادول شروع کړي دي؟

ما احمقانه چوپتیا غوره کړې وه:

- په ځوانۍ کې ډېرې خبرې وې. خو اوس، او ټول مېز یې له ستر ګو تېر کړ دوسیې دي، کاغذونه دي، بیا دوسیې دي او کاغذونه دي.

دلته څومره راز راز برخلیکونه دي... څه پرېږده دا نقشې دې، ټولې یې کړه. هغه په افغانستان کې ستا په کارېږي.- او سم د لاسه یې په بله بڼه، په مهربانۍ خو له هر ډول ساده ګۍ پرته زیاته کړه:

---

* روسانو په منځنۍ آسیا کې د شوروي واکمنۍ خلاف د ځایي مسلمانانو د وسله والې مبارزې ګډون کوونکي د باسمچیانو په نامه یادول. (د.ج)

- له کتني نه دي خوښ شوم.

پاڅېده، ماته راغی، زه يې له څنګلي ونيولم، تر وره راسره ولاړ، بيا يې خپل لاس مړ غونډي رااوږد کړ او مخه ښه يې راسره وکړه.

د سکرتر په خونه کې مې يو ډګروال مخې ته ودرېد او په عسکري ښه يې خبر راکړ:

- زه د شوروي اتحاد د مارشال او د دفاع وزير ديمتري فيودوروويچ اوستينوف له دفتره راغلی يم. هغه درته په خپل دفتر کې سترګې په لاره دی.

د وزير د سکرتر په خونه کې ونه ځنډېدم. ور سم د لاسه پرانستل شو او خوراحيران شوم چې څنګه وزير له خپله مېزه راپاڅېده او ورو- ورو د ايږي (خرس) په ګامونو زما مخې ته راغی. وزير مخکې هېڅکله له ما سره داسې چلند نه و کړی. روغبړ يې وکړ او بيايې داسې پوښتنه وکړه چې ما يې بيخي اټکل نه کاوه:

- جنرال صاحب، لکه چې ليونيدايلچ (بريژنف) هم تاسې ډېر ښه پېژني. ولې مو مخکې ما ته په دې اړه هېڅ نه وو ويلي؟

- وزير صاحب، داسې کومه خبره هم نه وه ياده شوې او وخت يې هم نه و راغلی چې تاسې ته يې ووايم.

- داسې برېښي چې په چکوسلواکيا کې مو د خدمت پر وخت څو ځله له هغه سره کتلي دي؟

- هو صاحب، څو ځلې مې ليونيدايلچ بريژنف ته د چکوسلواکيا په سوسيالستي جمهوريت کې د حالاتو رپوټ وړاندې کړی دی که به مو د کادرونو خبره کوله، يا د پوځي سياست يا د نورو هغو ډېرو مسالو په اړه چې هغه وخت يې چکوسلواکيا سره تړاو درلود، نو هغه به تل په خورا پاملرنه زما خبرې اورېدلې.

- او ګوره ته چې زه لا له دې نه هېڅ خبر نه يم.

او ما فکر وکړ: یوازې ګنې د همدې خبرې لپاره د دفاع وزیر په افغانستان کې لوی پوځي سلاکار ځان ته رابللی دی؟ پر ما د اوستینوف- د دغه تجربه لرونکي درباري او د شوروي اتحاد د مصنوعي مارشال دا ټګماره مهرباني بده لګېده. خو ورسره ورسره مې لیدل چې وزیر مې څه ډول په خپلې دروغجنې مهربانۍ ځوروي او احمق رانه جوړوي. زه څه کولی شم: هغه د خپل ژوندانه له منطق سره سم چلند کوي او ما سره داسې کوم دلیل نه شته چې پر رېښتینولۍ یې شکمن شم. دلته د وزیر دفتر ډېرعالي تیاتر دی چې هرڅه په کې په بشپړ ډول تمثیلېږي او د کابل د ارګ له تیاتر نه چې ډېر زموږ د کلبونو آماتورو ممثیلنو ته ورته دی، بېخي توپیر لري، اوستینوف په پسته (نرمه) ژبه وپوښتل:

- کله بېرته ځئ؟
- نن.
- ښه نو، ښکمرغه سفر درته غواړم،- وزیر دا خبره په خورا بسیارې مهربانۍ وکړه او له دې نه یې هم په نرمه ژبه پرې ورزیاته کړه:
- هرڅه ته چې اړتیا ده موږ یې له دې ځایه درکوو- او غږ یې بیا پولادین شو:
- لیونید ایلیچ (بریژنف) په افغانستان کې زموږ د ژر بري په هیله دی. د هغه دا باور ثابت کړئ!

موږ یو له بله رخصت شو.

دوه ساعته وروسته زه بیا د شیولکووه ښار ته څېرمه د و.پ. چکالوف په پوځي هوایي اډه کې وم. توپولوف- ۱۳۴ ډوله الوتکې ته مې نه تابییف راوباله او نه سپولنیکوف- له هغو سره مې د خبرو هېڅ لېوالتیا نه درلوده. له ما سره په لاره کې یوازې انناواسیلفنا، ایلمار برونینیکس، زما یاور الکسي کارپوف او څلور کوماندویان چې زما ساتنه یې کوله، ملګري وو.

د الوتنې پر وخت مې فکر کاوه: که چېرې هاغه وخت په "غوز" خونه کې د چرننکه د ژغورونکي ټلفون غږ نه وای پورته شوی، کېدی شي اوس د لوی پوځي سلاکار پر څوکۍ بل څوك ناست وای.

هغه وخت څه پېښ شول؟

ښايي خبره داسې وه: بريژنف له چرننکه نه د افغانستان په اړه د سياسي بيورو د کميسيون د غونډې بهير پوښتلی دی. پوښتنه يې کړې چې هلته اوس څوك د لوی پوځي سلاکار په توګه کار کوي. او چې زما نوم يې اورېدلی، نو ښايي پر ذهن يې فشار راوړی او د چکوسلواکيا د پېښو پر وخت ورته زموږ اړيکې ورياد شوي چې څو ځله مې ورته د حالاتو په اړه رپوټ وړاندې کړی دی.

کېدی شي بريژنف ته کومه ښه خاطره په ذهن کې ورلوښتې وي او له چرننکه نه يې غوښتي وي چې ما ته سلام ووايي او د ملاتړ ډاډ يې راکړي.

خو دا هسې زما خپل يو ګومان دی.

له څه شي سره بېرته کابل ته ستنېږم؟ په داسې حال کې چې د افغانستان جګړه لاهم د کريملين د مشرانو لپاره د خپلو اوچتو موخو د لاسته وروړويوه وسيله وه، ما ته نوره بې مانا برېښېده. خو لاهم راباندې باور شوی او ملاتړ مې شته او ځکه د چوپړ هغه ځای ته بېرته ستنېږم چې د کريملين د ارادې د پلي کولو لپاره ورته بلل شوی يم.

اته مياشتې وړاندې په همدې لاره د دې لپاره راالوتی وم چې مجاهدين مات کړم. اوس بيا د همدې موخې لپاره روان يم- خو اوس د مسکو له خوا د ټاکل شوې دې دندې او د هغې د سرته رسولو لپاره د شتو امکاناتو په اړه زما د خپل درك تر منځ ژور واټن منځ ته راغلی و. اوس خو زه پوهېدم چې دا په افغانستان کې زما د ژوندانه يو ارزښتناك دويم دايروي حرکت دی. هماغومره بې لارښوونه لکه لومړنی چې و

د ۱۹۸۱ کال په نوامبر کې يې له افغانستانه راوغوښتلم

جګړه د ۱۹۸۹ کال تر فبرورۍ روانه وه لا هم په هغو سیمو کې چې په دې کتاب کې انځور شوي دي افغاني وینه بهېدله. او د افغانستان په نورو هغو سیمو کې هم هماسې بهېدله چې دلته یادې شوې نه دي. هر لورته د افغانانو له وینو سره یو ځای زموږ د هېوادوالو وینه هم سیندونه- سیندونه بهېدلې ده. هېواد ته دومره زیان اوښتی چې هېڅوک به یې هېڅکله جبران نه شي کړی.

د افغانستان جګړه د شوروي اتحاد له خوا تر سره شوې وروستۍ جګړه ده. دا له هغو وروستیو ځان وژونکو ماینونو څخه یوه راوختله چې یو لوی دولت پرې والوت او دړې وړې شو.

... ما دا خبرې وکړې او خپل روح مې وژغوره.

په لرغونو وختونو کې مې داسې ویل. بنایي هغه وخت د ګناهونو شمېره دومره وه چې یوازې په بیانولو یې سړي خپل روح ژغورلی بللی شوای. خو وخت اوښتی او ګناهونه هم نور شوي دي. ګومان نه کوم چې د افغانستان د جګړې په اړه په دې نکل به ما خپل روح ژغورلی وي. خو د دغه کار هڅه مې کړې ده.

PROPERTY OF ACKU 8172

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# د واقعیتونو یوه هنداره

دا خبره ربښتیا ده چې "تر جګړې وروسته د جګړې له جنایاتو نه پرده پورته کېږي" په افغانستان کې د شوروي د ټولو ځواکونو د لوی پوځي سلاکار ستر جنرال الکساندر مایوروف دا اثر هم د افغان او روس د جګړې د واقعیتونو، ربښتیاوو، دردوونکو او زړه بوږنوونکو پېښو یوه هنداره ده.

په دې اثر کې دا خبره څرګندېږي چې څنګه یوه لوی لښکر په ډېر غرور، تکبر او ښکېلاکګر اند سره زموږ پر هېواد یرغل وکړ او بیا دومره نتلی، کمزوری او ذلیل شو چې د خپل ځان د راټولولو وس یې هم پیدا نه کړ. مایوروف د ځینو نورو روسي لیکوالو خلاف په دې اثر کې پر افغانستان د شوروي د یرغل له بنسټیزو موخو نه پرده پورته کوي او هم د هغو روس پلوه افغان چارواکو او سیاسي شخصیتونو څېرې بربنډوي چې له شورویانو سره یوځای یې د خپل هېواد په ورانۍ، ویجاړۍ او عامه وژنه کې برخه اخیستې ده.

شوروي ځواکونو څه غوښتل؟ د څه لپاره راغلل؟ څه یې وکړل؟ او څه پرې وشول؟ دې ټولو پوښتنو ته په دې کتاب کې ځواب ویل شوی دی. لیکوال اعتراف کوي چې د شوروي د یرغل موخه دا وه چې افغانستان د شوروي اتحاد شپاړلسم جمهوریت کړي او روسان د هند سمندر ګرمو اوبو ته ځان ورسوي. خو د افغانانو سپېڅلي جهاد او ملي مبارزې دا هرڅه پر سیند لاهو کړل. لیکوال د جګړې پایله داسې ارزوي: "د افغانستان جګړه د شوروي اتحاد له خوا تر سره شوې وروستۍ جګړه ده. دا له هغو وروستیو ځان وژونکو ماینو څخه یوه راوختله چې یو لوی دولت پرې والوت او درې وړې شو."

په ټولیز ډول دا کتاب د شوروي یرغل او د هغه په وړاندې د افغانانو د مبارزې د څرنګوالي او څومره والي په باب د لومړي لاس اسنادو یوه غوره سرچینه ګڼل کېدای شي.

ژباړن ته یې د نورو زیاتو بریو هیله کوو.

په فرهنګي مینه

محمد اسمعیل یون